# ځوانانو ته

# قیمتي تحفه

https://t.me/makteba_dawate_salafia



Download from:aghalibrary

انتساب ........................................................................ 10

د کتاب د لیکلو وجه او سبب ........................................... 11

ابتدائي خبرې ................................................................. 20

کله کله داسې هم اوشي ................................................ 42

د غصې نه ځان ساته ...................................................... 49

د غصه ور وستو نه هم پرهیز کوه ..................................... 52

قصه ........................................................................... 57

غصه مه کوه ................................................................. 60

د خپلې ښځې سره ښه سلوک کول ................................ 66

کله نا کله د خپلې بي بي سره لوبې کول ........................... 71

لطیفه ......................................................................... 75

ته څومره ښه ئي ؟ ......................................................... 75

قصه ! ......................................................................... 82

د خپلې کور ودانې د ناز خبرې برداشت کړه ......................... 89

د ښځې دپاره . ............................................................. 93

سوچ اوکړه ! ................................................................ 94

فکر اوکړئ! ............................................................ 96

لږ غور اوکړئ! ......................................................... 99

کوروداني له تحفه ورکوه ................................................ 101

غور اوکړه! ............................................................ 104

د مزیدار ژوند تیرولو اُصول ............................................. 108

خپلې کوروداني باندې تنقید مه کوه ..................................... 116

کوروداني له وخت ورکوه ................................................ 118

،،په خپلې کور وداني تنقید مه کوه ،،، ................................... 131

د کور وداني رشته دارانو سره ښه سلوک کول ............................ 135

د عمر فرق اوپیژنه ..................................................... 141

جنسي تعلقات ........................................................... 146

په یو څادر کې ......................................................... 157

په یو لوخي کې ........................................................ 158

بي بي ښکلول ........................................................... 159

خوشبو استعمالول ....................................................... 162

د خپلې کوروداني سره نرمي کول ........................................ 166

واقعه ................................................................. 170

ښائسته اخلاق چلول ................................................... 174

صبر کوه ............................................................... 180

واقعه ................................................................. 183

د خپلې کور ودانې غلطې معاف کول ................................... 192

خپله کورودانه به څنګه پوهه کوې ؟ .................................. 195

د راز حفاظت ........................................................... 201

د عدل او انصاف نه کار اخستل ....................................... 205

مثالي خاوند ............................................................ 213

د خپلې کورودانې تربیت کول ........................................... 216

په خاوند باندې د ښځې حقوق .......................................... 222

کور ته داخلیدو په وخت کې خندل ..................................... 233

کورودانې له پیغور مه ورکوه ........................................... 238

همیشه دپاره رشتیا وایه ................................................ 242

خپله وعده پوره کوه .................................................... 247

ناشکري مه کوه ........................................................ 250

خپله غلطي منه ................................................ 258

په کور ودانۍ د طاقت نه زيات بوج مه اچوه ........................ 260

د واده نه مخکې كورودانه يو نظر كتل ......................... 262

د كورودانۍ سره مشوره كول ........................................ 268

خپله زنانه به د منكراتو نه ساتې ................................ 271

كوردانۍ ته ځان ښائسته كول ........................................ 290

د كورودانۍ په كارونو كې دلچسپي اخله ............................ 294

يوسرى خپل سخر ته خط او ليكل ........................... 299

ځوانه دا هم واوره ................................................. 300

په خپل قسمت باندې را ضي شه ................................. 302

ايا ته خوشحالي غواړې ؟ ............................................ 305

د كورودانۍ سره مينه كوه ........................................ 308

مثبت سوچ كوه منفى سوچ مكوه ............................... 319

د خبرو كولو طريقه ياده كړه ....................................... 323

خير دے كه ښځه دې ښائسته نوي ................................ 331

د واده د شپې آداب ............................................... 335

د واده دویمه شپه ................................................ 345

د کوروالي دعاء ................................................ 349

د کوروالي اجر ................................................ 350

د کوروالي وخت ................................................ 351

د جمعې په شپه کوروالی ................................................ 352

دوباره کوروالي نه مخکې غسل کول ................................................ 353

د غسل جنابت مسنون طریقه ................................................ 354

د کوروالي او د شپې خبرې خلقو ته کول ................................................ 357

بله دا اووایه ................................................ 360

یوه مشوره ................................................ 364

بعض ضروري نصیحتونه ................................................ 364

د الله تعالی په وعدو باندې یقین ساته ................................................ 366

د بچو تربیت به خنګه وې ................................................ 369

خو یاد ساته ................................................ 371

بعض مهم سوالات او د هغې جوابات ................................................ 376

د نن دور نوجوان او د هغه ذمه دارياني ................................................ 429

بعض هغه کارونه چې اسلام مونږه د هغې نه منع کړي يود بدل نکاح389

د حيض په حالت کې جماع کول ........................................ 391

حق مهر نه ورکول ........................................ 393

د ښځې په دبر کې جماع کول ........................................ 396

خلقو ته د کوروالي (جماع) خبرې کول ........................................ 398

په دوو ۲ ښځو کې عدل نه کول ........................................ 399

ميرج کول ........................................ 401

مشهوره خبره ........................................ 402

نکاح شغار ........................................ 404

بعض هغه کارونه چې هغه جائز دي ........................................ 405

حامله زنانه او پئ ورکونکې سره کوروالی کول ........................................ 407

درمضان په شپو کې کوروالی کول ........................................ 409

د ښځې اوخاوند د صلح دپاره دروغ ويل ........................................ 409

طلاق ورکول ........................................ 410

دسپينو زرو ګوتمه اچول ........................................ 412

د ښځې حق مهر اخستل ........................................ 413

یو ځائ غسل کول ............................... ...............................414

دوه یا دري ښځې کول ............................... ...........................414

د مرګ نه پس یو بل له غسل ورکول ...........................................415

د روژې په حالت کې یو بل ښکلول ..........................................416

بعض هغه کارونه چې هغه ناجائز او حرام دي ...........................417

زنا کاري ښځې سره واده کول ............................... ...................421

تصویران ویستل او فلم جوړول ............................... ...............423

زنانو له میراث نه ورکول ............................... ........................424

تعویذونه کول ............................... .....................................425

ساتلی شوي ماشوم شرعي څه حیثیت دی ؟ ..............................427

مصادر ومراجع ............................... ...................................464

المكتبة الدعوة السلفية

انتساب

زه د خپل كتاب ترون خپل ګران او مشفق والد محترم صاحب او كشر تره ګل شريف خان په نوم كوم د چا چې په ما باندې بې شميره احسانات دي او زما په تربيت كې د هغوي كردار لكه د نمر پشان واضح دی.

# اظهار تشكر

كومو مخلصينو مسلمانانو ورونو چې د دې كتاب په نشر كولو كې مونږ سره څه قسم تعاون كړے وي نو مونږ د هغوي دپاره د لوي الله رب العالمين نه دعاګانې غواړو چې الله تعالى دې د هغوي په عمر ، مال ، او اولاد كې بركت واچوي او د هغوي ټولې پريشانيانې دې حل كړي .

آمين ثم آمين .

ابو حذيفه حبيب الله حيدر

03471000881

# تقريظ

فضيلة الشيخ مولانا عبد القيوم حقاني صاحب

الحمد لحضرة الجلالة والصلاة والسلام على خاتم الرسالة

نوجوان د هر قوم دپاره اثاثه وي د دوي د اصلاح اثرات پوره قوم محسوسه وي او د دوي د بې لارې کيدو نقصان ټول قوم ته رسي د دې وجې نه د نوجوانانو تربيت ، د هغوي کردار سازي ، او شخصيت سازئ دپاره علماؤ په هر زمان او مکان کې کوشش کړے دے او دابه د هغوي خصوصي موضوع وه ، په دې سلسله کې زمونږ محترم دوست ابو حذيفه حبيب الله حيدر صاحب په پښتو ژبه کې انتهائي نفيس ، او مزيدار کتاب ،، ځوانانو ته قيمتي تحفه ،، په نوم سره مرتب کړې ده چې په دې کې هغوي د ځوانانو دپاره د خوشګوار زندګئ رهنما اصول ، د حسن اخلاق کرشمې ، د مثالي خاوند د جوړيدو طريقې ، د مثبت سوچ خپلولو هدايات ، د پريشانيانو نه د بچ کيدو تدابير نهايت په ښکلي انداز کې جمع کړي دي د معلوماتو فراخي ، او د مضمون انفراديت لوستونکے (قاري) مجبوره وي ديته چې کتاب اخره پورې اولولي ، او د عمل په ميدان کې د هر قسم مشکلاتو او مصائبو مقابله په احسن انداز کې اوکړي .

دا کتاب نوجوان نسل خصوصاً د نوي واده کونکو (زنانو او سړو)

دپاره به يوه ښکلې تحفه وي او د مولانا حبيب الله حيدر مدَّ ظلهم علمي ، ادبي ، تصنيفي کوشش دپاره د ،، بنياد د کاڼړي ،، کردار ادا کوي .

دا کتاب د هر نوجوان سړي او زنانه دپاره ضرورت علمي ، ديني او فقهي مسائل ، او د عمل موثر وسيله ده ، ا نداز د ليکلو دعوتي او اصلاحي او د پښتو ژبې او ادب يو عظيم تحفه ده ، زما يقين دے که مؤلف مزيد محنت اوکړي نو د مستقبل عظيم اديب ، او مصنف جوړې دے شي او د امت دپاره به د رشد او هدايت لار ښودونکے ثابت شي .

(مولانا) عبد القيوم حقاني صدر القاسم اکيډمي ، جامعة ابو هريره خالق اباد نوشهره خيبر پختونخوا .

١١ شوال ١٤٣٨ھ/ ٦-جولائي سـ ٢٠١٧ .

## د کتاب د ليکلو وجه او سبب

يو ورځ د ماښام مونځ نه پس زه د مسجد نه اووتم نو يو نوجوان زما سره ميلاؤ شو او د حال احوال تپوس کولو نه پس هغه راته اوويل چې مولانا صاحب (اګر چې زه مولانا نه يم بلکې زه طالب العلم يم) ستاسو نه يو تپوس کول غواړم په شرط د دې که تاسو ئې بده نه ګنړئ ؟نو ما ورته اووئيل چې تپوس اوکړه که جواب زما په ذهن کې وي نو زه به تا سو ته جواب درکړم او که زما په ذهن کې نه وو نو زه به کتاب اوګورم يا به د بل عالم نه تپوس اوکړم نو نوجوان راته اووئيل : چې سبا زما واده دے نو دا راته او وايه چې آيا د شريعت مطهره نه مونږ ته په دې باب کې څه رهنمائي ميلاويدے شي لکه څرنګه رهنمائي چې د حج ، زکاة ، روژه عمره ، معاملات ، اخستل او خرڅول وغيره کې ميلاويږي ؟

د کامياب او مثالي ژوند تيره ولو دپاره بعضې اصولي آداب راته بيان کړه او هغه کوم اسباب دي چې د هغې په اختيارولو باندې به زما ژوند مزيدار او د سکون نه ډک شي آيا د رسول الله ﷺ زندګئ نه مونږ ته څه رهنمائي ميلاويدے شي ؟ د واده څه آداب راته بيان کړه؟

نو ما هغه ته اوکتل او مسکے شوم نو هغه راته اووئيل : دا ولې مسکے شوې ؟ نو ما ورته اووئيل : چې تا سو خو اووئيل : زه د يوې

خبرې تپوس كوم او تاسو خو د سوالاتو بكس او بوجۍ كولاؤه كړه بهر حال ما هغوي ته اووئيل : آؤ ! الحمد لله دا زمونږ د شريعت خصوصيت دے چې څرنګه هغې د زندګۍ په نورو معاملاتو كې زمونږ رهنمائي كړې ده نو په باب د واده كې ئې هم زمونږ داسې رهنمائي كړې ده او رسول الله ﷺ د كورنۍ زندګۍ ډير مثالونه زمونږ مخې ته پراته دي او د مزيدار ژوند تيرولو دپاره هم ډير اصو ل دي ليكن دا هر څه خو اوس په دې مختصر وخت كې نه شي بيانيدلے البته زه به تاته يوه يوه خبره اوكړم صرف د اشارې په طور باندې او په هغه وخت كې چې زما په ذهن كې څه خبرې وې نو بعضې ضروري ضروري خبرې مې ورته بيان كړې .

چې كله كور ته راغلم نو ځان سره مې سوچ اوكړو چې ولې نه په پښتو ژبه كې داسې يو كتاب اوليكم چې د دې ټولو سوالونو جوابونه په كې موجود وي .

داسې كتاب چې د هغې په لوستلو سره په يو مسلمان نوجوان كې تبديليانې راشي د هغې زندګي د خوند او مزونه ډكه شي .

يو داسې كتاب چې د هغې په لوستلو سره نوجوان د مايوسۍ ژوند ته الوداع اووائي او د مزو او لذتونو نه ډک ژوند ته هر كلے اووائي :

يو داسې كتاب د هغې د لوستلو نه پس نوجوان د نوي ژوند شروعات اوكړي .

يو داسې كتاب چې د هغې د كتلو نه پس نوجوان د نفرت ، بغض ، حسد ، كنځلو ، پيغورونو، بخل ، اسرا ف ، خيانت ، دروغو ، بې ځايه غصه كيدو ، سختي كولو ، او د كوروداني ، وهلو ټكولو ، وغيره نه ناخبره شي.

او د دې مذكوره او د نورو خاميانو او كوتاهيانو نه په سختۍ سره ځان منع كړي .

يو داسې كتاب چې د دهغې د مطالعه نه پس د انسان نه خپل رب او د هغه رسول ﷺ او كورودانه راضي شي .

يو داسې كتاب چې د هغې د لوستلو نه پس د انسان د زړه نه بې محبتي ، نفرت ، عداوت او د ظلم انتقام سوچ او خيال راتلل كډه اوكړي .

يو داسې كتاب چې هغې باندې د عمل كولو په وجه د شيطان ملا ماتيږي او د

ښځې او خاوند متعلق د هغې جوړ كړي پلانو نه او ارادې په خاورو كې ميلاويږي .

**دا كتاب** : د الله تعالى په فضل او توفيق سره د قرآن ، حديث او د اقوالو د أئمو يوه خزانه ده .

د تجرباتو نچوړ دے .

د مايوسۍ په درياب كې د اميدونو يوه كيشتۍ ده .

په ظلمت او تیارو کې بلیدونکې یوه ډیوه ده .
د ښکلي ژوند تیرولو دپاره یو کوشش دے .
ستاسو په ژوند کې د انقلاب راوستلو دپاره یو جدوجهد دے .
عامو مسلمانانو او خصوصاً د نوجوانانو دپاره یوه ډالۍ ، تحفه او د هغوي په ژوند کې تبدیلي راوستلو دپاره یوه ذریعه ده .
الله تعالی دې اوکړي چې د دې په لوستلو سره ستاسو په ژوند کې بدلون راشي .
او تاسو ته حقیقي خوشحالي در اورسیږي .
زما شریک هم سفر چې کله زنانو ته قیمتي تحفه په نوم کتاب اولیکلو نو زمونږ د توقع نه زیات الله تعالی هغې کتاب ته شرف قبولیت ورکړو او هغه کتاب الله تعالی د ډیرو زنانو دپاره د هدایت سبب اوګرځولو او په انتهائي مختصر وخت کې دهغې درې ایډیشنې چهاپ شوې او اوس هم مسلسل د هغې د چهاپ کولو دپاره بار بار اصرار کیږي فللّه الحمد په دې کې زمونږ څه کمال نه دے بلکې دا د الله تعالی فضل او احسان دے چې مونږ ئې صرف مشاهده او تصور کولے شو او چې د الله تعالی هر څومره شکر اداء کړو نو کم دے .
د هغې کتاب په بایک سائډ (روستنۍ حصه) باندې ما د دې کتاب نوم ورکړے وو لیکن د لیکلو ارده مې في الحال نه وه خو بار بار د

خلقو مطالبې کولو نه پس ما سره څه خاص عذر نه وو نو د الله تعالی نوم مې واخستلو او قلم مې اوچت کړو او د کتاب ليکلو اغاز مې اوکړو او نن الحمد لله هغه کتاب ستاسو په لاس کې دے او زه د الله تعالی نه نا اميد ساتم چې د دې کتاب په وجه به ستاسو تنده ماته شي .

دا کتاب اصل کې د هغه ملګري د سوالونو کافي شافي جواب دے د چا د تپوسونو جواب چې زما په ذِمه قرض هم وو او فرض هم وو .

او زه ان شاء الله په يقين سره دا خبره کوم چې کومه زنانه زنانو ته قيمتي تحفه په نوم کتاب اولولي او نوجوان زلمي دا کتاب اولو لي نو هغوئ به د اختلافاتو او جنګ جګړو نه په امن شي او د دې فاني دنيا عارضي ژوند به په اطمينان او خوشحالئ سره تير کړي .

په دې کتاب کې څومره ښه خبرې دي هغه د الله تعالی د طرف نه دي او چې کومې غلطيانې دي نو هغه زما او د شيطان د طرف نه دي .

الله رب العزت دې دا کتاب د نوجوان نسل دپاره د هدايت ذريعه اوګرځوي او زما دپاره زما مور او پلار دپاره صدقه جاريه اوګرځوي .

که دې کتاب کې تاسو ته څه غلطي په نظر راشي نو مونږ خبر کړئ چې دويم ايډيشن کې د هغې اصلاح اوشي .

ستاسو د دعاګانو طلبګار ابو حذيفه حبيب الله حيدر

موبائل نمبر : **03471000881**

بسم الله الرحمن الرحيم

# ابتدائي خبرى

إِنَّ الحَمْدَ لله ، نَحْمَدُهُ ونَسْتَعِينُهُ ، ونَسْتَغفرُهُ ، وَنَعوذُ باللهِ مِنْ شُرورِ أَنفسِنا ، وَمِنْ سَيِّئاتِ أَعْمَالنا ، مَن يَهدِهِ اللهُ فلا مُضِلَّ له ، ومَن يُضلِل فَلاَ هاديَ لَه ، وَأَشْهَدُ أَن لا إِلهَ إِلَّا اللهُ وَحدهُ لا شَريكَ لَه ، وَأَشْهَدُ أَن مُحَمّدا عَبْدهُ وَرَسُولُه .

{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ}[1]

{يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا}[2]

{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلاً سَدِيداً يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ يُطِعْ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزاً عَظِيماً}[3]

---

[1] [آل عمران: 102]

[2] [النساء: 1]

[3] [الأحزاب: 70 – 71]

أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ خَيْرَ الْحَدِيثِ كِتَابُ اللهِ، وَخَيْرَ الْهَدْيِ هَدْيُ مُحَمَّدٍ (صلى الله عليه وآله وسلم) وَشَرَّ الأُمُورِ مُحْدَثَاتُهَا، وَكُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ، وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلاَلَةٌ، وَكُلَّ ضَلاَلَةٍ فِى النَّارِ.

حمد او ثنا الله تعالى هغه ذات لره ده چا چې د عفت او پاکدامنۍ په ژوند تيرولو د جنت وعده کړې ده .

او درود او سلام په محمد عربي ﷺ باندې چا چې د جائز خواهشاتو پوره کولو دپاره مونږ ته د نکاح کولو ترغيب راکړے دے .

## محترمو لوستونکو !

زنانه زمونږ د معاشرې يوه اهم ستن ده د نسل انساني بقاء دپاره د عفت او پاکدامنۍ ژوند تيرولو دپاره او د خانداني نظام کاميابۍ دپاره د زنانه او نارينه وجود الله رب العزت د يو بل دپاره لازم او ملزوم ګرځولے دے او دا يو ښکاره حقيقت دے چې سړے د ژوند په هره لمحه کې زنانه ته ضرورت لري او د زنانه نه بغير د سړي ژوند نيمګړے وي اګر که سړے مالداره وي ، هوښيار ، تجربه کار ، عهده دار، بلکې بادشاه ولې نه وي خو هغه د هغه وخته پورې آرام او سکون زندګي نشي تيرولے تر څو پورې ئې چې واده نه وي کړے .

هان ! که د واده نه بغیر هغه په ناجائز طریقې سره خپل شهوت پوره کوي نو د الله تعالی په نیزد هغه مجرم دے او د قیامت په ورځ به د سختو عذابونو سره مخامخ شي .

زنانه فطري او عقلي طور سره کمزوري وي لیکن بیا هم هغه مشکل کارونه کوي .

**مثلاً** : همیشه دپاره روټۍ ، سالن پخول کپړې وینځل ، د کور صفائي کول، د خاوند خدمتونه کول ، د بچو ګندګي او میتیازې صفاء کول ، د د هغوي تربیت کول ، د شپې بار بار د هغوي دپاره پاڅیدل او د هغوي دپاره خپل مزیدار خوب خرابول او داسې نور بې شماره کارونه چې سړے د هغې تصور هم نه شي کولے .

او که بالفرض زنانه دا کارونه د یو میاشت دپاره خپل خاوند ته حواله کړي نو خاوند به دومره تنګ شي چې د الله تعالی نه به د ځان دپاره د مرګ سوالونه شروع کړي او د ژوند نه به داسې نا اومیده شي لکه شیطان چې د جنت نه نا ا ومیده شوے دے .

زنانه حپل فطري کمزورۍ ، عقلي نقص ، او د تجربې د کمي په بنیاد د ژوند په اهمو فیصلو کې د سړي سرپرستۍ ته محتاجه وي .

خاص طور باندې د نکاح نه روستو زنانه د خاوند توجو ته زیات ضرورت لري .

زنانه د سړي كور سنبالونكي ، د هغه شريک حيات ، د هغه د اولاد مور ، د هغه د زړه سكون ، د هغه د رازونو حفاظت كونكې ده .

اسلام ځكه محبت كونكې زنانه لره ترجيح وركړې ده او د هغې سره ئې په واده كولو حكم كړے دے او هغې ته ئې د دنيا بهترين متاع ويلے دے . نبي عليه السلام فرمائي :

إِنَّ الدُّنْيَا كُلَّهَا مَتَاعٌ، وَخَيْرُ مَتَاعِ الدُّنْيَا الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ [1]

**محترم ځوانه !**

هغه به كومه داسې خبره وي چې اسلام په كې زمونږ راهنمائي نه وي كړې ؟

الحمد لله د ژوند په هر موړ كې اسلام زمونږ رهنمائي كړې ده چې چا واده نه وي كړے نو د هغه دپاره ئې د ژوند اصول وضع كړي دي او چې چا واده كړے وي نو د هغه دپاره ئې هم د ژوند تيرولو اصول ، آداب او طريقه ښودلې ده د دې دپاره چې هغه د ژوند په تيرولو كې اغيارو ته محتاج نه شي او د يهودو ، نصاراوو او نورو غير مسلمو رٍوند تقليد شروع نه كړي.

نو د دې وجې نه الله رب العزت فرمائي :

[1] مسند الإمام أحمد بن حنبل 6567 وأخرجه النسائي69/6 في النكاح: باب المرأة الصالحة، وأخرجه مسلم 1467 في الرضاع: باب خير متاع الدنيا المرأة الصالحة

الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا [1]

﴿ترجمه﴾ : نن ورځ ما ستاسو دپاره ستاسو دين پوره کړو او په تاسو باندې مې خپل نعمت پوره کړو او ستاسو دپاره مې دين اسلام خوښ کړو.

او نبي ﷺ فرمائي :

أَيُّهَا النَّاسُ لَيْسَ مِنْ شَيْءٍ يُقَرِّبُكُمْ إِلَى الْجَنَّةِ وَيُبَاعِدُكُمْ مِنَ النَّارِ إِلَّا قَدْ أَمَرْتُكُمْ بِهِ وَلَيْسَ شَيْءٌ يُقَرِّبُكُمْ مِنَ النَّارِ وَيُبَاعِدُكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ إِلَّا قَدْ نَهَيْتُكُمْ عَنْهُ [2]

حاصل دا دے چې هر هغه عمل او کار چې د هغې په کولو باندې تاسو

جنت ته داخليږئ نو ما تاسو ته د هغې په کولو امر کړے دے او هر هغه کار چې د هغې په کولو تاسو جهنم ته داخليږئ نو ما تاسو د هغې نه منع کړي ئي .

---

[1] [المائدة:3]

[2] شرح السنة بَابُ التَّوَكُّلِ عَلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ 4111

لکه څرنګه چې د نورو عباداتو **مثلاً** : حج ، روژه ، زکات ، عمره ، صدقه ، تجارت ، دعوت ، جهاد ، توحید ، معاملات وغیره مسائل او احکام په قرآن او حدیث کې شته .

نو الحمد لله داسې د واده احکام مسائل او کورنۍ زندګي کې مخې ته راتلونکي سوالات او د هغې جوابات هم په قرآن او سنت کې موجود دي او پکار دي چې هر نوجوان زلمے دې د دې خبرو نه ځان خبر کړي ځکه چې مستقبلکې هغه د دې حالاتو سره مخامخ کیدو والا دے .

هر نوجوان دا غواړي چې د واده نه پس دې زما ژوند مثالي شي او زه دې د آرام او سکون زندګي تیره کړم .

په کورني ژوند کې دې ماته هیڅ قسم خفګان تکلیف پریشاني اونه رسیږي .

او دا یو ښکاره حقیقت دے چې کله د یو انسان کورنۍ زندګي په آرام او سکون وي نو هغه په صحیح معنو کې د الله تعالی عبادت او بندګي کولے شي .

د حقوق الله سره سره حقوق العباد هم په احسن طریقې سره اداء کولے شي .

مونځ ، روژه ، تلاوت ، اذکار ، تهجد ، دعوت ، جهاد ، امر بالمعروف ، نهي عن المنکر ، درس ، تدريس ، ډيوټي ، او تجارت مقصد دا چې هر کار او عبادت انسان په توجو ، اطمينان او شوق سره کولے شي .

خو که چرته الله تعالی دې نه کړي د کور ماحول د انسان ښه نه وي نو هيڅ قسم کار او عبادت په صحيح طريقې سره نه شي کولے او دا د الله تعالی د کمال او عظمت نشاني ده چې هغه د سړي او ښځې دواړو يو بل ته کشش او رغبت پيدا کړے دے د يو بل دپاره په زړه کې محبت او شفقت لري لکه الله تعالی فرمائي :

وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً [1]

او د دې کشش په وجه سړے د ښځې او ښځه د سړي طرف ته ميلان ساتي او هم د دې رغبت او ميلان په وجه په زمکه کې اول فساد پيدا شو د آدم عليه السلام په اولاد کې او په زمکه اولنئ وينه تويه شوه .

چې کله ښځه او سړے د دوه ۲ ګواهانو په موجوګئ کې او د ولي په اجازت په عوض د حق مهر سره د ايجاب او قبولوالي اقرار اوکړي نو ديني نقطه نظر سره دواړه ښځه او خاوند شي .

[1] الروم آية (21) .

بیا که ښځه او خاوند د شریعت په رڼا کې د یو بل حقوق اوپیژني او د هغه حقوقو خیال اوساتي نو د محبت به داسې فضاء قائمه شي چې یواځې ښځه او خاند نه بلکې په اولاد او خاندان هم د هغې ښه اثرات پریوځي او د کور ماحول او فضاء داسې معطر شي چې د خاندان او د کور هر کس او فرد د هغې خوشبوئي محسوسه وي او الله تعالی دې نه کړي که د ښځې او خاوند خپل مینځ کې تعلقات خراب وي د یو بل د حقوقو خیال نه ساتي او هر یو خپل انانیت او ضد راواخلي نو شیطان ته بیا موقع میلاؤ شي هغه بیا خپل کوشش او محنت شروع کړي او د هغه وخته پورې نه روسته کیږي تر څو چې د دوئ زندګي ئې د زهرو نه ډکه کړي نه وي او د دې عارضي ژوند محبت ئې په نفرت . نرمي ئې په سختي ، صبر ئې په غصه ، وفاء ئې په بې وفائي ، خیر خواهي ئې په بد خواهي ، اخلاق ئې په بد اخلاقئ او سکون ئې په جنګ جګړو بدل کړي نه وي .

او هغه ته خپل مقصد کې کامیابي هغه وخت ښکاري چې کله هغه ښځه او خاوند همیشه دپاره د یو بل نه جدا کړي او په دې خبره د نبي ﷺ هغه حدیث ګواه دے فرمائي :

حاصل د هغې دا دے چې ابلیس خپل بچي د دنیا هر ګوټ ته اولیږي او ماښام ترینه تپوس کوي چې تاسو څه څه کارونه او کړل ؟

هر يو ورته خپله کار ګوزاري بيان کړي .
ثوک ورته وائي ما په فلاني باندې دروغ اوويل :
ثوک ورته وائي : ما په فلاني زنا اوکړه .
ثوک ورته وائي : ما په فلاني شراب اوڅکل .
ثوک ورته وائي : ما په فلاني حرام مال اوخوړلو .
ثوک ورته وائي : ما په فلاني ګانې بجانې واوريدلې .
ثوک ورته وائي : ما فلاني ته په زړه کې وسوسه واچوله نو هغه مونځ اونه کړو وغيره وغيره .
نو ابليس ورته اووائي : تاسو هيڅ څه کار نه دے کړے ځکه چې د دې ګناهونو کونکي به په اخلاص سره توبه الله تعالى ته اوباسي نو الله تعالى به ئې معاف کړي .
نو يو پکې راشي هغه ورته اووائي : ما د فلانکئ ښځې او خاوند په مينځ کې جدائي
راوستله (يعنى د طلاق په وجه د يو بل نه جدا شو) نو ابليس هغه خپل بچے ځان ته رانزدې کړي او ورته اووائي : ته زما ښه بچے ئې .
د حديث مکمل الفاظ په حاشيه کې اوګوره [1]

[1] عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ إِبْلِيسَ يَضَعُ عَرْشَهُ عَلَى الْمَاءِ، ثُمَّ يَبْعَثُ سَرَايَاهُ، فَأَدْنَاهُمْ مِنْهُ مَنْزِلَةً أَعْظَمُهُمْ فِتْنَةً، يَجِيءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ: فَعَلْتُ

یعنی ښه کار دې کړے ځکه چې ښځه او خاوند یو ځل د یو بل نه جدا شي نو بیا اکثر همیشه دپاره جدا وي .

او چې کله د ښځې او خاوند په خپل مینځ کې بې اتفاقي راشي نو یواځې د

هغې دواړو نه بلکې د اولاد زندګي هم تباه کیږي او هغې ته دنیوي زندګي بیا د جهنم نه کمه نه ښکاري .

ځکه ذهني سکون ، راحت او اطمینان د هغې د ژوند نه کډه اوکړي هغې بیا داسې ژوند تیروي لکه انسان چې په سکر وټو ولاړ وي یا په ازغو کې ولاړ وي او د دې مشاهده به تاسو په خپل چم او ګاونډ کې د بعضو کورونو کړي وي او نن سبا په هر کور کې د دغه دوه؟ حالتونو سره خلق مخامخ وي .

۱ ـ یا انتهائي د خوشحالئ سره .

۲ ـ یا انتهائي د پریشانئ او خفګان سره .

او بیا په دې دواړو کې اولنے حالت د ډیرو کمو خلقو وي لیکن د بعضو کمزوریانو په وجه د دې دویم حالت سره هر دریم او څلورم

---

كَذَا وَكَذَا، فَيَقُولُ: مَا صَنَعْتَ شَيْئًا، قَالَ ثُمَّ يَجِيءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ: مَا تَرَكْتُهُ حَتَّى فَرَّقْتُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ امْرَأَتِهِ، قَالَ: فَيُدْنِيهِ مِنْهُ وَيَقُولُ: نِعْمَ أَنْتَ .

صحيح مسلم بَابُ تَحْرِيشِ الشَّيْطَانِ وَبَعْثِهِ سَرَايَاهُ لِفِتْنَةِ النَّاسِ وَأَنَّ مَعَ كُلِّ إِنْسَانٍ قَرِينًا رقم الحديث 2813

کور مخامخ وي په يو کور کې به ښځه او خاوند اوسيږي ليکن که ښځه مشرق ته ګوري نو خاوند به مغرب ته ګوري که ښځه د پيغور ورکولو غشي چلوي نو خاوند هم ډنډه او لوَړ په زمکه نه ګدي .

که ښځه کټ جدا کړي نو خاوند ورته کور کلے او وطن پريږدي او د څلورو او پنځو کالو د مسافرئ دپاره بل وطن ته غاړه ورکړي .

که ښځه يوه خبره د خاوند د طبيعت خلاف اوکړي نو خاوند ورته پنځوس ٥٠ کوي .

که ښځه يوه غلطي اوکړي نو خاوند په طلاق ورکولو کې يو مينټ صبر

کول هم د خپل ځان دپاره نقصان او بيغيرتي ګنړي .

د واده په ابتدائي ورځو کې د يو بل دپاره خپل تن من دهن (مال ژوند او سر) قربانولو وعدې کونکي بيا د يو بل په ژوند ستومانه شي .

د يو بل نه د مرګه پورې د نه جدا کيدو عهد کونکي .

نو بيا د مرګه پورې د يو بل نه د ژوند لارې جدا کړي .

د وفاء او محبت دعوی کونکي .

بيا د محبت لفظ نه نفرت شروع کړي .

د يو بل په غم غمژن کيدونکي زړونه .

بيا د يو بل په غم باندې خوشحاليدو کې دزړه سکون لټوي .

د یو بل ښائسته ښائسته نومونه اخستونکي .
بیا د یو بل نوم اخستلونه الرجي کوي .
د یو بل په کتلو نه مړیدونکي .
بیا د یو بل په نه لیدلو خوشحاله وي .
د یو بل دپاره خیرخواهي لټونکي .
بیا د خیر خواهۍ لفظ نه ناخبره شي .
د ګلاب ګوزار په یو بل نه کونکي .
بیا د ژبي غشي په یو بل چلوي .
د خوند او د راحت په خوب نه مړیدنونکي .
بیا د ذهني ټینشن ختمولو دپاره د ګولۍ په خوړلو کې ذهني سکون لټوي .
د یو بل نه بغیر روټۍ نه خوړونکي .
بیا په یو لوخي کې روټۍ سالن خوړلو ته نه تیاریږي .
د یو بل په آواز اوریدلو خوشحالیدونکي .
بیا د یو بل اواز اوریدل د ځان دپاره د ټوپک ډز ګنړي .
زه به مختصر دا اووایم چې د یو بل د جسم نه راحت حاصلونکي وي .
بیا د یو بل سُوري (سایه) نه ځان ساتي .

او په دې کې قصور د اسلام نه وي بلکې د اسلام نه اعراض کولو او د ځان نه پوهه کولو په وجه هغوئ د داسې حالاتو سره مخامخ شي.

نو که چرته هغوئ د اسلام مطالعه اوکړي او د يو بل د حقوقو نه د خبريدلو نه پس د هغې خيال اوساتي نو د تل دپاره به د خوشحالئ ، آرام، او اطمينان داسې زندګي تيره کړي چې دنيا به ګوته په خوله ورته حيرانه پاتې شي .

خو ليکن زمونږ بد قسمتي دا ده چې مونږ د اسلام هغه کارونه ، مسائل ، احکام او خبرې وغيره خوښوو چې کوم زمونږ د مرضئ مطابق وي او چې کوم کار په کې زمونږ د مرضئ مطابق نه وي نو هغه مونږ ته هسې ګپ شپ ښکاري بلکې غير ضروري ښکاري .

بعضې په مونږ کې خودساخته غيرت او حياء کوي چې يره جي فلانکے کار زه نشم کولے هغه خو زما د مرضئ خلاف دے يره جي داسې کار زما ضمير نه مني **مثلاً** : چا ته داسې ويل چې زما لور ده او زه ئې تاله درکول

غواړم ته ماته صالح او پرهيزګار ښکارې .

يا چاته داسې ويل چې زه غواړم چې ستا خور يا لور ماته واده شي خو په شرط د دې چې هغه به يو نظر زه ګورم (وينم) ځکه چې دا د نبي عليه السلام حکم او سنت عمل دے نو کيدے شي چې تا به

لا خبره نه وي ختمه کړي او د جامي (خُلي) دوه ۲ يا درې ۳ غاښونو نه به محروم شوے ئي .

يا څوک ورته داسې اووائي : چې فلانکي ځائ کې د زنانو مدرسه ده

خپله لور ، خور ، ښځه ، وغيره هلته ورليږه چې قرآن ، حديث ايزده کړي.

نو دا به اووائي چې داسې کار نه شي کيدے ځکه چې دا زما د غيرت خلاف کار دے.

نو د داسې خلقو منظر کشي قرآن کريم په داسې الفاظو سره کوي .

وَإِذَا قِيلَ لَهُ اتَّقِ اللَّهَ أَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْإِثْمِ فَحَسْبُهُ جَهَنَّمُ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ[1]

**﴿ترجمه﴾** : کله چې اوويلے شي د ې ته چې د الله تعالى نه اويريږه نو اونيسي ده لره غيرت په ګناه باندې نو کافي دے هغه لره جهنم او خامخا ډير بد ځائ دے چې تيار کړے شوے دے .

نو دې خبرې ته ګورئ لږ سوچ پکار دے چې دا حکم د چا دے؟

د هغه نبي نه به لا زيات غيرتي څوک په دنيا کې وي څه ؟

نه ! بالکل نشته او يقيناً چې نشته .

[1] سورة البقرة ۲۰٦

نو بيا ځا ن د هغه نه ولې مخكې كوې ؟
يا دا خبره كول چې دا خو زما ضمير نه مني چې زه په ښځه باندې سلام واچوم .
يا زه د هغې سره مشوره اوكړم .
يا زه د هغې خبره اومنم .
يا زه د هغې ناز برداشت كړم .
نو محترمه ځوانه !
دا غيرت د ښپو لاندې كړه .
داسې غيرت او ضمير دې په سيند لاهو شي .
بلكه زه خو وايم چې دا غيرت نه دے بلكه د محمد عليه السلام په دين باندې اعتراض كول دي .
دا د هغه د حكم بې قدري ده .
دا خواهش پرستي ده .
الله تعالى دې زمونږ په حال رحم اوكړي . !!آمين !!
دا كوم كتاب چې ستاسو په لا س دے نو دا هم ما په دې نيت اوليكلو چې هر نوجوان زلمے دې دا كتاب د عمل په نيت اوګوري او په دې كې چې كوم اصول بيان كړے شوي دي نو د هغې مطابق دې خپله زندګي برابر كړي او په حقيقي معنو كې دې د ژوند نه خوند واخلي بعض خبرې د حياء سره تعلق ساتي نو انسان ئې په ممبر باندې

نه شی کولے نو که په
کتاب کې هم اونه ليکلے شي نو ډير خلق به په تياره کې پاتې شي.
بلکې بعض وخت به داسې غلطي او جرم اوکړے شي چې د الله تعالی د لعنت مستحق کيدو سره به د جهنم هم خوراک او خشاک اوګرځي .
بعضې خبرې ډيرې حساس او نازکه دي کيدے شي چې ستاسو په طبعيت ګرانې پريوځي خو ليکن باربار مې مخې ته دا آيت راځي

وَٱللَّهُ لَا يَسۡتَحۡيِۦ مِنَ ٱلۡحَقِّۚ [1]

او نبي عليه السلام باره کې راځي چې هغه د پيغلې جينۍ نه زيات حياء کونکے وو.[2]
بيا هم د نبي عليه السلام د ژوند يوه يوه خبره زمونږ مخې ته ده او دا زمونږ د دين خصوصيت دے .
نو د حياء د وجې نه بعض ځايونو کې مې د تفصيل او تصريح په ځای داسې ليکلي چې عقلمند لره اشاره کافي ده .

---

[1] الاحزاب ﴿٥٣﴾

[2] عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشَدَّ حَيَاءً مِنَ الْعَذْرَاءِ فِي خِدْرِهَا، وَكَانَ إِذَا رَأَى شَيْئًا يَكْرَهُهُ عَرَفْنَا ذَلِكَ فِي وَجْهِهِ»
صحيح مسلم 2320

چې کوم سړي لره الله تعالی ښائسته ، صالحه ، فرمنبرداره ، امانت داره ، رازداره ، خوش اخلاقه ، صبرناکه ، دينداره ، حياء ناکه ، وفاء کونکې او مينه کو نکې ښځه ورکړې وي نو هغه دې د الله تعالی شکر اوباسي او د دې نعمت په بدله کې دې د الله تعالی ډيره بندګي کوي .

او چاته چې د دې برعکس زنانه ميلاؤ شي نو نا اميده او بې صبره کيږي دې نه بلکه دا کتاب دې د عمل په نيت باربار اوګوري او دې بيان کړے شوي اصولو مطابق دې خپله رويّه جوړه کړي ان شاء الله د ژوند په خوږوالي به نه مړيږي په دنيا کې به د راحت او سکون زندګي تيره کړي او په آخرت کې به هم د مظلوم مخلوق (زنانه) له طرفه په ده باندې څه نه وي نو اميد دے چې الله تعالی ورسره هم نرمي اوکړي .

ان شاء الله په دې کتاب کې به ستا د ډيرو سوالاتو جوابات تا ته ميلاؤ شي .

نو خپله ئې هم لوله او دوست لره هم د لوستلو ترغيب ورکوه خاصکر هغه ملګرے چې هغه د نوي ژوند ابتداء کولو والا وي نو هغه لره د واده نه ۲۰ يا ۲۵ ورځې مخکې په تحفه کې ورکړه چې فائده ترينه واخلي.

په آخره چې زه د خپل ګران او محترم ورور ابو ادريس امين الله

حفظه الله شکریه اداء کوم چې زما په یو ټلیفون باندې ده د خپلو ګڼرو مصروفیاتو باوجود ډیر په شوق او محنت سره د دې کتاب کمپوزنګ اوکړو او د خپل محترم اُستاذ فضیلة الشیخ ابو معاویه عبد العزیز دیروي حفظه الله هم شکرګزار یم چا چې د دې د نظر ثاني دپاره خپل قیمتي وخت اوویستلو فجزاهم الله خیراً .

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ط

دين اسلام يو كامل مكمل دين دے داسې څه خبره به نه وي چې انسانان هغې ته ضرورت لري او الله تعالی او د هغه رسول عليه السلام هغه مونږ ته نه وي واضحه كړې د بيت الله نه واخله تر بيت الخلاء پورې هره مسئله ئې بيان كړې ده د مزيدار او مثالي ژوند تيرولو دپاره او د يو بهترين معاشرې د قيام دپاره شرعي نكاح كول ضروري دي د دې په وجه باندې انسان د ډيرو آفتونو او فسادونو نه محفوظ كيږي .

يو مؤمن او مسلمان به ښه ژوند څرنګه تيروي او د هغې دپاره څه اصول او ضوابط دي ؟

د مزيدار ژوند دپاره كوم اسباب دي ؟

د مزيدارژوند دپاره څه څه كول ضروري وي ؟

نو الحمد لله قرآن ، حديث په دې باب كې زمونږ پوره رهنمائي كړې ده .

نارينه او زنانه د يو بل سره لازم ملزوم دي او د دې اندازه د دې آيت كريمه نه لګيږي الله تعالی فرمائي :

زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوٰتِ مِنَ النِّسَآءِ[1]

﴿ترجمه﴾ : ښائسته کړے شوے دے خلقو ته محبت د زنانو سره .

او نبي عليه السلام د زنانو ذات سره د خپل شفقت او محبت اظهار په دې

الفاظو سره کړے دے

حُبِّبَ إِلَيَّ النِّسَاءُ، وَالطِّيبُ، وَجُعِلَ قُرَّةُ عَيْنِي فِي الصَّلَاةِ[2]

﴿ترجمه﴾ : ماته زنانه محبوبې کړے شوي دي او زما د سترګو يخوالے په مونځ کې اچولے شوے دے .

مقصد دا دے چې زما په فطرت کې د زنانو سره محبت اچولے شوے دے .

نبي عليه السلام هميشه د زنانو سره د حسن سلوک او احسان کولو تاکيد کړے دے لکه نبي عليه السلام فرمائي :

«أَلَا وَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا»[3]

نبي عليه السلام په خپل آخرني وصيت کې هم د زنانو سره د نيکۍ کولو تاکيد کړے دے لکه فرمائي :

---

[1] ال عمران ﴿١٤﴾

[2] عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ...
مسند الإمام أحمد بن حنبل إسناده حسن 12293

[3] صحيح مسلم 1468

«الصَّلَاةَ، وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ»[1]

**﴿ترجمه﴾** : د مونځ او د هغه زنانو چې ستاسو په ملکيت کې دي حفاظت کوئ.

د انسان اعلی کردار معيار دا دے چې هغه د خپل اهل وعيال سره حسن سلوک کوي.

د زنانه فلاح او ترقي او د هغې د حقوقو حفاظت او ضمانت صرف په اسلام کې دے.

د رسول الله عليه السلام تعليم د زنانو دپاره رحمت دے ښځه د سړي او سړے د ښځې دپاره لباس ګرځولے شوے دے (په قرآن کريم کې)

اګر چې د دواړو جنسونه، انداز او عادات، پسند او نا پسند، طبيعتونه وغيره مختلف وي ليکن بيا هم دواړه د يو بل دپاره لازم او ملزوم دي د يو سکون د بل سره پيوست وي دا دواړه د دهائي باوجود ۲ اکائي ۱ وي لکه الله تعالی فرمائي:

وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ [2]

---

[1] سنن ابن ماجه 1625 إسناده صحيح

[2] [الروم: 21]

**﴿ترجمه﴾** : او بعض د نښو د قدرت د الله تعالی نه دا دي چې ستاسو دپاره ئې ستاسو د جنس نه جوړې پيدا کړي دي دې دپاره چې تاسو د هغې نه سکون حاصل کړئ او ستاسو په مينځ کې ئې مينه اچولې ده يقيناً په دې کې د الله تعالی د قدرت نښې دي د هغه قوم دپاره چې سوچ فکر کوي .

ښځه خاوند ته ضرورت لري او خاوند ښځې ته ضرورت لري ځکه رسول الله عليه السلام فرمائي :

«يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ، مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ، فَإِنَّهُ أَغَضُّ
لِلْبَصَرِ، وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ»[1]

**﴿ترجمه﴾** : اے ! د نوجوانانو جماعته ! تاسو کې چې څوک د واده طاقت لري نو هغه دې ځانله واده اوکړي ځکه چې د واده په وجه باندې د انسان د نظر او شرمګاه حفاظت کيږي .

---

[1] عَنْ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: قَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ...... وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ، فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ».

صحيح مسلم 1400

# کله کله داسی هم اوشي

د واده نه مخکې انسان ته دا محسوسیږي چې ګنې زما او زما د کوروداني عادات ، خوښه او ناخوښه وغیره یو شان وي لیکن د واده نه پس هر څه د یو بل نه جدا جدا وي .

رنګ ، باډي ، پسند ناپسند ، عادات وغیره .

نو بیا کله نا کله انسان د زندګئ نه دومره نا امیده شي چې هغه دا سوچ کوي چې ما د دې ښځې سره د واده په وجه ځان غرق کړو او ځان مې په زنځیرونو اوتړلو .

نو که چرته معامله هم داسې وي لکه څرنګه چې ذکر شوه نو همت مه بیله ځکه ته خپله کورنئ زندګي بهتر کولے شې خو د هغې نه مخکې دا ضروري ده چې ته د مایوسئ په اصل خبره باندې ځان پوهه کړې .

۱ ـ کله نا کله د کور مسائلو د وجه نه داسې حالت پیش کیږي .

**مثلاً** : د بچو د پرورش په وجه .

۲ ـ د مالي تنګئ په وجه .

۳ ـ د خواښې او سخر د بې ځایه تنقید په وجه .

٤ ـ په کور کې د بعض کسانو د بد اخلاقئ په وجه .

٥ ـ کله نا کله د ښځې او خاوند د عدم مساوات په وجه .

مثلاً : ښځه ډاکټره وي او خاوند نه وي ډاکټر .

ښځه ټیچره وي او خاوند نه وي بلکې یو عام دکاندار وي .

ښځې m.a کړي وي او خاوند اَنْ پړه وي .

ښځه د مدرسې نه فارغه وي او خاوند جاهل وي .

ښځه په رنګ کې ښکلې وي او خاوند ښائسته نه وي .

ښځه مال داره وي او خاوند غریب وي .

ښځې سره ډیګریانې وي او خاوند غریب مزدور کار وي .

ښځه د اوچت خاندان سره تعلق ساتي او خاوند د معمولي خاندان سره تعلق ساتي .

او کله نا کله خاوند کې دا خوبیانې موجود وي لیکن ښځې کې نه وي موجود نو د دې په وجه بیا هره ورځ په کور کې لانژې ، جګړې ، شر ، پیغورونه ، وهل او ټکول شروع شي .

دا کومې خبرې چې بره ذکر شوې نو دا د واده نه مخکې ښځې او خاوند ته

معمولي ښکاري لیکن د واده نه پس بیا د دې برداشت کول یو بل دپاره

ناممکن وي .

چې کله ښځه او خاوند یو بل ته په سخته لهجه کې خبرې کوي .

زړه دردونکي پیغورونه یو بل لره ورکوي .

او هر وخت د یو بل سره اختلافات لري .

یو بل ته سپکې سپورې وائي .
نو د دې په نتیجه کې کله نا کله الله تعالی دې نکړي درې ۳ کارونه کیږي .
۱ ـ یا خاوند خودکشي او کړي یا ښځه خودکشي اوکړي .
۲ ـ یا خاوند ښځې له طلاق ورکړي یا ښځه د خاند نه د نجات دپاره خلع واخلي .
۳ ـ یا خاوند د نورو ښځو سره تعلق او ګپ شپ جوړ کړي یا ښځه د خاوند نه تنګه شي او نا مَحرمَه سړو سره پټه یارانه شروع کړي .
نو دا درې ۳ واړه صورتونه د تباهۍ دي .
کله نا کله داسې هم اوشي چې سړے د خپلو خیالاتو په دنیا کې ورننوتلے وي او هغه په مستقبل کې د خپلې ښځې جوړیدونکي په باره کې قسماقسم سوچونه او فکرونه کوي چې د واده نه پس به زه داسې زندګي تیروم او زما به داسې فرمنبرداره ښځه وي
داسې به د هغې رنګ وي داسې به د هغې ځواني وي .
داسې به د هغې اخلاق وي داسې به ئې عادات وغیره وي .
داسې قناعت پسنده به وي .
زما په یو اواز به لبیک ویونکي وي زما په معمولي اشاره به د هر څه نه تیره وي .
لیکن چې کله هغه واده اوکړي نو د هغې د سترګو مخې ته رښا شي

چې واه ! دا څه اوشو دا خو هسې ما دومره اميدونه لرل دا خو زه د خيالاتو په دنيا کې اوسيدم .

نو دا هر څه ورته بيا خوب معلوميږي نو هغه بيا د زندګۍ نه نا اميده شي او قسما قسم سوچونه کوي او د ښځې په باره کې منفي او اُلټه سوچونه کوي .

د ښځې خوبيانې هم بيا نظر انداز کوي او د هغې ښه صفتونه هم ورته هيڅ څه نه ښکاري .

حالانکه نبي عليه السلام فرمائي :

«لَا يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً، إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِيَ مِنْهَا آخر» [1]

**﴿ترجمه﴾** : مؤمن سړے دې د مؤمنې ښځې سره بغض نه ساتي که د خپلې ښځې يو عادت ئې خوښ نه وي نو بل عادت به ئې خوښ شي.

که خاوند د ښځې سره همدردي نه ساتي يا ښځه د خاوند سره همدردي نه ساتي نو دې سره به د دواړو په ميځ کې نفرت پيدا شي او الله تعالی سرې ته حکم کړے دے چې هغه دې د خپلې ښځې سره ښه سلوک کوي لکه الله تعالی فرمائي :

وَعاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِنْ كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئاً

[1] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:..... أَوْ قَالَ: «غَيْرَهُ»، صحيح مسلم بَابُ الْوَصِيَّةِ بِالنِّسَاءِ 1469

وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْراً كَثِيراً[1]

**﴿ترجمه﴾** : د دوئ سره په ښه طریقه ژوند تیروئ که هغه ستاسو خوښې نه وي نو کیدے شي ستاسو یو شے خوښ نه وي او الله تعالی په هغه شي کې ډیر خیر اچولے وي .

یعنی که ستا ښځه ښائسته نه وي تعلیم یافته نه وي نو کیدیشي هغه کفایت شعاره وي د کور په کارونو ښه پوهیږي .

د تنګۍ او غربت په حالت کې به د خاوند نه فضول مطالبې نه کوي خاوند به نه تنګوي او مجبوروي به ئي هم نه .

د دې وجې نه د هغې چې کومې خوبیانې دي نو هغه مخې ته کیږده او هغه خامیانې نظر انداز کړه کورني معاملات د مفاهمت نه بغیر نه چلیږي او مفاهمت دا دے چې د هغې خامیانې نظر انداز که او د هغې خوبیانې تلاش کړه .

د واده نه مخکې د هر خاوند دا خواهش وي چې زه دې خپلې ښځې سره کینم د هغې سره دې خبرې اوکړم د هغې په لاسونو کې لاسونه ورکړم او د هغې د لاس روتۍ اوخرم او د هغې سره چرته چکر اووهم .

لیکن د واده نه پس همدغه ښځه د خاوند په سترګو کې حقیره وي

[1] سورة النساء: 19.

د هغې سره کيناستل ورلره خوند نه ورکوي د هغې د لاس روټۍ ورلره مزه نه ورکوي او خاوند نه غواړي چې د هغې سره لس ۱۰ منټه يو ځائ کيني دا ولې ؟

د دې دوه ۲ وجې دي ۱ ـ ښځه بد اخلاقه وي ۲ ـ يا خاوند بد اخلاقه او بې صبره وی .

نو په دواړو کې د برداشت قوت نه وي او چې کله په انسان کې د برداشت قوت وي نو دې سره کورنۍ جهګړې اکثر ختميږي او چې کوم انسان کې د برداشت صفت وي نو هغه کس کورني معاملات په ښه طريقې سره چلولے شي او د کور نه بهر هم د هغې زندګي کامیابه وي .

د بدئ جواب په بدئ باندې هر څوک ورکولے شي د سپکو سپورو په جواب کې سپکې سپورې ويل څه کمال نه دے .

کمال خو دا دے چې انسان د ا زغو جواب په ګلونو باندې ورکړي د هغې ميودارې ونې په شان شه چې خلق ئې په کاڼو ولي او هغه جواب کې ميوه ورکوي .

ميودارې ونې ته هر څوک متوجه وي او ازغي دارې ونې له څوک هيڅ څه اهميت نه ورکوي .

د زخمونو باوجود خندل دا اصل زندګي ده .

دا دنيا د حادثاتو دنيا ده دلته هميشه ناموافق حالات پيش کيږي په

موجوده حالاتو کې هغه کس کامیاب دے چې د اوچت همت والا وي چې څوک د ناخوشګوار حالاتو مقابله کولے شي .

# د غصې نه ځان ساته

د خپلې کوروداني د احساساتو نه ځان خبروه د غصې نه ځان ساته کله کله د هغې خبره صحيح هم وي ليکن خاوند پرې نه وي پوهه شوے او هغه ورته بې ځايه غصه کوي حالانکې د ښځې دا اراده نه وي چې خاوند دې ماته غصه شي بعض وخت خبره هم څه خبره نه وي ليکن خاوند ترې د انا مسئله جوړه کړي نو د غصې د وجې نه خپله زندګي خو هسې هم عذاب شي ليکن د ښځې زندګي هم تباه او بر باد کړي.

بعض وخت خبره طلاقو ته اورسيږي د مثال په طور باندې ستا کوروداني په وخت باندې روټۍ تياره نه کړه يا د سحر مانځه نه پس اوده شوه او په وخت پا نه څيدله او چائ لګ ليټ شي بس په دې خبره په کور کې طوفان جوړ شي حالانکه د دې برعکس د نبي عليه السلام طرز عمل ته اوګورئ سيده عائشة رضي الله عنها فرمائي : چې يو کرت نبي عليه السلام کور ته داخل شو او تپوس ئې اوکړو :

«يَا عَائِشَةُ، هَلْ عِنْدَكُمْ شَيْءٌ؟» قَالَتْ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، مَا عِنْدَنَا شَيْءٌ قَالَ: «فَإِنِّي صَائِمٌ» قَالَتْ: فَخَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُهْدِيَتْ لَنَا هَدِيَّةٌ - أَوْ جَاءَنَا زَوْرٌ - قَالَتْ: فَلَمَّا رَجَعَ

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، أُهْدِيَتْ لَنَا هَدِيَّةٌ - أَوْ جَاءَنَا زَوْرٌ - وَقَدْ خَبَأْتُ لَكَ شَيْئًا، قَالَ: «مَا هُوَ؟» قُلْتُ: حَيْسٌ، قَالَ: «هَاتِيهِ» فَجِئْتُ
بِهِ فَأَكَلَ»[1]

**حاصل** دا دے ايا تاسو سره په کور کې دخوراک څه شته ؟ نو مونږ جواب ورکړو چې يارسول الله څه نه شته نو نبي عليه السلام اووئيل : صحيح ده زه به نن روژه اونيسم بيا په دويمه ورځ زمونږ خواله راغے نو مونږ ورته اوويل چې مونږ له چا حيس ( کجورو ، غوړو ، او پنير نه جوړه شوې حلوه) هديه په طور راليږلې ده نو نبي عليه السلام اووئيل : چې ما ته اوښائي ما د سحر نه روژه نيولې ده (يعنى څه مې نه دي خوړلي) .

دا نفلي روژه وه دا هغه وخت کيدے شي چې انسان د سحر نه نه څه خوړلي وي او نه ئي څه څکلي وي .

نبي عليه السلام ته ناشته او خوراک ميلاؤ نه شو نو هغه جذباتي نه شو او نه غصه شو بلکې په صبر اوشکر سره ئي د روژې نيت اوکړو نبي عليه السلام د ناشتي متبادل دروژې په شکل کې اوموندلو مونږ

[1] صحيح مسلم بَابُ جَوَازِ صَوْمِ النَّافِلَةِ بِنِيَّةٍ مِنَ النَّهَارِ قَبْلَ الزَّوَالِ، وَجَوَازِ فِطْرِ الصَّائِمِ نَفْلًا مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ 1154

هم داسې په معمولي خبرو باندې د غصه کيدلو په ځائ د هغې متبادل تلاش کولے شو.

زه يو داسې ملګرے پيژنم چې د هغې ښځې هغې دپاره ناشته نه تيارولو ليکن هغې ملګري د دې مسئله دا حل را اوويستلو چې په کور کې منړې **apple** کيښودې هغه به هر سحر دوه منې خوړې او يو ګلاس پئ به ئې څکلې نو بيا هغې زنانه په ناشتې تيارولو نه مجبوروله ښځې ته چې کله د دې خبرې پته اولګيدله نو هغې به ماسپخين د هغې د راتلو نه مخکې روټئ تيار کړې وه او د هغې وخته پورې به ئې روټئ له ګوتې نه وروړې تر څو پورې چې به خاوند نه  وو راغلے او د هغې سره به په روټئ کې نه وو شريک شوے د زنانه په بعضو غلطيانو باندې دغصې کولو په ځائ د هغې مناسب حل تلا ش کول پکار دي يو داسې حل چې هغه د زنانو دپاره اساني پيدا کوي دې سره به ښځه نوره هم تا ته نزدې شي .

# د غصه ور وستو نه هم پرهیز کوه

بعض کسان چې غصه شي نو بیا ځان سره ګوریږي او ښځې لره پیغورونه ورکوي او داسې خبرې کوي چې په زوره باندې ښځه غصه کول غواړي او داسې داسې خبرې کوي چې د ښځې زړه ته په هغې سره درد رسیږي او هغې د غصه کولو سبب وي د داسې خبرو نه دوه قسمه نقصانات جوړیږي.

۱ ـ دې سره د ښځې زړه ته دکهـ درد رسیږي .

۲ ـ بعض وخت د کورودانې د خولې نه هم داسې خبرې اوځي چې هغه انتهائي زړه دردونکي او تباه کُن وي نو د دې سره بیا هر وخت په کور کې تو تو میاں میاں شروع شي .

بیا هر وخت چغې سورې ګلے شکوی ژړا او خفګان ددې کور مقدر شي.

غصه وروستل د غصه کولو نه زیاته خطرناکه ده .

د ښښتې جواب په کاڼي سره ورکول د یو مسلمان شان نه دے مسلمان لره د ازغي جواب په ګل سره ورکول پکار دے .

راشئ ! د غصې متعلق بعض فرامین واورو نبي علیه السلام حکیم الامة وو د هغې په فرامینو باندې عمل کولو په وجه باندې کورونه د خوشحالئ نه ډکیږي .

عبد الله بن عمر رضی الله عنه فرمائي : چې رسول الله علیه السلام

فرمائيلي دي :
«مَا مِنْ جُرْعَةٍ أَعْظَمُ أَجْرًا عِنْدَ اللَّهِ، مِنْ جُرْعَةِ غَيْظٍ كَظَمَهَا عَبْدٌ ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللَّهِ»[1]

**حاصل** دا دے چې چا د الله تعالی دپاره غصه تيره کړه نو د ده نه بل بهتر کس اجر په اعتبار سره نشته .

يو بل حديث کې راځي سهل بن معاوية رضي الله عنه فرمائي : چې رسول الله عليه السلام فرمائيلي دي :
«مَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَهُوَ قَادِرٌ عَلَى أَنْ يُنْفِذَهُ، دَعَاهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُخَيِّرَهُ اللَّهُ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ مَا شَاءَ»[2]

**﴿ترجمه﴾** : چا چې خپله غصه تيره کړه او دا قادر وو په نافذ کولو د هغې باندې نو الله تعالی به ئې د قيامت په ورځ د ټولو خلقو مخامخ را اوغواړي تر دې چې اختيار به ورلره ورکړي چې د کومې حورې سره نکاح کوې نو تا ته اجازه ده .

د غصه د تيرولو مقصد دا نه دے چې انسان دې هغه کس سره (چا

---

[1] عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ..
ابن ماجة بَابُ الْحِلْمِ 4189

[2] عَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ..
سنن ابي داود بَابُ مَنْ كَظَمَ غَيْظًا 4777 حسن

چې غصه کړے دے) په زړه کې بغض او حسد او کینه اولري بلکه غصه تیرول په اصل کې دا وي چې د انسان زړه د بغض او حسد نه بالکل پاک

صاف شي الله تعالی د مسلمانانو صفت په داسې الفاظو سره کوي

وَإِذَا مَا غَضِبُوا هُمْ يَغْفِرُونَ [1]

﴿ترجمه﴾ : کله چې دوئ غصه شي نو خپله غصه تیروي .

او نبي علیه السلام د غوصې تیرولو داسې طریقه ښودلې هغه فرمائي :

«إِذَا غَضِبَ أَحَدُكُمْ وَهُوَ قَائِمٌ فَلْيَجْلِسْ فَإِنْ ذَهَبَ عَنْهُ الْغَضَبُ وَإِلَّا فَلْيَضْطَجِعْ» [2]

﴿ترجمه﴾ : کله چې تاسو کې یو کس غصه شو او ولاړ وو نو هغه دې کیني نو که غصه ترینه لاړه ټیک ده که لا نه ړه ترینه نو بیا دې څملي .

همدا رنګه امام بخاري رحمه الله یو حدیث نقل کړے رسول الله علیه السلام فرمائي:

---

[1] (الشورى:37)

[2] عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَنَا:.... ،

سنن أبي داود بَابُ مَا يُقَالُ عِنْدَ الْغَضَبِ صحيح 4782

چې په وخت د غصه کې به أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ [1] وائي نو غصه به دې ختمه شي .

نبي عيه السلام خپل يو صحابي ته درې ۳ ځله داسې وصيت اوکړو «لاَ تَغْضَبْ»[2]

يعنی مه غصه کېږه مه غصه کېږه مه غصه کېږه .

حديث کې دي نبي عليه السلام فرمائي :

درې شيان نجات ورکونکي دي .

۱ ـ الله تعالى نه په پټه او ښکاره يريدل .

۲ ـ په مالدارئ او غريبئ کې يو شان خرچه کول .

۳ ـ د غصې په حالت کې د عدل نه کار اخستل .

او درې شيان هلاکونکي دي ۱ ـ حسد کول ۲ – خواهشات زياتيدل .

۳ ـ تکبر کول .

عمر رضي الله عنه فرمائي :

په تاسو کې بختور او خوش نصيب کس هغه دے چې هغه د طمع ،

---

[1] صحيح البخاري بَابُ الحَذَرِ مِنَ الغَضَبِ 6115

[2] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَوْصِنِي، قَالَ: «لاَ تَغْضَبْ» فَرَدَّدَ مِرَارًا، قَالَ: «لاَ تَغْضَبْ»

صحيح البخاري بَابُ الحَذَرِ مِنَ الغَضَبِ 6116

خواهش ، او د غصې نه ځان اوساتي .
علي رضي الله عنه فرمائي :
د غصې ابتداء ليونتوب دے او انتهاء ئې پښيماني ده .
عثمان رضي الله عنه فرمائي :
په تاسو کې هغه څوک ډير بهتر دے چې د غصې په حالت کې د صبر نه
کار اخلي او غوره صبر هغه دے چې د غصې په وخت کې اوکړے شي .
عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمائي :
د يو کس صبر د غصې په وخت کې او امانتدارې د لالچ او د غربت په وخت کې معلوميږي .
د يو کس صبر تر هغه وخته پورې نه شي معلوميدلے تر څو چې غصه شوے نه وي .
عروه بن زبير رضي الله عنه فرمائي :
داؤد عليه السلام ته امر شوے وو چې اے ! داوده د ډيرې غصې نه ځان ساته ځکه چې ډيره غصه د انسان زړه فاسده وي .
جعفر بن محمد رحمه الله فرمائي :
غصه د هر شر چابي ده .

# قصه

ځوانانو امتونو کې يو سړے وو يو ورځ ډير غصه شو نو درې ۳ پاڼې ئې اوليکلې او هره پاڼه ئې يو يو سړي ته ورکړه اولني سړي ته ئې اوويل : کله چې زما غصه زياتيږي نو دا پاڼه ماته راکوه په هغه پاڼه کې ئې ليکلي وو د الله بنده لږه ګزاره کوه چرته ته او چرته غصه ؟

ته خو څه الله نه ئې بلکې انسان او بشر ئې کيدے شي چې د غصې په وجه خپل ځان تباه کړې .

دويم : کس ته ئې اوويل : کله چې مې غصه سړه شوه نو دا پاڼه راکړه .

په هغه پاڼه کې ئې ليکلي وو

«اِرْحَمْ مَنْ فِي الْأَرْضِ يَرْحَمْكَ مَنْ فِي السَّمَاءِ»

**﴿ترجمه﴾** : د زمکې په مخلوق رحم کوه نو آسمان والا به په تا باندې رحم اوکړي .

او دريم : کس ته ئې اوويل : کله چې زما غصه ختمه شوه نو دا پاڼه ما ته راکړه .

په هغې کې ئې ليکلي وو خلقو ته د الله تعالى کتاب ورښايه د خلقو

حالات يواځې د الله تعالى په كتاب بدليږي .[1]
لقمان حكيم رحمه الله به ويل :
درې كسان په درې ځايونو كې پيژندل كيږي .
١ ـ صبر ناک د غصې په وخت كې .
٢ ـ بهادر او زړور د جنګ په وخت كې .
٣ ـ دوست د مصيبت په وخت كې .
احنف ابن قيس فرمائي :
كه د چا سره دوستي كول غواړې نو اول هغه غصه كړه كه انصاف ئې درسره اوكړو نو دوستي ورسره اوكړه ګنې ځان ترينه اوساته .
په انجيل كې ليكلي دي :
اے ! د ادم ځويه كله چې ته غصه شوې نو ما رايادوه او كله چې زه غصه شوم نو تا به يادوم او د هلاكيدونكو سره به دې نه هلاكوم .

---

[1] وقال المعتمر بن سليمان كان رجل ممن كان قبلكم يغضب فيشتد غضبه فكتب صحائف وأعطى كل صحيفة رجلاً وقال للأول إذا غضبت فأعطني هذه وقال للثاني إذا سكن بعض غضبي فأعطني هذه وقال للثالث إذا ذهب غضبي فأعطني هذه فاشتد غضبه يوماً فأعطى الصحيفة الأولى فإذا فيها ما أنت وهذا الغضب إنك لست بإله إنما أنت بشر يوشك أن يأكل بعضك بعضاً فسكن بعض غضبه فأعطي الثانية فإذا فيها ارحم من في الأرض يرحمك من في السماء فأعطي الثالثة فإذا فيها خذ الناس بحق الله فإنه لا يصلحهم إلا ذلك .

إحياء علوم الدين كتاب ذم الغضب والحقد والحسد ٣\ 175

ابراهیم بن ادهم رحمه الله فرمائي :
کله چې عقل ته غصه ورداخل شي نو تقوی ترینه کډه کوي .
نو د هغه چا به څه حال وي چې نه عقل لري او نه په کې تقوی وي او غصه ورداخل شي .
د یو طبیب نه چا تپوس اوکړو چې حکیم په څه پیژندل کیږي هغه جواب ورکړو .
۱ – چې په خپله رأي میَن نه وي .
۲ ـ په کارونو کې تکلف نه کوي .
۳ ـ غصه تیرونکے وي .
٤ ـ تکبر نه کوي .
او دا خبره ئي هم اوفرمائله ستا غصه باید د دوه ۲ حالاتو په مینځ کې وي نه به ډیره سخته وي او نه به ډیره کمزوري وي ځکه د غصې ډیر سختوالے د ځناورو صفت دے او د غصې ډیر کمزوروالې د ماشومانو د خویونو نه دے .
ارسطو چې دا یو فلسفي دے فرمائي :
غصه خو څه ګران کار نه دے خو د غصې دپاره مناسب ځائ ، وخت ، اندازه ، هدف او طریقه پیژندل ګران دي .
ابن قیس فرمائي :
د غصې نه ځان اوساته دا دې د عذرونو ذلت ته راکاږي .

یو حکیم فرمائي :
غصه ناک کس د زهرو نه ډک وي .
دغصې پرېښودلو سره انسان ته راحت میلاوېږي او غصه داسې شے دے چې تا ډېر زر په خپل زنځیر تړلے شي .
لکه یو شاعر فرمائي :
لاَ يَحْمِلُ الْحِقْدَ مَنْ تَعْلُو بِهِ الرُّتَبُ ... وَلاَ يَنَالُ الْعُلاَ مَنْ طَبْعُهُ الْغَضَبُ [1]

**﴿ترجمه﴾** : چې څوک خپله د لوړې مرتبې خاوند وي نو هغه کینه نه لري او د چا په طبیعت کې چې ډېره غصه وي نو هغه لوړو مرتبو ته نشي رسیدلے .

## غصه مه کوه

ځکه چې هر څه مخکې نه په تقدیر کې لیکل شوي دي اوس ستا په غصه هیڅ هم نه کیږي .
**مه غصه کیږه** : ځکه غصه ناک کس د نشه ئي مثال لري چې په خوله څه ورشي هغه وائي او د مجلس ټول ملګري ترینه تنګ وي .

---

[1] موسوعة الأخلاق الإسلامية ٢\249 موسوعة الرقائق والأدب
لياسر بن أحمد بن محمود بن أحمد بن أبي الحمد الكويس الحمداني
لا تغضب لأبى أحمد، محمد بن أحمد بن محمد العماري

**مه غصه کیږه** : ځکه غصه ډیر صورتونه لري چې زیاتره ئي په چغو ، کنځلو، وهلو ، او په بیغورونو بدلیږي .
**مه غصه کیږه** : ځکه په غصه نه وران کار جوړیدے شي او نه پرې مات لوخے روغولے شي .
**مه غصه کیږه** : که یو کس درسره زیاتے اوکړي تو بل به درسره ښه اوکړي .
**مه غصه کیږه** : ځکه ته انسان ئي که یو ځل درنه کار وران شوے وي نو په سلګونو ځله به دې ښه کارونه هم کړي وي .
**مه غصه کیږه** : ځکه هر انسان تیروځي .
**مه غصه کیږه** : ځکه ستا په غلطئ کې به کیدے شي ستا خیر وي .
**مه غصه کیږه** : ځکه که یوسف علیه السلام زندان ته نه وے تلے نو د مصر بادشاه به نه وے جوړ شوے .
**مه غصه کیږه** : ځکه که نبي علیه السلام یتیم نه وے او د علاقې نه نوے شړلے شوے نو د ټولو انسانانو سردار به نه ګرځیدلے.
**مه غصه کیږه** : ځکه که یونس علیه السلام د ماهي په خیټه کې نه وے پاتې شوے نو د ده په لاس به ۱۰۰۰۰۰ نه زیات خلق نه وے مسلمانان شوي.

**مه غصه کیږه** : ځکه که ايوب عليه السلام صبر نه وے کړے نو د ټولو غم زپلو امام به نه وے جوړ شوے .
**مه غصه کیږه** : ځکه که ابراهيم عليه السلام په امتحان باندې صبر نه وے کړے نو مونږ به په خپلو اولادونو باندې قربانۍ کولے .
**مه غصه کیږه** : ځکه که امام احمد بن حنبل رحمه الله په جيل کې په وهلو باندې صبر نه وے کړے نو ټول مسلمانان به بې لارې شوي وے.
**مه غصه کیږه** : د خلقو د غلطيانو دپاره بهانې اولټوه .
**مه غصه کیږه** : او د ځان سره دا عهد اوکړه چې زه به هيچا ته ، په هيڅ ځائ کې ، په هيڅ وخت کې نه غصه کيږم .
**مه غصه کیږه** : او هيچا ته موقع مه ورکوه چې تا غصه کړي .
**مه غصه کیږه** : د خلقو بدیانې هيرې او نيکيانې رايادې کړه .
**مه غصه کیږه** : کيدے شي الله تعالى دې د هرې تنګستيا نه پراخۍ ته اوباسي .
**مه غصه کیږه** : که ته پلار ئې نو ځامن به دې له تا څخه د ژوند چل ايزده کړي .
**مه غصه کیږه** : او هميشه دا فکر کوه چې زه به د محبت يو باغ جوړيږم او د نرمۍ غر او د صبر سمندر به جوړيږم .

**مه غصه کيږه** : غصه د يوې شړې دشتې مثال لري چې غصه ناک سړے په کې يوازې ژوند تيروي .

**مه غصه کيږه** : غصه ناک سړے نه د چا سره مينه کوي او نه ورسره څوک مينه کوي .

**مه غصه کيږه** : ځکه د غصه په وخت کې انسان ته شين آسمان تور ښکاري .

**مه غصه کيږه** : ځکه د غصې په وخت کې سړي ته ښکلې ښځه بدرنګه ښکاري .

**مه غصه کيږه** : ځکه د غصې په وخت کې پراخه دنيا په انسان تنګه شي .

**مه غصه کيږه** : ځکه د غصه په وخت کې د انسان حواس (عقل) کار پريږدي .

**مه غصه کيږه** : ځکه چې غصه دې د آرام ژوند ته نه پريږدي .

**مه غصه کيږه** : ځکه اسلام د غصې څخه ځان ساتلو امر کړے دے .

**مه غصه کيږه**: ځکه چې همدا غصه ده چې د دې د وجې نه جيلونه جوړ شوي دي د مرګ اسباب جوړ شوي دپهانسئ کولو دپاره پړي زوړند شوي ، توري چلولے شي د جنګونو اورونه بل شوي ، او سرونه پرې کړے شوي دي او کورونه برباد شوي دي .

**مه غصه کيږه**: ځکه ته مؤمن ئې او مؤمن دروند خوي لري .

**مه غصه کيږه**: ځکه د نبي عليه السلام ملا زخمي شوې وه ، مخ ئې وينې شوے وو غاښونه ئې مات شوي وو او هم هغه مهربان نبي عليه السلام نه وو غصه شوے بلکې د قوم دپاره ئې داسې د شفقت دعاء غوښتلې وه

«اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِقَوْمِي إِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُونَ» [1]

**مه غصه کيږه** : ځکه غصې سره به دې د ژوند خوږوالے ختم شي ، منظم ژوند به دې غير منظم شي .

**مه غصه کيږه** : او که غصه درشي نو تيره ئې کړه ځکه د غصې تيره ونکو صفت الله تعالى په قرآن کريم کې کړے دے فرمائي :

وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ [2]

**مه غصه کيږه** : ځکه په غصې سره کيدے شي ستا ټول خپلوان او ملګري او دوستان ستا دشمنان اوګرځي .

**مه غصه کيږه** : ځکه ټولې پريشانيانې هميشه دپاره نه وي او کيدے شي د غصې په وجه داسې پريشانيانې رامينځ ته شي چې د تل لپاره باقي وي .

[1] مسند الإمام أحمد بن حنبل 4203

[2] [آل عمران: 134]

**مه غصه کیږه** : ځکه د مخ ۵۰ \ ۱ فیصده ښکلا د غصې د وجې نه ختمیږي .

**مه غصه کیږه** : ځکه د عمر اوږدوالے او روغتیا د غصې په نشتوالي کې ده .

**مه غصه کیږه** : ځکه غصه بدن داسې سیزي له اور چې لرګي سیزي .

**مه غصه کیږه** : او که کله غصه درغله نو ټوله په یو وخت مه راښکاره کوه .

**مه غصه کیږه** : که د چا په یو غلطۍ باندې غصه شوې نو خپلې بې شماره غلطیانې، کوتاهیانې وغیره رامخې ته کړه .

## محترمو لوستونکو

ما د غصه باره کې ډیر اقوال ځکه دلته راوړل چې غالباً د غصې په وجه باندې هر قسم فتنه ، فساد ، جهګړې ، دشمنیانې ، خفګانونه ، قتلونه ، د ښځې او خاوند تر مینځ جُدائي . طلاق ، خلع ، بې محبتي ، ګِلې شکوی ، غیبتونه ، چغلیانې ، تعصب ، تکبر ، تعلقات خرابیدل ، وغیره دا ټول د غصې د وجې نه پیدا کیږي بلکې زه به په مختصرو الفاظو کې داسې اووایم چې د هر شر چابي غصه ده ځکه چې د دې غصې د وجې نه کورني مشکلات ، د ښځو وهل ، د ځامنو وهل ، ردې بدې ، کنځلې ، مرګونه ، تاوانونه ، تخریب ، هلاکت ،

وغيره پيدا كيږي بلكې د دې غصې په وجه خلقو خپل مور ، پلار، رونړه ، خويندې او خپلوان وژلي دي .

**هان** ! د الله تعالى د حكمونو د ماتيدلو په وخت كې غصه كول روا او جائز دي او په دې باندې نبي عليه السلام هم غصه كيدو .

د غصې د نقصاناتو متعلق ډير اياتونه حديثونه ، اقوال د سلفو ، واقعات

وغيره دي ليكن زه هغه نه ذكر كوم ځكه بيا رانه خپله موضوع پاتې

كيږي خو مختصر دا چې خاوند دې ښځې ته بې ځايه نه غصه كيږي .

## د خپلې ښځې سره ښه سلوك كول

د خپلې كور ودانې سره مينه كول د مثالي ژوند دپاره انتهائي ضروري دي او دا تجربه شوې خبره ده چې كله د خاوند او ښځې يو بل سره د زړه مينه وي نو هغه كه په خيمه كې ،كچه كور كې په زړو كپړو ، كې هم ژوند تيروي نو خوشحاله وي د ژوند په خوږوالي باندې نه مړيږي او د دې بر عكس كه يوه فيملي (ښځه او خاوند) ته د دنيا هر قسم سهوليات موجود وي **مثلاً** : ګاړي ، بنګلې ، پلازې ، قسماقسم خوراكونه ، قيمتي كپړې رنګ په رنګ فرنيچرې

، د کرمئ نه د بچاؤ اسباب د يخنئ نه د بچاؤ اسباب ، دولت وغيره .
خو چې کله د ښځې او خاوند خپل مينځ کې اختلافات ، خفګان ، بې اتفاقي ، پيغورونه ، بې محبتي ، وي نو يقين اوکړئ چې دا ټول نعمتونه بيا هيڅ حيثيت نه لري .
د دې وجې نه خاوند له پکار ده چې د خپلې ښځې سره خوش اخلاقي او محبت مظاهره کوي .
خپله کوروداني او اهل وعيال خوشحاله ساتل هم نبوي منهج دے لکه ابو هريره رضي الله عنه فرمائي : چې نبي عليه السلام فرمائيلي دي :
«إِنَّ مِنْ أَكْمَلِ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا وَأَلْطَفُهُمْ بِأَهْلِهِ» [1]
**﴿ترجمه﴾** : کامل ايمان والا هغه سړے دے چې اخلاق ئې ښکلي وي او په تاسو کې بهترين خلق هغه دي چې د خپلو بيبيانو په حق کې ښه وي .
بل حديث کې دي عائشه رضى الله عنها فرمائي : چې رسول الله عليه السلام فرمائيلي دي :

[1] عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ..
سنن الترمذي بَابُ مَا جَاءَ فِي اسْتِكْمَالِ الإِيمَانِ وَزِيَادَتِهِ وَنُقْصَانِهِ 2612 [حكم الألباني] : ضعيف

خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِأَهْلِهِ، وَأَنَا خَيْرُكُمْ لِأَهْلِي» [1]

﴿ترجمه﴾ : تاسو کې بهتر کس هغه دے چې هغه د خپل کوروالاؤ سره ښه وي او زه د خپل کوروالاؤ سره په حسن سلوک کې د ټولونه ښه یم.

بلکې په یو روایت کې داسې راځي

«لَقَدْ طَافَ بِآلِ مُحَمَّدٍ نِسَاءٌ كَثِيرٌ يَشْكُونَ أَزْوَاجَهُنَّ لَيْسَ أُولَئِكَ بِخِيَارِكُمْ» [2]

﴿ترجمه﴾ : نن د محمد صلی الله علیه وسلم کوروالاؤ ته ۷۰ زنانو د خپلو خاوندانو شکایتونه کړي دي زه تاسو ته ویل غواړم چې د کومو خلقو شکایت راغلے دے هغه ښه خلق نه دي .

یو بل حدیث کې دي ابو هریره رضی الله عنه فرمائي : چې رسول الله علیه السلام فرمائیلي دي :

«مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَاليَوْمِ الآخر فَلاَ يُؤْذِي جَارَهُ،وَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا، فَإِنَّهُنَّ خُلِقْنَ مِنْ ضِلَعٍ، وَإِنَّ أَعْوَجَ شَيْءٍ فِي الضِّلَعِ

---

[1] عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: ....
سنن ابن ماجه بَابُ حُسْنِ مُعَاشَرَةِ النِّسَاءِ صحيح 1977

[2] عَنْ إِيَاسِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي ذُبَابٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ...«لَقَدْ طَافَ بِآلِ مُحَمَّدٍ نِسَاءٌ كَثِيرٌ يَشْكُونَ أَزْوَاجَهُنَّ لَيْسَ أُولَئِكَ بِخِيَارِكُمْ»
سنن أبي داود بَابٌ فِي ضَرْبِ النِّسَاءِ صحيح 2146

أَعْلاَهُ، فَإِنْ ذَهَبْتَ تُقِيمُهُ كَسَرْتَهُ، وَإِنْ تَرَكْتَهُ لَمْ يَزَلْ أَعْوَجَ، فَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا»[1]

**﴿ترجمه﴾** : څوک چې په الله تعالی او په ورځ د آخرت ايمان لري نو هغه دې خپل ګاونډيانو له ضرر نه ورکوي او زه تاسو ته وصيت کوم چې د خپلو زنانو سره نيکي احسان او ښه سلوک کوئ ځکه چې زنانه د پوښتئ نه پيدا دي او په پوښتو کې کږه پښتئ هغه بره نئ وي نو که ته هغه سيده کول غواړې نو هغه به ماته شي نو زه تاسو ته وصيت کوم چې د خپلو زنانو سره خيګړه کوئ .

نبي عليه السلام په څومره ښکلي انداز سره د زنانو او د سړو فرق بيان

کړے دے او دا تخليقي فرق د زنانو حسن هم دے که يو سړے زنانه سيده کول غواړي نو د سيده کيدو په ځائ به ئې ماته کړي يعنې خبره به طلاقو او جدائي ته ورسيږي او حالات به نور هم خراب شي .

هاں ! په زنانو کې ډيرې کمزورياني دي او دا د هغوي په فطرت کې اچول شوي دي نو دا به داسې قبلوې لکه څرنګه چې د ګلاب ګل

[1] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ...
صحيح البخاري بَابُ الوَصَاةِ بِالنِّسَاءِ 5185

سره آزغي قبلول وي .

كه يو مالي يو لاكهـ كرته كوشش اوكړي چې داسې ګل اوكري چې د هغې سره ازغي نه وي نو دا ممكن نه ده كه د ګلاب خوشبوي مو خوښه وي نو ازغي به ورسره هم قبلوئ او كه ديته نه ئې تيار نو بيا د ګلاب نوم هم په خوله مه اخلئ .

نبي دعليه السلام د زنانو متعلق څلور خبرې بيان كړي دي .

١ ـ لعن طعن كونكي وي .

٢ ـ د خاوند ناشكري كوي .

٣ ـ په دين او عقل كې ئې نقصان وي .

٤ ـ كوشش كوي چې د سړو په عقل غالبه راشي .[1]

نو دا څلور شيان د زانانو فطري كمزورياني دي نو د دې وجې نه سړي له پكار دي چې هغه دې په حكمت سره د خپلې كوروداني اصلاح كوي .

ليكن دا خبره ياد ساتل پكار ده چې دا ټولې غلطياني په يو ورځ او يو

وخت كې نه اوځي بلكې په قلاره قلاره به اوځي .

كه زنانه درله څه پيغور دركړي نو دا د هغې فطرى كمزوري اوګڼړه د زنانه د بدن سره يو تريخ (كړوا) ازغے دے د ګلاب په شان

---

[1] صحيح البخاري بَابُ تَرْكِ الحَائِضِ الصَّوْمَ ٣٠٤

برداشت کول غواړي .

## کله نا کله د خپلې بي بي سره لوبې کول

خاوند له پکار دي چې په مناسب وخت او مناسب ځائ کې د خپلې کوروداني د خوشحالئ دپاره څه شرعي او جائز تفریح انتظام اوکړي او دا د امام الانبیاء محمد عربي صلی الله علیه وسلم سنت دي لکه حدیث کې راځي :

عَنْ عَائِشَةَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّهَا كَانَتْ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ قَالَتْ: فَسَابَقْتُهُ فَسَبَقْتُهُ عَلَى رِجْلَيَّ، فَلَمَّا حَمَلْتُ اللَّحْمَ سَابَقْتُهُ فَسَبَقَنِي فَقَالَ: «هَذِهِ بِتِلْكَ السَّبْقَةِ»[1]

**﴿ترجمه﴾** : عائشة رضي الله عنها فرمائي : چې زه د نبي علیه السلام سره په سفر کې اومه نو نبي علیه السلام ماته اوویل راځه دواړه په منډه کې مقابله اوکړو نو مونږ مقابله اوکړه او زه د نبي علیه السلام نه مخکې شوم څه وخت بعد بیا په سفر لاړو نو بیا مونږ مقابله اوکړه او په دغه وخت کې زه څورب (غټه) شوې ووم نو نبي علیه السلام زمانه مقابله اوګټله نو نبي علیه السلام ما ته اووئیل : دا ستا د مخکې منډې په بدل شو مخکې ځل تا ګټلې وه اوس ما اوګټله.

1 سنن أبي داود بَابٌ فِي السَّبَقِ عَلَى الرِّجْلِ 2578 صحيح

دا رنګه په يو حديث کې دي چې يو ځل په مسجد نبوي کې حبشو تريننګ کولو نو نبي عليه السلام عائشه رضي الله عنها خپل شا ته اودروله او هغې تماشه کوله.[1]

د خاوند دپاره دا ضروري دي چې د خپلې کور ودانې سره ښه اخلاق استعمال کړي د هغې په سختو خبرو او د ناشکرئ په الفاظو باندې صبر کول پکار دي نو داسې لوبې چې شريعت کې د هغې ممانعت نه وي نو هغه په کور کې کولے شي البته د کور نه بهر بغير د پردې نه هره لوبه د زنانه دپاره حرامه ده او دا خو ډير د بې غيرتئ او بې شرمئ خبره ده لکه نن سبا بعض فحاش زنانه د کرکټ فټ بال ، هاکې ، ټينس ، تيراکي ، جمناسيټک ، کراټې ، د منډې مقابلې وغيره کوي يا ئې د تماشو دپاره ګراونډونو ، سټيډمونو ته ځي .

هسې مونږ له سو چ پکار دے چې نبي عليه السلام دنيا ته د يو عظيم مقصد دپاره راغلے وو د ټول امت اصلاح ، تربيت او خيرخواهي لټول د هغه په سر وو هغه منډو وهلو ته اوزګار نه وو ليکن بيا هم هغې د خپلو ټولو مصروفياتو باوجود د عائشه رضي

---

[1] عن عَائِشَةَ، قَالَتْ: «لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا عَلَى بَابِ حُجْرَتِي وَالحَبَشَةُ يَلْعَبُونَ فِي المَسْجِدِ، وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتُرُنِي بِرِدَائِهِ، أَنْظُرُ إِلَى لَعِبِهِمْ» صحيح البخاري بَابُ أَصْحَابِ الحِرَابِ فِي المَسْجِدِ 454

وأخرجه مسلم في صلاة العيدين باب الرخصة في اللعب الذي لا معصية فيه رقم 892

الله عنها سره منده وهلي ده صرف د هغې د لجوئي (زړه خوشحالولو) دپاره نو د دې نه معلومیږي چې ښځې سره کله نا کله لوبې کول محمدي صلی الله علیه وسلم سنت دي د هغې وجه دا ده چې هغه ټول عمر په کور کې ناسته وي نو د هغې نه قیدي مه جوړوه چې ټول عمر ئې په کور کې غریبه ورَسْتَه کړي بلکې کله کله هغه په سفر بوزه د خپلوانو کره مور پلار کره یا هسې تاریخي ځایونو ته د مکمل پردې په حالت کې چکر له بوزه دې سره به د هغې تسلي کیږي هغه به بُور کیږي نه او د میني محبت فضاء به بر قراره وي په کور کې به تو تو میاں میاں جنګ جهګړې به ډیره حده پورې کنټرول شي او یا به ختمې شي بعض خاوندان بې ځایه سختي کوي ښځه د مور پلار کور ته نه پریږي رونړه خویندو ، رشته دارانو ، غم ، خادي ، وغیره د هر څه نه بنده کړي وي او دومره بد اخلاقي کوي چې ښځه د هغې په مخکې جائز خبره هم نه شي کولے د خاوند سره کیناستے نه شي د هغې مخې ته روټۍ نه شي خوړلے نو ستا څه خیال دے دا زنانه به د کور په دې جابرانه ماحول کې د خوشحالۍ زندګي تیره کړي ؟؟؟

چې نه خاوند د ښځې سره مینه کوي او نه ښځه د هغې سره د هغې بد اخلاقۍ په وجه مینه کوي .

نو زما په خیال د دې خو داسې مثال دے لکه طوطي چې په پنجره

کې بند کړي يا يو مرغۍ چې پنجره کې بند کړے شي که ته هغې مرغۍ ته په پنجره ې شهد ، اوغوړي ، بسکټ ، ملائي وغيره هم ورکوي خو چې کله ته پنجره کولاؤ کړې نو هغه مرغۍ به اَنْ پڼْ کې ستا د لاس نه اوځي ستا شهد ، (ګبين) ملائي ، او بسکټ وغيره ته هغه نه حصاريږي دا هر څه به تاته پريږدي او اوبه تختي .

نو همدارنګه که قيدي زنا نه ستا سره محبت کوي هم نو هغه به داسې محبت وي لکه د يو قيدي محبت چې جيلر سره وي .

بعض تنګ نظره خلق شريعت يو څو مخصوصو مسئلو پورې محدود ګڼړي هغه صرف خپل حق پيژني او د بل حق نه خبر نه وي هغه د خپلې تنګ نظرۍ په وجه خپله کوروداني دومره تنګه کړي چې هغه د دين نه متنفره شي هغه په زړه کې وائي که دا اسلام وي نو دې اسلام نه زما تو به .

د خاوند بې ځايه سختۍ او تنګ نظرۍ سره بعض وخت د يوې مسلمانې زنانه دنيا هم تباه شي او آخرت ئې هم په نقصان کې وي د هغې وجه دا ده چې بعض خاوندان ظاهري طور باندې تقوی دار ښکاري خو ليکن هغه ته د شريعت علم نه وي نو په ديني لحاظ سره چې کله جهالت او تقوی يو ځائ شي نو تنګ نظري پيدا شي او دا يقيني خبره ده .

# لطيفه

بعض خلقو کې دا خبره مشهوره ده چې يو سړے په تبليغ تلے وو چې کله د تبليغ نه واپس شو نو په خپلې ښځې ئې راباندې کړل او هغه ئې وهله نو چا ترينه تپوس اوکړو چې امير صاحب دا ولې وهې ؟

نو هغه اوويل : چې دا ږيره ولې نه پريږدي ؟

نو خلقو ورته اوويل : چې امير صاحب د زنانو ږيره خو نه راځي نو امير صاحب اوويل چې خا نو بيا خو دې کم ازکم اراده اوکړي چې که راشي نو نه به ئې خروم .

او داسې مثالونه ما ته بې شماره معلوم دي چې د جهالت په وجه باندې خپلې بي بيانې وهې ټکوي او د جهالت په وجه باندې په خلقو فتوی لګوي چې فلانکے فاسق دے فلانکے فاجر دے فلانکے منافق دے نو داسې نه دي کول پکار .

# ته څومره ښه ئې ؟

هر انسان په صفت او تعريف خوشحاليږي که ته د خپلې کوروداني زړه ګټل غواړې نو د هغې تعريف کوه هغه سړے څومره لوي بدبخته دے چې د بازاري او پردو ښځو په صفت کولو کې د زمکې او آسمان قلابې ميلاووي چې فلانکي ځائ کې داسې ښکلې ښځه وه؟ **داسې رنګ ئې وو ؟**

**داسې** باډي ئي وه ؟

**داسې** پوزه ئي وه ؟

**داسې** مخ ئي وو ؟

**داسې** انداز ئي وو ؟

لیکن د خپلې کوروداني په باره کې ئي ژبه چاړئ شي د هغې دپاره د محبت الفاظ د خُلې نه ویستل داسې مشکل شي ورته لکه د کارګل غر ته ختل .

دا تجربه شوې خبره ده چې د چا صفت کیږي نو د هغې په زړه کې دا خبره راځي چې د دې تعریف کونکي په زړه کې زما قدر دے .

نو په هر کار کې په کوروداني تنقید کول مناسب نه دے که ته غواړې چې ښځه ستا

صفت اوکړي او ستا سره مینه اوکړي نو ته د هغې تعریف کوه نو دې سره به د هغې په زړه کې ستا محبت سیوا شي او چې د یو کس د بل کس سره مینه وي نو د هغې هرې خبرې منلو ته تیار وي .

**هغه** (ښځه) خپله غلامه نوکره مه ګڼړه بلکې

**هغه** ستا دوسته ده .

**هغه** ستا خیر خواه ده .

**هغه** ستا رازداره ده .

**هغه** ستا د ژوند اهمه ستن ده .

هغې ته ته د کور کار دپاره داسې لهجه مه استعمالوه لکه سړے چې نوکر ته استعمالوي بلکې په داسې لهجه کې ورته خبره کوه لکه خپل خصوصي ملګري ته چې ئې کوې .

زنانه فطري طور باندې دنرم زړه والا وي په معمولي تعريف هم دومره ډيره خوشحاليږي چې جامو کې نه ځايږي .

او کله چې د هغې نه کمې کوتاهئ اوشي نو هغه په داسې انداز پوهه کړه چې هغه عبرت واخلي ستا د خبرو نه او هغه دا محسوسه نه کړي چې دا ما ته حکم کوي بلکې دا محسوسه کړي چې زما خير خواه ماله ښه مشوره راکړه .

بعض خلق په معمولي غلطيانو باندې په کور کې قيامت جوړ کړي **مثلا** : کوروداني په سالن کې مالګه يامرچکے په زيات مقدار کې واچول يا ئې کم واچول يا ترينه غوړي زيات شول يا ترينه کم شول يا ترينه روټئ معمولي اوسوزي نو خاوند د غصې د لاسه ټول کور په سر راواخلي او په غصه کې کوروداني ته ردې بدې هم وائي کنځلې هم کوي بے عزتي ورلره هم کوي پيغوررونه ورته هم ورکوي بلکې بعض وخت د هغې وهلو ته هم تيار شي دا څومره د بد قسمتئ خبره ده ايا ستا په دې ردو بدو ويلو ، کنځلو کولو ، پيغوررونو ورکولو به هغه خوشحاله شي ؟

د هغې زړه ته به اطمينان اورسيږي ؟

ايا دومره خبرو اوريدو باوجود به هغه ستا سره روټۍ په شريکه اوخوري؟

ايا دې سره به ستا قدر او عزت د هغې په زړه کې سيوا شي ؟

نا ! هيڅ کله نا! چيرې هم نا ! بالکل نا !

بلکې د هغې زړه ته په دې خبرو سره درد اورسيږي هغه به غمژنه او پريشانه شي او کيدے شي د دې خفګان په وجه د هغې نه بل څه کار هم وران شي هغه کورو دانې چا چې هر وخت ستا دپاره قسماقسم خوراکونه تيار کړي دي مزيدار ذائقې والا ترکاريانې پخې کړي که چرته يو ورځ هغې نه غلطي اوشي نو ته به آسمان په سر راخلې ؟

د هغې په سوونو ۱۰۰ خوبيانې تا په يو منټ کې د خپو لاندې کړې ؟ داسې خو ستا نه هم د ورځې بې شماره غلطيانې کيږي دا غلطي خو هغې جان بوج کر (په قصداً) نه دي کړي .

د پيغور او تنقيد په وجه انسان اکثر همت اُوبيلي او د بې همتۍ د وجې نه بعض وخت د انسان ډير صلاحيتونه ختم شي د کورودانې تعريف کوه که دسالن تعريف نه کوې نو کم ازکم د کورودانې د لاسونو تعريف خو اوکړه او چې کله کورودانې سالن اوڅکې نو هغې ته به پخپله احساس اوشي د خپلې غلطۍ د هغې حوصله افزائي کوه او ظاهره خبره ده چې کله ته د کور خلقو په مخکې د هغې

بې عزتي اوکړي نو سبا به رونړه خویندې وغیره هم هغې ته په داسې سپک نظر ګوري هغې دا غلطي جان بوج (یعنی قصداً) نه ده کړې بلکې دا غلطي غیر اختیاري شوې ده .

د کوروداني د پخلي تعریف کوه .

کله د لباس تعریف کوه .

کله د هغې د حسن او جمال تعریف کوه .

کله د هغې د جامو د استري کولو صفت کوه .

کله د هغې د ویښتو تعریف کوه .

بعض وخت که ته خپلې کوروداني له د لکونو روپو زیورات (سره او سپین زر) وکړې نو بیا هم هغه نه خوشحالیږي خو که تا هغې ته یو معمولي ګفټ ورکړو یا د زړه د خلاصه د هغې صفت اوکړو نو هغه به دومره خوشحاله شي چې تا به د هغې تصور نه وي کړے .

دا سوچ مه کوه چې جامې ایستري کول ، روټۍ پخول ، جامې وینځل ، لوخې وینځل ، د کور صفائي کول ، د هغې ذمه داري ده او ټولې ښځې داسې کوي نو دا خو څه د آسمان نه ده راکوزه شوې چې زه دیته واه واه اوکړم او تعریف ئې اوکړم ؟

نه ! دا سوچ دې غلط دے که ستا دا سوچ وي نو ته به چرته هم د خپلې کوروداني زړه اونه ګټې چې ستا کورودانه ټوله ورځ کارونه اوکړي او ماسخوتن ستړې ستومانه کمرې ته راشي او ته دوه درې

خبرې د هغې د تعريف اوکړې نو يقيناً د هغې ټوله ستوماني به ختمه شي او ته به هغه د تروتازه ګل په شان محسوسه کړې .
او بله فائده د تعريف کولو دا ده چې هغه به په خپل کار کې نور هم محنت او کوشش کوي .
که ته خپله کورودانه نوکره ، غلامه ، او مزدوره ، ګڼړې او هر وخت هغې ته په سخته لهجه کې حکمونه کوې نو آخر به هغه تنګه شي او ستا د سختئ په رد عمل کې که به هغه ستا نافرماني کوي او کور کې به جنګونه او فسادونه شروع شي که ته غواړې چې ستا کورودانه ستا تابعداره وي ستا سره محبت کوي ستا خبره مني ستا په اشاره چليږي نو هغې ته د خامئ په نظر نه بلکې د محبوبې په نظر ګوره معمولي معمولي کارونه په خپله کوه بالفرض که ستا ميلمه راشي او کور کې يوازې ستا کورودانه وي خوينديې دې نه وي او کارونه ډير وي که ستا کورودانه پخلے کوي او ماشومان ورته ژاړي نو ته ورسره ماشوم قلار کړه که هغه پياز کټ کوي نو ته ورسره ټماټر کټ کړه او که هغه سالن پخوي نو ته ورته مالګه مرچکے او غوړي کچن ته يوسه نو دې سره به د هغې په زړه کې ستا مقام او مرتبه سيوا شي او هغه به ستا تعريفونه شروع کړي او دا د څه شرم خبره نه ده امام الانبياء سيد المرسلين محمد عربي عليه السلام هم د کور په کارونو کې د خپلو بي بيانو سره تعاون کولو عائشه رضي الله

عنها فرمائي :

«كَانَ فِي مِهْنَةِ أَهْلِهِ، فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلاَةُ قَامَ إِلَى الصَّلاَةِ» [1]

**«ترجمه»** : نبي عليه السلام به د كور كارونه كول او چې كله به اذان اوشو نو بيا به مونځ له تلو .

ګورئ نبي عليه السلام څومره عظيم انسان دے او بيا هم د كور ټول كارونه كوي سره د ديني مصروفياتو نه .

دارنګه د نبي عليه السلام دا عادت وو

«مَا عَابَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا قَطُّ، إِنِ اشْتَهَاهُ أَكَلَهُ وَإِلَّا تَرَكَهُ» [2]

**«ترجمه»** : نبي عليه السلام چرته هم په خوراک کې عيب نه دے لټولے كه زړه به ئې غوښتل نو روټۍ به ئې اوخوړله او كه زړه به ئې نه غوښتل نو نه به ئې خوړله .

داسې به ئې نه ويل چې مرچكے سيوا دے ، غوړي كم دي روټۍ سوزيدلې ده .

---

[1] صحيح البخاري ٥٣٦٣

[2] صحيح البخاري 3563

## قصه !

یو ځل یو بادشاه په یو ځنګل کې د خپلو ملګرو نوکرانو او وزیرانو سره روان وو په ځنګل کې ئې یو بوټے د میوې اولیدلو بادشاه د هغې نه میوه راوشکوله نو ټولو کسانو هغه میوه واخستله او چې چا به هم هغه خولې ته نزدیکوله نو لاړې به ئې توکلې ځکه چې هغه میوه کچه وه او ذائقه (خوند) ئې هم خراب وو لیکن یو نوکر هغه میوه ډیره په خوشحالئ سره خوړله بادشاه هغه راوغښتلو او تپوس ئې ترینه اوکړو چې ته ولې دا کچه میوه په خوشحالئ سره خورې ؟

دا خو کچه هم ده او بد ذائقه داره هم ده !

نو هغه ورته اوویل : بادشاه صاحبه ! ما همیشه ستا دلاس نه مزیدارې او خوندورې میوې خوړلي دي نو که نن مې ستا د لاس نه دا بې خونده اوخوړله نو څه چل اوشو ؟

ما له شرم راځي چې زه ستا په مخکې شکایت اوکړم .

نو بادشاه ډیر زیات خوشحاله شو او د غلام قدر ئې نور هم په زړه کې سیوا شو .

مقصد دا چې که یو کار یا عادت ستا خوښ نه وي نو په بل باندې تنقید مه کوه بلکې د هغې حوصله افزائي کوه دې باره کې زما د ملګري یوه واقعه ده هغه وائي چې مونږ په خپل کور کې یو نوکر ساتلے وو هغې ۱۰ لسمه پورې سکول هم ویلے وو لیکن هغې کې

دا بیماري وه چې هغه به هر وخت بلا ضرورته بازار ته تلو او د لوپرانو سره به ناست وو چونکه هغه هلک یتیم وو نو ما نه غوښتل چې هغه زه اوشړم نو ما سوچ اوکړو او هغه مې یو ځل کینولو او ورته مې اوویل : چې تا کې ډیر ښکلي ښکلي عادات موجود دي لیکن زما زړه غواړي چې ته فارغ وخت کې څه کتاب ګورې نو دې سره به ستا په نالج کې اضافه راځي او تا کې به نور هم ښکلي عادات راپیدا شي او بیا مې یو مشهور کتاب (داستان ایمان فروشوں کی) هغه لره ورکړو او ورته مې اوویل چې فارغ وخت دا لوله نو هغې هغه کتاب شروع کړو او هغه کتاب ورله خوند ورکړو مخکې چې به ما کله بازار ته لیګلو هغه ۲ -۲ ګینټې تیرولې او چې کله هغه کتاب شروع کړو نو بیا به هغه بازار کې د لس ۱۰ مینټو نه زیات وخت نه اړولو او چې کله به ورته پنځه منټه میلاؤ شو نو زربه ئې هغه کتاب راخستلو نو که چرته ما هغه هلک شړلے وے نو ظاهر خبره ده چې هغې به بیا هم خپل عادت کولو لیکن ما ورسره د حکمت کار اوکړو په اخلاقو په او ښه طریقې مې پوهه کړو نو هغه خبره فوراً قبوله کړه .

نو د دې خبرې مقصد دا شو چې کوم کار په نرمۍ کیږي نو بلا ضرورته په هغې کې سختي کول نه دي پکار هر انسان کې څه نا څه خوبي وي .

**مثلاً** : یوه زنانه به داسې وي چې د هغې مخ به ښائسته وي .
بله به داسې وي چې د هغې ځواني به ښائسته وي .
بله به داسې وي چې د هغې بل کوم اندام به ښائسته وي .
د یوې زنانه به اخلاق ښائسته وي .
یوې زنانه به علم او تعلیم کړے وي .
یوه زنانه به په پخلي کې ماهره وي .
مقصد دا دے چې هره زنانه کې څه نا څه خوبیانې وي داسې نه شي کیدے چې یوې زنانه کې دې هیڅ قسم خوبیانې نه وي .
نو چې ستا په کوروداني کې کوم صفت وي نو د هغې تعریف اوکړه.
یو ملګري خپله واقعه بیانوله چې زمونږ په کور کې یوه نوکره وه هغې به زمونږ ټول کور صفا ساتلو هغې کې دا غټه خامي وه چې هغې به زما د کمرې میز نه صفا کولو ټوله کمره به صفا وه لیکن په میز باندې به دوړه پرته وه نو ما هغه زنانه ته اوویل چې ته زمونږ د کور صفائي کوې نو ماشاء الله به ډیر ښکلې طریقې سره د کور او د کمرې صفائي کوې لیکن زما د کمرې میز باندې زما کتابونه پراته دي او د صفائي نه کولو په وجه په هغې باندې دوړه پرته وي نو د صفائي په وخت کې که ته د میز صفائي هم اوکړې نو یقیناً چې د کمرې خوند به نور هم سیوا شي او د هغې حسن او ښائست به

دوچند (دوبالا) شي نو هغه ملګرے وائي چې کله په دویمه ورځ زه هغه کمرې ته داخل شوم نو هغې میز داسې صفا کړے وو چې سم چمک ئې وهلو چې تا به ویل چې ګنې دا چا پالش کړے دے او د کمرې هر شے په خپل ځائ کې په ښکلي انداز پروت وو.

تاسو به کیدے شي دا سوچ کوئ چې دې سړي به ورله تنخوا سیوا کړې وه لیکن هرګز داسې خبره نه ده هغه د هغې زنانه صفت اوکړو نو هغې کې تبدیلي راغله.

نو که په خپله کورودانې باندې څه کار کول غواړې نو د هغې تعریف اوکړه که په حکمت او اخلاقو سره ستا کار کیږي نو دې کې د څه نقصان څه خبره ده ؟

په ۲٦ فروري ۲۰۱۵ کې په مصر کې یوې زنانه په کور کې برګر تیار کړو هغې پرې ډیره خواري کړې وه لیکن خاوند د هغې بالکل صفت او نه کړو نو ښځې له په دې خبره ډیره غصه ورغله او په چاقو باندې ئې په خپل خاوند ګزارونه اوکړل او هغه ئې قتل کړو.

نو هر انسان په خپل صفت خوشحالیږي مشهور علم دین مفتي محمد تقي عثماني صاحب فرمائي چې ډاکټر عبد الحي ویل : چې زما په متعلقینو کې یو کس وو هغه او د هغه کورودانه به کله کله زما مجلس ته راتله یو ځل هغوي ماله دعوت راکړو زه د هغوي کور ته لاړم هلته مې روټئ اوخوړه نو روټئ ډیره مزیداره وه ما د هغې د

روټۍ او سالن صفت اوکړو او د هغې زنانه د حوصله افزائي دپاره مې د هغې تعريف اوکړو نو زنانه د پردې نه اخوا ولاړه وه او په ژړا شوه ما ترينه تپوس اوکړو چې ولې ژاړې؟
نو هغې راته اوويل : چې په دې کور کې زما ٤٠ څلويښت کاله اوشو ليکن زما خاوند چرته هم زما د لاس تيار شوي شي صفت نه دے کړے ته واحد کس ئې چې ستا د خولې نه ما خپل تعريف واوريدلو.
چې کله ستا کورودانه داسې مزيدار ډوډۍ پخلے اوکړي نو د هغې صفت اوکړه بالفرض که ته هغې ته اووائې چې فلانکۍ (د هغې نوم واخلې) نن دې داسې روټۍ پخه کړې ده چې زړه مې غواړي چې ګوتې ورسره اوخرم يا ورته داسې اووائې دا روټۍ او سالن ډير مزيدار دي زه دې اوس حيران کړے يم چې دا روټۍ اوخرم او که ښکل ئې کړم ؟ زه خو وايم چې بس صرف مې ورته کتلے نن خو تا کمال کړے دے داسې خوراک خو په غټو غټو هوټلونو کې هم نه تياريږي .
نو ته يقين اوکړه چې کله هغه ستا د خولې نه د خپل ځان داسې صفت واوري نو هغه به د خوشحالۍ نه په کپړو کې نه ځائيږي د خوشحالۍ نه به الوځي او آئنده دپاره به بيا هغه نور هم کوشش کوي چې ښکلے طعام تيار کړي .

**هان** ! که د هغې نه څه کمے زياتے اوشي نو په ښکلي انداز کې دې د هغې اصلاح اوکړي بعض زنانه په ډير محنت سره خوراک تيار کړي او په لوخو کې ئې په ښکلې طريقې سره واچوي او د هغې په خپل خاوند نظر وي چې زما خاوند به اوس زما د خوراک د ذائقې صفت کوي ليکن خاوند ئې د ځناور پشان په ۵ منټو کې پليټونه صفا کړي او دا پته هم ورته اونه لګي چې زما کوروداني د دې خوراک په تيارولو کې به څومره محنت کړے وي؟

آخر بيا زنانه د ښائسته خوراک تيارولو دپاره چرته هم کوشش نه کوي دا څومره د ظلم او بې انصافۍ خبره ده چې کوروداني ته په کنځلو کولو کې او ردو بدو ويلو کې خاوند يو منټ هم صبر نه کوي ليکن د کور وداني په جائز تعريف کولو کې د هغې په ژبه تاله اولګي د تصوير يو طرف خلق نه ګوري .

او د هر انسان په فطرت کې دا خبره پرته ده چې هغه غواي چې د هغې تعريف او کړے شي بعض خلق خپل تعريف ته داسې ضرورت لري لکه څرنګه چې روټۍ ته ضرورت لري .

بعض وخت که ته زنانه لره هر څه ورکړې **مثلاً** : سره زر ، سپين زر ، مال ، دولت ، بهترين قسم خوراکونه ، مزيداره بنګله ، ګاړي وغيره خو هغه به نه خوشحاليږي او که لږ تعريف دې ورلره اوکړو نو دومره به خوشحاله شي چې ټولې پريشانياني به ئې ختمې شي .

که ته اوغواړي چې د ښځې په سر تمانچه (پستول) کيږدي يا د ډنډې په زور، يا د کنځلو په زور، يا د وهلو په زور، يا د دهمکۍ په زور، ته په هغې باندې هر کار کولے شي ليکن دا ظالمانه طريقې دي په داسې طريقو باندې ته د هغې زړه نشي کټلے زما د دې خبرې مقصد دا نه دے چې ته د ښځې غلامي شروع کړه د هغې چاپلوسي شروع کړه.

په چاپلوسۍ او تعريف کې فرق دے د زړه له کومي د خپلې ښځې تعريف کوه د هغې د کارونو مزدوري هغې لره د تعريف په شکل کې ورکړه دا ستا اخلاقي فرض دي خپل مقصد د کور ماحول ښائسته کول جوړ کړه بيا تماشه کوه چې ستا د کور نه جنت جوړيږي او که نه؟

**خو** دا هم واوره چې فضول صفتونه به نه کوې چې ستا په کوروداني کې يوه خوبي موجوده نه وي او ته ئې بيانوې **مثلا** : ستا کورودانه د رنګ نه توره ده او ته د هغې داسې تعريف شروع کړې چې يره فلا نکۍ ته دومره سپينه ئې لکه د ١٤ څوار لسمې سپوږمۍ. يا هغه د قد نه لنډه وي او ته ورته وائې چې فلا نکۍ ما شاء الله ته د چنار په شان هسکه غړۍ لرې.

يا هغه غريبه ړنده وي يا نظر ئې کمزورے وي او ته ورله صفت

شروع کړې چې ته خو د باز پشان سترګې لرې ـ
نوکه داسې بےځایه صفت دې شروع کړو نو کیدے شي چې هغه تا پورې اوخاندي او په زړه کې به وائي چې (الله دی خير کړي په ليوني خاوند مې سر دے) ـ
يا هغه په کور کې انتهائي لنډې(مختصرې) تنګې او نرئ جامې واچوي او کور کې ستا ورونړه تره ځامن ماما ځامن وغيره په هغې باندې بار بار سترګې لګوي او په هغه جامو کې د هغی جسم ښکاري نو په داسې وخت کې به د هغې د جامو صفتونه نه کوې چې ما شاء الله ته خو ډيره ښکلې او سمارټ ښکارې او دا کپړې درسره ډير خوند کوي بلکې هغې ته غصه شه چې داسې کپړې مه اچوه ائنده دپاره ځکه چې دې کور کې زما ررنړه ، تره ځامن اوسيږي د هغوي په تا نظر لګيږي .
**هاں** ! البته که کور کې ستا سره رونړه نه اوسيږي او صرف ته او ستا ښځه او ماشومان بچي دي اوسيږي نو بيا خير دے که هغه لنډې تنګې جامې اچوي ځکه چې په هغې باندې د بل چا سترګې نه لګي ماسوا ستا نه .

# د خپلې کور وداني د ناز خبرې برداشت کړه

کله نا کله به ستا کوروداني تا ته د ناز او نخرې خبرې کوي او دا د هغې د نسوانيت حسن دے هره زنانه دا غواړي چې خپل خاوند سره

په ناز او اداء خبرې اوکړي او که يو سړے ديته نه تياريږي نو هغه دې بيا جنګونو ، شرونو ، وغيره ته تيار شي **مثلاً** : ته کور ته داخل شې او ستا کوروداني ستا په لاس کې لاس ورکړي او په کټ کې درسره کيني او په ناز درته اووائي : چې ظالمه ته چرته ورک شوے وې ؟ زه تا پسې سمه خفه شوې  وومه او ته زر پاڅې او ډآنګے راوخلې چې ظالم دې چاته اوويل ؟ ظالم خو به ستا پلار وي او په وهلو شروع اوکړې .

نو زه به دا اووايم : چې ته د دنيا احمق ترين انسان ئې، يا هغه درته په مينه اووائي : چې کله ته د کور نه بهر ئې نو زه ډيره خفه يمه تا پسې او ته ورله په خُله کې خبره اوچه کړې چې کينه د جوګمارې ښځې لورې هسې مکر کوې .

نو داسې کار مه کوه نبي عليه السلام د خپلو بيبيانو د ناز او نخرې خبرې برداشت کولې لکه حديث کې دي .

رسول الله عليه السلام عائشه رضي الله عنها ته اوويل : چې اے! عائشه چې کله ته زمانه خوشحاله يا خفه ئې نو ماته پته لګي نو عائشه رضي الله عنها فرمائي : چې ما تپوس اوکړو يا رسول الله تاسو ته څرنګه پته لګي ؟

نو نبي عليه السلام اووئيل :

أَمَّا إِذَا كُنْتِ عَنِّي رَاضِيَةً، فَإِنَّكِ تَقُولِينَ: لاَ وَرَبِّ مُحَمَّدٍ، وَإِذَا كُنْتِ

عَلَيَّ غَضْبَى، قُلْتِ: لاَ وَرَبِّ إِبْرَاهِيمَ

**﴿ترجمه﴾** : چې کله ته زما نه خوشحاله ئې نو داسې قسم کوې چې زما دې د محمد ﷺ په رب قسم وي او چې کله ته غصه ئې نو داسې قسم کوې چې زما دې د ابراهيم عليه السلام په رب قسم وي .

مقصد دا دے چې د غصې په وخت کې زما نوم نه اخلې نو عائشه رضي الله عنها اووئيل: چې يارسول الله داسې څه خبره نشته زه صرف ستا نوم پرېږدم ستا محبت خو زما په زړه کې وي [1] .

دارنګه حديث کې دي انس بن مالک رضي الله عنه فرمائي : چې نبي عليه السلام د خپلې يوې بي بي په کور کې ناست وو نو بلې بي بي هغه لره په پياله کې د خوراک څه شے اولېږلو نو د کومې بي بي په کور کې چې ناست وو هغه راپاڅيدله او هغه پياله ئې زمکې ته ګزار کړه هغه پياله ماته شوه نبي عليه السلام هغه ماته پياله راواخسته هغه ئې جوړه کړه او ښځې ته ئې اوويل : رازه خوراک اوکړه او بيا ئې

[1] عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنِّي لَأَعْلَمُ إِذَا كُنْتِ عَنِّي رَاضِيَةً، وَإِذَا كُنْتِ عَلَيَّ غَضْبَى» قَالَتْ: فَقُلْتُ: مِنْ أَيْنَ تَعْرِفُ ذَلِكَ؟ فَقَالَ: " أَمَّا إِذَا كُنْتِ عَنِّي رَاضِيَةً، فَإِنَّكِ تَقُولِينَ: لاَ وَرَبِّ مُحَمَّدٍ، وَإِذَا كُنْتِ عَلَيَّ غَضْبَى، قُلْتِ: لاَ وَرَبِّ إِبْرَاهِيمَ " قَالَتْ: قُلْتُ: أَجَلْ وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا أَهْجُرُ إِلَّا اسْمَكَ .
صحيح البخاري بَابُ غَيْرَةِ النِّسَاءِ وَوَجْدِهِنَّ 5228

هغه ماته پياله کيښودله او بله نوې پياله ئې هغې بل کور ته اوليږله .[1]

ګوره نبي عله السلام خپلې بي بي ته غصه نه شو ځکه هغه ته پته وه چې زنانه فطرتي طور سره د خپلې بنې سره بغض کوي .

لږ سوچ اوکړه که زمونږ کور ودانې چرته داسې حرکت کړے وے نو هغه غريبه به مونږ روغه تيره کړې وے او په کور کې به مو يو طوفان جوړ کړے وو او وهل ټکول به مو کولے او که وهل مو نه کولے نو کم ازکم کنځلې خو به مو ورته ښې بيشماره کولے اوتندے به مو تريو کړے وے چې زه ورکه شه زه بالکل روټۍ نه خورم تا کې څرنګه جرأت پيدا شو چې زما لاس نه دې پياله ګوزار کړه .

بل طرفته د عظيم نبي عظيم اخلاق ګوره چې څرنګه هغه په خندا سره د خپلې ښځې غصه او ناز نخرې برداشت کړې يوه خبره ئې هم کور ودانې ته د غصې اونه کړه .

---

[1] عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ بَعْضِ نِسَائِهِ، فَأَرْسَلَتْ إِحْدَى أُمَّهَاتِ المُؤْمِنِينَ بِصَحْفَةٍ فِيهَا طَعَامٌ، فَضَرَبَتِ الَّتِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَيْتِهَا يَدَ الخَادِمِ، فَسَقَطَتِ الصَّحْفَةُ فَانْفَلَقَتْ، فَجَمَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِلَقَ الصَّحْفَةِ، ثُمَّ جَعَلَ يَجْمَعُ فِيهَا الطَّعَامَ الَّذِي كَانَ فِي الصَّحْفَةِ، وَيَقُولُ: «غَارَتْ أُمُّكُمْ» ثُمَّ حَبَسَ الخَادِمَ حَتَّى أُتِيَ بِصَحْفَةٍ مِنْ عِنْدِ الَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا، فَدَفَعَ الصَّحْفَةَ الصَّحِيحَةَ إِلَى الَّتِي كُسِرَتْ صَحْفَتُهَا، وَأَمْسَكَ المَكْسُورَةَ فِي بَيْتِ الَّتِي كَسَرَتْ .

صحيح البخاري بَابُ الغَيْرَةِ 5225

# د ښځې دپاره

په حديث کې راغلي دي سيدنا عائشه رضي الله عنها فرمائي : مونږ په يو سفر کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره اوتلو چې کله مونږ بيداء علاقې ته اورسيدلو نو زما هار مات شو او چرته ورک شو نبي عليه السلام د هغې د تلاش کولو دپاره حصار شو نو نور خلق هم حصار شول په هغه ځائ کې اوبه نه وې نو خلق د سيدنا ابو بكر صديق رضي الله عنه خواله راغلل او هغه ته ئې اوويل : چې ګوره سيدنا عائشه رضي الله عنها دا هار چرته ورک کړو ټول خلق د هغې هار د وجې نه حصار شوي دي او دلته اوبه هم نشته نو سيدنا ابو بكر رضي الله عنه هم غصه شو او زما خواله راغے په دغه وخت کې نبي عليه السلام خپل سر مبارک زما په پتون باندې اينبودے وو او اوده شوے وو نو سيدنا ابو بكر رضي الله عنه ما ته اوويل چې ستا د وجې نه خلق حصار شو او دلته اوبه هم نشته (مقصد دا چې زما پلار ابو بكر رضي الله عنه ما ته غصه شو او ماته ئې ردې بدې اوويلې او ماله ئې زما تشے اوځکونډو خو ما حرکت اونه کړو ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم زما په پتون اوده وو چې کله نبي عليه السلام د خوب نه رابيدار شو نو الله تعالى د تيمم آياتونه نازل کړل نو خلقو د مونځونو دپاره تيمم اوهلو په دغه وخت کې سيدنا اسد بن حضير رضي الله عنه راغے او اوئې

فرمائيل : چې اے آل د ابو بکر دا ستاسو اولنے برکت نه دے سيدنا عائشه رضي الله عنها فرمائي : چې د کوم اوښ دپاسه زه سوره ووم نو هغه اوښ چې پاڅيدلو نو د هغې د لاندې هار پروت وو .[1]

## سوچ اوکړه

هار د سيدنا عائشة رضي الله عنها پريوتلے وو د محمد صلى الله عليه وسلم نه نه وو پريوتے که نبي عليه السلام غوښتل نو هغې ته ئې داسې ويلے شول چې ته د خپل سامان حفاظت نه شې کولے زه به اوس ستا دوجې نه ټوله قافله اودروم ښه دې چې ستا هار ورک شو ته ولې زما سره په سفر کې راتلې ليکن قربان شم د محمد صلى الله عليه وسلم په شان عظيم شخصيت نه چې هغې خپلې کوروداني ته هيڅ قسمه غصه اونکړه بلکې د هغې دپاره ټوله قافله حصاره کړه د خاوند داسې حصاريدل د ښځې د پوهه کولو دپاره کافي وي د دې هر څه باوجود هغه عظيم نبي د ښځې په زنګون باندې سر ږدي او بې غمه آرام کوي که چرته زمونږ بي بي نه داسې غلطي اوشي نو کيدے شي چې په وهلو به ئې مونږ پوستکے اوباسو .

په يو حديث کې دي مختصر مفهوم د هغې دا دے سيدنا عمر رضي الله عنه فرمائي : چې مونږ به د ښځو نازونه او اداګانې نه برداشت

[1] صحيح البخاري كِتَابُ التَّيَمُّمِ 334 أخرجه مسلم في الحيض باب التيمم رقم 367

کولے يو ځل زما بي بي سره په څه خبره بحث راغے نو هغې زما په مخکې اوچتې خبرې شروع کړې او مالره ئې په غصه غصه کې جواب راکولو نو ما ورته اوويل چې ته ما لره په اوچت آواز سره جواب راکوې ؟

نو هغې راته اوويل : چې ولې په دې تا لره غصه درځي ؟

قسم په الله چې د نبي عليه السلام بي بيانې هم نبي عليه السلام ته په بعض وخت کې داسې جوابونه ورکوي او بعض بي بيانې د نبي عليه السلام دومره غصه شي چې ماښام پورې د نبي عليه السلام سره خبرې نه کوي سيدنا عمر رضي الله عنه اووئيل : چې کله ما دا خبره واوريدله نو زه اويريدم چې داسې کونکې زنانه خو به غرقې شي بهر حال دا وائي : ما جامې واچولې او په منډه منډه د خپلې لور حفصه رضي الله عنها کورته داخل شوم او ورته مې اوويل : چې ما داسې اوريدلي دي چې تاسو بعض وخت د نبي عليه السلام سره خبرې اړه وئ ؟

دا ريشتيا خبره ده ؟

هغې اووئيل : آؤ ! نو ما ورته اووئيل : چې اے ! حفصه ځان ولې هلاک کوې ؟

نبي عليه السلام چې چا ته غصه وي نو الله تعالی هم هغه ته غصه وي او الله تعالی چې چا ته غصه شي نو هغه انسان هلاک شو.

نبي عليه السلام نه هيڅ څه مه غواړه چې څه ته دې ضرورت وي نو ما ته وايه او نبي عليه السلام ته جواب هم په غصه کې مه ورکوه او د سيدنا عائشه رضي الله عنها سره ځان مه برابروه .[1]

## فکر اوکړئ !

د خپل عظيم نبي عليه السلام زندګئ باندې نظر واچوئ چې د حپلو بي بيانو په سختو خبرو صبر کوي د اعلى اخلاقو مظاهره کوي ښځې به ترينه مابښام پورې خفه وې دا به ئې برداشت کولې ليکن هغوي ته چرته هم غصه شوے ندے .

د تعجب او حيرانتيا خبره خو دا ده چې بعض تعليم يافته علماء او ديندراه خلق د خپل انانيت لپاره دخپلې کور ودانې سره بد سلوکي او بد اخلاقي کوي چې د هغې په نتيجه کې کوررونه بربادېږي او معاشره کې بګاړ پيدا کيږي د محمد صلى الله عليه وسلم په سيرت کې زمونږ دپاره سبق دے .

کوم کسان چې په معمولي معمولي خبرو ښځې ته غصه کيږي او ښځه خپل پيزار ګڼړي او د کورودانې يوه غلطي هم نه برداشت کوي .

[1] صحيح البخاري بَابُ الغُرْفَةِ وَالعُلِّيَّةِ المُشْرِفَةِ وَغَيْرِ المُشْرِفَةِ فِي السُّطُوحِ وَغَيْرِهَا 2468

د کوروداني ناز نخرې نه برداشت کوي او دا د خپل غیرت خلاف ګڼړي نو داسې خلق چرته هم د سکون او راحت زندګي نشي تیرولے داسې خلق اکثر ناکام وي او یو بل ته ژاړي چې زما سکون برباد شوے دے او زما ښځه زما سره نه جوړیږي کله خواخې سخر ته شکایت کوي کله علماؤ ته شکایت او فریاد کوي کله د دوستانو په مجلس کې ګِلې او شکایتونه کوي داسې کس لره روټۍ هم خوند نه ورکوي ګاړي موټرې ، بنګلې ، جائداد وغیره موجود وي لیکن د دې هر څه باوجود هغه غریب سرګردانه ګرځي د دې برعکس هغه خلق چې هغه د کوروداني دناز نخرې خبرې برداشت کوي د هغوي سره نرمي کوي د برداشت ماده په کې موجوده وي هغه خلق انتهائي د راحت او سکون او خوشحالۍ زندګي تیروي او د هغوي کورونه د جنت منظر پیش کوي .

او دا یقیني خبره ده چې ته د ښځې ناز او نخرې برداشت کوه نو هغه به ستا د ناز خبرې برداشت کوي.

ته د هغې سره محبت اوکړه نو هغه به ستا سره محبت کوي ته د هغې سره یو فیصد مینه اوکړه نو هغه به ستا سره شل ۲۰ فیصده مینه اوکړي .

لږ سوچ اوکړه که ستا خویندې ستا سره د ناز خبرې کوي نو ته به هغې ناز نه برداشت کوې څه ؟

ولې نه ! ته به د هغې د ناز خبرې برداشت کوې .
نو ستا ښځه هم آخر د چا خور ده ، د چا لور ده نو لږ د انصاف نه کار اخله.
اګر چې دا انصاف کول مشکل کار دے ليکن بيا هم نا ممکنه نه دے که د ښه ژوند تيرولو دپاره د خپلې بي بي بعض خبرې او مطالبات اومنې د هغې د خوشحاله کولو دپاره بعض وخت د خپل مزاج خلاف اوکړې نو قيامت به راشي ؟
دا آسمان به راښکته شي ؟
دنيا به ورانه شي ؟
ستا په مال او جسم کې به څه کمے راشي ؟
**نا** ! چرته هم داسې نه کيږي ګوره ستا زندګي ناکامه شوې ده هره ورځ دې په کور کې تون تون مياں مياں شروع شوي دي د دينه به درته نجات ميلاؤ شي نور څه غواړې ؟
د کورودانې يو نيم مطالبه اومنه کنه څه چل به اوشي ؟
ته خو څه جائداد د هغې په نوم کوې نه ؟
نه هغې لره څه لکهونه روپۍ په تحفه کې ورکوې ؟
صرف او صرف د هغې دلجوئي کوې د هغې د جذباتو او احساساتو خيال ساتې او د دې په بدله کې تا ته چې د دې کوم عوض ميلاويږي نو هغه ډير لوي دے خپل انانيت پريږده .

د خپلې کوروداني ترخې او د غصې نه ډکې خبرې برداشت کوه.

**فائده** : به تاته درکوي که يقين دې نه راځي نو ازمائښت شرط دے.

## لږ غور اوکړئ!

که ستا ځوي په ژړا شي او هغه ټاپياني غواړي نو آيا ته به هغې پسې ډنګے راخلې څه؟

هغه لره به لاس او او ښپې ماتوې څه؟

نه! بلکې ته به حتى الوسع کوشش کوې چې هغه لره څه ورکړې او هغه قلار کړې د هغه ناز برداشت کړې نو ستا ښځه هم انسان دے هغې لره هم توجه ورکړه.

د هغې ناز هم برداشت کړه.

هغې ستا دپاره مور، پلار، رونړه، خويندې، وغيره پريښودي دي که هغه دا واړه واړه نازونه او د ناز خبرې ستا سره اونکړي نو آخر به د چا سره اوکړي؟

کور والا خو ئې پريښودي دي په مخ باندې د شفقت لاس راښکونکے پلار او په زلفو کې ګوتې وهونکې مور خو د هغې نه پاتې شوې ده د پلار په کور کې چې به کله هغه خفه شوه نو مور به زر هغه ټخلا کړه پلار به ورلره تسلي ورکړه رور به هغه غيږ ته

رانزدې کړه اوس خو هغوي ډير لرې پاتې شوي دي نو خير دے ته د هغې ناز برداشت کوه .

**هان** ! که هغه د شريعت خلاف د ناز خبره کوي .

**مثلاً** : وائي چې مالره موبائل کې ګانې ، فلمونه ، ډرامې ، واچوه مالره کور ته تې وي راؤړه نو بيا د هغې خبره قطعاً مه منه خو که هغه تا ته په ناز باندې اووائي : زړګيه نن مې کباب ته ، آيسکريم ته ، يا ډيو بو تل ته زړه شوے دے نو داسې نه چې ته ورته اووائې : چې زما پلار داسې په حبيب بينک کې منيجر دے يا ورته اووائې چې زما چرته د بادامو ټرکونه چليږي چې ته لا ما ته فرمائشونه هم اوکړې او داسې هم ورته مه وايه چې مړې زه چرته خپل کار کوه زه په موډ کې نه يم نن خو ما د چا سره جګړه کړې ده .

بلکې د هغې دا معمولي فرمائش په خندا خندا پوره کړه .

په يو حديث کې دي چې د خپلې بي بي په خوله کې لقمه اچول هم سنت عمل دے .[1]

دې سره به د سکون ژوند تيريږي .

[1] وَمَهْمَا أَنْفَقْتَ فَهُوَ لَكَ صَدَقَةٌ، حَتَّى اللُّقْمَةَ تَرْفَعُهَا فِي فِي امْرَأَتِكَ، وَلَعَلَّ اللَّهَ يَرْفَعُكَ، يَنْتَفِعُ بِكَ نَاسٌ، وَيُضَرُّ بِكَ آخَرُونَ» صحيح البخاري بَابُ فَضْلِ النَّفَقَةِ عَلَى الأَهْلِ 5354

# کوروداني له تحفه ورکوه

د کوروداني زړه ګټلو کې د تحفې ډیر اهمیت دے.

زمونږ استاذ محترم تفضیل احمد ضیغم وائي:

چې یو ورځ زه د جماعت نه راوتم او خپل کور ته تلم چې یو نوجوان راسره میلاؤ شو د هغه عمر به تقریباً ۲۵ کاله وو هغه ما ته اوویل چې زما کورودانه ما لره هیڅ څه اهمیت نه راکوي چې د پلار کور ته لاړه شي نو هلته بیا ناسته وي زه دومره تنګ شوے یم چې زړه مې غواړي چې دې ښځې لره طلاق ورکړم زما زندګي د پریشانیانو نه ډکه شوې ده او ما بعض ملګرو سره په دې باره کې مشوره هم کړې ده هغوي هم راته وائي چې داسې زنانه پریښودل پکار دي لیکن زه غواړم چې د هغې د پریښودلو نه مخکې د بعض علماؤ سره مشوره اوکړم هغه نوجوان دومره خبره اوکړه او خاموش شو.

نو ما په زړه کې اوویل چې آخر به دا څه وجه وي؟

لیکن بیا مې اوویل: چې د هر عمل دپاره رد عمل وي چې څومره په طاقت سره یو ګیند (بال) په دیوال اووهلے شي نو هغه هومره قوت سره هغه ګیند واپس راتنبیږي.

نو چې څومره زمونږ لهجه او انداز تیز وي نو داسې رد عمل به د مخالف کس هم وي.

هر وخت کې د سختئ جواب په کاڼړي ورکول نه ئي پکار.

که ښځه تالره د کنځلې جواب په کنځلې ، د ګزار جواب په ګزار او د سختئ جواب په سختئ نشي ورکولے (او دا ورله شرعاً حرام هم دي) نو کم از کم د غصې اظهار خو به کوي .
او بعض وخت غصه کونکے خپله غصه کوي خو چې مد مقابل کس د هغې د غصې جواب په غصه کې ورکړي نو هغه خفه کیږي او خبره نوره هم ورانه شي تردې پورې چې بعض وخت خبره طلاق ته اورسیږي او په داسې وخت کې که مونږ صرف د سړي خبره اورو او د زنانه خبره نه اورو نو ظاهره خبره ده چې خلق به ورلره د طلاق مشوره ورکوي نو دا د خبرې حل نه دے تر څو پورې چې د کور دننه کیفیت معلوم نه وي او د جګړې اسباب تلاش نه کړے شي نو دا جګړې به نه ختمیږي بلکې همدغه شان حال به وي نو ما هم غوښتل چې زه د دې ملګري نه د کور وداني د اخلاقو وغیره باره کې تپوس اوکړم .
نو کله چې ما د هغې نه معلومات اوکړل نو ما ته پته اولګدله چې دلته هم سحر ماښام تون تون میان میان وي او ښځه او خاوند دواړه دا کوشش کوي چې یو بل ته اذیت او تکلیف ورکړي او هر یو داسې داسې خبرې لټوي او یو بل ته وائي چې هغه په اور باندې د تیلو کار ورکوي په زخم باندې د مرهم په ځائ هغه د مالګې (نمک) کار ورکوي نو ما د هغه نوجوان نه تپوس اوکړو چې تا چرته

خپلې کور وداني لره تحفه ورکړې ده ؟
هغه اوويل : نه ! نو ما ورته اوويل چې ته يو کار اوکړه زما سره بازار ته لاړ شه او يوه ګلدسته وا خله او خپلې بي بي لره د تحفه په طور باندې ورکړه .
قدرتي خبره ده چې کوم سړے د خپلې کورودانې نه خفه وي نو هغه فوراً دې کار ته نه تياريږي ليکن ما هغه رضا کړو او هغه په معمولي روپو باندې هغه ګلدسته واخستله او کور طرفته روان شو اوس عمل بدل شو او چې کله عمل بدل شي نو رد عمل هم بدل شي په بله ورځ چې کله هغه زما سره ميلاؤ شو نو مُسکے شو او خندل ئې او ما ته ئې اوويل چې کله ما ګلدسته خپلې ښځې له ورکړه نو هغې سم ناشنا کار اوکړو هغه راپاڅيده او زما ښپو کې پريوته او دوه کرته ئې زما نه معافي اوغوښتله او زما سره ئې وعده اوکړه چې ائينده دپاره به زه ستا نافرماني نه کوم .
يو ګلدسته چې د هغې قيمت ډير معمولي دے د هغې په وجه کور د خوشبو نه ډک شو نفرت په محبت بدل شو غصه په نرمئ بدله شوه .

## غور اوکړه !

کله چې د سړي کويژدن اوشي نو هغه خپلې بي بي لره مخکې د نکاح کولو نه دومره تحفې ورکوي چې حد ئې نه وي ليکن چې کله واده اوشي نو بيا تحفه وغيره په ځائ پاتې شي .

نو د هغې هم ضرورتونه وي او چې هغه در ته څه اووائي : نو د هغې د ویلو نه مخکې هغې له هغه شے راوړه .
ته اندازه اولګوه چې ستا کور ودانه څه ته ضرورت لري ؟
او کوم څیز خوښوي ؟
د هغې د وینا نه بغیر ته راوړه نو ته ګوره چې د هغې د خوشحالئ څه اندازه به نه وي .
هسې به هم یو شے هغې لره ورکوې لیکن چې هغه درسره جهګړه اوکړي نو څه فائده ؟
که ته د جګړې نه روستو هغې لره د سرو زرو هارونه او امیلونه هم واخلې لیکن د هغې به بیا څه فائده نه وي .
او بغیر د وینا نه که ته هغې له معمولي څیز هم واخلې نو دا به هغې ته ډیر غټ څیز او غټ نعمت ښکاري .
**مثلاً** :ګرمي شروع شي نو هغه به خامخا تا ته وائي چې ما له د ګرمئ جامې اوکړه نو که ته د هغې د وینا نه بغیر هغې له جامې راوړې او یا روپئ راواخلې او د هغې په لاس کې ئې کیږدې او ورته اووائي چې راځه چې تا لره کپړې واخلم دا به زما د طرفنه تا ته د ګرمئ تحفه شي .
یقین اوکړه چې د موسم بدلیدو سره به د هغې اخلاق ، کردار ، او رویّه هم بدل شي .

دارنګه په يخنۍ کې هم داسې کوه دارنګه چپړې ، بوټان هم ورلره وخت په وخت اخله .
که ته ژاړې او که خاندې خو دا به ورلره کوې لکه الله تعالی فرمائي :
لِيُنْفِقْ ذُو سَعَةٍ مِنْ سَعَتِهِ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنْفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللَّهُ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَا آتَاهَا سَيَجْعَلُ اللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا[1]
دارنګه ميوې او فروټ وغيره د انسان بنيادي ضرورت دے که ته يوه ميوه د هغې د خوښۍ راوړې نو هغه غريبه به ټول نه خوري د کور ټول خلق به ئې خوري مګر د کورودانې په زړه کې به ستا قدر سيوا شي چې زما خاوند زما خيال ساتي ما لره توجه راکوي .
د ضرورت شے په تحفه کې ورکول دا اصل کې مهارت او کمال دے دا خو د ضرورت اشياء وو .
د دې نه علاوه هم خپلې محبوبې او کورودانې له تحائف ورکوه .
**مثلاً** : د ګلاب ګل ، پرس ، يا بل داسې شے چې تا ته پته لګی چې ستا کورودانې ئې خوښوي نو هغه ورلره په خوښه باندې اخله .
ضروري نه ده چې ته ورلره قيمتي تحفې واخلې بلکې د پنځوس ٥٠

---

[1] [الطلاق: 7]

روپو یا سلو ۱۰۰ روپو تحفه ورلره واخله او بیا ته ګوره چې د دې
ثومره ښکلې نتیجه راوځي ؟
او تحفه ورکول د نبی علیه السلام سنت دي د الله تعالی نبي علیه
السلام فرمائي :
«تَهَادُوا تَحَابُّوا» [1]

﴿ترجمه﴾ : يو بل له تحفه ورکوئ دې سره به محبت سیوا کیږي .
یو سړي خپله کوروداني چرته بو تله نو ښځې خپل ټول سونا(سره
زر ، کالے) په غاړه کي (واچول) لیکن چې کله هغه روانیده نو
خاوند ورته اوویل : چې کالے (سونا) دې کور کې کیږده هسې نه
چې په لاره درنه ضائع نشي نو ښځې اوویل : چې صحیح ده خو دا
یو لاکټ به زه خامخا په غاړه کوم دا نه پریږدم خاوند ترینه تپوس
اوکړو چې دا ولې ؟
هغې اوویل : چې تا نه هیر شوے دے لیکن ما نه ندې هیر شوے .
هغه دا چې دا هغه لاکټ دے کوم چې تا ما لره د واده په شپه په
غاړه کې اچولے وو او دا زما نه نه هیریږي او نه به دا زه د مرګه
پورې لرې کړم دا خو یوه یادګاري تحفه ده دا د محبت پیغام دے .
لږ سوچ اوکړه دې زنانه هغه لاکټ لرې نه کړو ولې ؟

[1] الأدب المفرد٥٩٤

ځکه چې دا ورله خاوند تحفه کې ورکړے وو.

که بالفرض ته هغې له لاکټ واخلې نو هغه خو ئې خوري نه او نه ئې بل چرته اوړي ښځه د خاوند محبت غواړي وائي چې يوسف عليه السلام زليخې ته دومره محبوب شوے وو چې هغې د هر شي نوم يوسف ايښودے وو د کور هر يو شي له ئې نوم يو سف ايښودے وو همدا معامله د ښځې هم ده هغه د خاوند سره مينه لري نو هر شې کې هغې ته د خاوند مينه ښکاري.

نو که ته هغې ته وخت په وخت هديه ورکوې نو د هغې محبت به تا سره سيوا کيږي او خير دے ته په دې خبره تجربه اوکړه.

## د مزيدار ژوند تيرولو اُصول

که ته غواړې چې مزيدار او خوشحاله زندګي تيره کړې نو ستا دپاره بعض کارونه ضروري دي.

**١ ـ قاعده**:

ښځه او خاوند دې په يو وخت کې کمرې ته راځي.

**مثلاً**: کور ودانه د شپې لس ١٠ بجې کمرې ته داخله شي او خاوند بهر د لوپرانو، چرسيانو وغيره وو سره د شپې يو ١ بجې پورې ناست وي او يا په بازارونو کې ګرځې لډو، تاش، جواري، سګرټ، چرس، وغيره کوي نو دې سره د ښځې او خاوند تعلقات متأثره کيږي او کور کې تون،، تون،، ميان،، ميان،، شروع شي.

**۲ ـ قاعده** :

په یو کار کې د دواړو دلچسپي ضروري ده .

**مثلاً** : خاوند غواړي چې زه په خپل اوقاتو کې تلاوت واورم او ښځه غواړي چې زه دې په خپل اوقاتو کې ګانې بجانې ، فلمونه ، ډرامې، اوګورم

نو د دې نتیجه به دا وي چې د دواړو په خپل مینځ کې اختلاف شروع شي .

لهذا داسې دلچسپي تالاش کول پکار وي چې هغه دواړو ته ښه لګي .

**۳ ـ قاعده** :

کله نا کله خاوند لره پکار وي چې کور خالی وي د خپلې کورودانې په

لاس کې دې لاس ورکړي او کور کې دننه دې چکر اولګوي دې سره به د دواړو محبت د یو بل سره پیدا شي .

**٤ ـ قاعده** :

په یو بل باندې بهروسه کوئ په یو بل بهروسه کول ډیر ضروري دي اکثر د ښځې اوخاوند ترمینځ اختلافات هغه وخت پیدا کیږي کله چې په یو بل اعتماد نه کیږي .

**٥ ـ قاعده** :

د يو بل غلطياني معاف کول ډير ضروري دي .

د يو بل معاف کول ډير ضروري دي او دا عادت جوړول پکار دي په زندګئ کې د هر انسان نه غلطياني کيږي چا نه لږ چانه ډير که ستا د کوروداني نه څه غلطی اوشي نو هغه معاف کوه .

ځکه بل معاف کول دا ډير ښه عادت دے دې سره د ښځې او خاوند د يو بل سره محبت پيدا کيږي .

**٦ ـ قاعده** :

د يو بل نه هره ورځ د حال احوال تپوس کوئ خاص کر د خپلې کوروداني نه تپوس کوه چې هغه څنګه ده ؟

صحت ئې څنګه دے ؟ که هغه بيماره وي .

**مثلاً** : غاښ درد ، سر درد ، زکام ، نزله ، وغيره نو د علاج بندوبست ورله اوکړه ځکه د يو بل د حال نه خبريدل ضروري دي داسې نه چې هغه بيماره وي هغې ته تکليف وي او ته هغې له هيڅ اهميت نه ورکوي بس سحر د کور نه وځې او ماښام راځې که ته د هغې د علاج معالجې بندوبست نه کوې او د هغې بيماري نظرانداز کوې نو ظاهره خبره ده چې د هغې زړه ته به ستا په دې رويي درد رسيږي بيا چې کله ته بيمار شې نو هغه به هم تا ته څه اهميت نه درکوي .

**۷ ـ قاعده** :

کله چې ته بهر نه راشې او کور ته داخل شې نو خپلې کورودانې سره لاس ميلاؤ کړه او که ممکن وي نو غاړه ميلاؤ کړه او د هغې نه د هغې د حال احوال او صحت باره کې تپوس اوکړه او هغې ته دا ورمحسوسه کړه چې زه کله د کور نه بهر يم نو ما ته ستاسو ډير احساس وي .

**۸ ـ قاعده** :

کله چې ستا کورودانې د کور نه بهر ته اوځي **مثلاً** : د پلار کور ته ، د ورور کور ته ، د کاکا ، ماما . ترور ، وغيره کور ته ځي نو ته ورته اوويه چې ګرانې خپل خيال ساته داسې نه چې ته په لاره باندې په بې احتياطۍ سره مزل کوې او اوغورځيږې چرته زخمي نه شيې ستا دې ويلو سره به هغې ته دا محسوسه شي چې ښه ده چې زما خاوند زما سره همدردي لري او په ما خفه کيږي او زما باره کې ډير فکر مند دے نو دې سره محبت سيوا کيږي .

**۹ ـ قاعده** :

کله د شپې خپلې کمرې ته ورشې نو د خپلې کور ودانې سره د ټول ورځې مهم مهم او ضروري خبرې کوه چې نن فلانکي ځائ ته تلے ووم او فلانکے فلانکے کار مې اوکو او داسې داسې کار نن

اوشو.

خو د دې مقصد هم دا نه دے چې ته ورته لایعنی او فضول خبرې شروع کړې چې د هغې خبرونه دیني فائده وي او نه دنیاوی او کله یو غر جنګوې او کله بل ستا دې فضول خبرو سره به هغه تنګه شي او تا به لا قصه نه وي ختمه کړې چې هغه غریبه به اوده شوي وي، او د هغې مخکې داسې قصه مه کوه چې هغه پرې بور کیږي او د هغې دلچسپي په کې نه وي.

**۱۰ـ قاعده**:

یو بل له ښه مشوره ورکول.

کله کله کوروداني خپل خاوند له داسې ښه مشوره ورکړي چې د خاوند د هغې مشورې باره کې سوچ هم نه وي کړے او دا څه د شرم او عار خبره نه ده چې خاوند د خپلې ښځې نه په یو کار کې مشوره واخلي دې سره د سړي عزت نه کمیږي بالفرض ستا ښځه لوخي په وخت نه وینځي نو په ځائ د دې چې ته په هغې پسې ډانګے راواخلې هغه اووهې او وټکوې یا ورته کنځلې کوې د هغې نه دا بهتر ده چې هغه د ځان سره کینوې او ورته اووائې چې ګرانې زما خو دا مشوره ده چې ته دا لوخي په خپل وخت وینځې نو ښه به وي هسې هم دا کار کول غواړي نو ډیره به ښه وي (چې ته دا کار په خپل وخت اوکړې) نو ته یقین اوکړه چې ستا په دې انداز خبرو

کولو سره به د هغې سستي ختمه شي او هغه به آئنده دپاره هغه شان کوي څرنګه چې ته غواړې.
او مشوره کول د الله تعالى حکم دے الله تعالى فرمائي :
وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ [1]
**﴿ترجمه﴾** : اے ! نبي د صحابو سره په هر کار کې مشوره کوه .
دلته يو پوائنټ خبره هغه دا ده چې که بالفرض نبي عليه السلام د صحابو سره مشوره نه کولے نو هيڅ قيامت نه راتلو الله تعالى به ورته وخت په وخت باندې جبريل عليه السلام راليږلو د مشورې دپاره، ليکن بيا هم الله تعالى خپل نبي ته حکم کوي د مشورې اخستلو دپاره ځکه چې ستا به صحابو سره د مشورې فائده دا وي چې دې سره به د هغوي دلجوئي کيږي او د صحابه کرامو په زړونو کې به ستا مقام نور هم سيوا شي دې باره کې نور هم ډير احاديث دي خو زه هغه دلته نه ذکر کوم .

**١١ ـ قاعده** :

يو بل سره واده کولو باندې فخر کول .
خپلې کور وداني ته وايه چې زه ډير خوش قسمته انسان يم چې ستا سره مې واده اوکړو د دې اظهار ورته ځکه کوه که بالفرض اوس ته

[1] آل عمران آية (159) .

د خپلې کورودانۍ سره مينه نه کوې او هغه تاته ګرانه نه وي نو بيا هم اوس ته هيڅ نه شې کولے ځکه چې هغه غوا ، ګډه ، بيزه وغيره نده چې ستا خوښه نه وي نو ته به ئې بدله کړې يا به ئې خرڅه کړې او يابه ئې چالره ورکړې .

بلکې اوس هغه ستا د ژوند يو اهمه حصه ده اوس به ته د ژوند باقي ورځې او شپې د هغې سره تيروې د هغې نه اوس ستا خلاصون نشته ستا اوس د هغې سره مرګ او ژوند ليکلے شوے دے .

البته يوه طريقه شته چې هغې ته طلاق ويلے کيږي ليکن دا هم مناسبه طريقه نه ده ځکه د دې سره به د دوه خاندانو په مينځ کې بغض بې اتفاقي خفګان او بعض وخت دشمنيانې پيدا شي نو اوس که ستا کور ودانې هر څنګه ده (لوړه ده چيته ده ، توره ده ، جاهله ده ، بدرنګه ده ، بد اخلاقه ده،) هر څنګه چې ده خو ته اوس نر شه د هغې زړه اوګټه د هغې خاميانې په خوبيانو بدلې کړه هغې لره دومره مينه او توجه ورکړه چې هغه ستا غلامه شي او د خپلو ملګرو په مخکې ستا صفت کوي او په تا فخر کوي او ستا باره کې د هغې دا ذهن جوړ شي چې زما د خاوند پشان به بل انسان په دنيا کې نه وي .

**۱۲ ـ قاعده :**

چې کله هم ته هغه د خپل کور نه بهر اوباسې .

**مثلاً** : د هغې د پلار کورته ، د ورور کور ته ، خور کورته ، ماما کور ته ، یا کاکا یا ډاکټر ته بوزې نو هغه په ځان بوج مه ګڼړه بلکې په خپل زړه کې په دې خبره فخر کوه چې ستا کورودانه ستا سره روانه ده .

**۱۳ ـ قاعده** :

د ښه ژوند تیرولو دپاره دا ضروري دي چې د خپلې کوروداني نه چرته هم داسې توقع مه ساته چې ګنې هغه هم هغه شان رویه وي لکه څرنګه چې ته غواړې ځکه چې هغه ستا نه مختلف ده هغې جنس ستا د جنس نه بدل دے .

**۱٤ ـ قاعده** :

د هغې شکایات مه نظر انداز کوه .

بالفرض د کور مسائلو باره کې هغه څه شکایت لري **مثلاً** : کور کې لرګې نشته سبزي نشته ،بستره نشته ، ماشومان دوائي ته ضرورت لري لوښي نه وي ،یا بل داسې ضرورت چې د هغې پوره کول ضروري وي نو هغه ورلره پوره کړه .

**هاں** : البته که داسې شکایت اوکړي چې هغه ناجائز وي نو هغه ورلره مه پوره کوه **مثلاً** : که هغه وائي چې ستا په کور کې ټي وي، وي سي آر ، وغیره نشته یا وائي چې کور کې دې ډیش کیبل اولګوه

يا وائي زه ستا د مور، پلار ، سره يو منټ تيرولو ته تياره نه يم دا د کوره اوباسه يا وائي چې د کور ټول فرنيچر ، کارپټ ،قالين ، وغيره بدل کړه نو بيا د هغې دا غير شرعي شکايت نظر انداز کړه، او مه ورله توجه ورکوه کله کله به هغه يو فرمائش او شکايت کوي چې هغه به غير شرعي نه وي ليکن هغه به اسراف او فضول خرچئ کې راځي **مثلاً** : که هغه اووائي چې هر کال کور له نوے رنګ ورکوه ما له هره هفته کې نوې جوړه کوه زه په کچه کور کې نه اوسيږم ماله بنګله واخله نو بيا که ته ورله شکايت نظرانداز کړې نو خير دے .

البته : مناسب کپړې ، کوټه ، کټ ، بستره ، خوراک ، څکاک ، علاج ، معالجه ، دا دهغې بنيادي ضروريات دي دا به ورله خامخا پوره کوې .

۱۵ ـ **قاعده** :

ځان نه به فضول خرچ نه جوړوې او نه به د ځان نه بخيل جوړوې .

۱٦ ـ **قاعده** :

چې کله هغه د مور ، پلار ، کور ته تلل غواړي نو هغې له اجازت ورکوه.

**هان** : که هغه غواړیي چې په هره دویمه ورځ دې زه هلته ځم نو ستا مرضي ده که ته اجازت ورکوې او که نه ورکوې .

۱۷ ـ **قاعده** :

## خپلې کوروداني باندې تنقید مه کوه

ښځه په ځان باندې تنقید نه برداشت کوي لهذا چرته هم د ژبې په جنګ کې هغې له د شکست ورکولو کوشش مه کوه مخامخ په هغې باندې تنقید مه کوه د هغې کمزوریانې د خلقو په مخکې مه بیانوه .

۱۸ ـ **قاعده** :

د کور په کارونو کې د هغې مداخلت مه کوه .

**مثلاً** : د لوخو په اینښودلو کې ، د بسترو په سنبالولو کې ، د صفائي په طریقه کار کې ، د خوراک په تیارولو کې هغه خپلې مرضۍ ته پریږده بلکې هغې ته دا احساس ورکړه چې د کور مالکه ته ئې چې تا ته څنګه مناسب ښکاري هغه شان کور چلوه (البته کله نا کله هغې له مشورې ورکولے شې) .

۱۹ ـ **قاعده** :

د هغې د کپړو ، خوراک او دکور د کارونو تعریف کوه .

۲۰ ـ **قاعده** :

دا خبره ياد ساته چې كله د زنانه ماشوم پيدا شي يا د هغې ماهواري بيماري (حيض) وي نو د هغې موډ به اچانک بدليږي نو په دې ورته مه غصه كيږه بلكې برداشت كوه ئې .

۲۱ ـ **قاعده** :

هغې پسې خندا كول ، ټوقې ، مسخرې كول ، د دې نه ځان ساته ځكه دې سره د هغې زړه ته درد رسيږي .

**نوټ** :

دا هره خبره يو يو صفحې ته ضرورت لري ليكن ما مختصر ذكر كړه د دې دپاره چې خبره اوګده نشي .

## كوروداني له وخت وركوه

د ښه او مزيدار ژوند دپاره ضروري دي چې خاوندخپلې كور وداني له وخت وركوي .

بعض سړي هميشه دپاره دا كوشش كوي چې زه دې ډير مال اوګټم زما كاروبار دې وسيع وي سحر دكان ته لاړ شي ماسخُوتن راځي او ماسخُوتن هم اكثر ناوخته راځي او چې كله راشي نو د روټۍ نه فارغيدو پسې متصل اوده شي او سحر بيا وختي دكان ته روان شي .

د بعض خاوندانو هسې دا عادت وي چې هغوي خپل خالي اوقاتو كې اكثر يو ځائ او بل ځائ ناست وي نو بلا ضرورته يو ځاي بل

ځاي ګرځیدل دا ښه عادت نه دے بلکې حتی الوسع دا کوشش کوه چې خپلې کور ودانې له وخت ورکوه چې دکان نه ، دفتر نه ، کارخانې نه ، فیکټرۍ نه ، سکول کالج نه ، یا د مدرسې نه راشې نو د هغې سره کینه خبرې ورسره اوکړه هغې له وخت ورکړه .

بعض خاوندان دا غلطي کوي چې کورودانې له بالکل وخت نه ورکوي یو

ځائ بل ځائ به فضول ګرځي او چې کله نیمه شپه شي نو کمرې ته به داخل شي او فوراً به اوده شي د کورودانې سره بالکل خبرې نه کوي او نه د هغې د حال نه ځان خبروي چې په هغې باندې ورځ ځنګه تیره شوې د هغې طبیعت ځنګه دے ؟

نو دا د خاوند ډیره غټه کمزوري ده دا د ښځې شرعي حق دے دا خو څه کمال نه دے چې ته دې ملګرو له ډیر وخت ورکوې او خپلې کورودانې نه دې بې خبره وې هغې له دې وخت نه ورکوې د نورو خلکو خوشحالولو دپاره د خپل کور ماحول خرابوې او د دې وجې نه بیا د ښځې او خاوند تر مینځه جنګ جګړې اختلافات شروع شي .

بعض ښه نیکان دینداره سړي وي لیکن دا بیماري او کمزوري په هغو کې هم موجوده وي مونځونه ، روژې ، نوافل ، صدقې ، تلاوت ، اذکار ، وغیره ښه په پابندۍ سره کوي لیکن کورودانې له وخت نه

ورکوي .
بعض نوجوانان چې واده اوکړي نو بيا درې ۳ او څلور ٤ کاله د کور نه بهر وي يا مسافرئ دپاره مزدورئ دپاره يا تبليغ دپاره يا د سير او سياحت دپاره نو دا شرعي طريقه نه ده .
**هاں** : تبليغ هم کوه مزدوري هم کوه ليکن په کلونو کلونو باندې بهر د کور نه مه وځه د دې بعض وخت کې ډير نقصانات وي .
يو ځل سيدنا عمر فاروق رضي الله عنه او سيدنا ابي بن کعب رضي الله عنه په يو مجلس کې ناست وو يوه زنانه راغله او د خپل خاوند تعريف ئې شروع کړو چې زما خاوند ډير متقي او پرهيزګاره دے ډير نيک او صالح خاوند مې دے ټوله ورځ روژه نيسي او ټوله شپه تهجد کوي او د الله تعالى قرآن لولي دا خبره هغې زنانه اوکړه او چپ شوه .
سيدنا عمر رضي الله عنه په زړه کې اوويل : چې دا ښځه خو د خپل خاوند ډير صفت کوي لږ وخت پس بيا هغې ښځې د خپل خاوند صفتونه شروع کړل چې زما خا وند ډير نيک او پرهيزګاره دے دا خبره ئې اوکړه او بيا خاموشه شوه .
سيدنا عمر رضي الله عنه د هغې په خبره پوهه نه شو نو ابي بن کعب رضي الله عنه اووئيل : اے ! امير المؤمنين دې زنانه په ډير ښکلي انداز کې د خپل خاوند يوه کمزوري بيانه کړه سيد نا عمر رضي الله

عنه تپوس اوکړو هغه کومه کمزوري ده ؟
د دې خاوند خو ډېر نیک معلومیږي ټوله شپه مونځونه کوي او د ورځې روژه وي .
نو سیدنا ابي بن کعب رضي الله عنه اووئیل : چې د دې زنانه مقصد هم دا دے چې مونځونه نفلونه کوي خو لیکن ماله وخت نه راکوي نو سید نا عمر رضي الله عنه سوچ اوکړو چې په څومره ښکلي انداز کې دې زنانه د خپل خاوند کمزوري بیان کړه .
نو سیدنا عمر رضي الله عنه د هغې زنانه خاوند راوغښتلو هغه یو ډېر نیک صحابي وو د الله تعالی سره د ډېر محبت د وجې نه هغه به د شپې
تهجد کول او د ورځې به ئې روژې نیولې .
نو هغه ته سیدنا ابي بن کعب رضي الله عنه اووئیل : چې ګوره د الله تعالی حق هم اداء کوه او د بندګانو حق هم ادا کوه او زمونږ د شریعت حکم دا دے چې ښځې له به وخت ورکوې مسلسل نفلي روژې مه نیسه هره شپه او ټوله شپه تهجد مه کوه یوه ورځ روژه نیسه او یو ه ورځ مه نیسه د شپې نیم وخت خوب کوه او نیم وخت تهجد کوه او نیم وخت خپلې کوروداني له ورکوه دا د محمد صلی الله

عليه وسلم سنت او طريقه ده .[1]

بعض خلق د کاروبار په سلسله کې په کلونو کلونو د کور نه بهر وي او کور وداني له وخت نه ورکوي .

يو ځل سيدنا عمر رضي الله عنه په لاره باندې روان وو د شپې ټائم وو د يو کور نه د شعرونو اواز راتلو چې معلومات اوشو نو يوه زنانه د خپل خاوند جدائي باره کې اشعار وائي نو هغه کور ته راغے او د ام المؤمنين سيدنا حفصه رضي الله عنها نه ئې تپوس اوکړو چې يوه زنانه د خپل خاوند نه بغير څومره وخت تيرولے شي ؟

نو هغې ورته اوويل : چې څلور ٤ مياشتې .

نو سيدنا عمر رضي الله عنه دا قانون جاري کړو چې هيڅ يو نارينه دې د خپلې ښځې نه څلور ٤ مياشتو نه زيات نه لرې کيږي اګر که

[1] عَنِ الشَّعْبِيِّ قَالَ: أَتَتِ امْرَأَةٌ عُمَرَ فَقَالَتْ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، زَوْجِي خَيْرُ النَّاسِ يَصُومُ النَّهَارَ، وَيَقُومُ اللَّيْلَ، وَاللَّهِ إِنِّي لَأَكْرَهُ أَنْ أَشْكُوهُ، وَهُوَ يَعْمَلُ بِطَاعَةِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ وَالسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ. فَقَالَ كَعْبُ بْنُ سُورٍ مَا رَأَيْتُ كَالْيَوْمِ شَكْوَى أَشَدَّ وَلَا عَدْوَى أَجْمَلَ. فَقَالَ عُمَرُ: «مَا تَقُولُ؟» قَالَ: تَزْعُمُ أَنَّهُ لَيْسَ لَهَا مِنْ زَوْجِهَا نَصِيبٌ. قَالَ: «فَإِذَا فَهِمْتَ ذَلِكَ فَاقْضِ بَيْنَهُمَا» قَالَ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ أَحَلَّ اللَّهُ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ فَلَهَا مِنْ كُلِّ أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ يَوْمٌ يُفْطِرُ، وَيُقِيمُ عِنْدَهَا، وَمِنْ كُلِّ أَرْبَعِ لَيَالٍ لَيْلَةٌ يَبِيتُ عِنْدَهَا .
المصنف لعبد الرزاق الصنعاني 12588

**مجاهد ولې نه وي .**[1]

**دا د بعض كسانو كمزوري ده چې هغوي د كورودانې او بچو دپاره په كور كې د هرې خوشحالئ اهتمام كوي خوراک څكاک او سهوليات ورته موجود وي د ګرمئ نه د بچاؤ دپاره په كمرو كې اے سي او يخنئ په موسم كې د ګيزر ، هيټر ، او د ګرمو كپړو بندوبست كوي خپل بچي په مشهور سكولونو كې داخلوي او په زرګونو روپئ د هغوي ماهانه فيسونه وركوي او د كور ودانې دپاره قيمتي او ناشنا ډيزائن او كوالټئ والا بهترين قسم كپړې راوړي ښكلي او قيمتي ګاړي ئې اخستلي وي او په مزيدارو بلډنګونو او كورونو كې شپې او ورځې تيروي ليكن د هغې سره دومره وخت نه وي چې د خپلې كور ودانې سره كيني او د هغې د حال احوالو نه ځان خبر كړي .**

[1] أَنَّ عُمَرَ، وَهُوَ يَطُوفُ سَمِعَ امْرَأَةً، وَهِيَ تَقُولُ: تَطَاوَلَ هَذَا اللَّيْلُ وَاخْضَلَّ جَانِبُهْ ... وَأَرَّقَنِي إِذْ لَا خَلِيلَ أُلَاعِبُهْ فَلَوْلَا حَذَارِ اللَّهِ لَا شَيْءَ مِثْلُهْ ... لَزُعْزِعَ مِنْ هَذَا السَّرِيرِ جَوَانِبُهْ فَقَالَ عُمَرُ: «فَمَا لَكِ؟» قَالَتْ: أَغْرَبْتَ زَوْجِي مُنْذُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ، وَقَدِ اشْتَقْتُ إِلَيْهِ. فَقَالَ: «أَرَدْتِ سُوءًا؟» قَالَتْ: مَعَاذَ اللَّهِ قَالَ: «فَامْلُكِي عَلَى نَفْسِكِ فَإِنَّمَا هُوَ الْبَرِيدُ إِلَيْهِ» فَبَعَثَ إِلَيْهِ، ثُمَّ دَخَلَ عَلَى حَفْصَةَ فَقَالَ: «إِنِّي سَائِلُكِ عَنْ أَمْرٍ قَدْ أَهَمَّنِي فَأَفْرِجِيهِ عَنِّي، كَمْ تَشْتَاقُ الْمَرْأَةُ إِلَى زَوْجِهَا؟» فَخَفَضَتْ رَأْسَهَا فَاسْتَحَيَتْ. فَقَالَ: «فَإِنَّ اللَّهَ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ»، فَأَشَارَتْ ثَلَاثَةَ أَشْهُرٍ وَإِلَا فَأَرْبَعَةً. فَكَتَبَ عُمَرُ «أَلَّا تُحْبَسَ الْجُيُوشُ فَوْقَ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ»

المصنف12593

چرته کوروداني او بچي چکر  له هم نه بوزي چې د هغې ذهن فريش شي او د هغوي پريشاني او ستوماني کمه شي .

بس د مشين زندګي ئي وي سحر د کور نه اوځي او ماښام ماسخوتن راځي او چې کله کور ته راشي نو د کوروداني او بچو ستړګې په خوب پټې شوي وي د خپلې کوروداني د مصروفياتو سره هيڅ تعلق نه لري بس هغه دا سوچ کوي چې مونږ خو هر قسم سهوليات فراهم کړي دي او په دوئ مو غټ احسان کړے دے  ليکن هغوي په دې خبره نه پوهيږي چې زنانه د دې ټولو سهولياتو باوجود د خاوند توجه غواړي او چې کله خاوند ښځې له وخت نه ورکوي نو کوروداني په زړه کې احساس کمتري پيدا شي او د هغې په مزاج کې تبديلي راشي نو چې کله زنانه په دې حالاتو کې پريشانه او خفه وي نو خاوند ورته غصه کيږي چې ما په کور کې تاته هر قسم سهولياتو بندوبست کړے دے زه ټوله ورځ خوار او ذليل ګرزم در په در خاورې په سر يم او ته بيا هم ماله هيڅ توجوه نه راکوې .

## لږ سوچ اوکړه !

که ته خپلې کوروداني ته داسې جمله اووائي چې زه ستا دپاره نن د کار نه دفتر يا ډيوټۍ نه وختي راغلم زما زړه غواړي چې زه نن د خپلې محبوبې سره (ليلى سره ، شريک هم سفر ، د  ژوند ملګري سره) څه وخت تير کړم .

نو ستا کورودانه به ځومره خوشحاله شي د هغې د خوشحالۍ څه انتهاء به نه وي هغه به ځان په جنت کې محسوسوي او دا د صحابو سنت هم وو چې هغوئ به کله نا کله د خپلې کورودانې دپاره وختي کور ته راتلل امام بخاري رحمه الله یو حدیث راوړے دے.

عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: كُنْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ، فَلَمَّا قَفَلْنَا، تَعَجَّلْتُ عَلَى بَعِيرٍ قَطُوفٍ، فَلَحِقَنِي رَاكِبٌ مِنْ خَلْفِي، فَالْتَفَتُّ فَإِذَا أَنَا بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «مَا يُعْجِلُكَ» قُلْتُ: إِنِّي حَدِيثُ عَهْدٍ بِعُرْسٍ، قَالَ: «فَبِكْرًا تَزَوَّجْتَ أَمْ ثَيِّبًا؟» قُلْتُ: بَلْ ثَيِّبًا، قَالَ: «فَهَلَّا جَارِيَةً تُلاَعِبُهَا وَتُلاَعِبُكَ» [1]

ګورئ سیدنا جابر رضي الله عنه خپل کور ته د زر تلو وجه دا بیانه کړه چې ما نوے واده کړے.

او که مونږ سوچ اوکړو نو تبلیغي اعتبار سره په دنیا کې د ټولو نه زیات مصروف انسان نبي علیه السلام وو لیکن بیا به هم هغې خپلو بي بیانو له وخت ورکولو او د هغوي سره به کیناستلو د هغوي دلجوئي به ئې کوله چې کله له به په سفر تلو نو هغه به ئې ځان سره بوتلې.

هغه خلق چې هغوي په کلونو د کورونو نه بهر وي نو دا کار د

[1] صحيح البخاري بَابُ طَلَبِ الوَلَدِ 5245

هغوې په رڼا د شریعت کې ناروا دے ځکه چې د انسان نه د ښځې او د بچو متعلق تپوس کیږي .
بعض وخت زنانه او ماشومان په دې خبره سوچ کوي چې دا څنګه دین دے چې زمونږ پلار ئې لرې کړے دے او د دې وجې نه بیا اکثر بچې د تربیت د فقدان او کمي په وجه د دین نه لرې شي .
دې باره کې ډیر واقعات دي خو ماهنامه علم واکهي نه به یوه واقعه نقل کړو د فائدې دپاره .

# يو پلار خپله واقعه داسې بيانوله

نن زه چې د دفتر نه راغلم نو د شپې لس ۱۰ بجې وې د ستړي والي او بيزارئ نه مې ډير بد حال وو ګاړے مې په صحن کې اودرولو او زه کمرې طرف ته روان  شوم ما اوکتل چې  د کمرې په دروازه باندې زما ځوي ولاړ دے عام طور باندې زما کورودانه زما د راتلو نه مخکې ماشومان اوده کوي ځکه چې هغې ته پته ده چې زه شور نه خوښوم چې کله ما د بچي نه تپوس اوکړو چې ته ولې نن نه ئې اوده شوے ؟

نو هغه راته اوويل چې داجې !

زه نن ستاسو نه يو تپوس کول غواړم که تاسو اجازت را کوئ ؟

نو ما ورته اوويل بچيه څه تپوس کول غواړې ؟ وايه !

هغه راته اوويل چې داجي تاسو په يوه کينټه کې څومره روپۍ ګټۍ ؟

نو ما ورته په غصه کې اوويل : چې ولې  ؟

ستا په دې کې څه غرض  دے ؟

هغه راته اوويل چې ابو اوايه چې څومره روپۍ ګټې ؟

نو ما ورته اوويل : چې سل ۱۰۰ روپۍ تقريباً ګټم .

بل څه تپوس خو نه کوې ؟

زما په سوال باندې هغه سر ښکته کړو .

څه وخت بعد ئې سر راپورته کړو او ما ته ئې اوويل :

ما له پنځوس ۵۰ روپۍ راکړه .
نو ما ورته اوويل : چې دا هم څه د غوښتلو طريقه ده ؟
ته به اوس هسې دا روپۍ په عبثو څيزونو ضائع کړې ؟
تا د دې دپاره دومره غټه قصه اوکړه او دو مره تپوسو نه دې وکړل ؟
زه لاړ شه اوده شه .
زما غصه چې کله هغه اوليده نو هغه زر د خپلې کمرې په طرف لاړو.
لږ وخت بعد ما سوچ اوکړو چې کيدے شي دا زما ځوي ځان له څه ضروري شے اخلي ځکه چې د نن نه مخکې خو ده چرته هم داسې کار نه دے کړے .
نو زه د هغې کمرې ته لاړم هغه اوده شوے نه وو نو ما ورته په نرمه لهجه کې اوويل چې بچيه زه ستړے اوم ځکه درته غصه شوم دا واخله پنځوس روپۍ زما په لاس کې چې هغه لوټ اوکتلو نو د خوشحالۍ نه په خندا شو او راته ئې اوويل :
ابو ! ډيره شکريه ته زما ښه پلار ئې دا خبره ئې اوکړه اوسيده خپلې بسترې طرفته لاړو او د بالخت لاندې ئې څه کتل نو ماله د هغه په دې حرکت نوره غصه هم راغله او د هغه په لاس کې نورې روپۍ هم وې هغه په بسترې ناست وو او روپۍ ئې شمارلې .
نو ما ورته اوويل : چې بچيه ستاسره خو پيسې وې نو ما نه دې ولې

غوښتلې ؟ دا ښه خبره نه ده .هغه زما طرفته متوجه شو او اوئې ويل :چې ابو زما سره روپۍ پوره شوې زه کولے شم ؟
ما ترينه تپوس اوکړو چې څه کولے شې ؟
اوس زما سره سل ۱۰۰ روپۍ شوي دي .
ابو ! اوس زه ستاسو نه يوه ګينټه اخستلے شم .
ابو ! صبا يو ګينټه مخکې راشه زه ستا سره روټۍ خوړل غواړم ما او تا به د يو بل سره ډيرې خبرې اوکړو .
هغه دا خبرې ډيرې په جوش سره کولې او ما اوريدلې ،هغه اوويل : چې زه به تالره د يوې ګينټې سل ۱۰۰ روپۍ درکړم ليکن ته وختي راشه .
نو زه په سوچ کې پريوتم چې پته نه لګي چې څومره ډير وخت اوشو چې ما د خپلو بچو سره روټۍ نده خوړلې ما خو چرته هم دا معلومات نه دے کړے چې زما بچې څه شي ته ضرورت لري زه خو په دې خبره مطمئن ووم چې زما بچي په اعلى سکولونو کالجونو کې سبق وائي او دوئ ته هر قسم سهوليات موجود دي ليکن نن زما ځوي زما نه صرف يو ګينټه ټائم غواړي ،،،صرف يوه ګينټه ،،، هغه نور هيڅ څه نه غواړي نه موبائل غواړي نه ويډيو ګيم نه ليپ ټاپ او نه د لوبو سامان هغه خو زمانه صرف يوه ګينټه ټايم په قيمت اخلي .

په مونږ کې اکثر خلق داسې دي چې دروېو ګټلو دپاره سحر ماښام منډې وهي او د کوم بچو دپاره چې هغوي منډې ترلې وهي پته نه لګې چې هغوي په دې کار راضي دي او که نه دي ؟

# زندګي خو صرف روپو ګټلو ته نه وائي

بعض وخت خلق زمونږ نه وخت غواړي ليکن مونږ هغوي له ټائم نشو ورکولے هغې ته زمونږ ضرورت وي .

او دا هم د سوچ خبره ده چې که صبا مونږه مړه شو نو ټولو نه زيات به څوک متأثره کيږي ؟

کوم ځائ کې چې ته ډيوټي کوې نو هغه به ستا د مرګ نه پس بل څوک ملازم او نوکر اوګوري .

او زمونږ هغه رشته داران او ښځه او بچي به زمونږ ډير کمے محسوسه وي وخت زمونږ د لاس نه اوځي .

ايا په دې دنيا کې د خپلوانو دپاره بالکل وخت نشو ويستے هغه خپلوان چې هغوي زمونږ سره بې حده مينه کوي .

مونږ خپل ځان صرف دکانونو پورې محدود کړے دے څه وخت رشته دارانو له هم ورکوه څه وخت د سير تفريح دپاره هم اوباسه د زندګۍ مقصد پيژندل پکار دي د مرګ نه پس به څنګه زندګي وي هلته به د څه شي ضرورت وي وخت خو د واورې (برف) پشان وليکيږي دا وخت د خپل مور پلار ښځې او بچو سره او خپلو خپلوانو سره تير کړه هغه ښځه چې هغې ستا دپاره مور پلار ، رونړه ، خويندې او هر څه پريخي دي ولې هغه دا حق نه لري چې هغې له وخت ورکړې ؟دا د هغې حق دے دا هغې له ورکړه .

# ،،،په خپلې کور وداني تنقيد مه کوه ،،،

يو ښځې خپل خاوند ته اوويل زه تعليم يافته يم زه حسن لرم، ښائسته يم ، ځواني لرم ، قابليت لرم ، تا سره څه دي ؟

نو خاوند ورته په خندا کې جواب ورکړو زه تا لرم (يعنی ما سره نور هيڅ هم نشته خو تا لرم) او ته زما دپاره هرڅه هرڅه ئې .

تاسو سوچ اوکړئ داسې جواب به د کور ماحول څنګه بدل کړے وي ؟

که خاوند هم ورله الټه جوابونه ورکړي وے او په دې ښځې باندې ئې تنقيد کړے وے نو معامله به نوره هم بګړاؤ شوې وے .

که بالفرض يوه زنانه غلطي اوکړي او ته ورته اووائې چې بې عقلې دا کار داسې نه وو پکار آيا هغه به ستا سره پدې اندازه خبرو کولو اتفاق اوکړي؟

چرته هم نه ! ځکه چې تا يو قسم د هغې عزت مجروح کړو نو داسې اُلټه جواب به هغه هم ورکوي بيا به د هغې هغه جواب په تا داسې لګي لکه د ټوپک ډز حالانکې د دې خرابۍ ابتداء تا کړې ده زمه دار ته ئې کمے ستا نه شوے دےنو ستا دې الټه خبرو سره به هغه هم الټه چليږي که بيا ته د افلاطون منطق هم استعمال کړې ليکن د هغې خيالات ته نه شې بدلولے.

که ته ښځه پوهه کول غواړې نو فورًا به هغې ته غلط نه وائې بلکې

د هغې پوهه کولو دپاره مناسب وخت او مناسب ځائې اوګوره او که ته ورته فوراً خبره کول غواړې نو داسې ورته اووایه چې که تاسو دا کار داسې کړے وے نو ډیره به ښه وے.

نو که ته په داسې اندازه کې خبره اوکړې نو ستا په عزت کې به هیڅ کمے رانه شي البته ستا کورنۍ زندګي به مزیداره تیریږي.

ته چې صرف ښکلې لهجه استعمال کړې نو تا ته به دا خوشحالیانې میلاویږي نو نور ته څه غواړې ؟

د بعض خلقو دا عادت وي چې هر وخت هر ځائ هر چا په مخکې د خپلې ښځې بدي بیانوي او په هغې باندې تنقید کوي چې دا دې څه کړي ؟

دا دې ولې کړي ؟

دا دې څنګه اوکړو ؟

هغه کار دې اول ولې اوکړو ؟

فلانکے کار دې ولې لیټ کړو ؟

دا قسم سوالونه او اعتراضونه کول مناسب نه دي.

ظاهره خبره ده چې که ته په هغې باندې هر وخت تنقید کوې نو هغه به هم آخره تنګه شي او ستا د دې تنقید په رد عمل کې هغه به هم په تا باندې د تنقید غشي چلوي هغه به هم د زړه براس اوباسي نو د غصې اظهار به یا تا ته کوي یا به هغه غصه په بچو اوباسي او

يا به ئې د كور په لوخو او سامان باندې اوباسي نو چرته به هم خپلې كوروداني له پيغور او طعنه نه وركوې ځكه عربي كې يو مشهور شعر دے مفهوم ئې داسې دے چې د ژبې زخم د تورې د زخم نه خطرناک وي .

ځكه د ژبې زخم (يعنى كنځلې ، پيغور ، ردې بدې ويل تهمت تړل) دا داسې زخم دے چې د مرګه پورې نه جوړيږي او كه په توره باندې ته څوک زخمي كړې نو د علاج نه پس هغه زخم جوړيږي .

او زما په خيال دا ښه خبره نده چې خاوند ځپلې ښځې له پيغورونه وركوي او كله د خاوند مور ورله پيغور وركوي او كله د هغه خويندې او كله چاچي ګانې او كله مامي ګانې پيغورونه وركوي نو دا زنانه غريبه ليونۍ شی ذهني بيماره شي بيا آخر هغه هم چې تنګ شي نو په جنګ شي والا معامله شروع كړي نو تا له پكار دي چې چرته هم خپلې كور ودانې له پيغورونه مه وركوه ځكه چې هغه هم آخره انسانه ده تنګه به شي په زړه كې به تا ته بغض پيدا كړي او ستا يو كار به هم بيا په وخت باندې نه كوي بيا به ستا خدمت هغه په ځان باندې لوي بوج ګنړي بيا به هم هغه وخت خوشحاله وي چې كله ته د كور نه وځې.

او چرته هم دا بيكاره او خراب عادت په ځان كې پيدا نه كړې ځكه دې كې سراسر ستا نقصان دے بعض وخت خاوند غصه شي نو هغه

ته دا غټ كمال ښكاري چې ښځې ته ردې بدې اووائې د هغې مور او پلار ته ردې بدې اووائي د هغې خاندان او حسب نسب ياد كړي نو دا ښه طريقه نه ده لږ سوچ اوكړه كه هغه چرته په تا باندې تنقيد اوكړي او تا ته سپكې سپورې اووائي تا له پيغور دركړي نو هغه به ته معاف كوې څه ؟ چرته هم نه .

نو بيا خو لږ د انصاف نه كار واخله د تصوير دواړو طرفونو ته نظر كوه پړق د يو لاس نه نه خيژي ګوره تا ته پته ده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي : چې زنانه د كږې پوښتئ نه پيدا دي كه ته دا سيده كول غواړې نو دا به ماته كړې نو دا ډيره مه چيړه .

كه ته هغې له پيغور وركړې نو ستا په ژوند كې به آخر داسې څه تبديلي راشي ؟

ته به چرته بادشاه شې تا ته به چرته داسې عالمي ايوارډ ميلاؤ شي ؟ بس ځان به صرف پريشانه كړي سكون به دې ختم شي د مايوسئ او پريشانئ سره به مخامخ شې .

بعض خلق هميشه دپاره په بل چا تنقيد كوي بل ته به ګوته نيسي او خپله په دې كې بې شماره كوتاهيانې خاميانې ، نقصانات ، بداخلاقيانې وي ليكن خپلې غلطيانې او عيبونه ورته هيڅ عيب نه ښكاري خپل ځان ترينه هير وي همدا وجه ده هوښياران وائي چې د دنيا ټولو نه اسان كار په بل باندې تنقيد كول دي او د ټولو نه ګران

کار د خپل ځان اصلاح کول دي .

## د کور وداڼې د رشته دارانو سره ښه سلوک کول

بعض خاوندانو کې دا کمزوري وي چې هغوي د خپلې کوروداڼې خپلوان نه برداشت کوي د هغې د خپلوانو سره بد اخلاقي کوي او هغوي راتلل او ناسته پاسته نه خوښوي بلکې په دې ورله غصه ورځي چې د کور وداڼې تپوس له دهغې کوم رشته دار **مثلاً** : کاکا ، ماما ، رور پلار، وراره ، خورے ، راشي بلکې بعض خاوندان خپلې کور وداڼې ته وائي چې زه تا سره مينه کوم ته ما ته ګرانه ئي ليکن ستا مور پلار روڼه خويندې زما بدي شي زه نه غواړم چې هغوي دې زما کور ته راشي نو دا د خاوند کمزوري ده ځکه چې هره زنانه خپلې مور سره پلار سره روڼو خويندو سره مينه لري دا خبره به هغه چيرته هم برداشت نه کړي بلکې هغه هم زړه لري احساس لري ضمير لري هغه په دې خبره خفه کيږي .

بعض وخت به هغه ستا په مخکې په دې خبره خاموشه شي څه رد عمل به ظاهر نه کړي ليکن زړه کې به ډيره پريشانه وي او دخاوند سره به ئي بغض پيدا شي هغه ځان له خبره ده چې د هغې مخامخ به د هغه خبرې اظهار نه شي کولے لږ سوچ اوکړه که يوه زنانه دا خبره خپل خاوند ته اوکړي چې ستا مور پلار ماما وغيره زه نه شم برداشت کولے نو د خاوند رد عمل به داوي چې دا ښځه به

اووهي سزا به ورله ورکړي بعض وخت به ورله لاس او ښپې مات کړي بعض وخت به ورله طلاق ورکړي او طلاق هم ورنه کړي او سزا هم ورنه کړي نو کم از کم په زړه ې خوبه ورسره ضرور بغض او نفرت لري .

نو سوچ اوکړه چې ته ورته داسې خبره اوکړې نو ظاهره خبره ده چې هغه به په دې خفه کيږي کله کله خاوند داسې غواړي چې زما رشته داران مطمئن وي او ښځه هم دا غواړي چې زما رشته داران دې مطمئن وي .

نو خاوند دې دا خبره ذهن کې کيدي چې واده نه مخکې زما يوه مور وه او يو مې پلار وو اوس د واده نه مې پس دوه مئيندې او دوه پلارونه دي يوه خپله مور او بله مور خواخې او يو خپل پلار او بل پلار سخر ځکه چې شريعت خواخې او سخر له د مور پلار درجه ورکړې ده نو چې کله ښځه خواخې سخر مور پلار ګنړي او خاوند هم سخر او خواخې مور پلار ګنړي نو جګړه به ختمه شي .

نو د خاوند دا ذمه داري جوړيږي چې هغه دې د کور ودانې خپلوانو سره د شرعي طريقې مطابق ښه تعلق ساتي هغه دې خوشحاله ساتي دا طريقه ته خپله کړه نو ته بيا ګوره چې ستا زندګي څومره په آرام سره تيريږي .

بعض خاوندان هسې فضول سختيانې کوي ښځې ته وائې چې ته به

د مور او پلار کور ته نه ځې د هغوي سره به خبرې نه کوې زما په مخکې به د هغوي تذکره نه کوې .

نو دا ډیر غیر مناسب کار دے .

بعض وخت کې زنانه د کم عقلۍ مظاهره کوي هغه داسې چې کله د زنانه خپل خپلوان راشي نو دا د هغوي ډیر عزت کوي قسما قسم خوراکونه ورله تیاروي .

لیکن کله چې د خاوند میلمانه راشي نو دا زنانه به پوزه اوپړسوي په تندي باندې به ئې ۱۲ بجې شي او غصه غصه به وي نو چې کله داسې کیفیت وي نو ډیر خلق په غصه کې راشي هغوي د صبر او تحمل نه کار نه اخلي او په خواخې او سخر باندې د تنقید غشي چلوي .

نو همدا وجه ده چې بعض وخت خبره جګړې ته اورسیږي .

چې ځنګه د خاوند په خله باندې یوه غیر مناسبه خبره راشي نو د ښځې بلډپریشر هائي شي او دماغ ئې کار پریږدي .

او کله زنانه د سوچ او فکر نه کار وانخلي او دا د خاوند خبرې د هغې پیغورونه خپل مور پلار په مخکې ذکر کړي نو هغوي هم کوشش کوي چې د خپلې لور نه د خاوند متعلق تپوسونه اوکړي او بیا دې سره خبره نوره هم خرابه شي .

نو د دې سره د ښځې او خاوند محبت او د خوشبوئي نه ډکه زندګي د

ازغونه ډ که شي.

زمونږ استاذ تفضیل احمد ضیغم به ویل : چې د واده نه پس دې خاوند د یو سیاستدان غوندې زندګي تیروي ځکه چې د موقع محل مطابق دې خپله پالسي بدلوي چې کوم سړے بهتر پالسي ساز نه وي او کورني مسائلو کې مهارت نه لري نو دا سړے چرته هم ښه خاوند نه شي جوړې دے خاوند له پکاردي چې د ښځې د کوروالاؤ احترام دې کوي نو ښځه به بیا پخپله د خاوند د خپلوانو عزت کوي .

په زوره باندې ته چرته هم د چانه کار نشې اخستلے د ښځې په مخکې چر ته هم د هغې خپلوانو ته ردې بدې مه وایه او که درشي نو دا غصه د زهرو د ګوټ پشان تیرکړه صرف د دې دپاره چې د دې نه نور فساد خور نه شي مخکې به یوه خبره وي او روستو به د دې نه ډیرې خبرې جوړې شي .

بلکې که ستا ښځه خپل مور او پلار ته ردې بدې وائي نو ته هغه منع کړه چې مه خفه کیږه ستا مور او پلار ستا دپاره دا هر څه کوي دې کې ستا فائده ده .

یاد ساته ! که په دې موقع باندې تا د خپلې ښځې په هاں کې هاں : میلاؤ کړو او د هغې د مور او پلار متعلق دې څه خبره اوکړه نو هغه به ستا خبره ځان سره نوټ کړي څه وخت پس به ستا ښځه

خپلې تولې خبرې هیرې کړي او ستا خبره به یاده وي .
که ته د خپلې سخرګنئ عزت او احترام کوې نو ستا کور ودانه به هم ستا نه خوشحاله وي او د سخر ګنئ خلق به هم ستا خیال ساتي .
او که داسې دې نه کوله نو ښځه به هم تا ته اهمیت نه درکوي او سخرګنئ به دې هم د زړه نه عزت نه کوي که ستا سخر ګنئ ستا د بهترئ دپاره تا ته څه مشوره درکړي او ته پوهیږې چې دې کې ستا فائده نشته نو فوراً د هغوي مشوره مه رد کوه بلکې په ښه طریقه سره د هغوي خبره واوره او که تا ته په هغه مشورې کې څه فائده نه ښکاري نو خیر دے عمل پرې مه کوه ځکه ستا کورودانه دا نه غواړي چې د هغې د مور او پلار مشوره دې ته فوراً رد کړې او هغې له دې هیڅ اهمیت ورنه کړې دا هغې ته د خپل مور او پلار توهین ښکاري د مثال دپاره د سیدنا عائشه رضي الله عنها دا عمل اوګورئ عائشه رضي الله عنها فرمائي :
عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: لَمَّا دَخَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْتِي قَالَ: «مُرُوا أَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ» قَالَتْ: فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّ أَبَا بَكْرٍ رَجُلٌ رَقِيقٌ إِذَا قَرَأَ الْقُرْآنَ لَا يَمْلِكُ دَمْعَهُ فَلَوْ أَمَرْتَ غَيْرَ أَبِي بَكْرٍ، قَالَتْ: وَاللهِ، مَا بِي إِلَّا كَرَاهِيَةُ أَنْ يَتَشَاءَمَ النَّاسُ، بِأَوَّلِ مَنْ يَقُومُ فِي مَقَامِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: فَرَاجَعْتُهُ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا، فَقَالَ: «لِيُصَلِّ بِالنَّاسِ أَبُو بَكْرٍ فَإِنَّكُنَّ

صَوَاحِبُ يُوسُفَ»[1]

﴿ترجمه﴾ : چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم په مرض الموت کې زما کور ته راغے نو اوئې فرمائيل : چې ابو بکر رضي الله عنه ته اووائې چې مخکې شه خلقو ته د جمع مونځ اوکړه.

نو ما اوويل : چې اے ! د الله رسوله ابو بکر رضي الله عنه ډير د نرم زړه والا دے هغه چې کله قرآن لولي نو د هغه د سترګو نه اوښکې ځي د هغې نه علاوه بل چا ته اووايه چې جماعت دپاره مخکې شي او د الله په ذات مې دې قسم وي چې ما دا خبره ځکه اوکړه چې خلق زما پلار منحوس او نه ګنړي چې دا هغه کس دے چې د ټولو نه اول خليفه او د رسول الله عليه السلام قائم مقام او جانشين مقرر شو ما دوه کرته نبي عليه السلام ته دا خبره اوکړه ليکن نبي عليه السلام به بار بار دا خبره کوله چې ابو بکر رضي الله عنه مخکې کړئ او تاسو زنانه خو د يوسف عليه السلام د زنانو پشان ئې يعنې زنانو کوشش کولو چې په يوسف عليه السلام باندې خپله خبره اومني نو تاسو هم ده هغو زنا نو کار کوئ.

لږ غور او فکر اوکړئ عائشه رضي الله عنها نبي عليه السلام ته د

[1] صحيح مسلم 21 - بَابُ اسْتِخْلَافِ الْإِمَامِ إِذَا عَرَضَ لَهُ عُذْرٌ مِنْ مَرَضٍ وَسَفَرٍ، وَغَيْرِهِمَا مَنْ يُصَلِّي بِالنَّاسِ، وَأَنَّ مَنْ صَلَّى خَلْفَ إِمَامٍ جَالِسٍ لِعَجْزِهِ عَنِ الْقِيَامِ لَزِمَهُ الْقِيَامُ إِذَا قَدِرَ عَلَيْهِ، وَنَسْخِ الْقُعُودِ خَلْفَ الْقَاعِدِ فِي حَقِّ مَنْ قَدَرَ عَلَى الْقِيَامِ418

ابو بکر رضي الله عنه نه علاوه د بل چا دپاره امامت ځکه وئيل :
چې خلق زما پلار منحوس اونه ګڼړي .
دا دزنانو د خپل خاندان سره محبت دے زنانه د هر هغې کار نه خپل
خاوند منع کوي چې هغې کې د دې د خاندان والاؤ بې عزتي او
وقار کې د کمۍ باعث وي او خاوند ته به د هر هغه کار مشوره
ورکوي کوم کې چې د دې د خاندان عزت جوړيږي .
نو هميشه دپاره کوشش کوه چې خپله خواخې سخر او د کوروالاؤ
رشته دارانو پسې غير مناسب خبرې اونه کړې ګنې زندګي به دې د
زهرو نه ډکه شي .

## د عمر فرق اوپيژنه

د لږ وخت دپاره په خپله زندګۍ نظر واچوه آيا نن نه لس ۱۰ کاله
مخکې ته دومره تجربه کار وې څومره چې اوس ئې ؟
د موقع او محل اعتبار سره د ذهن استعداد سيوا کيږي لس ۱۰ کاله
مخکې به ستا نه ډيرې غلطيانې کيدې مګر اوس نه کيږي ځکه
چې تا هغه وجوهات معلوم کړي دي .
په بل الفاظو سره به مونږه داسې اووايو چې اوس تاسو تجربه کار
شوي ئې که ستا کورودانه ستا نه په عمر کې کمه وي نو د هغې د
عمر فرق اوپيژنه د هغې نه ډيرې غلطيانې د تجربې د کموالي په
وجه کيږي هغه هر کار په ښه طريقې سره کول غواړي ليکن بيا هم

د هغې نه غلطیانې اوشي ځکه چې هغه تجربه کاره نه ده هغه ستا نه په عمر کې کمه ده مشهور مصنف او ماهر نفسیات ډیل کارینګې په خپل کتاب

,,,پریشان هونا چھوڑے جینا شروع کیجئے,,,

کې لیکي چې څو کاله مخکې زما وریره جوزفین ، کارکانس ښار کې خپل کور پریښودو او زما د سیکرټري په حیثیت سره د کار کولو دپاره نیویارک ته راغله هغه د ۱۹ کالو وه درې ۳کاله مخکې هغه د هائي سکول د تعلیم نه فارغه شوه کاروباري لحاظ سره د هغې علم نهایت محدود وو نن هغه د سوئس (suez) په بهترینو سکټریانو کې شمارل کیږي .

مګر په شروع کې هغه نا تجربه کاره وه .

یو ځل ما په هغې باندې تنقید کولو نو خپل ځان ته مې اوویل : چې یو منټ صبر اوکړه ته د خپلې وریرې جوزفین نه په عمر کې دومره حصې مشر ئې تا ته هم په زر ګاؤ کرته کاروباري معاملاتو کې داسې مسائل مخې ته راغلي دي ،

ته چې کله د ۱۹ کالو وې نو تا به څه څه غلطیانې نه کولې ؟

خپلې هغه غلطیانې رایادې کړه کوم چې به تا په دې عمر کې کولې .

نو چې کله ما سوچ اوکړو نو ځان سره مې اوویل : چې جوزفین د ۱۹

کاله په عمر کې ډېرې لږې غلطيانې وي په دې عمر کې خو به تا بې شماره غلطيانې کولے.

نو بيا چې به کله د هغې نه کومه غلطي اوشوه نو ما به کينوله او هغه به مې پوهه کړه چې دا کار داسې داسې پکار دے.

او داسې خو نه وي چې خلق هر څه زده کړي او بيا پيدا شي بلکه اوس ورو ورو ايزده کوه هر څه د تجربې نه ايزده کيږي او ته په عمر کې زما په مقابله کې ډېر بهتر ئې زه شرم محسوسوم چې په تا باندې او يا په بل باندې تنقيد اوکړم.

مونږ بعض وخت د خپلې ښځې او بچو په باره کې داسې ذهن جوړ کړو چې دا نا فرمان دي او د دې په وجه بيا مونږ د مايوسئ ښکار شو او د هغې مرکزي وجه دا ده چې مونږ د خپلو کشرانو او بچو نه د خپل عمر تجربه غواړو مقصد دا چې مونږ وايو چې څومره عقل ،سوچ ، تجربه او ذهن چې زمونږ دے نو پکار ده چې دومره تجربه او عقل وغيره دې زمونږ په بچو کې هم وي لکه څومره چې زمونږ دے.

او دا خبره رانه بيا هيره وي چې دې عمر کې به مونږ کوم کوم ناشنا ناشنا کارونه کول که هغه د بې وقوفئ کارونه مونږه اوس رایاد کړو نو خندا به راشي.

سيدنا عائشه رضي الله عنها چې کله واده شوه نو عمر ئې کم وو او د

کم عمرۍ په وجه به بعض وخت هغې اوړه واغيږلو او کيښودلو به ئې بيزه به راغله او هغه به ئې اوخوړل ځکه سيدنا عائشه رضي الله عنها فرمائي :

أَنَّهَا جَارِيَةٌ حَدِيثَةُ السِّنِّ، تَنَامُ عَنِ العَجِينِ، فَتَأْتِي الدَّاجِنُ فَتَأْكُلُهُ[1]

﴿ترجمه﴾ : چې زه کم عمر والا جينۍ ووم ما به وړه واغيږل نو بيزه به راغله او هغه به ئې اوخوړل .

د عائشه رضي الله عنها د زندګۍ نه دا خبره چرته هم نه معلوميږي چې د بيزې د وړو خوړلو په وجه نبي عليه السلام هغه چرته رټلې وي چې کوم به د شريعت خلاف نه وو نو هغې کې به نبي عليه السلام ډيره نرمي کوله .

د عمر فرق اوپيژنه او د خپلې کور ودانې معمولې معمولې غلطيانې نظر انداز کولو عادت جوړ کړه .

داسې خو که ته هره غلطۍ باندې نيول کوې نو زندګي به دې تنګه شي ټول انسانان يو شان نه وي داسې ډير عادتونه شته چې پکار ده تا کې وي ليکن ته د هغې نه محرومه ئې ځکه چې هغه تجربات ستا په مخکې نه وي شوي .

---

[1] صحيح البخاري بَابُ تَعْدِيلِ النِّسَاءِ بَعْضِهِنَّ بَعْضًا 2661

انسان هر څه د عمر نه ایزده کوي .

ظاهره خبره ده ستا کورودانه به ستا نه په عمر کې ۱۰ کاله یا ٥ کاله یا ۳ یا ۲ کاله کشره وي نو د هغې د عمر موافق هغې سره معاملات کوه.

# جنسي تعلقات

د خاوند او ښځې د تعلقاتو انحصار د هغوي جنسي تعلقات پورې منحصر دے .

د کورنئ زندګئ دا باب انتهائي نازک او حساس دے .

کمزورے سړے نه د خپلې ښځې زړه ګټلے شي او نه هغه خوشحاله ساتلے شي .

**هان** : که چرته ښځه د خپلو جذباتو قرباني ورکړي او د ښکلې زندګئ د دې ښکلي لمحي نه سترګې پټې کړي نو هغه ځان له خبره ده .

جنسي جذبه یو فطري څیز دے که چرته دا لوګه ختمه نه کړے شي نو د دې نه قسما قسم جنسي بیماریانې جوړیږي په طبیعت کې ناسازي پیدا شي چې دې سره زندګي د زهرو پشان مثال لري چې د کوم خاوند نه د ښځې جنسي شهوت پوره نه شي (مقصد دا چې یو خاوند د خپلې ښځې جنسي حق پوره نه کړي او یائې د پوره کولو طاقت نه لري) نو که دا سړے هر څومره جائداد او دولت ښځې له ورکړي هر څومره سره زر او سپین زر ښځې له ورکړي په لکونو او کروړو نو روپے ورله ورکړي لیکن بیا هم هغه د خپلې ښځې زړه نه شي ګټلے .

او چې کوم خاوند د ښځې جنسي حاجت پوره کولو طاقت لري او

حاجت ورله پوره کوي نو که دا سړے هر څومره غريب وي بدرنګه وي حتی که په خيمه کې هم زندګي تيروي نو ښځه ورسره خوشحاله وي د واده مقصد هم دا دے چې ښځه او خاوند د يو بل نه جنسي لذت او خوند حاصل کړي په حلاله طريقې سره ځکه خو نبي عليه السلام نوجوانانو ته ترغيب ورکړے دے او چې کله خاوند ښځه د يو بل جنسي حق پوره کوي نو د بې حيائي طرف ته به رغبت او ميلان نه پيدا کيږي په نظر کې به شرم او حياء پيدا شي .

او چې کوم خاوند د خپلې ښځې جنسي حق نه شي پوره کولے نو دا خاوند د ښځې د نظر نه پريوځي زنانه بيا کوشش کوي چې داسې خاوند نه د ژوند لارې جدا کړي کوشش کوي چې د خاوند نه طلاق واخلي .

او بعض بې حياء زنانه بيا پټ پټ يارانې کوي د پردو سړو سره او بعض خو العياذ بالله زناګانې هم کوي نو دا بيا د تباهئ خبره ده هم د زنانه دپاره او هم د خاوند دپاره .

بلکه د دواړو خاندانونو دپاره د پريشانئ سبب وي .

داسې ښځه او خاوند په دنيا کې هم د حقارت او بې عزتئ ژوند تيروي او د مرګ نه پس د آخرت کور نه هم محرومه شي .

بلکې زه خو دا وايم چې داسې سړي له واده ندے پکار څوک چې د کوروداني جنسي حق نشي پوره کولے ځکه صبا ته په کور کې

موجود نه ئي او ستا ښځه تقوی داره نه وي د هغې په زړه کې د الله تعالی یره نه وي نو کیدے شي چې د بل چا سره یا ستا د تره ځامنو ماما ځامنو ، ترو ځامنو ، یا د بل کوم رشته دار سره یارانه جوړه کړي په نا محرمو سړو کې دلچسپي اخلي او الله تعالی دې نه کړي د هغوي سره بې حیائي اوکړي نو ته خو به زړه کې په ځان باندې فخر کوې لیکن هغه کس د کوم چې ستا د ښځې سره تعلقات دي هغه به په تا پورې خاندي او وائي به چې ته د ځان نه خبر نه ئي او ما ستا د ښځې سره څه څه نه دي کړي ؟

او که ښځه دې دینداره او تقوی داره وه نو ټیک ده چې هغه به بې حیائي او غلط تعلقاتو نه ځان ساتي لیکن دننه به هغه داسې سخت او مشکل ژوند تیروي لکه انسان چې په سرو سکروټو کې ولاړ وي ځکه څرنګه چې سړے جنسي شهوت لري نو داسې زنانه هم جنسي شهوت لري .

که بالفرض سړے شهوت لرلے او زنانه ئي نه لرلے یا زنانه لرلے او سړے ئي نه لرلے نو بیا به د دواړو یو بل سره ژوند تیرول ډیر ګران وو بلکې ناممکن به وو ځکه چې د دواړو به یو بل ته شوق او میلان نه پیدا کیږي دواړو به بیا تنهائي خوښولے .

د دې وجې نه الله تعالی په دواړو کې شهوت اچولے دے الله تعالی فرمائي:

وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً [1]

**﴿ترجمه﴾** : الله رب العالمين دواړو ته يه ز ړونو کې يو بل ته محبت او شفقت اچولے دے.

دواړه يو بل ته محتاجه دي سړے د ښځې نه بغير ژوند نه شي تيرولے سړے که هر څومره مالداره وي ګاړي او موټړې ورسره وي بنګلو او د جائدادونو مالک وي ليکن د ده ژوند کې به هغه وخته پورې سکون ، آرام او راحت نوي تر څو پرې چې واده ئي نه وي کړے ښځه ئي په نکاح نه وي اخستلې.

دارنګه که زنا نه هر څومره مالداره شي او غټ غټ عهدې د ده په لاس ورشي (دزنانو مشري او صدارت وغيره حرام دي) خو که چرته زنانه هم باد شاه شي بيا هم دا خاوند ته ضرورت لري د خاوند نه بغير د دې زندګي نامکمله ده او دا د الله تعالى يو قانون دے د اول ورځې نه چې ښځه او خاوند ئي يو بل ته محتاجه کړي دي.

بعض جاهلان سړي د ښځې جنسي تعلقات نشي پوره کولے نو وائي چې ماشاء الله زما ډيره زبردسته ښځه ده او ما سره ډيره ګذاره کوي نو هغه غريبه به خامخا ګذاره کوي د معاشرې د وجې نه ، د پيغور د وجې نه ، د خپلولۍ د وجې ، دې باره کې زه تاسو ته د رسول الله

[1] الروم آية (21).

صلى الله عليه وسلم يو حديث بيانوم.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم يو صحابي رفاعه القرظي رضي الله عنه بي بي د نبى عليه السلام خواله راغله او اوئي فرمائيل: چې يا رسول الله زما خاوند ماله طلاق بائن راكړي دي بيا ما د عبد الرحمان بن زبير سره واده اوكړو ليکن د هغې خو دا حالت دے چې إِنَّمَا مَعَهُ مِثْلُ هُدْبَةِ الثَّوْبِ د هغې ذكر يعنى شرمګاه خو د كپړې د پلو پشان دے (مطلب دا چې ځنګه كپړه نرمه وي په هغې كې سختي نه وي نو دا زما د خاوند عبد الرحمان شرمګاه هم نرمه ده سختي په كې نشته.

مقصد دا دے چې د هغې جنسي كمزوري ده د هغې نه ماته څه راحت او خوند نه ميلاويږي نو نبي عليه السلام ورته اووئيل:

«لَعَلَّكِ تُرِيدِينَ أَنْ تَرْجِعِي إِلَى رِفَاعَةَ؟ لاَ، حَتَّى يَذُوقَ عُسَيْلَتَكِ وَتَذُوقِي عُسَيْلَتَهُ»

**﴿ترجمه﴾**: شايد ته غواړې چې واپس رفاعه ته لاړه شې؟

نو دا هغه وخته پورې نه شي كيدے تر څو چې تا د عبد الرحمان نه خوند او مزه نه وي څكلي او هغه تا نه نه وې څكلي.[1]

[1] صحيح البخاري بَابُ مَنْ أَجَازَ طَلاَقَ الثَّلاَثِ5260 بَابُ شَهَادَةِ المُخْتَبِي 2639 أخرجه مسلم في النكاح باب لا تحل المطلقة ثلاثا لمطلقها حتى تنكح. . رقم 1433.

د رفاعه رضي الله عنه بي بي د هغه سره څه اختلافات راغلي وو د هغې د وجې نه د دواړو په خپل مينځ کې جدائي راغله.
اوس د رفاعه رضي الله عنه ښځه دوباره خپل خاوند رفاعه رضي الله عنه سره يو ځائ کيدل غواړي.
ليکن دلته د سوچ خبره دا ده چې دا زنانه بيا د اختلافاتو او خفګان باوجود دوباره مخکني خاوند ته واپس کيدل غواړي صرف د جنسي او فطري ضرورت پوره کيدو دپاره ځکه چې دا دويم خاوند د هغې جنسي حق نشي پوره کولے نو د دې نه معلومه شوه چې زنانه هر حال کې جنسي شهوت لري.
امام بخاري رحمه الله يو حديث راوړے دے چې هغې ته حديث د ام زرع وائي چې هغوئ ۱۱ زنانه وې.
يو ځل يولس ۱۱ زنانه يو ځائ کيناستلې نو خپل مينځ کې ئې اوويل: چې نن به مونږه د خپلو خاوندانو متعلق څه نا څه خبرې کوو.
نو دې هرې زنانه د خپل خاوند متعلق خبرې اوکړې يو بل ته ئې خپل داستان بيان کړل نو دوئ کې دوه زنانو د خپل خوند متعلق دا شکايتونه اوکړل چې زمونږ خاوندان زمونږ جنسي لذت نه پوره کوي هغوي کې يوې اوويل :
زَوْجِي إِنْ أَكَلَ لَفَّ، وَإِنْ شَرِبَ اشْتَفَّ، وَإِنِ اضْطَجَعَ التَفَّ، وَلاَ

يُولِجُ الكَفَّ لِيَعْلَمَ البَثَّ.

**مفهوم** د حديث دا دے چې زما خاوند چې کله روټۍ ته کيني نو هر څه صفا کړي يعني ډير خوراک کوي او چې کله څکل کوي نو هر څه په خله اړه وي او چې کله اوده کيږي نو ځانله څملي په ماباندې لاس نه راچوي او ما له هيڅ توجه نه راکوي چې زما د حال نه ځان خبر کړي.[1]

مقصد دا دے چې خوراک ډير کوي ليکن شهوت نه لري او دا په عربو کې ډير لوي عيب شماريدلو چې خوراک ډير کوي او د ښځې سره د صحبت طاقت نه لري او دا حقيقت دے چې زنانه د داسې خاوند نه نفرت کوي د ښځې د خاوند د حسن سره څه غرض نه وي يعنى ښځه دا نه غواړي چې زما خاوند دې ښکلے وي رنګ او په قد دې بې مثاله وي خير دے که زما جنسي شهوت نه شي پوره کولے بلکې زنانه ته هغه خاوند بې مثال او بهترين ښکاري چې هغه د زنانه شهوت پوره کولے شي اګر که هغه خاوند حسن او جمال نه لري زنانه داسې خاوند خوښوي چې هغه چالاک وي تکړه وي او ډير شهوت لري چې هر وخت خپلې ښځې سره ګپ شپ لګوي د هغې سره ټوقې خندا کوي او د پيار او محبت خبرې ورسره کوي.

[1] صحيح البخاري بَابُ حُسْنِ المُعَاشَرَةِ مَعَ الأَهْلِ 518

أخرجه مسلم في فضائل الصحابة باب ذكر حديث أم زرع. رقم 2448

دارنګه بلې زنانه د خپل خاوند شکایت په داسې الفاظو سره اوکړو
زَوْجِي غَيَايَاءُ – أَوْ عَيَايَاءُ – طَبَاقَاءُ، كُلُّ دَاءٍ لَهُ دَاءٌ

**﴿ترجمه﴾** : زما خاوند نامر دے ( بې ادبي معاف هیجړا دے) د خبرو په چل نه پوهیږي او څومره عیبونه چې دي هغه ټول پدې کې موجود دي .

د دې وجې نه علماء وائي : چې داسې سړے چې هغه د زنانو د حقونو نه سترګې پټوي د هغوي طرف ته توجه نه ور کوي او په کلونو کلونو د هغې نه جدا وي او په مختلفو ملکونو کې مسافریانې کوي نو دا ظلم دے ځکه چې په ګناه کې یو نشه وي که چرته دا اولګي نو د کور سره سره خاندانونه هم تباه کوي کوم خلق چې په عمرونو عمرونو د کور نه بهر وي نو شیطان په داسې کورونو باندې حمله کوي او د شرم او حیا څادرې لرې ګزارې کړي .

او چې کله زنانه په دې ګناه د زنا باندې عادته شي نو بیا د هغې کانټرولول ناممکن وي په صفا لفظونو کې به داسې اووایو چې کله زنانه د بل سړي سره په ګناه باندې عادته شي نو هغه زنانه بیا په خپل خاوند کې رغبت او دلچسپي نه اخلي او داسې بیشماره واقعات مونږه په هره ورځ اخبارونو کې ګورو مونږ ته ډیر واقعات معلوم دي لیکن د هغې تفصیل ته اوس ضرورت نشته .

څرنګه چې یو خاوند د خپلې بي بي نه ډیر وخت جدا وي نو د هغې

جسم د هغې نه خپله جنسي غذا غواړي نو داسې زنانه هم د خپل جسم دپاره د جنسي غذا طلبګاره وي بلکې د زنانو رغبت د سړو په نسبت ډير وي ځکه چې زنانه هم زړه لري شوق لري شهوت لري هغې صرف د خاوند دپاره خپل کور پريښے وي خپل مور او پلار ، رونړه ، خويندې ، هر څه ته الوداع ويلي دي او د خاوند کور ته راغلې ده او چې دلته هم هغه پريشانه وي خفه وي نو ظاهره خبره ده هغې کې به ډيرې خرابيانې پيدا کيږي.

هره زنانه غواړي چې د هغې خاوند دې هغې له وخت ورکوي نبي صلى الله عليه وسلم چې کله د ام سلمه رضي الله عنها سره واده اوکړو نو هغه کونډه وه يعنى باکره او پيغله نه وه کله چې د هغې د خوا نه نبي عليه السلام روانيدلو نو هغې زر نبي عليه السلام اونيولو نبي عليه السلام د هغې سره درې ۳ ورځې تيرې کړې وې نو هغې نه غوښتل چې نبي عليه السلام دې د هغې د خوانه لاړ شي نو نبي عليه السلام اودريدلو او هغې ته ئې اوويل :

«إِنْ شِئْتِ زِدْتُكِ، وَحَاسَبْتُكِ بِهِ، لِلْبِكْرِ سَبْعٌ، وَلِلثَّيِّبِ ثَلَاثٌ» [1]

**﴿ترجمه﴾** : که ته غواړې نو زه به تاسره ډيرې ورځې پاتې شم او د دې وخت حساب به ځان سره ساتم ليکن خبره دا ده چې د پيغلې

[1] صحيح مسلم بَابُ قَدْرِ مَا تَسْتَحِقُّهُ الْبِكْرُ، وَالثَّيِّبُ مِنْ إِقَامَةِ الزَّوْجِ عِنْدَهَا عُقْبَ الزِّفَافِ 1460

جينئ سره اوه۷ ورځې مسلسل تيرول دي او د کونډې سره درې ۳ ورځې.

دا حکم خصوصاً د هغه چا دپاره دے څوک چې دوه يا درې يا څلور ښځې لري.

مقصد دا دے چې هرې زنانه دپاره به ورځ او شپه مقرر وي داسې به نه کوې چې دوه ښځې دې کړې وي يوې له وخت ورکوې او بلې ته ګورې هم نه دا ظلم ،زياتئ ، بې انصافي او جهالت دے د دې نه شريعت منع کړې ده نبي عليه السلام دا طريقه وه چې هغه به د مازيګر مانځه نه پس د ټولو بي بيانو په کورونو چکر لګولو لکه سيدنا عائشه رضي الله عنها فرمائي :

كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ الْحَلْوَاءَ وَالْعَسَلَ، فَكَانَ إِذَا صَلَّى الْعَصْرَ دَارَ عَلَى نِسَائِهِ، فَيَدْنُو مِنْهُنَّ [1]

**﴿ترجمه﴾** : رسول الله عليه السلام ته حلوا او شهد ډير خوښ وو او چې کله به نبي عليه السلام د مازيګر مونځ اوکړو نو د خپلو بي بيانو خواله به تلو او هغوي سره به نزدې کيدلو.

يعنى د نمبر نه علاوه نبي عليه السلام د هرې بي بي کور ته تلو د هغوي سره به د مينې محبت خبرې کولې د هغوي سره به کيناستلو

[1] صحيح مسلم بَابُ وُجُوبِ الْكَفَّارَةِ عَلَى مَنْ حَرَّمَ امْرَأَتَهُ، وَلَمْ يَنْوِ الطَّلَاقَ 1474

نبي عليه السلام به د خپلو بي بيانو سره ځنګه د ميني خبرې کولې.
د حيض په حالت کې د ښځې سره جنسي تعلقات قائمول او د هغې سره جماع او کوروالے کول حرام دي.
البته د ښځې سره د مينې خبرې کول جائز دي بلکې د ښځې سره اوده کيدل هم شته هغه ښکلولے هم شې د حيض په حالت کې به نبي عليه السلام د جماع نه علاوه خپلو بي بيانو هر قسم دلجوئي کوله .
سيدنا عائشه رضي الله عنها فرمائي : کله به مونږ کې يوه زنانه حائضه وه.
فَأَرَادَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُبَاشِرَهَا " أَمَرَهَا أَنْ تَتَّزِرَ فِي فَوْرِ حَيْضَتِهَا، ثُمَّ يُبَاشِرُهَا[1]
﴿ترجمه﴾ : نو که نبي عليه السلام د هغې سره څملاستل غوښتل نو هغې ته به ئي اوويل چې د حيض د غلبې په وخت کې د ځان نه اضافه کپړه تاؤ کړه بيا به نبي
عليه السلام د هغې سره څملاستو.

[1] عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَتْ إِحْدَانَا إِذَا كَانَتْ حَائِضًا، ... قَالَتْ: وَأَيُّكُمْ يَمْلِكُ إِرْبَهُ، كَمَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْلِكُ إِرْبَهُ " صحيح البخاري بَابُ مُبَاشَرَةِ الحَائِضِ 302 وأخرجه مسلم في الحيض باب مباشرة الحائض فوق الإزار رقم 293

# په یو څادر کې

د جسمونو د نزدیکت سره تړول ګڼلې او شکوی ختمیږي قرآن کریم ښځې او خاوند ته د یو بل لباس ویلے دے .

په وخت د خفګان کې جسمونه او بدنونه د یو بل نه جدا جدا وي لیکن چې کله یو څادر کې دوه جسمونه یو ځائ شي نو خفګانونه کمېږې کوی .

ام سلمه رضي الله عنها فرمائي :

بَيْنَا أَنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مُضْطَجِعَةٌ فِي خَمِيصَةٍ، إِذْ حِضْتُ، فَانْسَلَلْتُ، فَأَخَذْتُ ثِيَابَ حِيضَتِي، قَالَ: «أَنُفِسْتِ» قُلْتُ: نَعَمْ، فَدَعَانِي، فَاضْطَجَعْتُ مَعَهُ فِي الخَمِيلَةِ[1]

﴿ترجمه﴾ : زه یو ځل د نبي علیه السلام سره په یو څادر کې پرته ووم چې اچانک زه حائضه شوم نو ما ترینه ځان راښکلو او د حیض جامې مې واچولې نو نبي علیه السلام رانه تپوس اوکړو چې ولې ته حائضه شوې ئې

څه ؟ نو ما ورته اویل آؤ ! نو بیا نبي علیه السلام څه راوغوښتلمه او په هم هغه څارد کې زه د هغې سره پریوتلمه .

[1] صحيح البخاري بَابُ مَنْ سَمَّى النِّفَاسَ حَيْضًا، وَالحَيْضَ نِفَاسًا 298

أخرجه مسلم في الحيض باب الاضطجاع مع الحائض في لحاف واحد رقم 296

ګورئ نبي علیه السلام د خپلې بي بي نه د حیض په وجه نفرت نه دے کړے هغه ئې د ځان نه نده جدا کړې بلکې هغه ئې راوغوښتله او ځان سره ئې څملوله .

**سبحان الله ؟** دا زمونږ د نبي علیه السلام عظیم اخلاق دي .

## په یو لوخي کې

د یو بل سره په یو لوخي کې خوراک کول د یو بل د مرضۍ کپړې اچول دې سره د ښځې او خاوند یو بل سره محبت سوا کیږي .

دارنګه یو ځائي غسل کولو سره هم محبت سیوا کیږي .

د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم نه به زیاته حیاء په چا کې نه وي سیدنا ابو سعید الخدري رضي الله عنه فرمائي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د پیغلې جینۍ نه زیات حیاناک وو .

لیکن د خپلو بي بیانو د زړونو ګټلو دپاره به ئې د هغوي سره یو ځائي غسل کولو .

سیدنا عائشه رضي الله عنها فرمائي :

كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءِ وَاحِدٍ، يُبَادِرُنِي وَأُبَادِرُهُ. حَتَّى يَقُولَ: «دَعِي لِي». وَأَقُولُ أَنَا: دَعْ لِي " قَالَ سُوَيْدٌ:

يُبَادِرُنِي وَأُبَادِرُهُ فَأَقُولُ: دَعْ لِي. دَعْ لِي [1]

**﴿ترجمه﴾** : ما او رسول الله صلى الله عليه وسلم به د يو لوخي نه اوبه راخستلې د غسل دپاره ما دا غوښتل چې زه اول فارغه شم د غسل نه او رسو ل الله عليه السلام غوښتل چې هغه اول فارغ شي نبي عليه السلام به ويل : چې ما له اوبه پرېږد او ما به ويل چې ما له ئې پرېږده .

## بي بي ښكلول

خپله بي بي په مخ ښكلول يا په تندي او يا په بل كوم اندام باندې ښكلولو سره محبت سيوا كيږي .

ښځه دا محسوسه وي چې زما خاوند زما سره مينه كوي بلكې په سفرباندې د تلو په

وخت كې يا د كور نه بهر وتلو په وخت كې خپله بي بي ښكلول نبوي سنت دي عائشه

رضي الله عنها فرمائي :

أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَبَّلَ بَعْضَ نِسَائِهِ، ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الصَّلَاةِ وَلَمْ يَتَوَضَّأْ»، قَالَ: قُلْتُ: مَنْ هِيَ إِلَّا أَنْتِ؟ فَضَحِكَتْ [2]

---

[1] سنن نسائي كِتَابُ الْغُسْلِ وَالتَّيَمُّمِ بَابُ الرُّخْصَةِ فِي ذَلِكَ 239 – 414 صحيح

[2] سنن الترمذي بَابُ تَرْكِ الوُضُوءِ مِنَ القُبْلَةِ 86

**﴿ترجمه﴾** : نبي عليه السلام بعض بي بيبانې ښکلولې او بيا به مانځه ته
وتلو او اودس به ئي نه کولو .
عروه (چې دا د دې حديث راوي دے او د عائشه رضي الله عنها خورے دے) فرمائي : چې ما عائشه رضي الله عنها ته اوويل : چې د بعض زنانه نه به ځوک مراد وي خو ته به ئي کنه ؟
نو عائشه رضي الله عنها اوخندل .
د يو حديث مفهوم داسې دے نبي صلى الله عليه وسلم فرمائي :
چې کله تاسو د خپلې بي بي سره يو ځائي کيدل غواړئ نو هغې ته مخکې نه پيغام ورکوئ .
نو صحابو عرض اوکړو يا رسول الله پيغام ورکول څنګه وي ؟
نو نبي عليه السلام اوويل : چې هغه پيغام نه مراد د هغې ښکلول دي .[1]
او دا ښکلول يو داسې څيز دے چې دا هر پيغام رسوي .
او دا خبره ياد ساتئ چې کوم سړے د ښځې زړه په ښکلولو نشي ګټلے نو هغه په تورې باندې هم نه شي ګټلے چې کله هم دښځې او خاوند خپل مينځ کې اختلافات پيدا شي نو دا نعمت دې استعمال

[1] احياء علوم الدين ۲\۳۲٤

کړي هغه تږولې ګِلې او شکوی او خفګانونه به ختم شي.

حدیث کې دي یو سړي خپله ښځه ښکول کړه په روژه کې نو دې سړي دا کار ناشنا اوګنړلو نو خپلې ښځې ته ئې اوویل : لاړه شه او د نبي علیه السلام نه تپوس اوکړه چې دا کار خو به چرته حرام او ناجائز نه وي .

نو هغه زنا نه راغله او د ام سلمه رضي الله عنها سره میلاؤ شوه او قصه ئې ورته اوکړه.

نو ام سلمه رضي الله عنها ورته اوویل : چې نبي علیه السلام به په حالت د روژه کې خپلې بي بیانې ښکولې .[1]

هاں : که چرته یو سړے په ځان قدرت نه لري او هغه پوهیږي چې د ښکولو ورستو په ځان با ندې کنټرول نه وي نو هغه دې د روژې په حالت کې نه ښکلوي دا بعض نبوي واقعات مې ذکر کړل کیدے شي بعض نازک طبیعت والاؤ باندې به دا خبرې ګرانې او مشکلې لګي لیکن دا واقعات دلته بیانول ضروري وو ځکه چې الله تعالی فرمائي :

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ[2]

---

[1] صحيح مسلم

[2] [الأحزاب: 21]

نو د دې مقصد هم دا دے چې د زندګئ په هر موړ کې په هره لمحه او په هره لحظه کې د ګران او محترم نبي علیه السلام تابعداري اوکړو که چرته امهات المؤمنین (یعنی د نبي علیه السلام بي بیانو) د نبي علیه السلام د کورنئ زندګئ احوال نه وے بیان کړي نو مونږ به په تیارو کې پراته وو.

زمونږ مقدسو مئیندو او د نبي علیه السلام مبارکو بي بیانو زمونږ رهنمائي کړې ده ، دا هسې خودساخته حیاء ده چې بعض خلق ئې کوي او چې په کومو مسائلو کې شرم نه وي پکار نو هغې کې مونږ شرم کوو بعض سړي خپلې ښځې بازارونو کې ګرځوي د ماما او کاکا او د ترور ځامنو نه پرده نکوي او دا ورته بې حیائي نه ښکاري

لیکن چې کله خبره د شریعت راشي نو هلته بیا دوي ته حیاء رایاده شي .

دا خو ډیره نازکه او حساسه مسئله ده د دې وجې نه ما بعض ځایونو کې د اختصار نه کار اخستے دے او صرف اشاره مې کړې ده .

## خوشبو استعمالول

خوشبو استعمالول هم ضروري دي او دا قدرتي خبره ده چې خوشبوئي یو داسې څیز دے چې نارینه او زنانه دواړه ئې خوښوي او نبي علیه السلام باره کې هم دا راځي چې هغه به خوشبو خوښوله .

د خوشبو سره د ا نسان په زړه کې محبت پیدا کیږي د دې وجې نه حدیث کې راځي رسول الله صلى الله علیه وسلم فرمائي :
چې ستاسو په دې دنیا کې زما دوه څیزونه خوښ دي
۱ـ زنانه .
۲ـ خوشبوئي او زما د سترګو یخوالے په مانځه کې دے .[1]
د دې وجې نه د عربو هوښیارو زنانو باره کې راځي چې هغوي به د واده نه مخکې خپلو لوریانو ته نصیحت کولو چې خوشبو ډیره استعمالوئ د خاوند په کور کې دا سې نه چې ستا خاوند ته ستا نه څه بدبوئي اورسیږي او دا خوشبوئي ډیر غټ ا ثر لري د انسان په نفس باندې د دې وجې نه رسول الله علیه السلام منع کړې ده د دې نه چې زنانه دې خوشبوئي اولګوي او د کور نه بهر دې اوځي ځکه چې دې سره د سړو توجوه پیدا نه شي او چرته په فتنه کې مبتلا نه شي .
او همیشه یوه خوشبوئي هم استعمالول پکار نه دي یو حدیث کې دي نبي علیه السلام به خوشبوئي نه واپس کوله چې چا به ورله تحفه

[1] عَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «حُبِّبَ إِلَيَّ مِنَ الدُّنْيَا النِّسَاءُ وَالطِّيبُ، وَجُعِلَ قُرَّةُ عَيْنِي فِي الصَّلَاةِ»
سنن النسائي 3939بَابُ حُبِّ النِّسَاءِ

## کې ورکړه[1]

بعض خاوندان د دې خوشبو هیڅ اهتمام نه کوي او که څوک ورله دې طرف ته توجه راګرځوي نو هغه وائي مړه دا خو زما خپله ښځه ده خیر دے که زه ور ته خوشبو استعمال نه کړم نو دا غلطه خبره ده چې ستا د بدن او کپړو نه دې بدبوئي روانه وي بلکې د تعجب خبره خو دا ده چې بعض خلق خُله د نسوارو نه ډکه کړي یا سګرټ ، چرس ، پوډر ، څکي نو اوله خبره خو دا ده چې د نشې هر یو څیز زمونږ په شریعت کې حرام دے .

او دویمه خبره دا ده چې د نسوارو په وجه ستا د خولې نه بیا بدبوئي خیژي او په دې بدبوئي سره بل مسلمان ته ضرر رسیږي او شریعت مونږ د دې نه منع کړي یو زمونږ په شرع کې دا قانون دے نبي علیه السلام فرمائي :

«لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ» [2]

﴿ترجمه﴾ : ځان ته ضرر ورکول هم نشته او بل ته هم .

د دې وجه نه حدیث کې راځي رسول الله صلی الله علیه وسلم

---

[1] ثُمَامَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: دَخَلْتُ عَلَيْهِ فَنَاوَلَنِي طِيبًا، قَالَ: «كَانَ أَنَسٌ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ لاَ يَرُدُّ الطِّيبَ» قَالَ: وَزَعَمَ أَنَسٌ: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لاَ يَرُدُّ الطِّيبَ»
صحيح البخاري بَابُ مَا لاَ يُرَدُّ مِنَ الهَدِيَّةِ 2582

[2] سنن ابن ماجه بَابُ مَنْ بَنَى فِي حَقِّهِ مَا يَضُرُّ بِجَارِهِ2340

فرمائي : چې کله یو کس تاسو کې کچه پیاز او یا اوګه اوخوري نو هغه دې هغه وخته پورې مسجد ته نه راځي ترڅو چې د مسواک په ذریعه هغه بدبوئي ختمه او زائله کړې نه وي .
نو د دې وجې نه هر کس له پکار ده چې دا دې هر وخت مسواک استعمالوي څکه
رسول الله علیه السلام فرمائي :
«السِّوَاكُ مَطْهَرَةٌ لِلْفَمِ مَرْضَاةٌ لِلرَّبِّ» [1]

**﴿ترجمه﴾** : د مسواک په وجه خله هم پاکیږي او الله تعالی هم رضا کیږي.
بل حدیث کې راځي نبي علیه السلام فرمائي :
لَوْلاَ أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي لأَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ وُضُوءٍ [2]

**﴿ترجمه﴾** : که زما په امت باندې ګران او مشکل نه وے نو ما به دوئ ته حکم کړے وے چې د هر مانځ نه مخکې مسواک وهئ .
یو بل حدیث کې راځي چا د عائشه رضي الله عنها نه تپوس اوکړو بِأَيِّ شَيْءٍ كَانَ يَبْدَأُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ بَيْتَهُ؟

---

[1] صحیح ابن خزیمة بَابُ فَضْلِ السِّوَاكِ وَتَطْهِيرِ الْفَمِ بِهِ 135

[2] صحیح البخاري بَابُ سِوَاكِ الرَّطْبِ وَاليَابِسِ لِلصَّائِمِ

قَالَتْ: «بِالسِّوَاكِ»[1]

**﴿ترجمه﴾** : نبي عليه السلام به چې کور ته داخل شو نو ابتداء به ئې په څه باندې کوله ؟

نو عائشه رضي الله عنها اوويل : چې کله به نبي عليه السلام کور ته داخليدلو نو هغه به مسواک وهلو .

دې باره کې ډېر روايتونه دي خو زه هغه نه ذکر کوم بيا رانه خپله موضوع پاتې کيږي خو خلاصه دا ده چې خوشبوئي او مسوا ک لازم اونيسه هر وخت د ځان سره خوشبوئي ساته .

## د خپلې کورودانې سره نرمي کول

بعض خاوندان چې کله واده اوکړي نو د هغوي دا ګمان وي چې ما ځان له نوکره ، او وينځه راوستله او په مفت کې ورته ميلاوه شويده.

نو دا د ا نسان بې وقوفتوب دے چې هغه دا سوچ لري د هغې وجه دا ده که نوکرې سره ته سختي اوکړې نو هغه به ستا د خوا نه لاړه شي د بل چا سره به نوکره شي .

بله خبره دا ده چې هغه نوکر به ستا دپاره دومره کار کوي څومره چې ته هغې له تنخوا ورکوې .

ليکن ښځه غريبه هر وخت ستا دپاره تابعداره او حاضره وي بغير

[1] سنن النسائي السِّوَاكُ فِي كُلِّ حِينٍ٨

د لالچ او تنخوا نه ستا خدمت کوي نو د هغې سره سختي کول دا خو ډیره بې مناسبه خبره ده .

بعض خاوندان خو بې ځایه سختي کوي **مثلاً** : ښځه باندې کاروبار کول ، تجارت کول ، مشکل مشکل کارونه کول .

نو د دې کارونو ګنجائش په اسلام کې نشته چې ته به زنانه د کور نه بهر ته اوباسې او دکانداري پرې کوې .

بعض خاوندان د خپلې ښځې سره بالکل نرمي نه کوي په معمولي معمولي خبرو باندې ښځې سره سختي کوي او دا ورته غټه د کمال خبره ښکاري .

بلکې بعض نالائقه او جاهلان خاوندان خو ښځه په معمولي معمولي خبرو باندې وهي او هغې له سزا ورکوي بعض خلق وائي چې ښځه به د خپلو بریتو لاندې ساتې هغې سره به نرمي نه کوې ګنې بیا ښځه به دې په سر اوخیژي .

بعض وخت میلمانه راغلي وي او په کور کې ناست وي او ښځې نه یوه غلطي اوشي نو دا بیا د میلمنو په مخکې هم د هغې معمولي غلطۍ معاف کولو ته تیار نه وي .

نو دا د شریعت نه ناخبره دے غلطیانې خو د هر انسان نه کیږي کوم انسان دے چې د هغه نه غلطي نه کیږي هغه سړے بهترین انسان نه دے چې هغه سخت مزاج وي لکه الله تعالی فرمائي :

**عُتُلٍّ بَعْدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ** [1]

**ځکه یوناني شاعر وائي :**

**چې ستا ښځې ستا دپاره خپل مور ، پلار ، رونړه ، او خویندې پرښې وي نو تا له پکار دي چې ته هغې له د پلار شفقت ، د مور محبت ، د ورور نرمي ورکړه .**

**ځکه رسول الله علیه السلام فرمائي :**

**«إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الرِّفْقَ فِي الأَمْرِ كُلِّهِ»** [2]

**﴿ترجمه﴾ : الله رب العالمین په هره معامله کې نرمي خوښوي .**

**یو بل حدیث کې دي نبي علیه السلام فرمائي :**

**«مَنْ يُحْرَمِ الرِّفْقَ، يُحْرَمِ الْخَيْرَ»** [3]

**﴿ترجمه﴾ : څوک چې د نرمۍ نه محروم شو نو هغه د ډیر خیر نه محروم شو .**

**د دې وجې نه نرمي د ظاهر او باطن حسن دے ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي :**

**«إِنَّ الرِّفْقَ لَا يَكُونُ فِي شَيْءٍ إِلَّا زَانَهُ، وَلَا يُنْزَعُ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا**

[1] [القلم: 13]

[2] صحيح البخاري بَابُ الرِّفْقِ فِي الأَمْرِ كُلِّهِ 6024

[3] صحيح مسلم بَابُ فَضْلِ الرِّفْقِ 2592

شَانَهُ» [1]

**«ترجمه»** : چې کوم شي کې نرمي وي نو په نرمۍ سره ښکلے کیږي او د سختۍ سره ځیز عیبژن کیږي .

په نرمۍ کې الله تعالی ډیر خیر ایښودے دے .

یو حدیث کې راځي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي :

إِنَّ اللَّهَ رَفِيقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ، وَيُعْطِي عَلَى الرِّفْقِ مَا لَا يُعْطِي عَلَى الْعُنْفِ [2]

**«ترجمه»** : یقینا الله تعالی نرمي کونکے دے او نرمي خوښونکے دے او په نرمۍ الله تعالی هغه څه ورکوي کوم چې د سختۍ په وجه نه ورکوي .

لږ سوچ په کار دے د ابراهیم علیه السلام مثال زمونږ مخې ته دے د توحید د عوت ئې خلقو ته ورکولو او توحید داسې ځیز دے چې خلقو به په اسانه باندې دا نه قبلولو او خلقو د ابراهیم علیه السلام سره سخته دشمني کوله لیکن بیا هم هغه ذ خپل قوم سره نرمي کوله بلکې کله چې ملائک د هغه خوا له راغلل او ورته ئې اوویل : چې مونږ دې دپاره راغلي یو چې د لوط علیه السلام قوم هلاک

---

[1] صحیح مسلم 2594 بَابُ فَضْلِ الرِّفْقِ

[2] صحیح مسلم بَابُ فَضْلِ الرِّفْقِ 2593

کړو نو ابراهيم عليه السلام ورسره بحث مباحثه شروع کړه او هغوي ته ئي اوويل : چې خير دے هغه معاف کړئ ځکه الله تعالى د ابراهيم عليه السلام متعلق فرمائي :

إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَحَلِيمٌ أَوَّاهٌ مُنِيبٌ [1]

﴿ترجمه﴾ : بې شکه ابراهيم عليه السلام ډير تحمل والا نرم زړه والا او رجوع کونکے وو.

## واقعه

د علي رضي الله عنه نوسے وو د زين العابدين په نوم باندې هغه د اودس دپاره پاځيدلو د هغه وينځې نوکرې ، خادمې) سره په لوخې کې ګرمې اوبه وې اچانک د هغې د لاس نه هغه برتن (لوخے) پريوتولو او ګرمې اوبه په زين العابدين (يعنى على بن حسين) باندې توے شوې هغه ته سخت تکليف اورسيدلو او سرئي اوچت کړو او خادمې طرف ته ئي اوکتل نو هغې خادمې ورته اوويل : چې الله تعالى د مؤمنانو صفت کړے دے

وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ [2]

﴿ترجمه﴾ : مؤمنان خپله غصه تيروي . نو هغه اوويل : كَظَمْت

---

[1] هود 75

[2] [آل عمران: 134]

غَيْظِي .

﴿ترجمه﴾ : ما خپله غصه تیره کړه . نو هغې خادمې اوویل : چې الله تعالی داسې هم ویلي دي : وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ [1]

﴿ترجمه﴾ : مؤمن به خلق معاف کوي . نو هغه ورته اوویل : عَفَوْت عَنْك .

﴿ترجمه﴾ : ما تا ته بخنه اوکړه . نو خادمې ورته اوویل : وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ [2]

﴿ترجمه﴾ :الله تعالی محبت کوي د احسان کونکو سره .

نو امام زین العابدین ورته اوویل : أَنْتِ حُرَّةٌ لِوَجْهِ اللَّهِ تَعَالَى

﴿ترجمه﴾ : چې زه به هم ستا سره احسان اوکړم ته زما د طرف نه ازاده ئې. [3]

دې ته وائي د الله تعالی د رضا دپاره نرمي کول . زمونږ مشران او اسلاف داسې بهترین خلق تیر شوي دي .

---

1 [آل عمران: 134]

2 [آل عمران: 134]

3 بريقة محمودية في شرح طريقة محمدية وشريعة نبوية في سيرة أحمدية لمحمد بن محمد بن مصطفى بن عثمان، أبو سعيد الخادمي الحنفي (المتوفى: 1156هـ) 226\٢

احنف ابن قیس رحمه الله په صبر او نرمۍ کې مشهور وو هغې به چرته غصه نه کوله یو ځل د هغوي ملګري راجمع شو او اراده ئي اوکړه چې مونږ به احنف ابن قیس غصه کوو نو هغوئ د دې دپاره یو کس تیار کړو هغه کس د احنف ابن قیس کور ته ورغے.

نو احنف ترینه تپوس اوکړو چې څنګه راچکر شوې ؟

نو هغه کس اوویل : چې زه خو په یو کار راغلے یم.

احنف ورته اوویل : هغه کوم کار دے ؟

نو هغه کس ورته اوویل چې زه خو د دې دپاره راغلے یم چې ستا د مور سره واده اوکړم.

احنف چې کله د هغه خبره واوریده نو سر ئي اوچت کړو او ډیر په اطمنان ئي هغه نوجوان ته اوویل : چې ستا خاندان انتهائي معزز او بهترین دے او زمونږ طرف نه څه اعتراض نشته لیکن خبره دا ده چې زما د مور عمر ډیر زیات دے نن صبا د هغې عمر تقریباً اویا ۷۰ کاله دے او ته یو ښکلے نوجوان ئي تاله خو یو داسې زنانه سره واده پکار دے چې هغه ستا سره په عمر کې برا بره وي محبت کونکې زنانه وي او ستا د پاره بچي راوړي چې ستا نسل خور شي او زما مور خو بوډۍ ده په هغې به څه اوکړې؟

هغه نوجوان ورته اوویل : چې زه خو چا د دې دپاره رالیږلے یم چې تا غصه کړم او ته زما سره سختي اوکړې لیکن تا بیا هم نرمي وکړه

د دې نه علاوه نور هم ډېر واقعات دي خو زه هغه نه ذکر کوم .
لکه انس رضي الله عنه فرمائي : چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره لس ۱۰ کاله تير کړي دي د هغه خدمت به مې کولو ليکن په دې لسو کالو کې چرته هم هغه زما سره سختي نده کړې چرته ئې هم ماته داسې نه دي ويلي چې دا کار دې ولې اوکړو ؟ يا داکار دې ولې اونه کړو .[1]
دارنګه کله چې نبي عليه السلام مکه فتح کړه او مکې ته داخل شو نو عامو خلقو سره ئې نرمي اوکړه او ورته اوويل :
نن ورځ به هيڅ چا سره سختي زبردستي ، ظلم ، زياتئ ، وغيره نه کيږي بلکې د معافئ عام اعلان دے .
نو اے زلميه : ته هم هميشه نرمي کوه سختي مه کوه ځکه د سختئ فائده نه وي او نقصانات ئې ډېر دي او نرمئ کې ډېر خيرونه دي د خپلې کوروداني سره د ژوند په هر لمحه کې نرمي کوه په وړو وړو خبرو ورسره تيزي مه کوه .

---

[1] أَنَسٌ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: " خَدَمْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشْرَ سِنِينَ، فَمَا قَالَ لِي: أُفٍّ، وَلاَ: لِمَ صَنَعْتَ؟ وَلاَ: أَلَّا صَنَعْتَ "
صحيح البخاري 6038
أخرجه مسلم في الفضائل باب كان رسول الله صلى الله عليه وسلم أحسن الناس خلقا رقم 2309

# نرمي کوه نرمي کوه نرمي کوه

## ښائسته اخلاق چلول

د ښځې او خاوند دپاره ضروري دي چې د يو بل سره به ښائسته اخلاق چلوي ځکه رسول الله عليه السلام فرمائي :

«أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا، وَخَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِنِسَائِهِمْ»[1]

**﴿ترجمه﴾** : تاسو کې کامل ايمان والا هغه دے چې د هغه اخلاق ښائسته وي او بهتر هغه کس دے څوک چې د خپلو بي بيانو سره ښه وي .

هغه کس غوره دے چې هغه د حسن اخلاق او ښائسته عاداتو په وجه باندې د خپلې کور وداني زړه اوکټي اګر که ښځه بد اخلاقه وي تيزي کوي ليکن سړي له پکار نه دي چې هغه د خپلې ښځې سره بې ځايه بداخلاقي اوکړي چې د کوم کس اخلاق ښه وي نو چرته هم د هغه ښځه د هغه د خولې نه بازارے لفظ سپکې سپورې ، بې هوده کلمات ، کنځلې او داسې کلمات نه اوري چې هغې سره د زنانه زړه ته درد رسي .

---

[1] سنن الترمذي بَابُ مَا جَاءَ فِي حَقِّ الْمَرْأَةِ عَلَى زَوْجِهَا

1162 سنن أبي داود بَابُ الدَّلِيلِ عَلَى زِيَادَةِ الْإِيمَانِ وَنُقْصَانِهِ 4682

که ته په رشتیا باندې د خپلې کوروداني زړه ګټل غواړې او د هغې په زړه کې مقام جوړول غواړې نو ښځې سره به د خپل اخلاقو مطابق معامله کوې د هغې د اخلاقو مطابق معامله به نه کوې ،
مونږ کې کوم کس داسې دے چې د هغې نه غلطي نه کیږي ؟
مونږ کې به ځوک وي چې هغه له به چا تکلیف نه وي ورکړے ؟
نو آیا مونږ به د بداخلاقو جواب په بداخلاقو ورکوو ؟
مونږ به ګني خلقو سره هغه شان معامله کوو ځنګه چې هغوي زمونږ سره کوي ؟
هر کس له پکار دي چې هغه دې د خپل ځان سره عهد اوکړي چې مونږ به د خلقو د بداخلاقو په جواب کې ښه اخلاق چلوو .
که هغوي بداخلاقي کوي نو ته ښه اخلاق استعمالوه یقین اوکړه که ته د هغوي د بد اخلاقئ په جواب کې ښه اخلاق استعمال کړې نو هغه به یقیناً په خپله رویه باندې سوچ کوي .
او دا هم ذهن کې کیږده چې ډیر مسلمانان به ئي چې هغوئ به د اخلاقو نه خبر هم نه وي نو د هغوي معامله په الله تعالی باندې سپارئ په هغوي کې چینجي مه اوباسئ او د شاعر د دې شعر مصداق جوړ شه
كنْ كالنخيل عن الأحقادِ مرتفعاً ... يُرْمى برجمٍ فيعطي خيرَ

## أثمارِ[1]

د نفرتونو نه دومره اوچت شه لکه د کجورې د بوټي پشان چې هغه خلق په کاڼړو ولي او هغه جواب کې میوه ورکوي .

د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه تپوس اوشو چې بهترين عمل کوم يو دے ؟ نو هغه اوويل : چې بهترين عمل ښه اخلاق دي .

او دا ياد لره چې ښکلي اخلاق د مقناطيس مثال لري چې دا انسان ځان ته راښکاږي .

مقصد دا دے چې ځنګه معامله چې ته د ځان سره خوښوې نو هغه شان معامله د خلقو سره هم کوه خپل ځان کې داسې اخلاق ، کردار ، پيدا کړه چې خلق ستا په تعريف او احترام کولو باندې مجبوره شي .

د خلقو مثال هم د معدني قدرتي جواهراتو دے لکه ځرنګه چې په کاڼو کې قيمتي او بې قيمته کاڼړي او جواهرات وي بعض کاڼړي چمک لري ښائست لري ، ښکلا لري او خلق هغه خوښوي د هغې سره محبت کوي د دې برعکس بعض داسې کاڼړي هم وي چې خلق هغې له هيڅ توجه نه ورکوي

په کلونو کلونو هغې کاڼړي ته خلق نه ګوري .

نو داسې بې قيمته کاڼړے به د ځان نه نه جوړوې بلکې د خپلو

---

[1] مجمع الحكم والأمثال في الشعر العربي . لأحمد قبش بن محمد نجيب ٦\252

بهترينو اخلاقو په وجه ځان نه قيمتي ملغره جوړه کړه چې خلق په تا باندې فخر کوي .

همدا وجه ده عبد الله بن عمر رضي الله عنه فرمائي : چې نبي عليه السلام فرمائيلي دي :

إِنَّ مِنْ أَحَبِّكُمْ إِلَيَّ أَحْسَنَكُمْ خُلُقًا [1]

﴿ترجمه﴾ : ما ته په تاسو کې محبوب کس هغه دے چې د هغه اخلاق ښائسته وي.

او دا د مؤمن صفت دے چې هغه د ښائسته اخلاقو مالک وي او هر چا سره په خندا پيشاني او روڼ تندي سره ميلاويږي .

سيدنا عائشه رضي الله عنها فرمائي : چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي :

«إِنَّ الْمُؤْمِنَ لَيُدْرِكُ بِحُسْنِ خُلُقِهِ دَرَجَةَ الصَّائِمِ الْقَائِمِ» [2]

﴿ترجمه﴾ : بې شکه مؤمن د خپل ښائسته اخلاقو په وجه د روژ دار او د شپې ودريدونکي (يعنى تهجد کونکي) پشان اجر لري .

د دې وجې نه د رسول الله عليه السلام په باره کې راځي چې کله به هغه په شيشه (آئنه) کې خپل مخ ته کتل نو دا دعاء به ئې اوويله :

---

[1] أخرجه البخاري 3759 والطيالسي (2246) ، والبخاري (3759) و (6029) ، والترمذي (1975) ، والبيهقي في "شعب الإيمان" (7985)

[2] سنن ابي داود بَابٌ فِي حُسْنِ الْخُلُقِ 4798

«اللَّهُمَّ كَمَا حَسَّنْتَ خَلْقِي فَحَسِّنْ خُلُقِي»[1]

**﴿ترجمه﴾** : اے الله ! څنګه چې تا زما شكل ښكلے كړے دے نو داسې زما اخلاق هم ښائسته كړه .

يو بل حديث كې راځي سيدنا ابو امامه الباهلي رضي الله عنه نه روايت دے هغه وائي چې رسول الله عليه السلام فرمائيلي دي :

چې زه د جنت په ښي طرف كې د بنګلې ضمانت وركوم هغه چا له څوك چې جګړه پريږدي اګر كه هغه په حق با ندې ولې نه وي او زه د جنت په مينځ كې د بنګلې ضمانت وركوم هغه چا له څوك چې دروغ پريږدي اګر كه په مزاح او ګپ شپ كې ولې نه وي او د جنت په اوچت اعلى درجه كې د بنګلې ضمانت وركوم څوك چې ښكلي او ښائسته اخلاق لري .[2]

---

[1] الدعاء للطبراني 404

[2] فَضَالَةَ بْنَ عُبَيْدٍ الْأَنْصَارِيَّ يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وسلم يقول: "أَنَا زَعِيمٌ -وَالزَّعِيمُ: الْحَمِيلُ- لِمَنْ آمَنَ بِي، وَأَسْلَمَ، وَهَاجَرَ بِبَيْتٍ فِي رَبَضِ الْجَنَّةِ، وَبَيْتٍ فِي وَسَطِ الْجَنَّةِ، وَأَنَا زَعِيمٌ لِمَنْ آمَنَ بِي، وَأَسْلَمَ، وَجَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِبَيْتٍ فِي رَبَضِ الْجَنَّةِ، وَبَيْتٍ فِي وَسَطِ الْجَنَّةِ، وَبَيْتٍ فِي أَعْلَى غُرَفِ الْجَنَّةِ، فَمَنْ فَعَلَ ذَلِكَ لَمْ يَدَعْ لِلْخَيْرِ مَطْلَبًا، وَلَا مِنَ الشَّرِّ مَهْرَبًا، يَمُوتُ حَيْثُ شَاءَ أَنْ يَمُوتَ

صحيح ابن حبان 4619 أخرجه النسائي 21/6 في الجهاد: باب ما لمن أسلم وهاجر وجاهدوالطبراني 801/18 والبيهقي 72/6 وصححه الحاكم على شرط مسلم 6/2 و71 ووافقه الذهبي

د دې نه علاوه هم ډیر احادیث دي خو عقلمند له اشاره هم کافي ده .
نو د خپلې کوروداني سره ښائسته اخلاق چلوه د هغې د بداخلاقو جواب په بداخلاقو سره مه ورکوه .
داسې اخلاق چلوه که چرته ته په سفر لاړ شې نو هغه ستا کمے محسوس کړي او ستا د بهترینو اخلاقو په وجه هغه ستا غلامه او نوکره شي او د خپلو ملګرو په مخکې په تا فخر کوي .
بلکې د خپل ښائسته اخلاقو په وجه هغه مجبوره کړه چې هغه اووائي چې زما د خاوند پشان اخلاقي انسان بل نشته .

# صبر کوه

د ژوند په هره لمحه او لحظه کې د صبر نه کار اخستل د مؤمن شان دے.

مؤمن انسان به باید په صبر باندې مشهور وي او دا یو ښکاره خبره او واضحه حقیقت دے چې کله انسان په یو معاشره چې اوسیږي نو د مختلف قسم خیالاتو نظریاتو ، او عاداتو والا خلقو سره د انسان واسطه راځي .

بعض انسانان سخت مزاجه وي ،بداخلاقه وي . نو ته به د هغوي سره نرمي کوې دهغوي په سختو خبرو پیغورونو او د هغوي په بداخلاقۍ باندې به صبر کوې .

نبي علیه السلام فرمائي : چې هغه مؤمن کوم چې د خلقو سره میلاویږي د نورو مؤمنانو په تکلیفونو باندې صبر کوي نو دا د هغه مؤمن نه بهتر دے کوم چې د خلقو نه یواځې او لرې اوسیږي او د هغوي په تکلیفونو باندې صبر نه کوي .

او زمونږ د عظیم نبي علیه السلام طریقه هم دا وه چې هغې به د خلقو په تکلیفونو او بد اخلاقو باندې صبر کولو د هغه بې شماره واقعات دي لیکن زه به دهغې یو څو مثالونه زکر کړم .

رسول الله علیه السلام چې کله طائف ته لاړو او ټول خلق ئې راجمع کړل او هغوي ته ئې د توحید دعوت وروړاندې کړو .

نو هغه ظالمان راپاڅيدل او خوږ نبي عليه السلام ئې په کاڼرو اوويشتولو او سخت ئې زخمي کړو د اندامونو نه ئې وينې روانې شوې او په دغه وخت کې جبريل عليه السلام راغے ورته ئې اوويل : چې اے ! محمد صلى الله عليه وسلم ته صرف حکم اوکړه نو زه به دا ټول طائف په بل مخ واړوم ليکن د الله تعالى عظيم نبي عليه السلام ورته جواب کې وائي :

«اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِقَوْمِي , فَإِنَّهُمْ لَايَعْلَمُونَ» [1]

**﴿ترجمه﴾** : اے ! الله زما دې قوم ته هدايت اوکړه ځکه دوئ نه پوهيږي .

د کور حالات که هر څومره خراب شي ليکن صبر به کوې او صبر د مؤمن هتيار دے قرآن کريم کې الله تعالى بار بار د صبر تلقين کوي الله تعالى فرمائي :

واسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ [2]

**﴿ترجمه﴾** : په مونځ او صبر سره مدد غواړئ .

او که بالفرض انسان صبر نه کوي نو آخر به څه اوکړي ؟

د دې د بې صبرۍ په وجه به دا د نورو پريشانيانو سره هم مخامخ شي

[1] الشريعة ١٠٠٤

[2] سورة البقرة٤٥

نو د كور ماحول ښكلےكول او خرابول دا په سړي پورې خاص دي كه انسان په سختو خبرو باندې د صبر او تحمل نه كار واخلي نو هغه بليدونكے اور به مړ كولے شي الفاظ د اور كار هم وركوي او د واورې (برف) هم كار وركوي بعض الفاظ د مرهم مثال لري ا بعض الفاظ د زخم مثال لري .

د تجربې نه دا خبره ثابته ده چې د سخت رويه نتيجه اولټه وي او د دې برعكس نرمه رويه ډير ښه اثر لري .

**مثال** : دوه كسان په لاره باندې روان وي يو مخكې روان وي او بل روسته د روستني كس په لاس كې بكس (صندوق) وي او هغه تيز روان وي او د مخكني كس سره اوجنګيږي او هغه راګزار كړي نو شاتنے كس فوراً اودريږي او هغه غورځيدلي كس نه معافي اوغواړي چې خفه نه شې وروره زما نه غلطي اوشوه او زه په خپله غلطۍ باندې پښيمانه يم ما معاف كړه نو د هغه بل كس غصه به هم سړه شي هغه به اووائي : خير دے څه خبره نه ده نو دواړه به د خپل منزل مقصود طرف ته روان شي.

دويم : صورت دا دے كه بالفرض داسې قسم واقعه راشي او دا دواړه د يو بل سره جګړه شروع كړي دا يو بل ته وائي چې ته ړوند ئي ؟ نو دا بل به ورته وائي ته بدتميزه ئي تاله د خبرو طريقه نه درځي نو دواړه به يو بل سره به په جنګ شي او خبره به ډيره مخكې لاړه

شي مخکې که د هغوي په جسم با ندې خاوره لګيدلې وي نو اوس به پرې وينه روانه شي مخکې که د هغوي کپړې شليدلې وې نو اوس به ئې هډوکي مات شي .

هميشه دپاره که خبره د کورنۍ زندګۍ وي يا د کور نه بهر ژوند وي هر ځائ کې چې نرمي اوشي نو غټې غټې مسئلې بيا ختميږي د نرمۍ مثال : داسې دے لکه په اور چې اوبه واړوې او د تيزۍ مثال داسې دے لکه په اور چې پټرول واړوې په اولنۍ طريقې سره اور مړ کيږي او په دويمه طريقې سره اور زياتيږي .

## واقعه

يو سړي امام شعبي رحمه الله ته ردې بدې اوويل : نو اما شعبي هغه سړي ته اوويل که زه په حقيقت کې داسې يم لکه څنګ چې ته وائې نو الله تعالى دې ما معاف کړي او که زه داسې نه يم لکه څنګ چې ته وائې نو الله تعالى دې تا معاف کړي .

يو سړي ضرار ابن قعقاع ته اوويل : که تا ما ته يوه خبره اوکړه نو زه به تا ته لس خبرې اوکړم نو ضرار ورته اوويل : که ته ما ته لس خبرې اوکړې نو ته به زما نه يوه خبره هم وانه ورې .

نو هميشه دپاره د صبر نه کار اخستل پکار دي چې کومه پريشاني تا ته رسيږي نو دا مخکې نه ستا په تقدير کې ليکل شوې وه .

د خپلې کور ودا نې نه به بعض وخت ته داسې سپکه خبره واورې

چې زړه به دې غواړي چې دا ښځه اووهې ليکن په داسې وخت کې د صبر نه کار اخله .

د صبرکونکو نارينه او زنانو دپاره الله تعالى مغفرت وعده کړې ده.[1]

قرآن کريم کې الله تعالى فرمائي :

إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ [2]

**﴿ترجمه﴾** : صبر کونکو له الله تعالى بې حسابه اجر ورکوي .

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي :

وَمَا أُعْطِيَ أَحَدٌ عَطَاءً خَيْرًا وَأَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ» [3]

**﴿ترجمه﴾** : د صبر په شان وسيع نعمت چا له نه دے ورکړے شوے.

## واقعه

د چنګيز خان متعلق کتابونو کې يوه واقعه راځي چې د هغه يو مرغه وو چنګيزخان هغه مرغه ډير په مينه ساتلے وو او ډير محبت به ئې ورسره کولو د يو بل سره سم عادت شوي وو يو ځل

[1] إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِينَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّادِقِينَ وَالصَّادِقَاتِ وَالصَّابِرِينَ وَالصَّابِرَاتِ وَالْخَاشِعِينَ وَالْخَاشِعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا . سورة الأحزاب ٣٥

[2] سورة الزمر ١٠

[3] صحيح البخاري 1469 ومسلم في الزكاة باب فضل التعفف والصبر رقم 1053

چنګيزخان د سيل دپاره يو ځنګل ته لاړو او خپل مارغه ئي هم ځان سره بوتلو په ځنکل کې ئي مز ل کولو ستړے شو نو يو ځائ کې ئي دمه اوکړه نو غره په لمنه کې يوه چينه وه نو دا لاړو او د هغه چينې نه ئي بوکه کې اوبه راويستلې او غوښتل ئي چې دا اوبه اوڅکي کله چې ده اوبه د لوخې خولې ته نزدې کړې نو مرغه راغے او د لوخې په بله کناره باندې کيناستلو او چنګيز خان ئي د اوبو څکلو ته پرې نه ښودلو نو هغه دوباره هغه لوخے خولې ته نزدې کړو نو هغه مرغه بيا د هغه لوخي دپاسه کيناسته او دا ئي د اوبو څکلو ته پرې نه ښودو چې دريم ځل کله هغه لو خے خولې ته نزدې کړو نو مرغه هغه بيا پرې نه ښودو او چنګيز خان نه اوبو لوخے پريوتلو او هغه اوبه تولې واوړيدلې نو هغه غصه شو او توره ئي راواخسته او هغه مارغه ئي مړ کړو او ټوټې ټوټې ئي کړو چنګيز خان نه غوښتل چې مارغه مړ کړي ليکن د غصې د وجې نه ترې دا کار اوشو.

هغه ډير خفه شو او په دردمند زړه چينې ته ورغے او چې څنګه ئي اوکتل نو په چينه کې مړ مار پروت وو او زهر ئي په چينه کې خواره شوي وو.

نو چنګيز خان پوهه شو چې دې مرغه زه ځکه نه پريښودم اوبو ته چې زه د زهرو اوبه اونه څکم يعنى زه ئي د يو قسم نقصان او مرګ نه بچ کولم.

نو د غصې د وجې نه د ریشتونې دوست نه محروم شوم .
نو کله چې چنګیز خان د سیل نه واپس شو نو خپلو مزدورانو ته ئې حکم اوکړو چې ماله د سرو زرو یو داسې مرغه جوړ کړئ چې همیشه دپاره زما سره وي او زه پرې د خپل زړه مینه ماته کړم نو هغوئ مارغه جوړ کړو او د هغې د پاسه ئې داولیکل چې دوست همیشه دپاره دوست وي .
نو مقصد دا دے چې غصه مه کوئ .
سیدنا ابو بکر رضي الله عنه بیمار وو خلق ئې تپوس له راتلل چاورته اوویل : چې طبیب به راولو ستا د کتو دپاره .
نو هغه ورته اوویل : چې زه خو طبیب (یعنی الله تعالی) کتلے یم .
نو هغه کس ورته اوویل : چې طبیب درته څه اوویل ؟
نو سیدنا ابو بکر رضي الله عنه ورته اوویل : طبیب وائي چې زه څه کول غواړم نو هغه کوم .
ته صبر کوه همیشه دپاره صبر کوه او زړه کې دا خبره راوله چې د دې صبر انجام ښه دے په دې با ندې به ماته اجر میلاویږي او دا به زما دګناهونو دپاره کفاره اوګرځي ځکه چې دا د الله تعالی قانون دے چې
فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا [1]

[1] سورة الم نشرح ٥

**﴿ترجمه﴾** : د تکليف سره خامخا خوشحالي وي .

که ته د کتابونو مطالعه اوکړې نو داسې بې شماره واقعات به تاته ميلاؤ شي .

په بعض خلقو باندې به تکاليف او پريشانيانې داسې راتللې ګويا کې د باران پشان ليکن د هغې صبر او قوت برداشت ته چې انسان اوګوري نو حيران شي .

دصبر غرونه وو نو لږ وخت پس به هغوي ته د صبر ميوه ميلاؤ شوه.

هميشه دپاره چې چا په تکليف او مصيبت کې صبر کړے نو هغوي ته د هغې ښه بدله ميلاويږي .

**مثال** : ام سلمه رضي الله عنها فرمائي : چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي : چې کله يو مسلمان ته مصيبت اورسيږي او هغه

إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ} اللهُمَّ أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي، وَأَخْلِفْ لِي خَيْرًا مِنْهَا، إِلَّا أَجَرَهُ اللهُ فِي مُصِيبَتِهِ، وَأَخْلَفَ لَهُ خَيْرًا مِنْهَا "[1]

---

[1] عن مّ سَلَمَةَ، زَوْج النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، تَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: " مَا مِنْ عَبْدٍ تُصِيبُهُ مُصِيبَةٌ، فَيَقُولُ: ....قَالَتْ: فَلَمَّا تُوُفِّيَ أَبُو سَلَمَةَ، قُلْتُ: كَمَا أَمَرَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَخْلَفَ اللهُ لِي خَيْرًا مِنْهُ، رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

صحيح مسلم بَابُ مَا يُقَالُ عِنْدَ الْمُصِيبَةِ918

اووائي نو هغه ته چې کوم مصيبت رسيدلے وي الله تعالی د هغه په بدل کې ښه بدله ورکړي .

ام سلمه رضي الله عنها فرمائي : چې کله ابو سلمه رضي الله عنه وفات شو نو ما زړه کې اوويل : چې په مسلمانانو کې به د ابو سلمه نه بهتر بل څوک وي ؟

نو دا فرمائي : لږ وخت پس نبي عليه السلام ما پسې د واده پيغام راوليږلو او زه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته واده شوم .

## واقعه

د يحيي بن زياد الحارثي رحمه الله يو بدعمله غلام وو چا ورته اوويل : دا دې څه له ساتلے دے ؟

نو هغه ورته اوويل دا مې ځکه ساتلے دے چې د ده په وجه ځان د صبر سره عادت کوم .

امام غزالي رحمه الله فرمائي چې يو سړي يو کس د دې دپاره د ځان سره په مزدورئ باندې نيولے وو چې د خلقو په مخکې ديته کنځل اوکړي او ده په ځان لازم کړې وه چې صبر به کوي او غصه کيږي به نه تردې پورې چې صبر ئې عادت جوړ شو نو بيا خلقو به د هغه مثال ورکولو .

د ابن قدامه رحمه الله باره کې راځي چې يو سړي ورته ردې بدې اوويل: او هغه ورله جواب نه ورکولو .

نو هغه سړي ورته ډيرې کنځلې اوکړې ليکن هغه ورله بيا هم جواب نه ورکولو نو د هغه سړي غصه نوره هم سيوا شوه تر دې چې د ډيرې غصه د وجې نه مړ شو.

احنف ابن قيس رحمه الله په صبر باندې مشهور وو چرته به هم نه غصه کيدلو نو خلقو د هغه په غصه کيدلو ډير کوشش اوتجربه اوکړه ليکن کامياب نه شو نو بعض کسانو يو ليوني ته اوويل : چې مونږ به د احنف په مجلس کې ناست يو او ته هغه ته کنځل اوکړه او مخ له ئې لاس يوسه نو مونږ به تا له زر ۱۰۰۰ درهم درکړو.

هغه ليوني اوويل : چې صحيح ده.

نو دوئ د احنف سره په مجلس کې ناست وو نو ليونے راغے او احنف څه خبره اوکړه

نو دې کم عقل کس ورته اوويل : چې تا دروغ اوويل:

نو احنف ورته څه اونه ويل :

بيا هغه کم عقل کس د احنف مخ له لاس وروړلو احنف اوخندل او ورته ئې اوويل : چې زما د غصه کولو دپاره تا ته چا څومره پيسې منلي دي ؟ هغه ورته اوويل : ۱۰۰۰ درهم نو احنف ورته اوويل : چې دوئ درته زه نه يم دربنودلے ستا نه کس خطاء شوے دے هغوي تا ته جاريه بن قدامه بنودلے دے هغې خواله لاړ شه هغه غصه کړه.

(جاريه ابن قدامه ډير غصه ناک سړے وو په معمولي خبره به غصه كيدو) نو هغه كم عقل جاريه ته ورغے او مخ له ئي ورله لاس وروړو.

نو جاريه ورته غصه شو او په توره ئي ترې لاس غوڅ (كټ) كړو.

ځكه هوښياران وائي چې د ليونو سره ځان مه سمه وه.

احنف : نه چا تپوس اوكړو چې تا دا صبر د چا نه ياد كړے دے ؟

نو هغه ورته اوويل : ما د قيس ابن عاصم نه ياد كړے دے.

نو چا ورته اوويل : هغه څنګه ؟

نو احنف : ورته اوويل : زه د هغه سره په يو مجلس كې ناست ووم هغه خپل څادر په ځان اچولے وو نو ځوي ئي په منډه منډه راغے او ورته ئي اوويل : چې زما د تره ځوي زما رورر اووژلو (يعنى تره ځوي مې راپاڅيدو او ورور ئي راله مړ كړو).

نو لږ وخت پس هغه وراره چې ځوي ئي ورله وژلے وو خلقو لاس تړلے راوستلو.

نو هغه خپل وراره طرفته مخ واړولو او په رنګ كې ئي هيڅ قسم بدلون رانغے او خپل څادر ئي هم د ځان نه لرې نه كړو او خپل وراره ته ئي اوويل: زما ګرانه بچيه دا دې څه اوكړل ؟

خپل شمیر دې کم کړو ، خپله ملا دې ماته کړه ، خپل مټ دې کمزورے کړو ، دشمنان دې خوشحاله کړل او په قوم کې دې ځان بدنام کړو .

بیا ئې خلقو ته اوویل : چې لاسونه ئې پرانزئ چې ځي خپل کور ته .

دیته صبر وائي :

که بالفرض داسې واقعه زمونږ سره پیښه شوې وے نو مونږ به وراره په همدغه وخت وژلے وے .

د صبر متعلق نور هم ډیرزیات واقعات دي که زه هغه ټول لیکم نو غټ کتاب به ترینه جوړ شي د عقلمند دپاره اشاره کافي وي .

ما دغه واقعات ذکر کړل د دې دپاره چې ته هم د عقل نه کار واخلې او د خپلې کوروداني په بد اخلاقواو پریشانیانو باندې صبر اوکړې او هغې ته په معمولي معمولي خبرو باندې غصه نه شې .

بلکې د صبر نه کار واخله ګلونو سره خلق ازغي هم په خوشحالئ سره قبلوي . زه امید لرم چې تاسو به د تل دپاره د صبر نه کار اخلئ .

# د خپلې کور وداني غلطي معاف کول

دا سوچ د ذهن نه اوباسه چې ستا د کوروداني نه به چرته هم په زندګئ کې غلطي نه کیږي دا ممکن نه ده .

ځکه هغه هم انسان دې او د هر انسان نه خامخا څه نا څه غلطیانې کیږي.

ستا بې شماره حقوق هغه پوره کوي د کور ټول کارونه هغه کوي او د ماشومانو تربيت هغه کوي صفائي کوي ، جامې وينځي .

نو که چرته بعض وخت د هغې نه لاپرواهي ، سستي، غفلت او کمے زياتئ اوشي يا د بيمارئ د وجې نه څه کار خراب شي يا د سترړي والي د وجې نه کار ليټ شي، د هغې نه د نقصان يو کار اوشي او يا په وخت باندې هغه کار اونکړي .

نو فوراً او سمدست په هغې باندې لاس مه اوچتوه هغې ته ردې بدې مه وايه .

بلکې صبر ، حوصلې او تحمل نه کار اخله .

لږ سوچ اوکړه ستا کور ودانه ټوله ورځ په کار مصروفه وي چرته مخکې د هغې نه داسې کوتاهي نه ده شوې نن که د هغې نه غلطي شوي وي نو څه چل اوشو ؟

ولې ستا نه چرته هم غلطي نه ده شوې الله تعالى فرمائي :

خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ [1]

**﴿ترجمه﴾** : معافي کوه او د نيکئ حکم کوه او د جاهلانو نه مخ واړه وه .

بالفرض که ستا په کورودانه کې سل ۱۰۰ خوبيانې دي او يوه خامي

[1] [الأعراف: 199]

وي نو ولې ته به د یوې خامۍ او  یوې کمزورۍ په وجه هغه پریږدې ؟ سیدنا ابو درداء رضي الله عنه فرمائي :
که ته په خپل دوست کې هر وخت غلطیانې راوباسې نو دا ملګرې به آخر ضائع کړې.
آیا ته د خپل مور ، پلار ، رونو ، خوئیندو او د خپلوانو ټول حقوق پوره کړي دي ؟
آیا ستا نه الله تعالی په عبادت او بندګۍ کې چرته کمے نه دے شوے څه؟
یو دوه ورځې د کور ټول کارونه لږ په خپله اوکړه نو ستا د سترګو مخې ته به رڼا راشي اندازه به درته اولګي چې دا څومره مشکل کار دے .
زه امید لرم چې په دې خبرو به ته غور اوکړې او د خپلې کوروډانې په غلطیانو به هغه معاف کوې .
او دا خبره هم مه کوه چې زما دا ښځه خو داسې ده که بله زنانه وے نو هغې به داسې غلطي نه کولے .
نه ! دا سوچ ستا بالکل غلط دے که د دې په ځائ ته بله ښائسته ښځه راولې نو هغې کې به هم داسې کمے وي بلکې کیدے شي چې د دې نه ډیر وي .
د یو سړي د ښځې نه غلطي اوشوه نو هغه سړي له ډیره غصه ورغله

دائي اوغوښتل چې دا ښځه اووهي ، طلاق ورله ورکړي .
ليکن بيا د هغه په ذهن کې دا خبره راغله چې يره هيڅ هم ورته نه وايم .
ځکه دا عاجزه هم د الله تعالی بنده ده نو د الله تعالی درضا د پاره ئې هغه معاف کړه .
نو کله چې هغه سړے مړ شو نو چا په خوب کې اوليدو چې هغه په جنت کې ګرځي .
نو هغه کس ترينه تپوس اوکړو چې ته څنګه جنت ته لاړې ؟
نو هغه اوويل : چې زما د ښځې نه يو ځل غلطي شوې وه او ما په زړه کې دا خبره راوستله چې دا د الله تعالی کمزورے مخلوق دے .
نو ما هغه معاف کړه .
نو الله تعالی راته اوويل : چې تا خپله ښځه زما د رضا دپاره معاف کړې وه او تا اوويل : چې دا د الله تعالی يو عاجز مخلوق دے .
نو په دې خبره ما هم په تا رحم اوکړو او ته مې معاف کړې ځه لاړ شه جنت ته داخل شه .
بعض جاهلان خلق په معمولي معمولي خبرو باندې خپلې ښځې وهي او دا ورته غټ کمال او د غيرت کار ښکاري .
بلکې بعضو سړو ته هله ځان سړے ښکاري چې ښځه اووهي او هغې ته د زمري پشان سترګې ښکاره کړي .

او هغه غواړي چې ښځه دې زما هره خبره اومني او زما په خدمت کې دې کوتاهي نه کوي .

بلکې بعض داسې بې عقله خاوندان وي چې د هغوي په مخکې ښځه بالکل خبرې نشي کولے د دې یرې د وجې نه چې خاوند راته غصه نشي او ماته ردې بدې اونه وائي.

## خپله کورودانه به څنګه پوهه کوې ؟

بعض وخت به غیر اختیاري ستا د کور ودانې نه داسې غلطي اوشي یا ترې څه کار وران شي یا د هغې د خُولې نه څه غلطه خبره اوځي.

نو بیا پکار ده چې خاوند د هغې د غلطۍ اصلاح اوکړي .

لیکن د اصلاح خاص طریقه ده ، خاص وخت دے ، خاص ځائ دے ، خاص انداز دے ځان نه به جاهل نه جوړوې چې وخت ، ځائ ، حالاتو ته نه ګوري خو بس خبله خبره کوي لکه بعض جاهلان دا کار کوي .

نو دا شرعي او ښه طریقه نه ده .

ما ته بذات خود داسې کسان معلوم دي چې هغوي د خپلې کورودانې اصلاح نه شي کولے .

نو کله یو ته قصه کوي او کله بل ته د خپلې کورودانې قصې ګِلې شکایتونه کوي .

او بعض داسې خلق دي چې هغوي د میلمنو په مخکې خپلې کوروداني ته کنځلې کوي هغې ته ردې بدې وائي :
او بعض جاهلان داسې هم وي چې د خلقو په مخکې په خپلې کوروداني ګذارونه هم کوي او بیا ژاړي چې زما ښځه ډیره بد اخلاقه ده بدتمیزه ده ، زما عزت نه کوي ، زما خبرې له هیڅ اهمیت نه ورکوي .
نو زما معززه وروره !
تا د مسلم شریف حدیث نه دے اوریدلے چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي: زنا نه د کږې پوښتۍ نه پیدا دي او پوښتۍ کږه وي .
نو دې سره نرمي کوه که سختي کوې نو پوښتۍ به ماته شي .
کله به زنانه ستا نه خوشحاله وي کله به خفه وي کله به شکر ګذاره وي کله به ناشکره وي ، کله به ستا خبره مني کله به نه مني ، کله به لګه باندې ګذاره کوي او کله به حرص لالچ او طمع کوي .
ټیک ده چې هغې کې به خامیانې هم وي لیکن خوبیانې هم په کې شته نو ته د هغې خوبیانو ته سوچ کوه د هغې عیبونو پسې مه ګرځه.
بلکې د هغې په کمزوریانو باندې صبر کوه .
کله نا کله زنانه هوښیاره وي نو د هغې نه چه څه غلطي اوشي نوو

هغه په خپله معافي غواړي ليکن بعض زنانه بې پرواه وي هغې ته د بارباریاد دهانئ ضرورت وي .

که ستاسو په مخکې ستاسو کوردانې هر څومره غټه غلطي اوکړي يا ستا مور ، پلار ، رونړه خويندې د هغې باره کې هر څومره شکايتونه وکړي نو ته فوراً په هغې باندې غصه کيږه مه بلکې د صبر او تحمل نه کار واخله تر يو وخته پورې .

**مثلاً** : ماسپخين غصه شوې نو د مازيګره پورې صبر اوکړه يا که ماسخوتن غصه شوې نو تر سحره پورې صبر اوکړه د هغې نه روسته د ښځې سره خبره اوکړه که واقعتاً د هغې غلطي وه نو ډير په ښکلې مزيدار انداز باندې هغه پوهه کړه هغې ته نصيحت اوکړه .

په الله تعالی يقين اوکړه که تا داسې نرمه او ښکلې لهجه استعمال کړه نو د هغې به ډيره ښکلې نتيجه راوځي .

بله فائده به ئې دا وي چې د ښځې په زړه کې به ستا قدر نور هم سيوا شي او د هغې په زړه کې به ستا عزت هم پيدا شي .

او که بالفرض تا ته د خپلې کوروداني متعلق څلور شکايتونه په يو وخت درورسيږي نو هغې دپاره ٤ وخته ځانله نصيحتونه مه کوه بلکې په هره خبره ئې غور کوه که واقعي شکايات قابل مواخذه وي نو په احسن انداز کې هغه پوهه کړه .

بله خبره دا واوره چې نصیحت په وخت کې به مړي نه یادوې **مثلاً**: ته غصه شې او د هغې مور ، پلار و یا ترور یا ماما ، وغیره وفات شوي وي او ته هغه مړي یادوې چې ستا د خاندان فلانکے داسې وو او نه به زړې قصې راسپړې چې فلان وخت دې داسې خبره کړې وه او فلان وخت دې داسې خبره کړې وه بلکې تیرې شوې خبرې هیرې کړه او دا مناسب هم نه ده چې تا زړې قصې رایادوې او د هغې سره به بیا ته هم ذهنې طور سره پریشانه وې او هغه به هم پریشانه وي .

بله خبره دا ده چې د ښځې پوهه کولو دپاره به مناسب ځائي ، مناسب وخت ،کورې او مناسبه لهجه به استعمالوې داسې نه چې ته د خلقو په مخکې ورته سپارې ختمې کړې .

او د هغې غریبې دومره بې عزتي اوکړې چې د اصلاح په ځائ نقصان جوړ شي او مقصد حاصل نه شي .

د هغې وجه دا ده کله کله داسې اوشي چې وخت مناسب وي او ځائ مناسب وي نو که د ښځې غلطي هم نه وي لیکن بیا هم هغه خپله غلطي اومني .

او کله کله وخت او ځائ مناسب نه وي نو که د هغې غلطي هم وي خو د ضد د وجې نه هغه نه مني کله کله زنانه ستا د متوجه کولو دپاره قصداً یوه نخره ، یا حرکت داسې اوکړي چې هغه به تا ته

نافرماني ، کِلِيږ ، شکوی او پيغور ښکاري ليکن حقيقت داسي نه وي هغه تا صرف خپل ځان طرفته متوجه کول غواړي .
نو هغې ته بعض خاوندان نصيحت شروع کړي .
نو زنانه پوهه شي چې زما خاوند زما په مقصد نه پوهيږي نو په داسې وخت کې ستا نصيحت په هغې داسې لګي لکه د کانړو ګذار.
په داسې وخت کې غلطي اکثر د سړي وي ځکه هغه د ښځې په مزاج نه پوهيږي .
نو تا له پکار ده چې د ښځې په مزاج ځان پوهه کړې د هغې په غلطۍ او نخرې کې فرق کولے شي .
ځان سره دا عهد اوکړه چې زه به د کورودانې پوهه کولو دپاره مناسب وخت او مناسب ځائې ګورم او د غصې په حالت کې به فيصله نه کوم بلکې چې کله مې غصه سړه شي يا ختمه شي نو بيا به فيصله کوم .
چې کله درله غصه درشي نو لږ وخت دپاره د کور نه بهر ته اوځه يا په يو کار کې ځان مصروفه کړه يا نفلي مونځ شروع کړه يا د کوم مفيد کتاب مطالعه شروع کړه .

او اے ! **زلميه** : کله چې تا له په څه خبره غصه درشي نو ځان سره لږ سوچ اوکړه چې ستا نه په خپله د ورځې څومره نافرمانيانې کيږي هغه الله تعالی به په تا باندې څومره غصه وي نو که چرته تا خپله

ښځه معاف کړه نو ان شاء الله تعالى به تا هم معاف کړي او د قيامت په ورځ به درسره ډيره نرمي اوکړي .

اکثر انسان په يو کار خفه او غصه شي ليکن هغې کې د هغه دپاره خير وي .

# د راز حفاظت

د کوروداني راز به راز ساتې.

بعض خلق د راز خبره نشي ساتلے او دا د يو انسان غټه کمزوري وي که سړے وي او که زنانه خو چې خپل راز پټ نه شي ساتلے نو دا انسان چرته هم نشي کاميابيدے.

يو خو داسې راز وي چې د هغې په ښکارکولو کې تا ته خير ښکاري نو هغه ښکاره کولے شې.

**مثلاً** : ستا ښځه بد اخلاقه ده يا هغه د کور په کارونو کې سستي کوي نو ته خپلې خواخې يا سخر ته يا د کوروداني خوئيندو ته داسې ويلے شې چې دې کې دا عيب دے تاسو ورته نصيحت اوکړئ چې دا عيبونه د ځان نه اوباسي نو داسې کولے شي دا ښه طريقه نده چې ته د خواښې او سخر په مخکې د هغې عبونه شمارل شروع کړې ځکه که لور هر څنګه وي خو بيا هم مور او پلار پرې خفه کيږي ځکه دا خو د هغوي د زړه ټکړه ده دا مناسب نده خو جائز ده.

او بعض داسې د راز خبره وي چې د هغې ښکاره کول مطلقاً حرام وي.

**مثلاً** : د جماع او کوروالي خبرې دا يو قسم دراز خبرې دي نو د

دې ښکاره کول حرام دي .
ابو سعيدالخدري رضي الله عنه نه روايت دے هغه وائي چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي :
«إِنَّ مِنْ أَشَرِّ النَّاسِ عِنْدَ اللهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ، الرَّجُلَ يُفْضِي إِلَى امْرَأَتِهِ، وَتُفْضِي إِلَيْهِ، ثُمَّ يَنْشُرُ سِرَّهَا»[1]
﴿ترجمه﴾ : د قيامت په ورځ د الله تعالى په دربار کې به د ټولو نه سپک انسان هغه وي چې هغه د خپلې کورودانې سره جماع اوکړي او بيا سحر خلقو ته د هغې قصې کوي .
نو د راز خبرې ته هيڅ چا ته مه کوه .
بعض وخت يوه خبره ډيره د راز وي هغه چا ته نوي کول پکار د دې وجې نه هوښياران وائي : ترڅو پورې چې دې خبره پټه وي نو ته بې فکره شه .
ځکه چې هغه خبره به ستا غلامه وي خو که خبره دې د خولې نه اووته نو بيا به ئې ته غلام ئې .
بعض وخت ښځه خاوند ته د راز خبره اوکړي نو خاوند چې کله غصه شي نو فوراً
هغه ټولې خبرې د راز هغه ښکاره کړي .

[1] صحيح مسلم بَابُ تَحْرِيمِ إِفْشَاءِ سِرِّ الْمَرْأَةِ 1437

يا بعض وخت خاوند خپلې ښځې ته د راز خبره اوکړي د کاروبار متعلق ، تجارت متعلق ، د رشته دارانو متعلق ، د يو خاص سړي يا يوې خاصې ښځې متعلق څه خبره اوکړي نو چې دا ښځه معمولي شانتې خفه شي يا غصه شي نو فوراً خپل ټول خاندان والا خبر کړي چې زما خاوند ما ته فلانکي وخت کې د فلانکې په باره کې فلانکې خبره کړې وه .

نو د دې نه بعض وخت ډيرې غلطې مسئلې ، خفګانونه ، دشمنيانې ، بلکې طلاق ته خبره اورسيږي ځکه خو نبي عليه السلام فرمائيلي دي :

الْمَجَالِسُ بِالْأَمَانَةِ[1]

﴿ترجمه﴾ : مجالس په امانت سره دي .

او دا بيماري نن صبا دومره عامه شوې ده چې ۱۰۰ سلو کې ۹۵ کسان په کې اخته دي نبي عليه السلام انس رضي الله عنه ته اوويل :

اِحْفَظْ سِرِّيْ تَكُنْ مُؤْمِناً .

﴿ترجمه﴾ : اے ! انسه زما راز پټ اوساته نو ته به کامل مؤمن شې .

ابن حبان رحمه الله فرمائي :

---

[1] سنن أبي داود بَابٌ فِي نَقْلِ الْحَدِيثِ 4869

لأن السر امانة وافشاءه خيانة .

﴿ترجمه﴾ : راز امانت دے او دې کې خيانت دا دے چې دا ته ښکاره کړې .

معاويه رضي الله عنه فرمائي :

زه په علي رضي الله باندې په څلورو خبرو کامياب شوے يم يو په کې دا وه چې ما به هميشه خپل راز پټ ساتلو او هغه به د راز خيال نه ساتلو .

امام شافعي رحمه الله فرمائي :

اذَا المَرْءُ أَفَشَى سِرَّهُ بِلسانِهِ ... وَلاَمَ عَليهِ غَيرَهُ فَهُوَ أَحْمَقُ [1]

﴿ترجمه﴾ : کله چې انسان خپل راز په خپله ژبه سره ښکاره کړي او بيا بل کس ملامته کوي نو دا کس احمق دے .

بعض خلق وائي : پوليس او ښځې ته به چرته هم د راز خبرې نه کوې .

نو دا خبره کيدے شي يو حده پورې صحيح وي .

او د راز باره کې د صحابو ، تابعينو ، اديبانو ، علماؤ ، عقلمندو ، حکيمانو ،وغيره ډير اقوال دي زه هم په دې اکتفاء کوم .

خو خلاصه دا شوه چې چرته به هم راز نه ښکاره کوې خاصکر د

[1] لباب الآداب للكناني الكلبي الشيزري (المتوفى: 584هـ) 240

ښځې راز به چر ته هم نه ښکاره کوې .

## د عدل او انصاف نه کار اخستل

د خپلې کورودانې سره د عدل او انصاف نه کار اخستل دا د مؤمن خوبي ي ځکه نبي علیه السلام فرمائي : چې الله تعالی فرمائیلي دي : «يَا عِبَادِي إِنِّي حَرَّمْتُ الظُّلْمَ عَلَى نَفْسِي، وَجَعَلْتُهُ بَيْنَكُمْ مُحَرَّمًا، فَلَا تَظَالَمُوا»[1]

﴿ترجمه﴾ : اے ! زما بنده ما ظلم کول په خپل ځان هم حرام کړے دے او په تاسو مې هم حرام کړے دے نو لهذا په یو بل باندې ظلم مه کوئ .

نو د خاوند دپاره دا ضروري دي چې د خپلې کوردانې سره د انصاف او د عدل معامله اوکړي .

خاصکر چې کله د یو سړي دوه ښځې وي نو بیا ډیر زیات د عدل نه کار اخستل پکار دي او دا د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم طریقه وه چې هغه به د خپلو بي بیانو په مینځ کې ډیر عدل کولو بلکې نبي علیه السلام به چې کله په سفر تلو نو په نمبر نمبر به ئې یوه یوه بي بي ځان سره بوتله بلکې د احادیثو نه دا معلومیږي چې قرعه اندازي به ئې په کې کوله چې د کومې نوم به راووتلو نو هغه

[1] صحیح مسلم بَابُ تَحْرِيمِ الظُّلْمِ 2577

به ئي ځان سره بوتله .

او دا د بعض مسلمانانو کمزوري ده بلکې زه به داسې اووايم چې ١٠٠ کې ٩٧ ٪ په دوه ښځو کې کامل عدل نه کوي .

بعض خلق چې کله دويم واده اوکړي نو مخکنۍ ښځې له هيڅ اهميت توجه او لفټ lift نه ورکوي د هغه ټول محبت د روستنۍ ښځې سره وي حالانکې کله کله هغه مخکنۍ ښځې ورسره ډيره د مشکلاتو زندګي تيره کړي وي خو چې کله د هغې نه معمولي غلطي اوشي نو خاوند به راپاځي او بل واده به اوکړي صرف او صرف د دې دپاره چې مخکۍ ښځې ته پرې زور ورسوي .

## زه دا نه وايم !

چې سړے دې بل واده نه کوي بلکې زما مقصد دا دے چې عدل نه دې کار اخلي چې ښځه کېږې يوې له کوي نو داسې دې بلې له هم کوي ښځه خرچه او نان نفقه چې يوې له ورکوې نو داسې دې بلې له هم ورکوې بلکې مونږ داسې اوريدلي دي چې د سړي به دوه ښځې وي يوې سره به هر خت موجود وي او بلې له به چرته په مياشت کې يو کرت ورځي نو دا ظلم زياتئ دے د دې په باره کې به ستا نه الله تعالی تپوس کوي چې تا دا کار ولې کولو ؟

بعض کسانونه مونږ داسې اوريدلي دي چې هغوي وائي مونږ د ښځې د بد اخلاقئ د وجې نه بل واده کړے دے مخکنئ ښځې ته زور خايو .

نو زما په خيال دا څه د کمال خبره او د کمال کار نه دے کمال خو دا دے چې ته د هغې تربيت داسې اوکړې چې د هغې بد اخلاقي سوال نه پيدا کيږي دا خو ستا کمزوي ده چې ته ديوې ښځې صحيح تربيت نشې کولے.

او که بالفرض هغه بداخلاقه وي نوته به هغې سره ظلم کوې څه ؟

نه ! د شريعت مطالبه دا ده چې که چرته ستا دوه درې يا څلور ښځې وي نو د هغوي په خوراک ، څکاک ، کپړو ، پيزار ، د شپې په تيرولو کې حتی چې په سفر باندې تلو کې به هم عدل او انصاف نه

کار اخلي .

يو حديث کې راځي نبي عليه السلام فرمائي : انصاف کونکے به د قيامت په ورځ د الله تعالى سره د رڼړا په ممبرونو باندې ناست وي د الله تعالى ښي طرف ته به هغه خلق ناست وي چې هغوي په خپلو فيصلو کې ، په خپل کوروالاؤ کې ، او د خپل ما تحت خلقو سره عدل نه کار اخلي او د يوې زنانه سره ښه سلوک کول او بلې سره بد سلوک کول دا سخته ګناه ده نبي عليه السلام فرمائي :

«مَنْ كَانَتْ لَهُ امْرَأَتَانِ فَمَالَ إِلَى إِحْدَاهُمَا، جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَشِقُّهُ مَائِلٌ»[1]

**﴿ترجمه﴾** : د چا چې دوه ښځې وي او هغه په هغوي کې د عدل او انصاف نه کار نه اخلي او يو طرفته ډير مائل وي نو دا سړے به د قيامت په ورځ په داسې حال کې راشي چې يو طر ف به ئې فالج وهلے وي .

ځکه خو قرآن کريم کې الله تعالى فرمائي :

وَلَنْ تَسْتَطِيعُوا أَنْ تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ فَلَا تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا كَالْمُعَلَّقَةِ وَإِنْ تُصْلِحُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا

[1] سنن أبي داودبَابٌ فِي الْقَسْمِ بَيْنَ النِّسَاءِ 2133

رَحِيمًا [1]

**﴿ترجمه﴾** : او هيچيرې تاسو طاقت نه لرئ چې انصاف اوکړئ په مينځ د زنانو کې اګر که حرص کوئ تاسو نو مه ګګيږئ په پوره کږيدلو سره پس چې پريدئ هغه بله په شان د زوړندې البته که تاسو د اصلاح کوشش کولو او د الله نه يرې دلئ نو الله تعالی بخونکے مهربان دے .

د نبي کريم عليه السلام زندګي زمونږ دپاره بهترينه نمونه ده چې هغه به په خپلو بي بيانو کې د عدل او انصاف نه کار اخستلو ۱۱ ښځو کې انصاف کول دا ډير ګران کار دے ليکن زمونږ نبي عليه السلام د عدل او انصاف اعلی نمونه وه .

عائشه رضي الله عنها فرمائي :

كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ سَفَرًا، أَقْرَعَ بَيْنَ نِسَائِهِ[2]

**﴿ترجمه﴾** : نبي عليه السلام چې به کله په سفر تلو نو قرعه اندازي به ئې کوله د خپلو بي بيانو په مينځ کې .

يو بل حديث کې دي عائشه رضي الله عنها فرمائي :

[1] سورة النساء 129

[2] صحيح مسلم بَابٌ فِي حَدِيثِ الْإِفْكِ وَقَبُولِ تَوْبَةِ الْقَاذِفِ2770

كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُفَضِّلُ بَعْضَنَا عَلَى بَعْضٍ فِي الْقَسْمِ، مِنْ مُكْثِهِ عِنْدَنَا [1]

**﴿ترجمه﴾** : نبي علیه السلام به زمونږ د تقسیم په معامله کې چا له په چا باندې ترجیح نه ورکوله .

بعض خلقو کې د بې انصافۍ معامله ډېره وي لیکن بعض خلق یوه ښځه لري لیکن د هغې سره هم انصاف نه کوي واده چې اوکړي نو د کور نه لاړ شي او ٥ کاله او لس کاله مسافر وي یا دا چې د ښځې نه معمولي غلطي اوشي نو بیا دا ورسره په میاشتو میاشتو خبرې نه کوي دهغې په معمولي غلطۍ باندې هغې ته کنځل کوي هغه وهي ټکوي بلکې بعض وخت ورله لاس او سر مات کړي .

نو دا سراسر ظلم دے نا انصافي ده او داسې کسان هم مونږ لیدلي دي چې د کور نه بهر وي نو په پردو خلقو خرچې کوي هغوي له د کپړو او د نورو ضروریاتو خیال ساتي لیکن خپلې کوروانې له هیڅ اهمیت نه ورکوي د هغې ضرور یات نه پوره کوي .

دویم واده کول څه ګران کار نه دے انتهائي اسان کار دے بس یو لاکهـ دوه لاکهـ روپۍ پیدا کړه او بل ځائې رشته اوکړه لیکن عدل کول ګران کار دے .

[1] سنن أبي داود بَابٌ فِي الْقَسْمِ بَيْنَ النِّسَاءِ 2135

بعض کسانو ته دا لوي کمال ښکاري او په دې فخر کوي چې زما دوه ښځې دي د خلقو په مخکې بريت تاووي .

ليکن د انصاف نه کولو په وجه باندې بيا غريبان هر ځائ شرميږي د خلقو د خندا مستحق شي ټوله دنيا ورپسې خاندي .

يو کس وو ماته ئې اوويل چې زما ښځه هر وخت زما نه د طلاقو مطالبه کوي .

نو ما ورته اوويل : چې خفه کيږه مه خو پړق د يو لاس نه نه خيژي په تا کې به هم څه کمے وي کله چې خبره حقيقت ته ورسيدله نو د هغې ښځې اوويل : چې دا زما نه په معمولي معمولي خبرو باندې خفه کيږي  بيا راسره خبرې دوه درې ورځې نه کوي هر وخت غصه کيږي وهل او ټکول کوي او ماله دمکي راکوي چې زه به بل واده کوم دا وائي : چې ما ورته اوويل : چې ته هسې ظلمونه کوې او بل کولو دپاره ماسره زياتے کوې .

نو ما له طلاق راکړه زه به بل خاوند اوکړم هغه به ستا نه په اخلاق او کردار کې ښه وي يا ما له طلاق راکړه او  يا ما سره ښه زندګي تيروه .

الله تعالی دې معافي اوکړي خو ډير کسان په يو واده کې ښکلې او مزيداره زندګي تيروي خو چې کله بل واده اوکړي نو بيا سخت پريشانه وي .

ما يو کس ته اوويل : چې هسې کور کې ناست ئې چرته کاروبار او مزدورې و لې نه کوې ؟

نو هغه راته اوويل : چې دوه ښځې مې دي د هغوي د لاسه چرته نه شم تللے مزودورئ دپاره او که چرته لاړ شم نو هغوي ديو بل سره جګړې کوي يو بل له له سرونه شوکوي نو بيا زه پرې شرميږم بس زه غلے شوم او په زړه کې مې اوويل : چې الله تعالى دې په تا رحم اوکړي د دوه وو کشتو مسافره .

او که انصاف کولے شې نو دوه ودونه خامخا اوکړه ځکه فحاشي بې حيائي لوميرج ، عشق بيماري وغيره به ختم شي زنانه به په کورونو کې نه زړيږي .

# مثالي خاوند

د مثالي خاوند نشاني دا ده چې هغه ته خپله كورودانه ډېره محبوبه وي د هغې سره مينه كونكے وي او هغه ورته ډېره ګرانه وي .

مثالي خاوند چرته هم د خپلې ښځې نه دا طمع نه ساتي چې زما به داسې پخلے كونكې ښځه وي چې په دنيا كې به د هغې مثال نه ميلاويږي او دنيا به ورته حيرانيږي او نه به دا طمع ساتي چې زما ښځه به ډېره زياته عقلمنده وي او هغه به معمولي غوندې خبره او كار هم د بې عقلئ نه كوي او نه ترينه دا طمع لري چې د هغې نه به تر مرګه پورې غلطي نه كيږي او نه ترينه دا طمع ساتي چې زما كور وانه به د ټولې دنيا د جينكو نه ښكلې او حسن داره وي .

بلكې د مثالي خاوند به دا خوبي وي چې هغه به دا خبرې دومره غټې نه ګڼري او نه به دې خبرو له دومره اهميت وركوي .

بس كومه ښځه چې الله تعالى ورله وركړي وي نو په هغې باندې به صبر كوي او د هغې سره به ګذاره كوي .

او دا خو د ليونو كار دے بعض كسان چې كله واده اوكړي نو د واده نه ئې مخكې ځان له څه معيار ايښودے وي چې زما ښځه به داسې داسې وي خو چې كله واده اوكړي نو ښځه ئې هغه شان نه وي څرنګه چې هغه سوچ كولو بيا ښځې ته وائې چې يره ستا سترګې تورې دي او زما خو شنې سترګې خوښې وې او پكارده چې ستا

غټ غټ او مزیدار نرم ویښته وے او داسې نرۍ پوزه دې وے او دنګه ځواني دې وے او د رنګ نه تکه سپینه وے .

نه ! بلکې عقلمند سړے به د واده نه پس دې خبرو له ترجیح نه ورکوي بلکې د الله تعالی په تقسیم به راضي وي او په خپلې کورودانې باندې به د بد صورتۍ په وجه طعن نه کوي او نه به ورته سپک ګوري او نه به ورله د خلقو په مخکې پیغورونه ورکوي بس دا دې د تقدیر فیصله اوګنړي او په دې باندې دې راضي شي .

**والله** ! چې ډیرې زنانه په دې معاشره کې اوسیږي چې په هغوي باندې د حسن ،جمال ، تعلیم ، ښائست ختم وي لیکن بیا هم د هغوي زندګي د پریشانۍ نه ډکه وي هغه چرته یوه ورځ او شپه په راحت سره زندګي نه شي تیرولے همیشه ئې په کور کې جنګونه ، وي خفګانونه ، ګلې ، شکوی ، پیغورونه وي او هغه د خپل حسن او جمال باندې ډیر کارونه وران کوي د وجې د غرور نه او ذهن کې ئې دا خبره وي چې خلق به ماته څه نه وائي ځکه چې زه خو حسن لرم زما په شان زنانه خو په دې ټول خاندان کې نشته .

او ډیرې زنانه داسې وي چې هغه حسن نه لري ځواني نه لري قد اوچت نه لري د رنګه توره یا غنم رنګه وي پوزه ، شونډې ، غاښونه ، مخ وغیره به هم دومره ښکلي نه لري .

ليکن د عقلمندئ ، صبر ، اخلاق او د خاموشئ په وجه باندې د سخرګنئ
د خلقو په زړونو باندې راج او بادشاهي کوي .
نو اے ! ځوانه که ستا ښځه حسن نه لري نو کيدے شي چې اخلاق به ئې ښه وي .
که د هغې په مخ، پوزه، شونډو کې څه عيب وي نو کيدے شي د کور په کارونو هغه ښه پوهيږي .
نو خامخا د هغې په جسم کې به څه نا څه خوبي وي نو خوبيانو ته ئې ګوره.
نو اے ! ځوانه په حسن څه کوې دا خو زيات نه زيات ۱۰ يا ۱۵ کاله وي او ښه اخلاق او ښه کردار دا به هميشه دپاره وي دا فنا کيږي نه ، ختميږي نه .
ډير ځوانان د مور او پلار په خوښه باندې واده نه کوي او وائي چې مونږ په خپله خوښه واده کوو مونږ تعليم يافته ، ښکلې جينئ سره واده کول غواړو.
خو چې کله واده اوکړي او د ښځې بد اخلاقي اوګوري نو بيا ئې د سترګو مخې ته رڼا راشي او بيا په خپل کار پښيمانه شي .
بعض کسان وائي چې زما د ښځې وزن سيوا دے او زما ډير وزن والا ښځه نه وي خوښه يا وائي زما د ښځې د ويښتو رنګ تور دے

او زما خو سور رنګ خوښ دے .
نو اوس ته څه کولے شې نه ئي بدلولے شې او نه ئي پرېښودے شې .
نو صبر کوه او دا ممکن نده چې تا ته په دنیا کې داسې ښځه میلاؤ ي چې هغې ټولې ۱۰۰ خوبیانې موجود وي او یوه خامي په کې هم نه وي .
نو مثالي خاوند بې ځایه عیبونه نه تلاش کوي .
نو که ته غواړې چې د راحتونو او د خوشحالئ زندګي تیره کړې او ژوند کې دې سکون وي نو د الله تعالی په ورکړه باندې خوشحاله شه او د خپلې کورودانې په معمولي معمولي غلطیانو باندې مه خفه کیږه هغې سره په زړه کې بغض مه لره د هغې نه ډیر وخت دپاره مه خفه کیږه هغه د احساس کمترئ ښکار کوه مه هغې له تسلي ورکړه او هغه مطمئین ساته هغې دپاره یو بهترین دوست او مثالي خاوند ثابت شه چې هغه فخریه انداز کې ویلے شي چې زما خاوند پشان بل په دې دنیا کې نشته .

# د خپلې کورودانې تربیت کول

واده دیته نه وائي چې سړے ښځه راولي او صرف خپل مفادات ترینه حاصلوي د مهر په عوض کې د هغې سره کوروالے (جماع) کوي د خدمت په بدله کې ورله کپړې او روټئ ورکوي .
نه ! دا د واده مقصد نه دے بلکې د واده مقصد د ښځې او خاوند په

خپل مینځ کې مینه محبت ، سکون ، راحت ، رحمت او الفت پیدا کول وي .

نو ځکه الله تعالی د خاوند دا ذمه داري لګولې ده چې هغه به د ښځې صحیح تربیت کوي او ډیر خلق په دې کې د سستۍ مظاهره کوي .

لکه څرنګه چې د اسلام د بنیادي تعلیماتو نه ځان خبرول د سړي دپاره ضروري دي نو همدغه رنګه د زنانه دپاره هم ضروري دي .

او په دې پرفتن دور کې خو زنانه صحیح تربیت ته ډیر ضرورت لري .

ځکه اکثر فسادونه ، شرونه ، بې حیائي ، رسم رواج ، بدعات او شرکیات په زنانو کې وي نوے نوے رسم رواج پیدا کونکي هغه زنانه وي .

د نبي علیه السلام د زمانې د زنانو دا خصوصیت وو چې کله به هغوي ته څه مسئله رامخې ته شوه نو هغوي به یا خپله د نبي علیه السلام نه تپوس کولو او یا به ئې خپلو خاوندانو ته ویل : چې د دې مسئلې باره کې د نبي علیه السلام نه تپوس اوکړئ .

خپلو زنانو ته د قرآن کریم تعلیم ورکول د یو مسلمان دپاره ډیر ضروري دي .

بعض خاوندان بې ځایه بې ځایه سختي کوي د کور په خوا کې به د

زنانو مدرسه وي د قرآن او حديث درسونه به جاري وي ليکن هغوي خپلې زنانه ، لونړه ، خوئيندې وغيره نه پريږدي او د تعجب خبره دا ده چې بازارونو ته ئې پريږدي پره دو دکانونو ته ئې ليږي د شاپنګ دپاره ټوله ورځ د خپلوانو کره چکرې وهي .

امام بخاري رحمه الله په خپل صحيح کې يو باب تړلے دے فرمائي :

بَابُ تَعْلِيمِ الرَّجُلِ أَمَتَهُ وَأَهْلَهُ [1]

يعنى د سړي خپلې ښځې او وينځې له تعليم ورکول .

ځکه الله رب العالمين قرآن کريم کې فرمائي :

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا [2]

**﴿ترجمه﴾** : اے ! د ايمان والاؤ خپل ځانونه او خپل اهل عيال د اور نه بچ کړئ .

د قيامت په ورځ به د يوې زنانه باره کې د څلورو کسانو نه تپوس کيږي .

١ ـ پلار .

٢ ـ رور .

٣ ـ خاوند .

٤ ـ سخر .

---

[1] صحيح البخاري ١\٣١

[2] [التحريم: 6]

دا زنانه به د الله تعالی په دربار کې وائي : اے ! الله په خپله به دوئ نيکان او صالحين وو ليکن ما ته ئي چرته هم دين طرف ته دعوت نه دے راکړے که خوراک کې به لږ شان فرق راغے مالګه به کمه يازياته شوه نو دې به کور په سر راواخستلو او د زمري پشان به ئي سترګې سرې شوې او ګذارونه به ئي راباندې کول .

مګر ما به مونځونه قضا کول ټوله ورځ به ټي وي ته ناسته ووم خپل وخت به مې په فضول کارونو کې ضائع کولو ليکن ده به ماته هيڅ نه ويل :

د دين په معاملاتو کې دا ما ته چرته هم ندے غصه شوے ده چرته هم ماله د نيکئ ترغيب نه دے راکړے .

ما خو هسې هم جهنم ته داخلوې خو دا هم زما سره داخل کړه .

ديته وائي : «ہم تو ڈوبے صنم تجھ کو بھی لے ڈوبیں گے»

د محمد رسول الله عليه السلام سيرت کتل پکار دے چې هغه څومره تاکيد د زنانو په تربيت باندې کړے دے .

يو حديث کې راځي نبي عليه السلام فرمائي : چا له چې الله تعالی دوه لوياني ورکړي

او هغه د هغوي صحيح تربيت اوکړي هغوي ته دين وراوښائي نو دا به د قيامت په

ورځ زما سره داسې يو ځائي وي لکه څرنګه چې دوه ګوتې يو ځائي

وي .[1]

لکه څرنګه چې جنت د سړو دپاره جوړ دے نو همدغه رنګه د زنانو دپاره هم جوړ دے .

ډیر سړي په دې معاشره کې داسې دي چې هغوي د خپل کوروالا، صحیح تربیت نه کوي ښځه به ئې مونځ نه کوي دروغ به وائي ، غیبت به کوي ، په میاشتو میاشتو به قرآن په لاس کې نه راخلي د ذکر او اذکار نه به خبره نه وي ټوله ورځ به تې وي ته ناسته وي هر وخت به موبایل کې ګیمونه کوي ګانې به اوري فیلمونه به ګوري لیکن خاوند ورته هیڅ نه وائي بالکل ورته غصه کیږي هم نه .

بلکې زه دا وایم ! چې نن صبا د خاوندانو سره هم ټایم نه وي خاوندان خپله د قرآن نه خبر نه دي پخپله هغوي مونځونه نه کوي ، هغوي ځانله په موبایل کې ګوتې وهي هر وخت، نو هغوي به د زنانو څه تربیت اوکړي؟

خاوند له پکار دي چې د ښځې نه هر خت د مونځ ،تلاوت ، اذکار، وغیره باره کې تپوس کوي د هغې د غلطۍ اصلاح دې کوي د کور خواته که نزدې مدرسه وي نو پکارده چې خپلې ښځې ته حکم

[1] عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ حَتَّى تَبْلُغَا، جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنَا وَهُوَ» وَضَمَّ أَصَابِعَهُ صحيح مسلم بَابُ فَضْلِ الْإِحْسَانِ إِلَى الْبَنَاتِ 2631

کوي چې مدرسې ته څه دین یاد کړه قرآن په ناظره او ترجمه شروع کړه هغې ته د خبرو تمیز او طریقه ورياده کړه هغې داسې ته ادب وراوښایه چې فلانکي فلانکي وخت به خبره کوې او فلانکي وخت کې به ئې نه کوي .

کوروداني ته دین یادول ځکه ضروري دي چې هغه به ستا د بچو صحیح تربیت کوي د دین په وجه به د هغې نه ډیرې خامیانې ختمې شي او ډیرې خوبیانې به په کې پیدا شي ستا عزت به کوي ستا د حقوقو لحاظ به ساتي د دین په وجه به هغې کې صبر ، قناعت ، رشتیا ، د مشر کشر ادب ، د مونځ پابندي ، د تلاوت ، ذکر اذکار اهتمام ، د ګاونډیانو سره ښه سلوک او نو هم بې شماره خوبیانې پیدا شي مختصر دا چې هغې نه به حقیقي انسان جوړه شي .

# په خاوند باندې د ښځې حقوق

په خاوند باندې د خپلې ښځې حقوق فرض کړے شوي دي که خاوند په هغې کې سستي کوي يا هغه نه اداء کوي نو دا خاوند د الله تعالى په نيزد مجرم دے او د دې حقوقو باره کې به د خاوند نه تپوس کوي قرآن کريم کې الله تعالى فرمائي :

وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ [1]

**﴿ترجمه﴾** : د زنانو هم داسې حقوق دي په سړو باندې لکه څنګه چې د سړو په زنانو باندې دي .

په حديث کې دي يو صحابي رسول الله صلى الله عليه وسلم نه تپوس اوکړو چې زمونږ د زنانو په مونږ باندې څه حقوق دي ؟

نو هغه ورته اوفرمائيل : چې کله تاسو روټۍ خورئ نو هغې له هم روټۍ ورکوئ او چې کله ځان له کپړې او جامې کوئ نو هغې له هم کپړې کوه او په مخ باندې هغه مه وهه او هغې ته رد بد مه وايه او هجران ترينه مه کوه مګر په کور کې .[2]

---

[1] سورة البقرة ٢٢٨

[2] عَنْ حَكِيمِ بْنِ مُعَاوِيَةَ الْقُشَيْرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا حَقُّ زَوْجَةِ أَحَدِنَا عَلَيْهِ؟، قَالَ: «أَنْ تُطْعِمَهَا إِذَا طَعِمْتَ، وَتَكْسُوَهَا إِذَا اكْتَسَيْتَ، أَوِ اكْتَسَبْتَ، وَلَا تَضْرِبِ الْوَجْهَ، وَلَا تُقَبِّحْ، وَلَا تَهْجُرْ إِلَّا فِي الْبَيْتِ»، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: " وَلَا تُقَبِّحْ أَنْ تَقُولَ: قَبَّحَكِ اللَّهُ "

ابن عباس رضي الله عنه باره کې راځي چې هغه به بعض وخت شيشې (آئينې) ته ولاړ وو او خپل مخ او ږيره باندې به ئې لاس وهل او په مخ باندې به ئې څه داغ وو نو هغه به ئې لرې کوو او سر به ئې ګمنځ کړو.

چا ورته اوويل : چې دا ولې داسې کوې ؟

نو هغه ورته په جواب کې اوويل : څرنګه چې زما دا خواهش آو ارزو وي چې زما ښځه ما ته ځان ښائسته کړي نو هغه هم زړه لري ماله هم پکار دي چې هغې ته ځان ښائسته کړم.[1]

د زنانو هم دومره ډير حقوق دي په خاوندانو باندې لکه څومره چې د خاوندانو په زنانو باندې دي .

اسلام د عدل او دانصاف دين دے په اسلام کې د هر قسم ظلم نه ممانعت راغلے دے او که اسلام صرف د خاوند حقوق په ښځه باندې ذکر کړي وے او د زنانو حقوق په خپلو خاوندانانو نه وے ذ کر کړے نو دا ظلم وو.

نو هر هغه سړے چې ځان ته مؤمن او مسلمان وائي هغه به د دې

---

سنن أبي داودبَابٌ فِي حَقِّ الْمَرْأَةِ عَلَى زَوْجِهَا 2142

[1] عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: إِنِّي لَأُحِبُّ أَنْ أتزيَّن لِلْمَرْأَةِ كَمَا أُحِبُّ أَنْ تَتَزَيَّنَ لِي الْمَرْأَةُ؛ لِأَنَّ اللَّهَ يَقُولُ: {وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ}

تفسير القرآن العظيم

حقوقو خیال ساتي او دا د بعضو سړو کمزوري وي چې هغه د خپل حقوقو تپوس کوي خپل حقوق ورته یاد وي لیکن د ښځې د حقوقو نه خبر نه وي .

دویم : حق د ښځې په خپل خاوند باندې .

خاوند به ښځې له حق مهر ورکوي لکه الله رب العالمین فرمائي :

وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً [1]

**﴿ترجمه﴾** : زنانو ته د هغوي حق مهر په خوشحالئ سره ورکوئ .

بل ځائ کې فرمائي :

فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا [2]

**﴿ترجمه﴾** : حق مهر اګر که خزانه هم وي لیکن د زنانو نه واپس مه اخلئ .

دارنګه سو نساء[3] او سورت الممتحنة [4] نمبر آیت هم پدې خبره ګواه دے.

۳ ـ حق د ښځې په خاوند باندې هغه دا دے چې خاوند به خپلې ښځې له خوراک څکاک بندوبس کوي له الله تعالى په سورة الطلاق

---

[1] سورة النساء٤

[2] سورة النساء ٢٠

[3] سورة النساء٢٤

[4] الممتحنة١٠

کې فرمائي :

لِيُنْفِقْ ذُو سَعَةٍ مِنْ سَعَتِهِ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنْفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللَّهُ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَا آتَاهَا سَيَجْعَلُ اللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا[1]

**﴿ترجمه﴾** : په چا چې الله تعالی فراخي راوستې وي نو هغه دې د خپلې فراخۍ مطابق خرچ کوئ او چې څوک غريب او تنګدست وي نو هغه له پکار دي چې الله ورله څه ورکړي وي نو د هغې نه دې خرچ کړي .

بل ځائ کې الله تعالی فرمائي :

وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ [2]

**﴿ترجمه﴾** : د ماشومانو د مور رزق او کپړې په ښکلې طريقې سره اداء کول د سړي ذمه داري ده .

سيدنا جابر رضي الله عنه نه روايت دے چې د حجة الوداع په موقع باندې نبي عليه السلام اووئيل :

---

[1] سورة الطلاق ٧

[2] سورة البقرة٢٣٣

وَلَهُنَّ عَلَيْكُمْ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ [1]

**﴿ترجمه﴾** : په تاسو باندې د خپلو زنانو حقوق دي هغوي له د کپړو او د رزق بندوبس کوئ .

يو صحابي د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه تپوس اوکړو چې اے د الله رسوله زمونږ زنانه په مونږ باندې څه حق لري ؟ !

نو رسول الله عليه السلام ورته اووئيل :

وَأَطْعِمْهَا إِذَا طَعِمْتَ، وَاكْسُهَا إِذَا اكْتَسَيْتَ [2]

**﴿ترجمه﴾** : د خپل وس مناسب هغې له خوراک ورکوه او د خپل وس مناسب کپړې ورکوه .

زنانه به هم فضول مطالبې نه کوي چې شابه ماله چرګان ، مهيان ، تکې وغيره راوړه د دې نه علاوه زه بل څه نه خورم او ما خو به دپلار په کور کې ډير ښکلي خوراکونه کول او دلته خو هره ورځ سبزي ، دال ، او سابه پخيږي .

نو چې کله خاوند غريب وي نو ښځه به بې ځايه فرمائيشونه نه کوي او خاوند به هم د ځان نه بخيل نه جوړوي چې الله تعالى ورله مال ورکړے وي او هغه په خپل اهل نه خرچ کوي نبي عليه السلام

---

[1] صحيح مسلم بَابُ حَجَّةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ 1218

[2] سنن ابي داودبَابٌ فِي حَقِّ الْمَرْأَةِ عَلَى زَوْجِهَا 2143

فرمائي:

لَيْسَ مِنَّا مَنْ وَسَّعَ اللَّهُ عَلَيْهِ ثُمَّ قَتَّرَ عَلَى عِيَالِهِ[1]

**﴿ترجمه﴾** : هغه سړے زمونږ نه نه دے چې الله تعالى ورله مال ورکړے وي او هغه په خپل اهل باندې نه خرڇ کوي .

کشتونه اچوي ، بنګلې او مارکیټونه اخلي په خپله د چکر او خوراکونو دپاره کالام ، دیر ، بحرین ، مري ، کمراټ وغیره ته ځي بخپله قسما قسم خوراکونه کوي لیکن بچي ئې نهر کینولي وي سوالي کپړو کې ګرځي بشپو کې ئې سوالي پیزار اچولي وي .

ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي :

"كَفَى لِلْمَرْءِ مِنَ الْإِثْمِ أَنْ يُضِيعَ مَنْ يَقُوتُ "[2]

**﴿ترجمه﴾** : د انسان دپاره دا ګناه کافي ده چې د هغه په ذمه د چا حقوق وي او هغه هغې لره ضائع کړي .

او په خپل کور والاؤ باندې خرڇ کول دوچنده اجر لري لکه د الله نبي علیه السلام فرمائي :

" دِينَارٌ أَنْفَقْتَهُ فِي سَبِيلِ اللهِ، وَدِينَارٌ فِي الْمَسَاكِينِ، وَدِينَارٌ فِي رَقَبَةٍ، وَدِينَارٌ فِي أَهْلِكَ، أَعْظَمُهَا أَجرًا الدِّينَارُ الَّذِي تُنْفِقُهُ عَلَى

---

[1] مسند الشهاب 1192

[2] مسند الإمام أحمد بن حنبل 6819

أَهْلِكَ "[1]

﴿ترجمه﴾ : هغه روپۍ چې ته په مدارسو کې په مساجدو کې ، غريبانو مسکينانو باندې لګوې او هغه روپۍ چې ته په خپل اهل عيال باندې خرچ کوې نو په دې ټولو کې زيات اجر واله هغه روپۍ ده کومه چې تا په خپل اهل عيال باندې خرچ کړه .

ځکه که مسجد ، مدرسه ، جهاد کې ئې ته ورنه کړې نو بل څوک به ئې ورکړي .

خو آيا ستا ښځې له ئې بل څوک ورکوي ؟

د هغې د سر سورے بل څوک جوړيږي ؟

هغه به څه کوي ؟

سوال به کوي ؟

دروازې به ټکوي ؟

ځکه خو رسول الله عليه السلام فرمائي :

«أَوَّلُ مَا يُوضَعُ فِي مِيزَانِ الْعَبْدِ نَفَقَتُهُ عَلَى أَهْلِهِ» [2]

﴿ترجمه﴾ : د قيامت په ورځ به چې اول عمل د مؤمن په تله کې کيخودے شي نو هغه به هغه مال وي چې بنده په خپل اهل عيال

---

[1] مسند الإمام أحمد بن حنبل 10119

[2] المعجم الأوسط 6135

باندې خرچ کړے وي .
نو که الله تعالی درله طاقت درکړے وي نو په خپله کور وداني باندې خرچ کوه .
دې باره کې نور هم ډير احاديث دي خو د عقلمند دپاره اشاره کافي ده .
٤ ـ خاوند به په مخ ښځه نه وهي .
ځکه رسول الله عليه السلام د دېنه منع کړې ده
وَلَا تَضْرِبِ الْوَجْهَ [1]
**﴿ترجمه﴾** : په مخ باندې مه وهه .
د ښځې وهل په وخت د ضرورت کې جائز دي ليکن په مخ باندې وهل حرام دي .
بعض خلق چې کله غصه شي نو بيا په ځان نه پوهيږي او د ليونو پشان وهل کوي نو ښځه دومره ډيره وهل چې د هغې لاس خپه ، سر يا بل اندام مات شي نو دا هم ناجائز او په مخ وهل هم ناجائز دي .
٥ ـ بل حق د زنانه دا دے چې .
وَلَا تَهْجُرْ إِلَّا فِي الْبَيْتِ [2]

[1] سنن ابي داود بَابٌ فِي حَقِّ الْمَرْأَةِ عَلَى زَوْجِهَا 2142
[2] سنن ابي داود بَابٌ فِي حَقِّ الْمَرْأَةِ عَلَى زَوْجِهَا 2142

**﴿ترجمه﴾** : د هغې نه هجرت مه کوه مګر په کور کې .
مقصد دا دے که چرته د خپلې کورودانې نه خفه شوې نو لرې به نه ځې داسې نه چې ته کور پريږدې او لرې چرته پنجاب او کراچۍ ته لاړ شې .
خير دے کوټه بدله کړه ، کټ بدل کړه .
بعض خلق زنانه د کور نه اوباسي پلار کره ئې اوليږي چې وركه شه زما د سترګو نه لرې شه ، دا د کمزورې سړي کار دے .
بعض خلق چې خفه شي نو بيا تبليغ ته لاړ شي ٤ مياشتو له ،، نو دا څه کمال نه دے .
٦ ـ بل حق د ښځې په خاوند باندې دا دے چې خاوند به خپله ښځه د اور نه بچ کوي . وقايتها من النار .
په قرآن کريم کې الله تعالى فرمائي :
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا[1]
**﴿ترجمه﴾** : اے ! د ايمان والاؤ خپل ځان او خپل اهل د اور نه بچ کړئ.
بعض خاوندان خپله نيک عمله وي د قرآن تلاوت کوي د تهجدو اهتمام کوي ، د غيبت ، چغلۍ ، بد اخلاقۍ ، خيانت ، تهمت ،

[1] [التحريم: 6]

کنځلو وغيره نه ځان ساتي ليکن کورواله په دې بد اخلاقيانو کې مبتلاوي ليکن هغې ته هيڅ نه وائي :

د اسلام دا خصوصيت دے چې هغې زنانه له دومره حقوق ورکړي دي چې نورو اديانو والاؤ (يهوديانو ، نصاراؤ . هندوانو ، بدهمت ، سکهان ، وغيره دهغې تصور هم نشي کولے .

په عربو کې د جهالت انتهاء وه خلقو به خپلې لونړه د شرم او د عار د وجې نه ژوندئ ښخولې او چې سړي به واده اوکړو نو ښځه به ئي نوکره ګنړله د زنانو سره به ئي د سپو معامله کوله خاصکر چې کله به زنانه حائضه شوه نو هغه به ئي ځانله کمره کې بنده کړه او د دروازې نه به ئي ورته روټئ اچوله د هغې سره به ئي روټئ نه خوړله او د هغې سره به يو ځائ نه کيناستلو او سپکې سپورې خبرې به ئي ورته کولې .

خو چې کله محمد رسول الله عليه السلام دنياته راغے نو د زنانو سره ئي داسې حسن سلوک اوکړو او هغوي له ئي دومره حقوق ورکړه چې خلق حيران پاتې شول .

صرف دا ئي اوويل : چې د حيض په حالت کې ورسره کوروالے مه کوئ .

باقي د هغې د نور جسم نه فائده اخستلے شئ (عقلمند له اشاره کافي ده) د هغې سره روټئ خوړے شې يو کټ کې ورسره څملاستلے شې

البته د حيض او نفاس په حالت کې ورته نزدې کيدے نه شې .
نبي عليه السلام د خپلې مصروفې زندګۍ باوجود زنانو له باقاعده وخت ورکولو د هغې دلجوئي دپاره .
د ځوانئ په حالت کې نبي عليه السلام د مشرې او بوډۍ زنانه سيدنا خديجة الکبرى رضي الله عنها سره واده اوکړو او چې کله هغه وفات شوه نو رسول الله عليه السلام به چې کله غوښه پخه کړه نو د هغې ملګرو کورونو ته به ئې هم ليګله .
د خپل وس مناسب لباس ، خوراک ، علاج معالجه ، بندوبست وغيره به خاوند کوي او چې کله خاوند د ښځې حقوق اداء کوي او ښځه د خاوند حقوق اداء کوي نو زندګي به ئې مزيداره تيريږي آرام ، راحت ، سکون ، خوند او د مزې نه به ډکه زندګي وي .
خو که بالفرض خاوند د ښځې نه خپل حقوق غواړي او پخپله د خزې حقوق نه پيژني يا ئې پيژني خو اداء کوي ئې نه نو بيا به د اختلافاتو دروازې کولاؤ شي او هره ورځ بيا په کور کې جنګ جګړې شروع شي او د ښځې او خاوند دو اړو د يو بل د مرګ سوالونه به کوي بلکې بعض وخت بعض خلق په داسې موقعه باندې خودکشي هم کوي .
نو دواړو له پکار دي چې د يوبل حقوق ادا کوي .

# کور ته داخلیدو په وخت کې خندل

مخ د انسانانو د احساساتو آئینه وي ځکه دیته رسول الله علیه السلام صدقه ویلې ده چې یو کس د خپل مسلمان ورور سره میلاؤ شي په روڼ تندي او په خندا سره .

مسکا کول دا زړونه ښکار کوي چې کله ته خاندې نو ستا خندا دا زړه داسې راګیروي لکه جال کې چې مهي راګیر شي .

ایا ته هر وخت خاندې ؟

ایا کله کله خاندې ؟

او که بالکل نه خاندې ؟

همیشه دې تروش تندے نیولے وي ؟

که ستا تعلق د اول قسم خلقو سره وي نو ته به خپلې کوروداني ته انتهائي محبوب ، ګران ، قدرمند ، او د هغې د سترګو یخوالے به ئې .

او که ستا تعلق د دویم قسم خلقو سره وي یعنی کله غصه او کله خندا نو بیا هم ته یو حده پورې ښه انسان ئې .

لیکن که ستا تعلق د دریم قسم خلقو سره وي نو ته بیا په حقیقت کې هیڅ نه ئې نو نه به ته د چا سره مینه کوې او نه به څوک تا سره مینه کوي نه به ته چا ته ګران ئې او نه به تا ته څوک ګران ئې نه به ته خبله د راحت زندګي تیروې او نه به ستا نه بل څوک د راحت زندګي تیره کړي ستا بیا د کور دننه زندګي هم ناکامه ده او د کور

نه بهر زندګي دې هم ناکامه ده .

ته بیا نه خپله ښځه خوشحاله ساتلے شې او نه خپل دوستان خوشحاله ساتلے شې .

او ډیر خلق به بیا ستا باره کې دا ګمان کوي چې دا متکبره او مغرور دے نو هغوي به درسره نور بغض شروع کړي .

که ته د خپلې کور ودانې زړه ګټل غواړې نو همیشه په روڼ تندي او په خندا ورسره میلاویږه بیا ته ګوره چې څنګه ته د هغې په زړه کې ځان له مقام جوړوې کنه ؟

د خپلې کور ودانې مخکې خانده کیدے شي چې ستا خندا د هغې د زخمونو دپاره مرهم جوړ شي .

ګوره د الله رب العزت بې شماره احسانات دي په مونږ او تاسو باندې نو د هغه شکریه اداء کول پکار دي چې څه په قسمت کې لیکل شوي وي نو هغه به ضرور میلاویږي او چې څه میلاؤ نه شي نو هغه به په قسمت کې نه وي لیکلے شوي .

په دې خبره غصه کیږه مه پریشانه کیږه مه بلکې خانده او خوشحاله کیږه او په تقدیر راضي اوسه .

که ستا کورودانه تا ته څه تکلیف در اورسوي یا ستا او د هغې په مینځ کې څه اختلاف راشي یا داسې یو کار اوشي چې ستا زړه ته پرې درد اورسي نو مسکے شه او د حالاتو مقابله اوکړه د تیارو

طرف ته مه ځه رښا طرف ته لاړ شه خپل زړه نه د حسد ، بغض ، کينه ، وغيره کبار خانه مه جوړه وه بلکې د خندا په ذريعه دا ټول رکاوټونه لرې کړه که ستا دا خيال وي چې نفرت به تا طاقتور کوي دبغض سره به ته ذهين شې د سختئ او تروش تندي سره به ته د چا زړه اوګټې نو دا غلطه خبره ده .

داسې په روڼ تندي زندګي تيره کړه چې خلق تا پسې ستا د مرګ نه پس د زړه نه اوژاړي .

بعض خاوندان هميشه غصه غصه وي چې دکانداري ئې نه کيږي يا تجارت کې نقصان اوکړي يا د کور نه بهر چا سره جګړه اوکړي يا څوک ورته کنځل اوکړي .

نو هغه ټوله غصه بيا کور ته راوړي او په خپلې کمزورې ښځې باندې

بدمعاشياني کوي هغې ته سرې سترګې ښائي او هغه وهي ، هغې ته کنځل کوي .

نو دا څه کمال نه دے نو د بهر خبرې بهر پريږده د ښځې غريبې خو ستا د تجارت په نقصان کې څه فائده نه وي او نه د هغې په دې کې څه کار وي .

نو چې کله کور ته داخليږې نو هشاش بشاش او په خندا باندې داخل شه نو د هغې فائده به دا وي چې ستا کور ودانه به ستا په

راتلو خوشحالیږي او هغه به هم په رد عمل کې خاندي او ستا ستوماني به ختمه شي او د هغې ستوماني به هم ختمه شي .

هغه ټوله ورځ د کور کارونه کوي **مثلاً** : کېږې وينځي ، لوخي وينځي ، ځاۍ صفا کوي ، روټۍ سالن پخوي ، د بچو تربيت کوي پوره جسم ئي د دردونو نه په تکليف کې وي خو چې کله خاوند کور ته په خندا باندې راشي نو زنانه نه بيا خپله ستوماني او تکليف هير شي.

حالانکې دې خنداکې د خاوند هيڅ نقصان نه وي ليکن د افسوس خبره دا ده چې بعض خاوندان په دې کې د بخل نه کار اخلي په هفتو هفتو کې هغه نه خاندي په کور کې غصه وي . په بازار کې غصه ، په جماعت کې غصه په حجره کې غصه وي حتي چې د خادۍ او د خوشحالۍ په موقعه هم هغه نه خاندي .

بلکې بعض خو داسې نا اهله او کم همته انسانان وي چې هغه په خپله هم نه خاندي او د بل چا خندا هم نه برداشت کوي .

که چرته کورودانې د هغه په مخې اوخاندي نو دا ورته سم غصه شي چې ته ولې خاندې ؟

دا مونږ په څه کې يو او ته په څه کې ئي .

هاں : که چرته خاوند ته څه پريشاني يا تکليف رسيدلے وي نو ښځې له مناسب نه دي چې هغه دې په داسې وخت کې اوخاندي .

دارنګه که ښځه دې پريشانه وي بيماره وي ، يا د هغې په خاندان کې څوک وفات شوے وي او ته د هغې په مخکې خاندې نو هغه به درباندې د ليونې ګمان اوکړي نو بيا به هغه هم ستا د پريشانۍ په وخت کې خاندي او ستا خفګان له به هيڅ اهميت نه ورکوي .

# كورودانۍ له پيغور مه وركوه

بعض خاوندان په معمولي معمولي خبرو باندې خپلو ښځو له پيغورونه وركوي.

كه كور ودانۍ نه څه معمولي غلطي اوشي يا څه بداخلاقي اوكړي نو خاوند فوراً پيغورونه شروع كړي چې آؤ! كنه ته خو د فلانكي سړي او فلاكۍ ښځې لور ئې ستا مور او پلار هم داسې داسې دي ديته پيغور وائي:

نبي عليه السلام به داسې كار نه خوښولو بلكې د دې نه به ئې منع كوله او ديته ئې د جاهليت رسم او عادت ويلے دے.

ابوذر رضي الله عنه فرمائي: زه يو ځل خپل غلام ته غصه شوم او هغه له مې پيغور وركړو چې ستا مور داسې داسې وه نو رسول الله عليه السلام زما په خوا تيريدلو او داسې ئې راته اووئيل:

«يَا أَبَا ذَرٍّ أَعَيَّرْتَهُ بِأُمِّهِ؟ إِنَّكَ امْرُؤٌ فِيكَ جَاهِلِيَّةٌ»[1]

**﴿ترجمه﴾**: اے! ابو ذره ايا تا ده له د مور پيغور وركړو؟ تا كې خو اوس هم د جاهليت عادت موجود دے.

بيا نبي عليه السلام ورته اووئيل: چې ستاسو رونړه غلامان ستاسو

---

[1] صحيح البخاري بَابٌ: المَعَاصِي مِنْ أَمْرِ الجَاهِلِيَّةِ، وَلاَ يُكَفَّرُ صَاحِبُهَا بِارْتِكَابِهَا إِلَّا بِالشِّرْكِ

مسلم في الإيمان والنذور باب إطعام المملوك مما يأكل رقم 1661

ماتحت دي الله تعالی دا ستاسو تابع کړي دي .
نو چاسره چې ماتحت څوک وی نو هغه له پکار وي چې هغه له دې هغه
خوراک ورکوي کوم چې پخپله خوري او اغوستو دپاره دې ورته هغه کپړه ورکوي څرنګه چې پخپله اچوي او داسې مشکل کار دې پرې نه کوي چې هغه ئې د کولو طاقت نه لري او که هغه يو کار نشي کولے نو د هغې سره تعاون او مدد کوه .
د دې حديث نه معلومه شوه چې د خپلو غلامانو او نوکرانو سره بداخلاقي کول هغوي باندې د خپل طاقت نه زيات کار وراچول هغوي له ښه کپړه او مناسب خوراک نه ورکول او هغي له پيغورونه ورکول دا ناجائز او حرام کار دے .
نو چې د غلام سره داسې سلوک کول حرام دے نو د خپلې کورودانې سره خو داسې رويه اختيارول بيا بالکل حرام دي که د کورودانې موراو پلار هر څنګه وي هغه **مثلاً** : بداخلاقه وي ، بخيلان وي ، يا بل څه عيب په کې وي نو هغه مه يادوه او خبرې پسې مه کوه ځکه داسې خبرو سره زړه ته درد رسيږي ،مونږ شريعت د دې نه منع کړي يو چې يو بل ته په لاس ، ژبه سره تکليف ورکوو .
نبي عليه السلام فرمائي :

«الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ»[1]

**﴿ترجمه﴾** : کامل مسلمان هغه دے چې د هغه د ژبې او د لاس د ضرر نه نور مسلمانان په امن وي .

د دې وجې نه عقلمند خلق وائي : چې د الفاظو مثال د تورې دے يعنى کله نا کله خلق په ژبه باندې بل کس داسې زخمي کړي چې هغه زخم بيا د مرګه پورې نه جوړيږي چې يو ځل د انسان د خولې نه بيکاره او زړه دردونکي الفاظ اوځي نو که بيا دې هر څومره بهانې او عذرونه د هغې دپاره تالاش کوې خو فائده نه ورکوي .

نو کله چې هم څه خبره کوې نو اول په هغې باندې سوچ کوه چې دا الفاظ اداء کول زما دپاره مناسب دي او که نه ؟

ايا زما په دې خبرو خو به چا ته ضرر او تکليف نه رسيږي ؟

ځکه په اوردو کې يو متل دے

،،،پہلے تولو پھر بولو ،،،

يعنى مخکې خبره تله بيا خبره کوه .

د الفاظو مثال د اسلحه دے که موږ ته چرته د اسلحه د چلولو طريقه معلومه نه وي نو کيدے شي چې موږ به ځان هم زخمي کړو او بل هم .

[1] صحيح البخاري بَابٌ: المُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ المُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ ١٠

مسلم بعضه في الإيمان باب بيان تفاضل الإسلام وأي أموره أفضل رقم 40

نو لهذا مونږ له ډېر زيات احتياط پکار دے د ډېر سوچ نه روسته د خولې نه خبره ويستل پکار دي داسې نه چې په دې باندې مونږ څوک زخمي نه کړو او خاصکر خپله کورودانه .

د دې وجې نه رسول الله عليه السلام فرمائي :

انسان بعض وخت د خپلې خولې نه داسې الفاظ اوباسي چې د هغې په وجه باندې هغه د جهنم مستحق اوګرځي .

ډېر خلق د خبرو کولو نه مخکې سوچ نه کوي خو چې څه خبره ور له په خوله ورشي نو فوراً ئې کوي .

بعض جاهلان وائي چې زه به کنځل هم کوم او ردې بدې به هم وايم پيغورونه به هم ورکوم زما سره د چا څه کار نشته .

نو مونږ وايو آؤ ! تا کې د الله تعالی کار شته تا ته د الله تعالی د طرف نه دا اختيار نشته چې ته خپله ژبه په خپله مرضۍ استعمال کړې او په دې باندې ته نورو مسلمانانو ته تکليف رسوې .

چرته به هم خپلې کورودانې له پيغور نه ورکوې نو که تا ورله پيغور ورکړو نو کيدے شي چې هغه غصه شي او هغه هم په غصه کې تا ته داسې څه پيغور ورکړي چې بيا به د مرګه پورې تا نه هيرېږي نه بلکې کيدے شي چې د هغه پيغور په وجه ته هغې ته طلاق هم ور کړې نو دا هم ظلم دے او د دې ظلم ابتداء خاوند کړې وي چې هغه خپلې کورودانې له پيغور ورکړے وي .

نو چرته هم د جاهلانو دا عادت خپل نه کړې ځکه دې کې ستا نقصان دے .

بعض خاوندان ډير ښه وي په اخلاق او عاداتو کې ليکن د غصه په وخت کې بيا هغه پيغورونه ورکوي نو دا ښه کار نه دے .

مونږ الله تعالی او د هغه رسول عليه السلام د دې نه منع کړي يو .

هر انسان کې څه خوبيا نې او څه خامياني وي څه نا څه کمے هرچا کې وي .

نو که ستا کورودانه او يا د هغې مور او پلار يا خاندان کې څه کمے وي نو دا بشري کمزوري اوګڼړه او دا نظر انداز کړه .

خير دے غصه دې کنټرول کړه په داسې وخت کې نو په دې کې به ستا خير وي .

## هميشه دپاره رشتيا وايه

بعض خلق هميشه دپاره دروغ وائي په مسجد کې دروغ ، په حجره کې دروغ ، په مجلس کې دروغ په کور کې دروغ ، په بازار کې دروغ مقصد دا چې په هر وخت کې په هر ځائ کې او په هر حا لت کې او په د هر چا په مخکې دروغ وائي او خاصکر د خپلې کوروداني په مخکې خو دومره دروغ وائي چې هغه هم حيرانه شي چې زما دې خاوند به د دروغو دا پي – اج –ډي – p.h.d. کوم ځائ کې کړي وي حالانکې قرآن کې الله تعالی فرمائي :

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا، اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ [1]

**﴿ترجمه﴾** : اے ! د ايمان والاؤ د الله تعالى نه اويريږئ او د ريشتيا ويونكو سره شئ .

همدارنګه حديث كې دي عباده رضي الله عنه فرمائي : چې نبي عليه السلام فرمائيلي دي چې تاسو ما له د شپږ شيانو ضمانت راكړئ نو زه به تاسو له د جنت ضمانت دركړم

١ ـ چې كله خبرې كوئ نو ريشتيا وائي .

٢ ـ چې كله وعده كوئ نو پوره كوئ .

٣ ـ امانت كې خيانت مه كوه .

٤ ـ د خپلو شرمګاؤ حفاظت كوئ .

٥ ـ خپلې سترګې ښكته كړئ .

٦ ـ په خپل لاس چا ته ضرر مه وركوئ . [2]

د معاشرې د سعادت او شقاوت دارومدار په ريشتيا ويلو باندې دے كه چرته يو كس په خپله ژبه باندې ريشتيا وائي نو هغه سره به

---

[1] [التوبة: 119]

[2] عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " اضْمَنُوا لِي سِتًّا مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَضْمَنْ لَكُمُ الْجَنَّةَ: اصْدُقُوا إِذَا حَدَّثْتُمْ، وَأَوْفُوا إِذَا وَعَدْتُمْ، وَأَدُّوا إِذَا اؤْتُمِنْتُمْ، وَاحْفَظُوا فُرُوجَكُمْ، وَغُضُّوا أَبْصَارَكُمْ، وَكُفُّوا أَيْدِيَكُمْ "
مسند الإمام أحمد بن حنبل 22757

ډیر شرونه او فتنې ختمې شي او که چرته یو کس په دروغو باندې عادت وي نو د معاشرې خلق او خاصکر د دې مور او پلار رونړه خوئیندې و کورودانه به هم دې نه نفرت کوي .
که ته غواړې چې الله تعالی درله عزت شرافت ، او ښه شهرت احترام او د خلقو په زړه کې یو مقام درکړي نو ریشتیا ویل په ځان لازم کړه .
تاسو به کیدے شي چې داسې کسان لیدلي وي چې هغه په کور کې ناست وي او بهر میلمه راشي نو دا کس خپل ماشوم اولیږي او ورته اووائي چې میلمه ته اووایه چې زما پلار کور کې نشته حالانکې د دې مور پلار لونړه خوئیدې ښځه دلته موجود وي لیکن دا ظالم د هغوي په مخکې ښه په جرأت سره دروغ اووائي د الله تعالی خو هسې هم نه شرمیږي خو د کور د خلقو نه هم نه شرمیږي او دا خو واضحه خبره ده چې لوخي کې څه وي نو هغه تریه تویږي نو چې ته هر وخت دروغ وائي نو کیدے چې دا بیکاره عادت ستا بچو ته هم رانقل شي .
یو کس د الله تعالی ډیره نافرماني کوله هر قسم ګناهونه به ئې کول او هر قسم عیب په هغه کې موجود وو او هغه کوشش کولو چې دا خرابیاني د ځان نه لرې کړي لیکن په خپل مقصد کې به نه کامیابیدلو یو ځل هغه عالم له ورغے او هغه ته ئې اوویل : چې ما ته

داسې نصيحت اوکړه چې زما دا عيبونه ختم شي .
نو هغه عالم ورته اوويل : هميشه دپاره ريشتيا وايه چرته هم دروغ مه وايه.
نو هغه سړي د هغه عالم سره دا وعده اوکړه چې زه به چرته هم دروغ نه وايم .
څه وخت پس هغه سړي د شرابو د څکلو اراده اوکړه نو هغه شراب راواخستل نو چې څنګه هغه جام او ګلاس خولې ته نزدې کولو نو ذهن کې دا خبره راغله چې ما خو د عالم سره وعده کړې وه چې دروغ به نه وايم نو که چرته هغه عالم زمانه تپوس اوکړي نو زه به ورته څه وايم ؟
نو هغه شراب اونه څکل نو په دويمه ورځ بيا هغه د بلې ګناه کولو اراده اوکړه ليکن چې کله د ګناه ځائ ته اورسيدلو نو ځان سره ئي سوچ اوکړو نو بيا ئي هغه ګناه پريښوده نو چې وخت تيرى دلو نو يواځې د ريشتياؤ ويلو په وجه الله تعالى د هغه اصلاح اوکړه او د هر قسم ګناهونو نه ئي بچ کړو.
د ريشتيا ويلو ډيرې فائدې دي ځکه خو الله تعالى مونږ ته حکم کړے دے الله تعالى فرمائي :
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا، اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ [1]

[1] [التوبة: 119]

**﴿ترجمه﴾** : اے ! د ايمان والاؤ د الله تعالی نه ويرېږئ او د ريشتيا ويونڪو سره شئ .

په يو حديث کې دي رسول الله عليه السلام فرمائي : چې يو انسان هميشه دپاره ريشتيا وائي : تردې چې د الله تعالی سره هغه ريشتوني اوليکلے شي[1]

ځکه دا وينا مشهوره ده

الصدق ينجي والكذب يهلك .

**﴿ترجمه﴾** : په ريشتيا ويلو کې انسان ته نجات ميلاويږي او په دروغو ويلو کې انسان ته هلاک کيږي .

بعض کسان هميشه دپاره خپلې کوروانې ته دروغ وائي سحر هم دروغ ماښام هم دروغ په ګپ کې هم دروغ او په غصه کې هم دروغ نو بيا ښځه د خاوند په هيڅ خبرو باندې يقين نه لري بلکې بعض وخت به خاوند ريشتيا هم وائي ليکن ښځه به ورباندې يقين

---

[1] عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى البِرِّ، وَإِنَّ البِرَّ يَهْدِي إِلَى الجَنَّةِ، وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَصْدُقُ حَتَّى يَكُونَ صِدِّيقًا. وَإِنَّ الكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الفُجُورِ، وَإِنَّ الفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ، وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَكْذِبُ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللَّهِ كَذَّابًا»

صحيح البخاري بَابُ قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ} [التوبة: 119] وَمَا يُنْهَى عَنِ الكَذِبِ ٦٠٩٤

نه کوي او هغه به په زړه کې ورپورې خاندي نو دا بد عادت د
خاوند تر مرګه پورې همداسې وي .
نو چرته هم د ښځې په مخکې دروغ مه وايه ځکه چې ستا دا دروغ
ليکلے کيږي په عمل نامه کې .
نو ولې خپله عمل نامه په ګناه باندې ډکوې ؟
ته د نبي عليه السلام امتي ئې او ستا نبي خو د ماشوموالي نه په
ريشتياؤ باندې مشهور وو خلقو ورله د صادق لقب ورکړے وو .
نو ته هم ريشتيا وايه اګر که ستا په کې نقصان هم وي د دنيا خو بيا
هم ريشتيا وايه .

## خپله وعده پوره کوه

د چا سره د يو شي وعده کول او بيا هغه پوره کول دا د مؤمن صفت
دے هغه کس چې هغه وعده کوي او بيا ئې نه پوره کوي نو دا
سړے کامل مؤمن نشي جوړې دے .
د اسماعيل عليه السلام باره کې الله تعالى فرمائي :
وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِسْمَاعِيلَ إِنَّهُ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ وَكَانَ رَسُولًا نَبِيًّا[1]

**﴿ترجمه﴾** : او په کتاب کې د اسماعيل عليه السلام تذکره اوکړه

[1] سورة مريم٥٤

بې شکه هغه د وعدې پابند ريشتونې نبي وو.
د دې آيت کريمه په تفسير کې امام مجاهد رحمه الله فرمائي :
چې اسماعيل عليه السلام به څه وعده اوکړه نو هغه به ئې پوره کوله.
د هغه په باره کې راځې چې يو کس ورته ويلي وو چې زما د راتلو پورې دلته انتظار کوه نو هغه ورته درې ۳ ورځې هلته انتظار اوکړو.
امام کلبي رحمه الله فرمائي : اسماعيل عليه السلام چا سره وعده کړې وه نو يو کال ئې ورته انتظار اوکړو.[1]
وعده خلافئ ته نبي عليه السلام د منافق نشانې ويلې ده فرمائي :
" آيَةُ المُنَافِقِ ثَلاَثٌ: إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ" [2]
**﴿ترجمه﴾** : د منافق درې ۳ نشانيانې دي

[1] قَالَ مُجَاهِدٌ: لَمْ يَعِدْ شَيْئًا إِلَّا وَفَّى بِهِ. وَقَالَ مُقَاتِلٌ: وَعَدَ رَجُلًا أَنْ يُقِيمَ مَكَانَهُ حَتَّى يَرْجِعَ إِلَيْهِ الرَّجُلُ، فَأَقَامَ إِسْمَاعِيلُ مَكَانَهُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ لِلْمِيعَادِ حَتَّى رَجَعَ إِلَيْهِ الرَّجُلُ.
وَقَالَ الْكَلْبِيُّ: انْتَظَرَهُ حَتَّى حَالَ عَلَيْهِ الْحَوْلُ وَكَانَ رَسُولًا، إِلَى جُرْهُمَ، نَبِيًّا، مُخْبِرًا عن الله عزّ وجلّ.
معالم التنزيل في تفسير القرآن = تفسير البغوي
[2] صحيح البخاري بَابُ عَلاَمَةِ المُنَافِقِ ٣٣ مسلم في الإيمان باب بيان خصال المنافق رقم 59

۱ ـ کله چې خبرې کوي دروغ وائي .
۲ ـ کله چې وعده کوي نو وعده خلافي کوي . یعنی خپله وعده نه پوره کوي .
۳ ـ کله چې امین اوګنړلے شي نو خیانت کوي .
وعده خلافي د خپلو دوستانو ، رشته دارانو سره هم مه کوه او د خپلې کورودانې سره هم وعده خلافي مه کوه **مثلاً** : ستا سره په جیب کې رو پۍ نه وي او ته د کورودانې سره وعده اوکړې چې صبا درله زه د ۵۰۰۰ روپو جوړه اخلم یا ورسره وعده اوکړې چې صبا به زه تا ستا د مور پلار کور ته بوځم لیکن بیا هغه نه بوځې یا ورسره بله وعده اوکړې او هغه پوره نه کړې نو دا حرام کار دے د نبي علیه السلام به دا طریقه وه چې هغه به خپله وعده خامخا پوره کوله .
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي : چې کله د ښه کاروعده اوکړې نو هغه به پوره کوې او چې کله د ګناه وعده اوکړې نو بیا به هغه نه پوره کوې .
**مثلاً** : یو سړے د خپلې ښځې سره وعده اوکړي چې زه به درله رنګین ټي وي اخلم یا به دې فلا نکي بازار ته بوځم نو داسې د ګناه وعده به نه پوره کوې.[1]

[1] الْوَعْدُ بِالْخَيْرِ وَأَمَّا الشَّرُّ فَيُسْتَحَبُّ إِخْلَافُهُ .
فتح الباري شرح صحيح البخاري ۹۰\۱۱

او وعده خلافي داسې قبيح عمل دے چې انسان فطرتاً دا بد ګڼړي الله تعالی داسې قسم خلق نه خوښوي الله تعالی فرمائي :

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لاَ تَفْعَلُونَ، كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللَّهِ أَنْ تَقُولُوا مَا لاَ تَفْعَلُونَ [1]

**﴿ترجمه﴾** : اے د ايمان والاؤ تاسو ولې هغه خبرې کوئ چې عمل پرې نه کوئ.

د دې آيت کريمه نه علماء استدلال کوي چې مطلقاً وعده پوره کول لازم او واجب دي.

او وعده پوره کول د قرض مثال لري څرنګه چې قرض پوره کول لازم وي نو داسې وعده پوره کول هم لازم او ضروري وي.

## ناشکري مه کوه

د ناشکرئ بيماري عام طور په زنانو کې ډېره زياته وي ليکن بعض سړي هم په دې بيمارئ کې اښته وي حالانکه الله تعالی ورله ډېر نعمتونه ورکړي وي دومره نعمتونه دي چې که هغه ئې شمار کوي نو شمارلے ئې نه شي الله تعالی فرمائي :

وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا [2]

---

[1] سورة الصف2– 3

[2] سورة النحل ١٨

**﴿ترجمه﴾** : که تاسو د الله تعالی نعمتونه شمارل غواړئ نو نه ئې شئ شمارلے.

جسماني صحت، په وطن کې امن، سکون، روټۍ، اوبه، هوا، نمر، سپوږمۍ، بلکې ټوله دنيا الله تعالی ستا دپاره پيدا کړې ده او تا ته د هغې احساس هم نشته الله تعالی په تا باندې د ظاهري او باطني نعمتونو باران کړے دے.

الله تعالی تا لره سترګې ، غوږونه، ژبه، شونډې، لاسونه، د ګرځيدو دپاره ښپې، درکړي دي.

نو فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ

**﴿ترجمه﴾** : د الله تعالی په کوم نعمت د نعمتونو باندې تاسو دروغ وائې.

حالانکې ډير خلق د ښپو نه محروم دي او ته په خپلو ښپو ودريدے شې حالانکې ډير خلق داسې دي چې د هغوي پنډۍ ماتې دي هغوي پرې ګرځيدے نه شي.

ته د شپې په آرام او سکون سره اوده کيږې ليکن ډير خلق داسې شته چې غمونو او پرشانيانو د هغوي خوبونه تختولي دي.

ته د ورځې درې ۳ وخته په مړه خيټه روټۍ خورې حالانکې په دنيا کې ډير داسې خلق شته چې هغوي د روټۍ يوې نونۍ او لقمې پسې حيران او پريشانه ګرځي.

تا ته په ګرمۍ کې مزيدارې يخې اوبه او په يخنۍ کې ګرمې اوبه ميلاويږي حالانکې ډير خلق د دې نه محروم دي .
تا له الله تعالی صحت درکړے دے هر قسم نعمتونه استعمالولے شې حالانکې بې شماره خلق په هسپتالونو او کټونو کې پراته دي او د بيمارۍ په وجه با ندې رزقونو ته ګوتې هم نشي وروړلے .
ته په غوږونو باندې اورې حالانکې ډير خلق کانړه دي .
ته په سترګو باندې ليدل کوې حالانکې ډير خلق د دې نعمت نه محروم دي .
تا له الله تعالی عقل درکړے دے حالانکې ډير خلق ته په بازارونو او سړکونو او لارو کوڅو کې وينې چې هغوي ليوني دي دماغ او عقل ئې کار نه کوي د خپل خوراک ، کپړو . او پيزار نه خبر نه وي .
لږ سوچ اوکړه که تاله څوک د احد د غر منګې سره زر درکي نو ته د هغې په بدله او عوض کې و رته خپلې سترګې ورکوې ؟
که تاله څوک يوه ډيرکۍ د سپينو زرو درکړي نو ته هغه له خپل غوږونه ورکوې ؟
که تاسو له څوک ياقوت او مرجان هم درکوي نو تاسو خپل لاسونه د هغې په بدله کې نه ورکوئ .
آيا : ته غواړې چې خلق دې تا له ډيره زمکه درکړي او ستا ژبه دې ستا د خولې نه کټ کړي ؟

ګوره څومره نعتمتونه په تا باندې الله تعالى کړي ليکن تا ته د هغې ادرا ک هم نشته چې څه څه درته نه دي ميلاؤ شوي نود هغې باره کې فکرمند ئې ليکن چې څه
درته ميلاؤ شوي په هغې باندې شکر نه اوباسې .
دنيا کې لږ نظر واچوه ډير خلق ستا د خاندان ستا د کلي او علاقې تا نه کمزوري دي څوک په رنګ کې څوک په قد کې څوک په مال کې څوک په طا قت کې څوک په نسب کې څوک په اولاد کې نو ته ولې بيا شکر نه اوباسې ؟
ناشکري د الله تعالى ډيره بدي شي ځکه د الله تعالى نبي عليه السلام فرمائي :
«إِذَا نَظَرَ أَحَدُكُمْ إِلَى مَنْ فُضِّلَ عَلَيْهِ فِي المَالِ وَالخَلْقِ، فَلْيَنْظُرْ إِلَى مَنْ هُوَ أَسْفَلَ مِنْهُ» [1]
**﴿ترجمه﴾** : کله چې تاسو داسې کس اووينئ چې هغه په رنګ کې قد کې مال کې د ده نه اوچت وي نو دا دې هغه چا ته هم اوګوري چې څوک د دينه په دې څيزونو کې کم وي .
په زندګئ کې هر قسم حالات مخې ته راځي کله به د رزق کمے وي کله به دې بچي نه پيدا کيږي ، کله به بيمار ئې کله به دې په کور کې

[1] صحيح البخاري بَابٌ: لِيَنْظُرْ إِلَى مَنْ هُوَ أَسْفَلَ مِنْهُ، وَلاَ يَنْظُرْ إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَهُ6490
مسلم في أوائل الزهد والرقائق رقم 2963

ځوک وفات کیږي نو ته به بالکل ناشکري نه کوي .
کله کله به ستا ښځه ستا سره بداخلاقي هم کوي یا به بله داسې مطالبه ستا نه کوي لیکن ته به د هغې طاقت نه لرې نو بالکل نااميده کیږه مه بلکې په هر څه باندې د الله تعالی شکر اوباسه .
بعض کسان داسې وي چې د هغوي ښځې د قد نه لنډې وي یا ئې رنګ ښآئسته نه وي یا تعلیم یافته نوي نو هغوي ناشکري کوي .
روره ! نا شکري مه کوه د ناشکرئ هیڅ فائده نشته که ته ناشکرې هم وکړې نو ستا ښځه د قد نه نه اوګدیږي ستا بدرنګه ښځه ښآئسته کیږي نه .
بالفرض ستا کچه کور دے او ته نا شکرې اوکړې نو ستا په ناشکرئ هغه پخیږي نه .
یا ستا اولاد نشته او ته ناشکرې کوې نو ستا د ناشکرئ په وجه تا ته اولاد نه میلاویږي .
مونږ ډیر داسې کسان لیدلي دي چې کله ښآئسته بنګله اوویني نو وائي کاش چې دا زما وے یا ئې چرته نا محرمه زنانه باندې سترګې اولږي او هغه ښائسته وي د هغې مخ سترګې لاسونه ، شونډې ، یابل څه اندام اوویني یا د هغې قد لوړ وي نو دا وائي کاش چې دا زما ښځه وے یا کاش چې زما ښځه هم د دې په شان وے نو دا مناسب خبره نه ده دیته ناشکري وائي او مونږ شریعت د دې نه منع کړي یو.

د دې وجه نه الله تعالی فرمائي :

لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ [1]

﴿ترجمه﴾ : که تاسو په لږ باندې شکر اوکړئ نو زه به تاسو له ډير درکړم او که ناشکري مو اوکړه نو زما عذاب ډير سخت دے .

بل ځائې کې الله تعالی فرمائي :

إِنَّ الْإِنْسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ [2]

﴿ترجمه﴾ : يقيناً انسان ظلم کونکے او ناشکره دے .

د دې وجې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائي :

هغه څوک چې د الله تعالی شکريه نشي اداء کولے نو د مخلوق شکر هم نشي ا داء کولے .

نو د ځان سره عهد اوکړه چې چرته به هم زما د خولې نه د ناشکرئ الفاظ نه وځي هميشه دپاره دالله تعالی شکريه اداء کوه کيدے شي ستا سره يو نعمت نه وي او ته ناشکري اونه کړې نو الله تعالی به تا لره هغه نعمت هم درکړي او ستا نه به راضي هم شي .

زمونږ نبي عليه السلام او اسلافو باندې قسما قسم حالات راغلي دي هر قسم پريشانيانې او تکاليف رسيدلي دي ليکن هغوي بيا

---

[1] سورة إبراهيم٧

[2] سورة إبراهيم ٣٤

هم د ناشکرئ الفاظ د خپلو ژبو نه ندې راويستلې .

او مونږ تاسو ته الله تعالی ډير څه راکړي دي ليکن بيا هم مونږ ناشکري کوو ښکلي کورونه ، ښه خوراک ، ښې کپړې ، يخې اوبه ، روغ صحت ، ښځه بچي ، ځواني او قوت راله الله تعالی راکړي دي ليکن بيا هم مونږ د الله تعالی نه ګله من يو او ناشکري کوو .

نو په خپلې کورودانې هم د الله شکر اوباسه هغې کې غلطيانې ما راوباسه چې پوزه کې غلطي راوباسې او کله په مخ کې او کله په قد کې او کله په يو اندام کې او کله په بل اندام کې .

ډير خلق په دنيا کې داسې شته چې د هغوي ښځې نشته د چا ښځه وي خو ليکن ړنده وي د چا ښځه کنړه وي د چا ښځه بداخلاقه وي د چا ښځه بې حياء وي د چا د ښځې حسب نسب کمزورے وي او کيدے شي ستا په ښځه کې په دې عيبونو کې يو عيب هم نه وي .

نو د الله تعالی شکر اداء کړه خير دے ښځې سره ګذاره کوه ژوند ورسره تير کړه اګر که دې کې خاميانې هم وي نو ته هغه د مرګ او د ژوند مسئله مه جوړه وه ان شاء الله تعالی به درله په جنت کې ښکلې مزيدار حسن دارې باوفا ، حياء دارې ، او بې مثاله حورې درکړي ټول خواهشات خو په دنيا کې نه پوره کيږي کنه ؟

لږ صبر اوکړه او عمل صالح اختيار کړه د الله تعالی صحيح عبادت

او بندګي شروع کړه نو ان شاء الله داسې جنتونو ته روان ئې چې
وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ .[1]
هر خواهش به هلته پوره کيږي .

[1] [فصلت: 31]

# خپله غلطي منه

بعض انسانان خپله غلطي په هيڅ وخت په هيڅ ځائي او په هيڅ حال او په هيڅ صورت کې نه مني که د بل چا نه معمولي غلطي اوشي نو دا غصه کيږي او په خپله به هغه غټې غلطياني کوي ليکن خپله غلطي تسليمولو ته هغه نه تياريږي نو دا ښه عادت نه دے خپله غلطي تسليمول دا عقلمندي ده کله کله خبره دومره مخکې لاړه شي چې د هغې نه ډير نقصان جوړ شي ليکن يو طرف ته که د صبر او تحمل مظاهره اوشي او يو کس خپله غلطي تسليم کړي او دا اووائي چې زما نه غلطي اوشوه نو لا به ښه وي شر او جګړه به فوراً ختمه شي چې کله هم تا ته پته او لګي چې غلطي ستا ده نو فوراً خپله غلطي تسليم کړه خپل انانيت به پريږدي داسې به نه کوې چې هر وخت ځان ته ګوته نيسي چې ما داسې اوکړل او زه داسې کولے شم .

چې کوم انسان هميشه ځان ته ګوته نيسي نو خلق داسې خلق نه خوښوي زمونږ دا خيال وي چې ګڼې زما هره خبره صحيح ده خلق ئې مني او که نه مني خو خبرې مې صحيح دي نو دا سو چ غلط دے.

په مونږ کې د هر کس نه څه نه څه غلطي کيږي د کمپنۍ منيجر او مشر د مزدور مخې ته معذرت نه کوي ځکه چې د هغه رتبه د

دې اجازت نه ورکوي استاذ د شاګرد په مخکې د خپلې غلطۍ معذرت نه کوي ځکه هغه دا خيال کوي چې شاګردان به راپسې اوخاندي .
نو دا د شيطان کوشش وي چې د انسان په ذهن کې دا خبره واچوي
چې مړه ته ولې خپله غلطي منې ؟
ولې ته د هغې نه څه کمزورے خو نه ئې ؟
ته د هغې نه يريږې خو نه ؟
هغه ستا نه معافي ولې نه غواړي ؟
او غلطي منل خو داسې دي ګويه کې ته کمزورے ئې .
چې ښځه هم غلطي نه مني او سړے هم غلطي نه مني نو دې سره به په کورکې بې برکتي او بې اتفاقي پيدا شي .
ګورئ په ګرمئ سره ډير مسائل خرابيږي .
دواړو طرفونو نه سختي وي نو مسائل به نور هم ډير شي که دواړو کې يو کس هم ضد شروع کړي نو خبره به د نقصان طرف ته لاړه شي د ضد په وجه سکون ختميږي په غلطۍ باندې د انسان عزت نه کميږي بلکې عزت سوا کيږي او د مقابل کس په زړه کې به ستا مقام او مرتبه نوره هم زياته شی هغه به هم وائي چې دا څومره بهترين انسان دے چې په فراخه زړه خپله غلطي تسليموي بلکې الله تعالى به درله د دې په عوض کې اجر درکړي .

## په کور وداني د طاقت نه زيات بوج مه اچوه

چې کور ودانه څومره کار کولے شي نو هغه هومره کار پرې کوه د هغې د طاقت نه زيات کار په هغې باندې کول سراسر ظلم دے.

د دې وجې نه رسول الله صلى الله عليه وسلم ابوذر رضي الله عنه ته نبي عليه السلام ويلي وو چې ستا کوم ماتحت خلق دي په هغوي باندې د هغوي د طاقت نه زيات کار مه کوه بلکې د وس مطابق کار پرې کوه او چې کوم کار نه شي کولے نو ته ورسره مدد کوه.

کله کله داسې هم اوشي يوه جينئ ستا سره واده اوشي او ستا کور ته هغه راشي او کور کې ستا درې يا څلور خوئيندې هم موجود وي نو ټول کارونه د يو کس په سر باندې ورتپل دا ظلم دے پکار ده چې ستا خوئيندې هم د هغې سره په کار کولو کې لاس واړوي.

زنانه به ټوله ورځ کپړې اووينځي او بيا به د کور صفائي اوکړي او بيا به لوښي اووينځي بيا به ماشومان غلي کړي بيا به روټئ پخه کړي نو خاوند به وائي تا زما کپړې استري کړي دي نو که هغه اووائي چې زه خو بالکل فارغه نه شوم اوس به درله استري کړم نو دا جاهل خاوند به راپاڅي او په هغې غريبې با ندې به په ډانګو وهلو او کنځلو شروع اوکړي چې تا ولې زما کپړې نه دي استري کړې؟ او ديته سوچ نه کوي چې دې غريبې ته خو بالکل وخت ندے ميلاؤ شوے دا خو څه مشين نه دے چې ان فن کې به هر کار کوي او

ستړي کيږي به نه .
ولې هغه ستا په شان انسانه نه ده څه ؟
جسم لري هغه کانړے او اوسپنه نه ده چې نه به ستړي کيږي .
ليکن بيا هم هغه متواتره لګيا وي کارونه کوي او ديګې هم ته خفه ئې خير دے يو ځل ته هم کور کې حصار شه او د کور ټولې کپړې اووينځه ماشومان چې ميتيازې اوکړي هغه هم ته صفا کړه د مال او څار وو د ګيا بندوبست هم ته اوکړه ټول کور جارو کړه او لوخي هم اووينځه روټۍ او ترکاري هم پخه کړه .
نو ته بيا ګوره چې ماښام بيا ته څومره چغې وهې والله دومره فرياد به اوکړې چې خلق به درپسې اوخاندي ستا د سترګو مخې ته به رڼا شي د ورځې به درته ستوري ښکاره شي دا خو څه د ګپ کار نه دے.
په دې دومره ډير خدمتونو کې بيا هم ته هغه ملامتوې ؟
بلکې که په کور کې ستا خوئيندې او ورندارياني موجود وي نو بيا د کور کارونه په ټولو باندې تقسيم کړه چې فلانکۍ فلانکۍ به فلانکے کار کوي نو هر چاته به خپل کار معلوم وي او په هرې يوې به بوج هم کم وي .
او کله کله د کور کارونو کې ته هم ورسره مدد کوه او د خپل نبي عليه السلام په سنت عمل اوکړه .

# د واده نه مخکې کورودانه يو نظر کتل

چې د کومې زنانه سره ته واده کول غواړې نو هغې ته يو نظر کتلے شي شريعت مطهره د هغې اجازت ورکړے دے .

ابو هريرة رضي الله عنه فرمائي :

كُنْتُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَتَاهُ رَجُلٌ فَأَخْبَرَهُ أَنَّهُ تَزَوَّجَ امْرَأَةً مِنَ الْأَنْصَارِ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنَظَرْتَ إِلَيْهَا؟»، قَالَ: لَا، قَالَ: «فَاذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا، فَإِنَّ فِي أَعْيُنِ الْأَنْصَارِ شَيْئًا» [1]

**﴿ترجمه﴾** : زه د نبي عليه السلام سره ووم يو سړے نبي عليه السلام ته راغے او عرض ئي اوکړو چې يارسول الله ما اراده کړيده چې زه د يو انصارې زنانه سره واده اوکړم .

نو نبي عليه السلام ورته اوويل تا هغه ليدلې ده ؟

نو هغه اوويل : نه !

نو نبي عليه السلام ورته اوويل : چې لاړ شه هغه اوګوره ځکه د انصارو په سترګو کې څه بيماري وي .

دارنګه مغيرة بن شعبة رضي الله عنه فرمائي :

---

[1] صحيح مسلم بَابُ نَدْبِ النَّظَرِ إِلَى وَجْهِ الْمَرْأَةِ وَكَفَّيْهَا لِمَنْ يُرِيدُ تَزَوُّجَهَا1424

خَطَبْتُ امْرَأَةً، فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَنَظَرْتَ إِلَيْهَا؟ " قُلْتُ: لَا قَالَ: " فَانْظُرْ إِلَيْهَا، فَإِنَّهُ أَحْرَى أَنْ يُؤْدَمَ بَيْنَكُمَا "[1]

**﴿ترجمه﴾** : ما د رسول الله عليه السلام په زمانه کې د ريشتې دپاره يو کور ته پيغام اوليګلو نو نبي عليه السلام زما نه تپوس اوکړو چې تا هغه جينئ ليدلې ده ؟

نو ما ورته اوويل : چې نه ! نه مې ده ليدلې .

نو نبي عليه السلام اوويل : چې هغه اووينه د دې سره به مو محبت د يو بل سره زيات شي .

بل حديث کې دي نبي عليه السلام فرمائي :

«إِذَا أَلْقَى اللَّهُ فِي قَلْبِ امْرِئٍ خِطْبَةَ امْرَأَةٍ، فَلَا بَأْس أَنْ يَنْظُرَ إِلَيْهَا»[2]

**﴿ترجمه﴾** : کله چې الله تعالى د يو کس په زړه کې د نکاح متعلق يو خبره واچوي نو بيا دې کې حرج نشته چې هغه زنانه يو نظر اووينې .

همدارنګه په حديث د مسلم کې دي سهل ابن سعد الساعدي رضي الله عنه فرمائي : چې رسول صلى الله عليه وسلم ته يوه زنانه راغله او عرض ئي اوکړو چې يارسول الله زه خپل ځان تا ته هبه کوم

[1] مسند الإمام أحمد بن حنبل 18154

[2] سنن ابن ماجهبَابُ النَّظَرِ إِلَى الْمَرْأَةِ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَتَزَوَّجَهَا 1864

(يعنى زه ستا سره واده كول غواړم) نو نبي عليه السلام هغې ته ښكته پورته اوكتل او بيا ئې خپل سر ښكته كړو.[1]

امام شوكاني ، امام نووي ، او جمهور علماء رحمهم الله د دې قائل دي چې كله څوك د كومې زنانه سره واده كول غواړي نو هغه يو نظر كتلے شي.

**مسئله** :

دلته يوه مسئله دا هم ده چې ايا كوم ځائ د زنانه كتلے شي ؟

امام مالك او جمهور علماء رحمهم الله دا وائي چې مخ او لاسونه كتلے شي.

اما ابو حنيفه رحمه الله وائي : چې مخ او لاسونه او ښپې كتلے شي .

امام داود ظاهري رحمه الله وائي چې ټول بدن كتلے شي .

**مسئله** :

بله مسئله دا چې آيا ته به د هغې زنانه نه اجازت اخلې چې كله ته هغې ته ګورې ؟

---

[1] عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ، قَالَ: جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ، جِئْتُ أَهَبُ لَكَ نَفْسِي، فَنَظَرَ إِلَيْهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَصَعَّدَ النَّظَرَ فِيهَا وَصَوَّبَهُ، ثُمَّ طَأْطَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأْسَهُ،

صحيح مسلم بَابُ الصَّدَاقِ، وَجَوَازِ كَوْنِهِ تَعْلِيمَ قُرْآنٍ، وَخَاتَمَ حَدِيدٍ، وَغَيْرَ ذَلِكَ مِنْ قَلِيلٍ وَكَثِيرٍ، وَاسْتِحْبَابِ كَوْنِهِ خَمْسَمِائَةِ دِرْهَمٍ لِمَنْ لَا يُجْحِفُ بِهِ ١٤٢٥

نو جواب دا دے چې د زنانه نه اجازت اخستل ضروري نه دے بلکې هغه ته پته هم لیدلے شي .
جابر رضي الله عنه فرمائي : چې کله ما د رسول الله عليه السلام نه واوريدل چې تا سو کله د نکاح اراده لرئ نو هغه زنانه يو نظر اوګورئ
فَخَطَبْتُ جَارِيَةً فَكُنْتُ أَتَخَبَّأُ لَهَا حَتَّى رَأَيْتُ مِنْهَا مَا دَعَانِي إِلَى نِكَاحِهَا وَتَزَوُّجِهَا فَتَزَوَّجْتُهَا [1]

**﴿ترجمه﴾** : نو ما په يوې جينئ پسې د نکاح پيغام اوليږلو نو ما به هغې ته پټ پټ کتل چې کله ما د هغې هغه ځائ اوکتلو کوم چې باعث د رغبت وو نو ما دهغې سره نکاح اوکړه .
امام مالک ، احمد ، شافعي ، او جمهور علماء وائي : چې د ليدلو دپاره د زنانه نه اجازت اخستل شرط نه دے .
د احاديثو نه دا معلوميږي چې زنانه ته يو نظر کتلے شي او د هغې ظاهري جسم کتلے شي **مثلاً** : مخ ، لاس ، وغيره د هغې پټ اندام نه شي کتلے **مثلاً** : د هغې خيټه، سينه او شرمګاه وغيره صرف د هغې مخ کتلے شي ځکه د مخ نه د زنانه د ښائست او بد صورتۍ اندازه لګيدلے شي .

[1] سنن ابي داود بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَنْظُرُ إِلَى الْمَرْأَةِ وَهُوَ يُرِيدُ تَزْوِيجَهَا ۲۰۸۲

ليکن زمونږ د پوښتنو په معاشره کې دا ناشنا او د غيرت خلاف خبره ګڼړلے کيږي ځوک دې ته نه تياريږي چې د هغې لور ، خور دې ځوک اوګوري .

او د تعجب خبره دا ده چې خلق همدغه لوريانې او خوئيندې بازارنو ته شاپنګ سنټرونو او پارکونو ته د چکر د پاره بوځي نو دا خبره ورته د غيرت خلاف نه ښکاري.

او چې د کوم کار اجازت نبي عليه السلام ورکړے وي نو هغه ورته د غيرت خلاف ښکاري او د نبي عليه السلام په دې خبره کې ډير حکمت دے تا له مور او پلار يوه جينئ کول غواړي او تا هغه بالکل کتلي نه وي نو ته به په واده باندې په لکونو روپئ هم اولګوې واده به اوکړې ليکن بيا به دې يا د ښځې پوزه نه وي خوښه يا به دې مخ نوي خوښ يا به دې قد او غاښونه نه وي خوښ نو بيا به هره ورځ هغه غريبه وهې ټکوې يا به ورله پيغورونه ورکوې يا به ورله طلاق ورکوې نو دا ټول صورتونه د نقصان نه خالي نه وي او نه بيا دا واپس کولے شې او نه بدلولے شې او نه ئې چاله ورکولے شې او نه ئې خرڅولے شې نو بيا ځان ته هم خيرې کوې او هغې ته هم .

نو د هغې نه غوره ده چې د واده نه مخکې جينئ يو نظر اوګورې دا د محمد رسول الله عليه السلام وينا ده او د محمد رسول الله وينا د خير او برکت نه خالي نه وي .

خو چې د چا اراده د واده نه وي نو هغه له کتل جائز نه دي پردو زنانو ته ځکه د دې نه بیا ډیر فسادات جوړیږي د شریعت د احکاماتو په هر حال کې پابندي پکار ده .

# د کوروداني سره مشوره کول

د ښه او مزیدار ژوند تیرولو دپاره دا ضروري دي چې ښځه او خاوند به د یو بل سره مشوره کوي.

زنانه خو عام طور باندې څه کار د خاوند د مشورې نه بغیر نه کوي لیکن سړو ته دا معمولي خبره ښکاري چې د زنانو سره مشوره اوکړي چې یو سړے خپلې زنانه له هیڅ اهمیت نه ورکوي او د هغې سره په یو کار کې هم مشوره نه کوي نو دا د حسن معاشرت هم خلاف کار دے او د عقل هم خلاف دے.

د مشورې نه کولو په وجه بعض وخت دومره خفګان راشي د ښځې او خاوند په مینځ کې چې د کور ټول سکون او ارام ختم شي.

الله تعالی خپل نبي علیه السلام ته حکم کوي چې

وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ[1]

﴿ترجمه﴾: په معاملاتو کې د دې صحابو سره مشوره کوه.

او دمؤمنانو هم الله تعالی دا صفت کړے دے چې

وَأَمْرُهُمْ شُورى بَيْنَهُمْ[2]

﴿ترجمه﴾: دوئ دې د یو بل سره په هر کار کې مشوره کوي.

---

[1] سورة آل عمران159)

[2] [سورة الشورى: 38].

او د نبي عليه السلام هم دا عادت وو چې په هر کار کې به ئې مشوره کوله.

د صلح حديبيه په موقع باندې نبي عليه السلام صحابو ته حکم اوکړو چې خپل څارروي ذبح کړئ ځکه چې سخ کال مونږ مکې ته د عمرې دپاره نشو تللے .

نو صحابه ډير پريشانه او غمژن شو نو يو کس هم پانځيدلو نبي عليه السلام درې ځله دا خبره اوکړه ليکن څوک پانځيدلو .

نو نبي عليه السلام د خپلې بي بي ام سلمه رضي الله عنها خواته راغے او د صحابو دا خبره ئې ورته ذکر کړه نو ام سلمه رضي الله عنها نبي عليه السلام ته مشوره ورکړه چې يا رسول الله تاسو چا ته هيڅ هم مه وائې بلکې لاړشه او خپل څاروي ذبح کړه او سر مو اوخروه .

نو نبي عليه السلام د دې د مشورې مطابق خپل څاروي ذبح کړه او حجام راوغوښتلو او خپل سر ئې اوخرولو .

نو د دې نتيجه دا راووتله چې صحابه رضي الله عنهم هم پاځيدل او خپل خپل څاروي ئې ذبح کړل او سرونه ئې اوخرول .

نو رسول الله عليه السلام د خپل عظمت باوجود د خپلې بي بي خواله راغے او هغې سره ئې مشوره اوکړه او هغې هم بهترينه مشوره ورکړه او د نبي عليه السلام غټه پريشاني پرې حل شوه .

د دې نه معلومه شوه چې انسان به خپل عقل کامل نه ګنړي چې زما نه بل عقلمند نشته او چې زه څه کوم نو هغه به کيږي .
نه ! بلکې مشوره کوه په دې کې برکت دے نو نه دې زنانه يو کار په خپله مرضۍ کوي او نه دې سړے يو کار بغير د مشورې نه کوي .
چې کله لور يا ځوي بالغ شي اود هغې واده کول غواړۍ نو د خپلې کوروداني سره مشوره کوه چې دا خپله لور څنګه سړي له ورکړو ؟
يا دې ځوي له په کوم کور کې رشته اوکړو ؟ څنګه جينۍ ورله اوکړو ؟ په کوم خاندان کې ورله اوکړو ؟
يا بالفرض تاسو د خپلوانو کورته ځۍ چا درله دعوت کړے دے نو اختيار ستا په لاس کې دے نو که ته د ښځې سره مشوره اوکړې چې څه وخت به د کور نه وځو ؟ او هغوي له به په تحفه کې څه وړو ؟ څه شے ورله مناسب دي ؟ نو چې کله ته د هغې سره مشوره اوکړې نو هغه به درله مشوره هم درکړي او د خپل اهميت به ورته هم احساس اوشي نو تاسو سره به هغه پوره تعاون اوکړي .
يا داسې مشوره ترينه اخستل چې زه درله کپړې کوم خو ستا کوم يو رنګ خوښ دے ؟ يا نن څه سبزي راوړم ؟
نو دا مشوره کول د محمد رسول الله عليه السلام سنت عمل دے .
يو منټ دپاره کتاب بند کړه او دا سوچ اوکړه چې نبي عليه السلام بهترين بنده دے وخت په وخت به ورته وحې کيده ، سيد الانبياء

دے ، ليکن بيا هم هغه د بي بيانو سره مشوره کوي او بيا د هغوي په مشوره عمل کوي او دا ورته څه عيب نه ښکاري بلکې په دې خوشحالیږي چې ښځې مې مشوره راکړه .

نو ته څوک ئې چې هميشه خپله رأي باندې کار کوي او د ښځې مشورې له څه اهميت نه ورکوې او دا کار تاته د خپل غيرت خلاف ښکاري ؟

د خپل ځان اصلاح اوکړه او خپل عادات بدل کړه د نوي ژوند اغاز اوکړه کيدے شي ستا ښځه تاله داسې مشوره درکړي چې ستا زندګي به پرې بدله شي .

دې باره کې ډير احاديث او واقعات دي ليکن هغه زه دلته نه ذکرکوم ځکه چې د مؤمن او عقلمند دپاره يو آيت يا يو حديث هم کافي شافي وي .

## خپله زنانه به د منکراتو نه ساتې

د خاوند دا ذمه داري جوړيږي چې هغه به خپله ښځه د منکراتو نه او د هغه کارونو نه چې اسلام کې هغه حرام دي د هغې نه به ئې ساتي هغه منکرات خو ډير دي ليکن بعض د هغې نه ذکر کوم

١ـ بې پردګي .

په هره زنانه باندې الله تعالی پرده فرض کړې ده حتی چې د نبي عليه السلام بي بيباني چې هغوي د الله تعالی نه ډيرې يريدونکې وې

زړونه ئې صفا وو ، معاشره هم صفا ، او د ګناه سوچ هم هغوي نشو کولے ليکن هغوي ته هم الله تعالی په پردې کولو حکم کړے وو ليکن افسوس نن بعض جاهلان وائې چې په زړه کې دې څه عيب نه وي عبد الرحمن . ښکلي مخ ته په کتو کې ګناه نشته .

دا سراسر د قرآن حديث نه خلاف خبره ده قرآن کې الله تعالی خپل نبي عليه السلام ته فرمائي :

وَقُلْ لِلْمُؤْمِناتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ [1]

**﴿ترجمه﴾** : اے نبي ! زنانو ته اووايه چې دوئ دې د خپلو نظرونو حفاظت کوي خپلې سترګې دې ښکته کړي او د خپلو عورتونو حفاظت دې کوي .

بلکې په قرآن کريم کې الله تعالی سورت نور او سورت احزاب دا دواړه سورتونه باقاعده د دې پردې متعلق راليګلي دي .

ليکن بعض نام نهاده مسلمانان دې ته تنګ نظري وائې او دا ورته د زنانو حقوق غصب کول ښکاري او په عامو کورونو کې د پردې اهتمام نشته بلکې په بعضو ځايونو کې خلقو سرې په نوکروسره نيولي وي هغوي ورله په کور کې کارونه کوي او په دې کور کې د دې ښځه هم وي او لونړه هم وي او پيغلې خوئيندې هم وي او دا

1 [النور: 31]

سړے بعض وخت په کور کې موجود نه وي او دا نوکر په کور کې ګرځي کله ئې د سړي په ښځه سترګې لګي او کله ئې په خوئیندو او کله د هغې د لوریانو سره خبرې او خنداګانې کوي او دې سړي ته د دې ټولو خبرو پته وي لیکن دا ورته څه نه وائي او وائي چې خیر دے دا زما نوکر دے او دا د دې خپل کور دے.

نوجوان او بالغ نوکر کور کې ساتل او د هغې په مخکې د دې د ښځې پاخیدل کیناستل حرام دي بلکې دا ځانله د ګناه اکاونټ کولاوول دي دا سړے به حج هم کوي خو لیکن بیا هم ګناه د ده په اکاونټ کې جمع کیږي ، دا به عمره هم کوي ، مسجد کې به هم ناست وي تلاوت به هم کوي لیکن بیا هم د هغه په عمل نامه کې ګناه لیکلے کیږي .

بعض خاوندان خپلو ښځو ته وائي چې زما د تره ځوي ، زما د ماما ځوي ، زما وریرونه ، زما خورئینو نه او زما فلانکي فلانکي ریشته دار او ملګرونه به پرده نه کوې که چرته هغه دینداره وي او پرده شروع کړي نو دا خاوند هغه وهي هغې ته غصه کیږي .

نو دا څومره د تعجب خبره ده چې ښځه په ګناه نه وهي بلکې په نیک عمل باندې ئې وهي او همیشه دپاره فتنه ، فساد ، پیغورونه ، دشمنیانې ، او خفګانونه وغیره د دې نه جوړیږي چې دا کاکا ځوي دے دې نه پرده مکوه او هغه د ماما ځوي دے او هغه فلانکے مې

دوست دے داغلط کار دے.

دا دخاوند ذمه داري ده چې هغه به خپله زنانه د غلط کارونو نه منع کوي او هغې سره به دې معامله کې سختي کوي چې د هرې غلطۍ دې معافي شته خو د بې حيا ئي او بې پردګۍ معافي هيڅ صورت کې نشته .

دا خو عجيبه خاوند دے چې ښځه ئي پردو سړو سره ګپ شپ لګوي او د

ماما کاکا ځوي سره خاندي او ده له هيڅ غيرت نه ورځي او ښځه ئي سحر د کور نه وځي او مازديګر کور ته راځي او په بازارونو کې د دکاندارانو سره خبرې کوي ، هغوي ته مخ ښکاره کوي او هغوي سره خاندي راخاندي ، زنانه ئي نوکري کوي او د نا محرمه سړو سره ناسته پاسته کوي او ديته هيڅ نه وائي داسې خاوند ته په شريعت کې ديوث ويلے کيږي او په ديوث باندې الله تعالى جنت حرام کړے دے .

نو د ښځې په ذهن کې به دا خبره کيږدې چې فضول به نه خاندې د نا محرمه سړي نه به پرده کوې بې ځايه خندا به نه کوي او بغير د ضرورت نه به د کورنه نه وځې .

۲ ـ دا به هم زنانه ته وائي : چې کله د کور نه وځې نو خوشبوئي به نه لګوې ځکه رسول الله عليه السلام د دې نه منع کړې د الله نبي

علیه السلام فرمائي :

«أَيُّمَا امْرَأَةٍ اسْتَعْطَرَتْ فَمَرَّتْ عَلَى قَوْمٍ لِيَجِدُوا مِنْ رِيحِهَا فَهِيَ زَانِيَةٌ»[1]

**﴿ترجمه﴾** : کومه زنانه چې خوشبوئي اولګوي او بیا د کور نه اوځي او په سړو باندې تیره شي نو دا زنا کاره ده .

۳ ـ د ګډا نه به منع کوې ، د ګانو بجانو ویلو نه به ئې منع کوې .

بعض زنانه د پردو سړو په مخکې ګډیږي او په اوچت اواز باندې غزل او ټپې او ګانې بجانې وائي حالانکې دا د قیامت د نشانیانو نه یوه نشاني ده چې ګانې بجانې ټنګ ټکور ، دابه عام شي خلق به راحت ، سکون په دې کې لټوي نو د دې ګناه نه به خپله ښځه منع کوې .

٤ ـ داسې واده ته هم خپله کوردانه مه پریږده چې هلته هلکان کور ته بار بار دا خلیږي او د پردې اهتمام په کې نه وي .

هان : که د پردې اهتمام په کې وي نو بیا خیر دے هغې ته اجازت ورکړه.

٥ ـ زنانه له به اجازت نه ورکوې چې هغه دې تنګې ، لنډې ، او نرئ جامې واچوي چې کله ستا سره په کور کې ستا رونړه شریک وي .

[1] سنن نسائي مَا يُكْرَهُ لِلنِّسَاءِ مِنَ الطِّيبِ 5126

هان : که ستا سره په کور کې روڼه نه وسيږي صرف ته او ستا کورودانه اوسيږئ نو بيا هغه هر قسم کپړې تا ته اچولے شي ځکه په لنډو تنګو او نرو کپړو کې يا د زنانه ټول جسم ښکاري او يا بعض ا ندامونه ښکاري او داسې زنا نو باره کې رسول الله عليه السلام فرمائي: د جهنميانو نه دوه قسمه خلق دي چې ما ندي ليدلي

١ ـ يو هغه دي چې هغوي سره د غواګانو د لکيو پشان ډنډې وي او په هغې باندې به خلق وهي.

٢ ـ قسم هغه زنانه دي

وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيلَاتٌ مَائِلَاتٌ، رُءُوسُهُنَّ كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ، لَا يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ، وَلَا يَجِدْنَ رِيحَهَا [1]

**﴿ترجمه﴾** : چې د کپړو اچولو باوجود به هغه لغړې وي هغه به نور خلق هم ځان ته مائله کوي او پخپله به هم نورو ته مائله کيږي ښځونه به ئې د اوښ د قوب پشان وي داسې قسم زنانه به جنت ته نشي داخليدلے او نه به د جنت خوشبوئي حاصله کړي.

٦ ـ بعض زنانه غټ نوکان پريږدي د فيشن دپاره نو دا شرعي طور سره هم ناجائز دي او سائنسي طورباندې هم نقصاني دي ځکه د دې د لاندې د اودس اوبه نه ورداخليږي او هغه ځائ چې دا اوبه ورته

---

[1] صحيح مسلم بَابُ النِّسَاءِ الْكَاسِيَاتِ الْعَارِيَاتِ الْمَائِلَاتِ الْمُمِيلَاتِ 2128

او نه رسیږي  نو اودس ئي نه کیږي او چې اودس  ئي او نه شو نو مونځ ئي هم  نه کیږي ځکه انس رضي الله عنه فرمائي :
«وُقِّتَ لَنَا فِي قَصِّ الشَّارِبِ، وَتَقْلِيمِ الْأَظْفَارِ، وَنَتْفِ الْإِبِطِ، وَحَلْقِ الْعَانَةِ، أَنْ لَا نَتْرُكَ أَكْثَرَ مِنْ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً»[1]

**﴿ترجمه﴾** : زمونږ دپاره بر یتونه واړه کول نوکونه کټ کولو د ترخ وینسته ویستلو او د زیرناف (شرمګاه) وینسته خریلو وخت مقرر کړے شوے دے چې مونږ به د څلوینښت وریځو نه زیات دا نه پریږدو .
علماء وائي : چې هره هفته کې نوکان واړه کول پکار دي .
نور هم ډیر احادیث شته لیکن مؤمن دپاره یو حدیث هم کافي دے .
او دې غټو نوکانو لاندې اکثر ښیري پاتې شي دینه بیا قسما قسم بیمارياني جوړیږي .
۷ ـ بعض زنانه د دورځو وینسته اوباسي او دا نرئ کوي د دې دپاره چې ښائسته ښکاره شي .
ابن مسعود رضي الله عنه فرمائي :
«لَعَنَ اللهُ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ، وَالنَّامِصَاتِ وَالْمُتَنَمِّصَاتِ،

---

[1] صحيح مسلم بَابُ خِصَالِ الْفِطْرَةِ ٢٥٨

وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللهِ»[1]

مفهوم د حديث دا دے چې هغوي د ورځو ويښته ويسته او د رخسار (مخ) ويښته اوباسي او غاښونو مينځ کې کولاوونکو باندې د الله تعالی لعنت دے چې دوئ د الله تعالی خلقت بدلوي.

نو نبي عليه السلام په وريځو ويستونکو باندې او څوک چې اوباسي هغوي دواړو باندې لعنت ويلے دے.

۸ ـ تصوير جوړول او تصوير ويستل هم حرا م دي.

بعض زنانه د خپل ځان دپاره د کيمرې غټ موبايل پيدا کړےوي او ټوله ورځ لګيا وي او تصويران اوباسي کله ولاړه وي، کله ناسته وي. کله باغ کې اودريږي او کله يو حالت کې وي او کله بل حالت کې تصويران اوباسي نو دا حرام کار دے ډير کرته داسې شوي وي چې جينئ يا يوه زنانه خپل تصويران اوباسي او موبايل کې ورسره وي خو بعض وخت د هغې خيال نه وي او دا موبايل د کوم ريشته دار هلک يا جينئ له په لاس ورشي هغه ترې ميموري کارټ پټ کړي يا ئې ترينه خپل ميموري ته هغه تصويران واړه وي او په عرب او عجم ئې خواره کړي بيا هغه زنانه ډيره خفه وي خو وخت تير شوے وي او اوبه د ورځ نه اوړيدلي وي.

---

[1] صحيح مسلم بَابُ تَحْرِيمِ فِعْلِ الْوَاصِلَةِ وَالْمُسْتَوْصِلَةِ وَالْوَاشِمَةِ وَالْمُسْتَوْشِمَةِ وَالنَّامِصَةِ وَالْمُتَنَمِّصَةِ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ وَالْمُغَيِّرَاتِ خَلْقِ اللهِ 2125

نو دا غلطي د خاوند ده چې هغه ولې د خپلې ښځې سره په دې باب کې سختي نه کوي ؟
دا غلطي بیا د پلار ده چې هغه ولې خپلې  لور ته داسې  ازادي ورکړي وي .
دا غلطي  بیا د ورور ده چې هغه خپلې خور  له ولې موبایل په لاس کې ور کړے دے .
نو وروستو بیا پلار هم شرمیږي او خاوند هم شرمیږي او ورور هم شرمیږي .
تصویران ډیره سخته ګناه لري ابو طلحه رضي الله عنه فرمائي :
«لاَ تَدْخُلُ المَلاَئِكَةُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلاَ صُورَةٌ» [1]
**﴿ترجمه﴾** : ملائک هغه کور ته نه دا خلیږي په کوم کې چې سپے او تصویران وي.
بل حدیث کې دي ابن مسعود رضي الله عنه فرمائي : چې رسول الله علیه
السلام فرمائیلي دي :

[1] صحيح البخاري بَابُ إِذَا وَقَعَ الذُّبَابُ فِي شَرَابِ أَحَدِكُمْ فَلْيَغْمِسْهُ، فَإِنَّ فِي إِحْدَى جَنَاحَيْهِ دَاءً وَفِي الأُخْرَى شِفَاءً ٣٣٢٢

«إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا عِنْدَ اللَّهِ يَوْمَ القِيَامَةِ المُصَوِّرُونَ» [1]

﴿ترجمه﴾ : د قيامت په ورځ به سخت عذاب د هغه چا دپاره وي چې هغه تصويران اوباسي .

نور هم بې شماره احاديث دي خو زه په دې با ندې اكتفاء كوم .

۹ ـ د سړو مشابهت اختيارول .

بعض زنانه په خبرو ، خوراک ، كپړو وې د سړو سره مشابهت اختياروي حالانكې دا سخته ګناه ده ابن عباس رضي الله عنه فرمائي : چې رسول الله عليه السلام فرمائيلي دي :

«لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ المُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ، وَالمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ» [2]

﴿ترجمه﴾ : رسول الله عليه السلام په هغه زنانه با ندې لعنت ويلے دے څوک چې د سړو سره مشابهت اختياروي .

بعض زنانه خپل ويښتان د سړو د ويښتانو پشان جوړوي يا د سړو پشان اوچت اوچت خبرې او خنداګانې كوي .

نو د دې ناروا كارونو نه به خپله كورودانه ساتې .

۱۰ ـ زنانه به د بې نمازئ نه ساتې .

---

[1] صحيح البخاري بَابُ عَذَابِ المُصَوِّرِينَ يَوْمَ القِيَامَةِ ٥٩٥٠ مسلم في اللباس والزينة باب تحريم تصوير صورة الحيوان. . رقم 2109

[2] صحيح البخاري بَابٌ: المُتَشَبِّهُونَ بِالنِّسَاءِ، وَالمُتَشَبِّهَاتُ بِالرِّجَالِ ٥٨٨٥

بعض زنانه بالکل مونځونه نه کوي او په مونځونو کې سستي کوي او خاوندان ورته هيڅ نه وائي چې ته دا ګناه ولې کوې حالانکې د مونځ پريښودل د ايمان ضائع کول دي په قرآن کې الله تعالی باربار حکم کوي او د هغه خلقو بدي بيانوي چې په مونځونو کې سستي کوي .

مونځ د الله تعالی او د بنده په مينځ کې يو مضبوط کنکشن دے نو کوم انسان چې د الله تعالی سره تعلق غواړي نو هغه دې د مونځونو پابندي کوي .

دې باره کې بې شماره احاديث او قرآني آياتونه دي زه ئې اوس نه ذکر کوم په هغه موضوع باندې باقاعده کتابونه ميلاويږي هغه اوګورئ.

۱۱ ـ خپله کورودانه به د دروغو نه منع کوي .

ځکه قرآن کې الله تعالی د دروغ ويونکو ډيره سخته بدي بيان کړې ده الله تعالی فرمائي :

فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ [1]

**﴿ترجمه﴾** : د بوتانو د ګندګۍ نه ځانونه اوساتئ او د روغو نه هم .

بل ځائ کې الله تعالی فرمائي :

إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ [2]

---

[1] سورة الحج ٣٠

[2] سورة الزمر ٣

**﴿ترجمه﴾** : الله تعالی هدايت نه کوي هغه کس ته چې دروغژن او ناشکره وي .

نبي عليه السلام فرمائي :

" آيَةُ المُنَافِقِ ثَلاَثٌ: إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ" [1]

**﴿ترجمه﴾** : د منافق درې ۳ نشانیانې دي

۱ ـ کله چې خبرې کوي دروغ وائي .

۲ ـ کله چې وعده کوي نو وعده خلافي کوي . يعنې خپله وعده نه پوره کوي .

۳ ـ کله چې امين اوګنړلے شي نو خيانت کوي .

په يو حديث کې دي رسول الله عليه السلام فرمائي : چې يو انسان هميشه دپاره ريشتيا وائي : تردې چې د الله تعالی سره هغه ريشتوني اوليکلے شي [2]

[1] صحيح البخاري بَابُ عَلاَمَةِ المُنَافِقِ ۳۳ مسلم في الإيمان باب بيان خصال المنافق رقم 59

[2] عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى البِرِّ، وَإِنَّ البِرَّ يَهْدِي إِلَى الجَنَّةِ، وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَصْدُقُ حَتَّى يَكُونَ صِدِّيقًا. وَإِنَّ الكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الفُجُورِ، وَإِنَّ الفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ، وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَكْذِبُ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللَّهِ كَذَّابًا»

نو په خپله هم دروغ مه وايه او زنانه هم د دروغو نه منع کوه .
۱۲ ـ زنانه به د غيبت او چغلۍ نه منع کوې .
ځکه دا بيماري په زنانو کې ډيره ده قرآن کې الله تعالى فرمائي :
وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا[1]

**﴿ترجمه﴾** : تاسو کې يو کس دې د بل کس غيبت نه کوي آيا د خپل رور مسلمان چې مړ وي کچه غوښه خوړل تاسو کې يو کس خوښوي؟

حديث کې دي رسول الله عليه السلام فرمائي چې چا پسې خبرې کول دا غيبت دے او دا ډيره عظيمه ګناه ده او دا ګناه الله تعالى هغه وخته پورې نه معاف کوي ترڅورې چې هغه کس تا معاف نه کړي د چا چې تا غيبت کړے وي .
سيده عائشه رضي الله عنها فرمآئي : چې ما د صفيه رضي الله عنها په باره کې يو خبره اوکړه چې صفيه لنډه ده نو نبي عليه السلام غصه شو او ماته ئې اوويل :

---

صحيح البخاري بَابُ قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ} [التوبة: 119] وَمَا يُنْهَى عَنِ الكَذِبِ ٦٠٩٤

[1] سورة الحجرات ١٢

«لَقَدْ مَزَجْتِ بِكَلِمَةٍ لَوْ مَزَجْتِ بِهَا مَاءَ البَحْرِ لَمُزِجَ»[1]

**﴿ترجمه﴾** : تا يو داسې بدرنګه او ترخه خبره اوکوه که چرته دا د سمندر اوبو سره ميلاؤ کړے شي نو د سمندر د اوبو ذائقه به بدل کړي.

په دې باره کې نور هم ډير احاديث راغلي دي ليکن دلته صرف اشاره کافي ده .

نو خپله کورودانه به په سختئ سره منع کوې چې د چا غيبت به نه کوې.

۱۳ ـ بعض زنانه په معمولي غلطئ باندې نورو ته کنځل کوي حالانکې ابن مسعود رضي الله عنه فرمائي : چې نبي عليه السلام فرمائيلي دي :

«سِبَابُ المُسْلِمِ فُسُوقٌ، وَقِتَالُهُ كُفْرٌ»[2]

**﴿ترجمه﴾** : مؤمن ته کنځل کول فسق دے او د هغه سره جنګ کول کفر دے .

دا د مسلمان شان نه دے چې هغه بل مسلمان ته کنځل اوکړي .

عياض ابن حمار رضي الله عنه فرمائي : چې نبي عليه السلام فرمائي:

---

[1] سنن الترمذي 2502

[2] صحيح البخاري بَابُ خَوْفِ المُؤْمِنِ مِنْ أَنْ يَحْبَطَ عَمَلُهُ وَهُوَ لاَ يَشْعُرُ ٤٨

مسلم في الإيمان باب بيان قول النبي صلى الله عليه وسلم سباب المسلم رقم 64

«الْمُسْتَبَّانِ شَيْطَانَانِ يَتَهَاتَرَانِ وَيَتَكَاذَبَانِ» [1]

**﴿ترجمه﴾** : یو بل ته کنځلې کونکي دواړه شیطانان دي دواړه د یو بل په خلاف بدزباني کوي او په یو بل دروغ تړي .

مؤمن کنځل کونکے او فحش ګو به نه وي نبي علییه السلام فرمائي :

«لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالطَّعَّانِ وَلَا اللَّعَّانِ وَلَا الفَاحِشِ وَلَا البَذِيءِ» [2]

**﴿ترجمه﴾** : مؤمن طعن لګونکے .. لعنت ویونکے او فحش خبرې کونکے او بې هوده خبرې کونکے نه وي .

بل ځائ فرمائي:

«الْمُسْتَبَّانِ مَا قَالَا فَعَلَى الْبَادِئِ، مَا لَمْ يَعْتَدِ الْمَظْلُومُ» [3]

**﴿ترجمه﴾** : خپل مینځ کې یو بل ته کنځل کونکو کې ډیره ګناه د هغه چا ده چا چې په کنځلو ابتداء کړې وي .

بل ځائ فرمائي :

د منافق درې نشانیانې دي

---

[1] صحيح ابن حبان ذِكْرُ الْإِخْبَارِ عَنْ وَصْفِ الْمُسْتَبَّيْنِ اللَّذَيْنِ يَكْذِبَانِ فِي سِبَابِهِمَا 5727

[2] سنن الترمذي بَابُ مَا جَاءَ فِي اللَّعْنَةِ ١٩٧٧

[3] صحيح مسلم بَابُ النَّهْيِ عَنِ السِّبَابِ ٢٥٨٧

١ ـ وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ[1]

﴿ترجمه﴾ : چې کله جګړه کوي نو کنځلې کوې .

نو که ستا کورودانه چا ته کنځلې کوي نو ته هغه په سختئ سره منع کوه.

١٤ ـ چا سره احسا ن کول او بيا د هغې زباتل .

بعض زنانو کې دا عيب وي چې کله هغوي د چا سره احسان اوکړي نو هغه بيا بار بار زباتي او وائي چې ما تا سره فلانکے احسان کړے دے نوپه شريعت مطهره کې دا هم لوي جرم دے .

ابن عمر رضي الله عنهما فرمائي : چې رسول الله عليه السلام فرمائلي دي:

«لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنَّانٌ، وَلَا عَاقٌّ، وَلَا مُدْمِنُ خَمْرٍ» [2]

﴿ترجمه﴾ : احسان زباتونکے د مور او پلار نافرماني كونكے او شراب څکونکے به جنت ته نه داخليږي .

او د دې احسان زباتلو په وجه الله تعالی نيکيانې ضائع کوي .

لکه قرآن کريم کې الله تعالی فرمائي :

[1] صحيح البخاري بَابُ عَلاَمَةِ المُنَافِقِ ٣٤

أخرجه مسلم في الإيمان باب بيان خصال المنافق رقم 58

[2] سنن النسائي الرِّوَايَةُ فِي الْمُدْمِنِينَ فِي الْخَمْرِ ٥٦٧٢

يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تُبْطِلُوا صَدَقاتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْأَذى [1]

**﴿ترجمه﴾** : اے ! د ایمان والاؤ خپل صدقات زباتلو باندې مه ضائع کوي .

بل ځائي کې الله تعالی د مؤمنانو صفت بیان کړے دے چې مؤمنان کله چاله صدقه ورکړي یا چا سره احسان اوکړي نو هغه بیا نه زباتي لکه الله تعالی فرمائي :

الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُونَ مَا أَنْفَقُوا مَنًّا وَلَا أَذًى [2]

**﴿ترجمه﴾** : هغه کسان چې هغوي خپل مال خرچ کوي د الله تعالی په لاره کې بیا نه ورپسې کوي هغه څه پسې چې خرچ کړي وي زباتنه او نه ضرر .

بل ځائي کې الله تعالی فرمائي :

وَلَا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ [3]

**﴿ترجمه﴾** : د چا سره احسان په دې نیت مه کوه چې ماله به ډیر راکړي .

---

[1] [البقرة: 264]

[2] سورة البقرة ٢٦٢

[3] سورة المدثر ٦

نو خپله كورودانه به پوهه كوې چې چا سره كله احسان اوكړي نو بيا به هغه نه زباتي.

## ۱۵ـ د رسم او رواج وغيره نه به زنانه منع كوې .

زنانه په رسم او رواج كې ډيرې مخكې وي هره ورځ نوے فيشن ، نوې كپړې ، نوې پيزار نو دا اسراف دے او د اسراف باره كې الله تعالى فرمائي :

إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ [1]

﴿ترجمه﴾ : اسراف كونكي خلق د شيطان ورونه دي .

نو زنانو له حسب ضرورت خرچه وركوئ دومره ډيرې روپۍ مه وركوه چې هغوي په عبثياتو باندې لګوي او فضول خرچې پرې كوي ځكه الله تعالى فرمائي :

إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ [2]

﴿ترجمه﴾ : الله تعالى د اسراف كونكو خلقو سره محبت نه كوي .

بلكې كه ستا كور ودانه فضول خرچه وي نو غصه كيږه ورته ځكه چې دا مال الله تعالى د دې دپاره نه دے دركړے چې ته ئې عبث په رسمونو ، رواجونو او فيشنونو باندې لګوه او الله تعالى به درسره

[1] سورة الإسراء۲۷

[2] سورة الأعراف۳۱

حساب نه کوي .

١٦ ـ پردو مړو پسې ژړل چغې وهل ، ګريوان شوکول دا حرام دي د خپل پلار ، رور ، ځوې ، پسې ګريوان شوکول هم حرام دي پاتې لا پردے مړے.

بعض داسې زنانه وي چې کله چم ګاونډ او خپلوانو کې څوک مړ شي نو هغه غټې غټې چغې وهي ګريوان شوکوي حالانکې د الله تعالى نبي فرمائي :

«لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَطَمَ الخُدُودَ، وَشَقَّ الجُيُوبَ، وَدَعَا بِدَعْوَى الجَاهِلِيَّةِ»[1]

**﴿ترجمه﴾** : هغه کس زمونږ نه ندے چې هغه خپل وينبته شوکوي ګريوان شلوي او د جاهليت اوازونه کوي .

بلکې د الله نبي عليه السلام فرمائي : چې کوم مړي پسې ګريوان شليږي او چغې وهلے کيږي نو هغه مړي ته به عذاب ورکولے کيږي .

دارنګه د وعده خلافئ ، خيانت ، حسد ، فضول خبرې کول وغيره د دې نه به خپله

هم منع کيږې او کورودانه به هم منع کوې .

[1] صحيح البخاري بَابٌ: لَيْسَ مِنَّا مَنْ شَقَّ الجُيُوبَ ١٢٩٤ أخرجه مسلم في الإيمان باب تحريم ضرب الخدود وشق الجيوب. . رقم 103

# کوردانې ته ځان ښائسته کول

هر سړے دا غواړي چې زما ښځه دې ما ته زان ښائسته کړي او ښکلې جامې واچوي او د هغې په مخ دې خیرے نه وي د هغې د کپړو نه بدبوئي نه خیژي او د هغې خوله او غاښونه دې صفا وي نو داسې زنانه هم غواړي چې زما خاوند دې صفا ستهره وي ښکلې خوشبوئي دې ترینه خیژي لیکن هغه خاوند چې د هغه خوله د نسوارو نه ډکه وي او سریګټ څکې او په کلونو کلونو مسواک خولې ته نه نزدې کوي او د خولې نه ئې ګنده بدیوئي روانه وي .
نو دا خو ډیره بې انصافي ده .
د سړي دپاره هم ضروري دي چې هغه دې د شریعت رڼا کې خپل ظاهري نظافت او طهارت خیال اوساتي دا هم د ښځې جائز خواهش پوره کول دي .
خو د زینت نه مراد هغه زینت نه دے کوم چې په شریعت کې حرام وي **مثلاً** : ږیره خریل ، د انګریزانو پشان ټائي پتلون اچول او بیوټي پالر ته تلل او کریم پوډر مږل دا ځان ښائسته کول نه دي بلکې ځان شرمول دي .
بعض سړي چې کله دوستانو خواله ځي یا بازار ته وځي یا د چا واده له ځي نو یو یو ګهنټه شیشې ته ولاړ وي په مخ هم لاس وهي او په ویښتو هم لیکن چې کله په کور کې وي نو بیا د دې غریب ډیر

بدحال وي ته به وائي كه چې ګنې دا اوس چا د قبر نه ويستلے دے او مخکې دا خبره تيره شوې ده چې ابن عباس رضي الله عنه شيشې ته ولاړ وو نو شاګرد ترينه تپوس اوکړو چې تاسو هم شيشې ته اودريږئ ؟

نو هغه ورته اوويل چې آؤ !زه غواړم چې زما ښځه دې ماته ځان ښائسته کړي نو داسې هم د هغې حق جوړيږي چې زه هغې ته ځان ښائسته کړم .

ځکه اوښياران وائي : چې سترګو نه زړه ته لاره تلې وي .

د زړه بيماري او صحت سترګو پورې خاص وي چې په سترګو يو څيز ښه اولګيږي نو

هغه په زړه هم ښه لګيږي .

خو د دې دا مقصد هم نه دے چې سړے به د كال باره ۱۲ مياشتې استري کړو جامو کې ګرځي او كار روزګار ، زميداره ، به نه كوي چې زما کپړې ګنده کيږي او استري ئې خرابيږي او نه به په خيرنو شليدلو ، داغدار، کپړو کې هميشه اوسيږي .

ښکلے لباس اچول پکار دے چې زړه ځان طرف ته مائله کوي او په سترګو ښه لګيږي .

چې كله ښځې سره بهر ته اوځي نو داسې دلکش جامې اچوه چې ښځه په تافخر كوي.

داسې کپړې مه اچوه چې ښځه درته اووائي : چې په دې حال کې او په دې کپړو کې زه درسره بهر ته نه اوځم .

جابر بن عبد الله رضي الله عنه فرمائي : چې نبي عليه السلام زما خواله راغے نو يو سړے ئې اوليدلو چې ويښته ئې ګډ وډ وو نو نبي عليه السلام اووئيل :

«أَمَا كَانَ يَجِدُ هَذَا مَا يُسَكِّنُ بِهِ شَعْرَهُ» [1]

**﴿ترجمه﴾** : دې سړي ته څه ميلاؤ نه شو چې دې پرې دا ويښته برابر کړي وے .

يو بل کس ئې اوليدلو چې هغه خيرنې کپړې اچلې وې نو نبي عليه السلام اووئيل :

«أَمَا كَانَ هَذَا يَجِدُ مَاءً يَغْسِلُ بِهِ ثَوْبَهُ» [2]

**﴿ترجمه﴾** : دې سړي ته اوبه نه ميلاويدې چې دې خپلې کپړې وينځلې وے .

ځکه خو ابو هريره رضي الله عنه فرمائي : چې نبي عليه السلام فرمائيلي دي :

«مَنْ كَانَ لَهُ شَعْرٌ فَلْيُكْرِمْهُ» [3]

---

[1] سنن ابي داود بَابٌ فِي غَسْلِ الثَّوْبِ وَفِي الْخُلْقَانِ ٤٠٦٢

[2] سنن ابي داود بَابٌ فِي غَسْلِ الثَّوْبِ وَفِي الْخُلْقَانِ ٤٠٦٢

[3] سنن ابي داود بَابٌ فِي إِصْلَاحِ الشَّعَرِ ٤١٦٣

**﴿ترجمه﴾** : چې کوم کس ویښته لري نو ښکارده چې هغه دې د هغې صفائي خیال ساتي .

بعض وخت زنانه خاوند ته ځان ښائسته کړي او خاوند د بازار یا دکان یا د پټي نه راشي نو کور کې چې کله ښځه اوویني چې هغې صفا کپړې اچولي وي او مخ ، لاس ئې وینځلي وي یا یې شونډې سرې کړې وي یا ئې رانجه لګولي وي نو خاوند له غصې نه سور شي چې دا په مونږ څه تیر شو او څه تیریږي مونږ ستړي ستومان یو هر طرف نه ټینشن ټینشن وي او تا لا پکې ځان هم ښائسته کړے دے کاروبار بالکل نشته دکانداري نه کیږي او مونږ خپله پریشان یو او ته وزګاره ئې کله سترګې تورے او کله شونډې سرې کوې نو هغه غریبه په صفا کپړو اچولو ستومانه کړي نو هغه بیا همیشه په خیرنو کپړو کې ګرځي او دا خاوند چې بیا کله بازار کې یو زنانه په ښائسته شکل کې ، په ښائسته کپړو کې او ښائسته حالت کې اوویني نو بیا ټوله ورځ د هغې په زړه کې ګنده خیالات ګنده سوچونه د ګناه ارادې وغیره پیدا کیږي .

مختصر دا چې بله زنانه ئې ښائسته خوښه وي خو د خپلې زنانه ښائست او صفا کپړې نه شي برداشت کولے نو دا غلط کار دے .

بعض خاوند هر وخت خیرن خیرن ګرځي که ښځه ورته اووائي چې لږ ځان صفا کوه نو هغه غصه شي او اووائي : چې مونږ سره د رو ټۍ

د خوړلو وخت نشته او ته د صفائي خبره کوې مونږ خپل سر ګرولو ته نه وزګاریګو او ته نورې نورې قصې کوې .
ځکه رسول الله علیه السلم فرمائي :
«إِنَّ اللَّهَ جَمِيلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ» [1]
**﴿ترجمه﴾** : الله تعالی ښائسته دے او د ښائست سره مینه کوي .
د نبي علیه السلام په باره کې عائشه رضي الله عنها فرمائي :
نبي علیه السلام چې به کله کور ته داخلیدو نو اول به هغه مسواک کولو .
نو د عقلمند سړي دا نشانی ده چې هغه هر وخت ترو تازه اوسیږي .
دا نبوي سنت دي .
او صفائي سره په معاشره کې هم ښه اثر پریوځې او د سړي عزت کیږي.

## د کورودانې په کارونو کې دلچسپي اخله

انسان دا غواړي چې زما د خیالاتو موافق انسان دې ما ته میلاؤ شي چې زما او د هغې نظریه ، سوچ او فکر او خیالات یو شان وي همدغه معامله د ښځې او د خاوند هم وي هغوي هم د یو بل په کارونو کې دلچسپي غوښتل غواړي .

[1] صحیح مسلم بَابُ تَحْرِيمِ الْكِبْرِ وَبَيَانِهِ ٩١

کله نا کله ښځه او خاوند د یو بل په کارونو کې دلچسپي اخلي نو بیا په یو میاشت نیمه کې هغوي یو بل ته دومره نزدې شي چې دواړو خبرې او نظریه یو شان وي د یو بل په کارونو کې دلچسپي اخستونکي د یو بل ښه دوستان وي .

که ته د خپلې کورودانې سره دوستي کول غواړې نو لګ سوچ اوکړه چې ستا کورودانه څه شے ډیر خوښوي او په کومو ځیزونو کې هغه ډیر معلومات لري نو ته هم په هغه ځیزونو کې ډیر دلچسپي اخله .

او کله نا کله د خپلې بي بي سره په هغه کارونو کې خبرې کوه

په کومو کې چې هغه دلچسپي اخلي نو ته د خاوند سره سره به بهترین دوست جوړ شې او دا طریقه نبي علیه السلام هم اختیار کړې ده .

عائشه رضي الله عنها فرمائي : چې نبي علیه السلام د تبوک غزا نه واپس

شو نو زما د کمرې په طاق باندې یوه کپړه زوړنده وه نو هوا شروع شوه او د هغې کمرې د طاقونو کپړه اوچته شوه نو د هغې د لاندې ګوډیانې ښکاره شوې نو نبي علیه السلام تپوس اوکړو چې اے ! عائشه دا څه دي نو ما اوویل : یارسول الله دا خو زما ګوډیانې دي نو په دغه وخت کې نبي علیه السلام د هغه ګوډیانو په مینځ کې یو اس (ګوړه) اولیدو نو نبي علیه السلام تپوس اوکړو چې د دې اس

خو وزرې دي او د اسونو خو وزرې نه وي .
نو عائشه رضي الله عنها اوفرمائيل : چې ولې تا نه دي اوريدلي چې د سليمان عليه السلام دوه اسونه وو او د هغوې وزرې وې ؟
نو نبي عليه السلام چې کله دا خبره واوريدله نو اووئي خندل تردې چې ما د هغې د جامې غاښونه اوليدل .[1]
دلته غور او فکر اوکړه چې نبي عليه السلام د ګوډو سره هيڅ شوق او دلچسپي نه وه ليکن بيا هم نبي عليه السلام د خپلې بي بي د زړه خوشحالولو دپاره د هغې په کارونو کې دلچسپي اخستې ده .
يو خاوند وو هغه ډير عقلمند وو هغه کور جوړولو خپلې ښځې ته ئې اوويل : دا د کور نقشه واخله او چې ستا څنګه خوښه وي نو هغه شان کور به جوړيږي البته کچن (باورچې خانه) به زه په خپله خوښه جوړوم .
نو ښځې ئې ورته اوويل : چې کچن خو د زنانو شے دے ؟

[1] وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ غَزْوَة تَبُوك أَو حنين وَفِي سَهْوَتِهَا سِتْرٌ فَهَبَّتْ رِيحٌ فَكَشَفَتْ نَاحِيَةَ السِّتْرِ عَنْ بَنَاتٍ لِعَائِشَةَ لُعَبٍ فَقَالَ: «مَا هَذَا يَا عَائِشَةُ؟» قَالَتْ: بَنَاتِي وَرَأَى بَيْنَهُنَّ فَرَسًا لَهُ جَنَاحَانِ مِنْ رِقَاعٍ فَقَالَ: «مَا هَذَا الَّذِي أَرَى وَسْطَهُنَّ؟» قَالَتْ: فَرَسٌ قَالَ: «وَمَا الَّذِي عَلَيْهِ؟» قَالَتْ: جَنَاحَانِ قَالَ: «فَرَسٌ لَهُ جَنَاحَانِ؟» قَالَتْ: أَمَا سَمِعْتَ أَنَّ لِسُلَيْمَانَ خَيْلًا لَهَا أَجْنِحَةٌ؟ قَالَتْ: فَضَحِكَ حَتَّى رَأَيْتُ نَوَاجِذَهُ.
مشكاة المصابيح بَابُ عِشْرَةِ النِّسَاءِ 3265

نو خاوند ورته اوويل : چې ځکه خو زه جوړوم چې کچن کې ستا وخت ډير تيريږي نو زه غواړم چې دا ستا دپاره داسې انداز کې جوړ کړم چې ټول سهوليات په کې موجود وي .
ګوره خاوند صرف دوه الفاظ د خولې نه اداء کړي دي ليکن ښځه پرې ډيره زياته خوشحاله شوه چې زما خاوند په هغې شي کې ډيره دلچسپي اخلي کوم ځائ کې چې زما ډير وخت تيريږي .
نو ټول کور جوړ شو مګر د کچن ډيزائن خاوند په خپله جوړ کړو او هغې کې د ضرورت او سهولت مطابق ټول سامان اولګولو نو بيا چې به کله هم زنانه کچن ته داخليده نو هر څيز ته به په مينه مينه کتل چې دا زما خاوند په خپله مرضئ باندې جوړ کړي دے .
نو د کورودانې په جائز کارونو کې دلچسپي اخله چې هغې ته دا احساس اوشي چې زما خاوند زما سره ملګرے دے زه يواځې نه يم نو هغه به بيا هر کار کې دلچسپي اخلي او هر کار به په خوشحالئ سره کوي .
سيده فاطمه رضي الله عنها د نبي اکرم عليه السلام لور وه او نبي عليه السلام ته ډيره ګرانه وه او هغه پرې ډير زيات خفه کيدو او هغه ورته د جنت د زنانو سرداره ويلې ده يوځل هغې په کور کې روټئ پخوله نو نبي عليه السلام پرې داخل شو تپوس ترې اوکړو چې فاطمه ! څه کوې ؟ روټئ پخوې ؟ هغې اوويل : آؤ ! نو نبي عليه

السلام د وړو پيړه راواخسته او هغه ئې ګول کړه او سيده فاطمه ته ئې ورکړه چې دا واخله او په تنور کې ئې اولګوه بيا نبي عليه السلام په کور کې کيناستو.

ګوره دا ظاهره کې معمولي شا ن خبره ده سيده فاطمه رضي الله عنها په زړه کې څومره خوشحاله شوي وي چې زما پلار ما له يو پيړه جوړه کړه او زما په کار کې ئې دلچسپي واخسته.

حالانکې روټئ پخول د زنانو کار دے او پيړې جوړول هم د زنانو کار دے ليکن نبي عليه السلام د خپلې لور سره پيړه جوړه کړه.

کله کله زنانه کور کې مشين ته ناسته وي نو خاوند ورته غصه شي چې دا څه شور دې راخستے دے؟

بلکې پکار ده چې خاوند هغې سره کيني او د هغې د کپړو تعريف اوکړي چې ما شاء الله ته څومره ښکلې کپړې ګنډې يا کورودانه سبزي پخه کړي نو د هغې په پخلي کې دلچسپې واخله چې ما شاء الله ته خو يو سبزي په ډيرو قسمونو پخوې.

نو دې سره به په تا باندې څه بِل نه راځي البته زندګي به دې خوند او مزونه ډکه شي ستا فائده ده په کې که سوچ اوکړې.

# يوسرې خپل سخر ته خط او ليکل

يو سرې خپل سخر ته په داسې الفاظو خط اوليکولو

زما تره زما پلاره او زما دوسته

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

زه ستا ډير شكر ګذار يم چې تا ماله يو ښائسته رنګ والا او ښائسته سيرت والا لور په نكاح راكړه كه زه ورسره سختي كوم نو هغه راسره نرمي كوي او زما دومره خدمت كوي چې خپل ځان ترينه هير وي او زما د راضي كولو هر وخت كوشش كوي زما خفګانونه ئې په خوشحالو بدل كړل زما په زندګئ كې د بهار مثال لري زما وحشت او تنهائي ئې ختمه كړې ده زما سستي ئې په چستئ سره بدل كړې ده زما مړاوې زندګي ئې تروتازه كړه ، ديني فرائض او اركان په اداء كولو كې دا زما سره مدد او تعاون كوي زه خو چې د زنانو متعلق كوم كتاب ګورم نو زه دا محسوسوم چې ګنې دا كتاب زما ښځې ليكلے دے ځكه په هغې كتابونو كې چې څومره خبرې ليكلې دي نو هغه ټول ښه عادات زما په ښځه كې موجود دي بهر كيف د دې په ښه تربيت باندې زه تا ته مباركي دركوم هغه په ډير ښكلي انداز كې د بچو تربيت كوي او د هغوي سره ډير ښه سلوك كوي د دې دپاره چې مستقبل كې هغوي نه نيكان صالحين بهترين استاذان باعمله داعيان او جهاد كونكي مجاهدين جوړ شي او ستا لور زما

خدمت له هم وخت ورکوي او د خپل رب سره هم د شپې په تهجدو کې سرګوشي کوي زه د هغې سره او هغه زما سره واده باندې ډير خوشحاله يو هغه زما خيال ساتي او زه د هغې خيال ساتم هغه زما د آرام وخت پيژني .

يو ځل يو سړے زما خواله راغے د څه کار په سلسله کې او هغه غوښتل چې ماله څه رشوت راکړي او ما ته ئې اوويل چې دا ستا دپاره تحفه ده نو زما ښځې زه منع کړم چې دا تحفه نه ده بلکې رشوت دے ځکه که چرته دې سړي د کار په سلسله کې تا ته ضرورت نه وے نو تا له ئې دا تحفه نه درکوله نو زه ډير حيران شوم د خپلې کورودانې د تربيت او عقلمندئ باندې زما ښځه هميشه ماته ترغيب راکوي  چې زکات ورکوه صدقې کوه زما ښځه د مونځ ، تلاوت ، اذکارو ، نوافلو ، او د نورو عباداتو ډيره پابندي کوي .

دروغ ، غيبت ، چغلي ، کنځل ، خيرو ، بغض ، بې هوده خبرو ، او فضول خندا نه سخت نفرت کوي .

زه به مختصر دا اووايم : چې هغې کې بيشماره خوبيانې دي .

زه خپلې خبرې ختموم ،،،،والسلام عليکم ،،،،

## ځوانه دا هم واوره

کوشش کوه چې د نامحرمو زنانو سره خبرو اترو نه د خندا اوګپ شپ نه ځان ساتې .

ځکه چې دا په شریعت کې سخت حرام کار دے د دې دنیاوي نقصانات هم وي او آخروي نقصانات هم دي د هغې وجه دا ده چې بعض وخت به د نا محرمه ښځې سره ناست ئې د هغې سره به خبرې کوې نو ستا په زړه کې به قسما قسم خیالات ، فکرونه ، سوچونه راځي بلکې بعض وخت به د ګناه اراده هم راشي نو ستا نه به داسې غلطي اوشي چې بیا به ټول عمر خفه ئې اوشرمیږې به او افسوس به کوې چې کاش ما داسې نوے کړي .

د یو صالح او نیک سړي باره کې راځي چې هغه یو مجلس ته لاړو نو یوه زنانه راغله او خپل لاس ئې وروړاندې کړو د دې دپاره چې د عالم سره لاس میلاؤ کړي لیکن عالم د هغې سره لاس میلاؤ نه کړو نو هغه زنانه اوشرمیده او ډیره خفه شوه نو دې صالح سړي هغه راوغوښته او ورته ئې اوویل : چې زه تا ته صفاصفا خبره کوم ایا ته اجازت راکوې؟

نو هغې اوویل : ته څه ویل غواړې ؟

نو صالح انسان اوویل : چرته که زه ستا سره لاس میلاؤ کړم او ستا لاسونه ماته نرم محسوس شي نو زما ښځه غریبه به زما د نظر نه پریوځي او که ته زما سره لاس میلاؤ کړې او زما لاس تاته د خپل خاوند د لاس نه زیات نرم ، ښکلے او ښه محسوس شي نو هغه به ستا د نظر نه پریوځي .

نو مونږ د يو بل سره لاسونه ميلاؤ نه کړل او هر يو په خپل خاوند او په خپله ښځه باندې راضي اوسي نو دا ولې ښه خبره نده څه ؟

نو اے ځوانه! که ته غواړي چې تا له الله تعالی د قيامت په ورځ ښکلې او مزيدارې حورې درکړي ، ښکلي لاسونه ، غټو سترګو والا اوچت قد والا او ناشنا ښائست والا ، مينه کونکې وفا کونکي حورې درکړي نو په د نيا کې د نا محرمه ښځو سره ګپ شپ مه لګوه ، د نا محرمه زنانو سره په نرمه لهجه کې خبرې اترې مه کوه په هغوي کې دلچسپي مه اخله د هغوي نه ځان ساته .

ځکه رسول الله عليه السلام فرمائي چې نظر د شيطان د غشو نه يو غشے دے په دې با ندې هغه جاهلان ښکار کوي .

يو بل حديث کې دي نبي عليه السلام فرمائي : دوه ک سان ښځه او سړے دې ځانله ځائي کې نه کيني کله چې هغوي غير محرمه وي ځکه دريم د هغوي سره شيطان دے .

## په خپل قسمت باندې راضي شه

ګوره تاله چې الله تعالی کوم بدن ، مال ، اولاد ، کور ، زمکه، او صلاحيت درکړے دے نو په هغې باندې راضي اوسه .

قرآن کې الله تعالی فرمائي :

فَخُذْ مَا آتَيْتُكَ وَكُنْ مِنَ الشَّاكِرِينَ [1]

تاله چې ما څه درکړي هغه واخله او شکر اوباسه .

تاسو د سیرت او تاریخ کتابونه اوګورئ مخکې زمانه کې ډیرداسې خلق او علماء تیر شوي دي چې هغوي ډیر غریبانان وو د هغوي سره اوچتې بنګلې ، ښکلې ګاړي ، فراخه زمکې ښائسته خوراکونه او مزیدار لباس نه وو د دې باوجود هغوي په معاشره کې ناشنا تبدلیانې راوستې دي په دنیا کې د هغوي لوي مقام وو ، د ښه کردار خاوندان وو ، هغوي عامو ا نسانانو ته فائدې رسولې دي ، د هغوي په مقابله کې ډیر داسې خلق وو چې هغوي مالداره هم وو ، ښائسته هم وو ، د اوچت نسب او خاندانونو سره د هغوي تعلق وو لیکن د حق اتباع نه کولو په وجه باندې د بې عزتئ ، ضلالت ، او بدبختئ زندګي ئې تیره کړه .

ستا سره به ناشنا ناشنا عالمي ډګریانې وي ، غټ کور به دې وي ، قیمتي ګاړي به درته ولاړ وي ، ناشنا قسم خوراکونه به هم کوې لیکن بیا به هم ته د الله تعالی په نیزد یو ذلیله انسان ئې .

که ته غواړې چې د آرام راحت او خوشحالئ زندګي تیره کړې نو کوم شکل او صورت چې تاله الله تعالی درکړے دے په کوم خاندان

[1] سورة الأعراف آية 144- 145.

کې چې الله تعالی ته پیدا کړے ئي ، او کوم آواز چې تا له درکړے شوے دے کومه پوهه او عقلمندي او کوم مال چې تاله درکړے شوے دے په هغې باندې راضي شه .

ګورئ په تاریخ کې داسې ډیر خلق تیر شوي دي چې هغوي غریبانان وو بیا هم هغوي یو غټ نوم پیدا کړے وو .

عطاء بن ابي رباح رحمه الله د خپلې زمانې یو عظیم محدث ، مفتي او عالم وو حالانکې هغه یو ازاد کړے شوے غلام وو د رنګ نه تور وو ، چیته پوزه ئي وه ، ګنجے سر ئي وو .

احنف ابن قیس رحمه الله په عربو کې د ټولو نه زیات حلیم او صبرناک سړے وو وچ کلک ، کمزورو او نرو پونډ و والا وو .

اعمش رحمه الله د خپلې زمانې یو لوي محدث وو دا هم یو ازاد کړے شوے غلام وو کمزوري نظر والا ، انتهائي غریب وو.

بلکې د انبیاؤ زند ګئ ته سوچ اوکړه اکثرو انبیاؤ ګډې بیزې څرولي دي داود علیه السلام لوهار وو زکریا علیه السلام ادریس علیه السلام درزي وو نبي علیه السلام او موسی علیه السلام ګډې بیزې څرولي دي حالانکې دا هغه خلق وو چې په ټولو انسانانو کې د هغې لوي مقام او فضیلت وو .

نو ته هم په خپل قسمت با ندې راضي اوسه .

# ایا ته خوشحالي غواړې ؟

د الله تعالی په خپل بنده باندې بې شماره احسانونه او نعمتونه دي **مثلاً** : نمر، سپوږمۍ، هوا، خوراک، اوبه سترګې ،لاسونه غوږونه ، ښپې او صحت ښځه ، بچي وغیره ډیر احسانات کړي دي یو احسان ئې دا هم دے چې انسان له د زړه قرار، سکون، خوشحالي او ارم ورکړے دے .

نو زړه غټ ساته بغض او حسد زړه کې مه ساته ځکه چې زړه څومره مضبوط او صفا وي نو روح هم دومره خوشحاله وي چې کوم انسانان ځانونه د صبر عادي کړي نو غټې غټې پریشانیانې بیا داسې انسان ته هیڅ نه ښکاري .

کله نا کله بهر ته وتل په دې کائنات کې غور او فکر کول دې سره هم غمونه کمیږي عبث سوچونه مه کوه ځان په څه کار مصروف ساته که ته دا خپل ذهن خالي پریږدې نو دا به زاړه زاړه یادونه مخې ته کړي او هغه خبرې چې ستا به هغې ته سوچ هم نه وي و هغه به درته رایاد شي ستا د پیدائش نه واخله تر اوسه پورې دا ټول پائلونه به کولاؤ کړي ستا د تکلیفونونه ډکه ماضي او د تیارې نه ډک مستقبل به ستا مخې ته کیږدي نو ستا ټول بدن به دې سره اوخوځیږي بیا که ستا ښځه کې معمولي غلطي هم وي نو ته به بیا ځان ته کنځلې کوې چې ما ولې دې سره واده کولو د دې په ځائې

خو چې ما د فلانکئ فلانکئ سره واده کړے وے نو ښه به وے هغه فلانکئ د کاکا لور سره او فلانکي ماما لور سره فلانکئ ترور لور سره فلانکې ګاونډئ سره نو که چرته ستا ذهن ته داسې وسوسې او خيالات راځي نو خپل سوچ او فکر بدل کړه .

بل اصول دا هم دي چې دنيا له به ډير ا هميت نه ورکوې ځکه چې په دې دنيا کې په انسان باندې د غمونو باران کيږي ځکه دا بې وفاء ده او بې فاء څيز سره د حد نه زيات محبت کول عقلمندي نه ده د دې ښائست د دې چمک دا هر څه هر څه ګپ شپ او ختميدونکي دي څوک چې دې کې پيدا شوي دي نو هغه به مري.

د دې چې کوم سردار وي د هغې سره حسد کيدے شي او څوک چې احسان کونکے وي نو هغه له دهمکيانې ورکولےشي .

خفه کيږې ولې ؟

که بالفرض ته محتاج ئې نو نور ډير خلق قرض دار دي .

که ستا سره ګاړے نشته نو ډير خلق د ښپو نه محروم وي .

که ستا په سر درد وي نو ډير خلق داسې دي هغوي د مودو نه په هسپتالونو کې پراته دي .

که ستا يو ځوي مړ شوے وي نو داسې خلق شته چې د هغوي درې او څلور ځامن په يو وخت کې مړه شوي دي .

او ته ولې خفه کيږې ته مسلمان ئې الله تعالی او رسول ملائک او

يوم الآخرة مني او په تقدير باندې ايمان لرې .
ډير داسې خلق شته چې هغوي د الله او د يوم الآخرة نه منکر دي .
که تا نه څه غلطي شوي وي نو توبه به اوباسې مغفرت به طلب کړې د غلطۍ اصلاح به اوکړې غم مکوه ځکه د غم په وجه به ستا د شپې خوب اوتښتي زړه به دې پريشانه وي د دنيا هيڅ نعمت به درله خوند نه درکوي .
ستا کورودانه ستا دپاره د الله تعالی د طرف نه يو عظيم نعمت دے د دې قدر اوکړه چې ستا په کور وداني کې بعض داسې ښکلې خوبياني وي چې کيدے شي هغه په ډيرو زنانو کې نه وي کيدے شي بعض وخت ته د هغې خوبيانې د غصې په وجه نظر انداز کړې، او بعض وخت د ناپوهۍ په وجه نظر انداز کړي او کيدے شي بعض وخت د هغې ښکلے عادت ته به بې پرواهۍ د وجې نه نظر انداز کړې.
نو که چرته ته په حقيقي معنو کې خوشحالي غواړې او د هغې خوشحالي په لټون کې ئې نو دا خوشحالي د خپلې کوروداني نه فوراً لاس ته کړه .
ډير خلق د کور نه بهر خفه وي غمژن وي ، پريشانه وي ليکن چې کله هغوي خپل کور ته داخل شي او په خپل کور والا او بچو باندې ئې نظر اولګي نو خفګان ئې په خوشحالۍ باندې بدل شي ،که تا له

الله تعالى مینه کونکې ، وفاء کونکې ، بااخلاق ، باکراده زنانه درکړي وي نو سل کرته شکر اوباسه او د الله تعالى احسان عظیم په ځان اوګڼړه او په خپل قسمت باندې فخر اوکړه دا ستا خوش قسمتي ده.

که خوشحالي اوراحت غواړې نو د آخرت زندګي ډیره یاده وه مرګ ځان ته حاضر کړه او هغه خلق چې دنیاوي مال او اسباب کې کمزوري وي هغوي ته سوچ او فکر اوکړه او د هغوي د حال نه عبرت واخله او د الله تعالى نه امید ساته او د هغې نه ما یوسه کیږه مه .

په تقدیر باندې خوشحاله شه او زړه په دې مطمئن کړه چې د اوس چې څه کیږي نو دا زما د پیدائش نه مخکې لیکل شوي دي .

نو دې سره به ستا زندګي د خوشحالۍ نه ډکه شي .

## د کوروداني سره مینه کوه

د حسن معاشرت او مزیدار ژوند دپاره د ښځې او خاوند یو بل سره مینه کول ضروري دي لکه څرنګه چې سړے دا غواړي چې زما سره زما ښځه مینه اوکړي او زما جائز خواهش دې پوره کوي نو همدغه رنګه زنانه هم دا غواړي چې زما خاوند دې زما سره مینه اوکړي لیکن عام طور باندې زنانو کې حیاء ډیره وي نو هغوي بعض وخت اظهار نه شي کولے .

نو خاوند له پکار دي چې د خپلې کوروداني سره دي ښه ډيره مينه کوي ځکه چې هغه هم زړه لري چې  بل سړی ته د هغې سوچ او توجه پيدا نه شي ښځې سره خندا ګپ شپ او د مينې خبرې کول پکار دي او ښځې سره لوبې کول نبوي سنت دي .

ځکه چې نبي عليه السلا م فرمائي :

لَيْسَ مِنَ اللَّهْوِ إِلَّا ثَلَاثٌ: تَأْدِيبُ الرَّجُلِ فَرَسَهُ، وَمُلَاعَبَتُهُ أَهْلَهُ، وَرَمْيُهُ بِقَوْسِهِ وَنَبْلِهِ[1]

لوبې درې قسمه دي

۱ ـ خپل اس تيارول .

۲ ـ د خپلې ښځې سره لوبې کول .

۳ ـ د غشو ويشتلو مشق کول .

همدا رنګه نبي عليه السلام ثيبه (طلاقه کړے شوې ، کونډه) په ځائې د پيغلې سره د  واده حکم او ترغيب ورکړے دے او د هغې وجه ئې دا بيان کړې ده چې دوا ړه د يو بل سره لوبې کوي يوبل ته د محبت اظهار کوي د مينې خبرې دې کوي د يو بل سره .

د مشرې زنانه سره نوجوان د محبت هغه شان اظهار نشي کولے څنګه چې د پيغلې سره د محبت اظهار کوي .

[1] سنن ابي داود بَابٌ فِي الرَّمْيِ ٢٥١٣

نبي علیه السلام باره کې راځي چې کله کله به هغې اودس اوکړو او خپله بي بي به ئې ښکل کړه او بیا به مانځه ته اووتلو حتی چې د روژې په حالت کې به ئې هم دا کار کولو.

د دې وجې نه په شریعت مطهره کې د داسې عبادت نه یا په عبادت کې د غلو نه منع کړے شوې ده چې د زنانه حق په کې وهلے شي.

چې ښځه ټوله شپه د خاوند انتظار کوي او خاوند حاجي صاحب په نوافلو ولاړ وي او ټوله شپه په عبادت کې تیروي او دو رځې روژې نیسي نو په اسلام کې د داسې عبادت ګنجائش نشته او نه د داسې عبادت اسلام اجازه ورکوي.

د سیدنا عبد الله بن عمر رضي الله عنه واقعه مخکې تیره شوه چې هغې به ډیر عبادت کولو او ښځې له به ئې موقع نه ورکوله نو نبي علیه السلام ته چې کله پته اولګیده نو هغه ئې منع کړو چې داسې مه کوه ځکه ستا د ښځې، ستا د جسم، ستا د سترګو، هم په تا باندې حق دے.

د خپلې ښځې سره د مینې محبت خبرې کولو سره هم محبت سیوا کیږي ځکه خو نبي علیه السلام فرمائي:

«إِنَّ مِنْ أَكْمَلِ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا وَأَلْطَفُهُمْ بِأَهْلِهِ» [1]

په مؤمنانو کې کامل مؤمن هغه دے چې د هغې اخلاق ښائسته وي

---

[1] سنن الترمذي بَابُ مَا جَاءَ فِي اسْتِكْمَالِ الإِيمَانِ وَزِيَادَتِهِ وَنُقْصَانِهِ ٢٦١٢

او د خپل کوروالاؤ سره د لطف او محبت زندګي تیروي .
لږ سوچ اوکړئ دغه د ملاطفت لفظ د قرآن کریم د مینځ لفظ دے یعنی د قرآن کریم په ۱۵ سپاره کښې په سورت کهف کښې دا لفظ دے چې کله اصحاب کهف والاؤ خپل ملګرے بازار ته اولیګلو نو هغې ته ئې دا تلقین اوکړو چې ګوره په خبرو کښې نرمي کوه .
ګویا کښې د قرآن په ټولو الفاظو کښې مرکزي لفظ همدا دے چې د نرمئ او محبت معامله کوئ .
لیکن د افسوس خبره دا ده چې نن بعض سړي په کور کښې د جابرانو او ظالمانو رویه خپلوي بلکې ډیر دینداره خلق وي لیکن د دین باوجود هغوئ د کور والاؤ سره سختي کوي نو دا ښه طریقه نه ده .
پکار ده چې زمونږ په غصه باندې زمونږ محبت غالب وي .
بلکې د بعض صحابو باره کښې راځي چې هغوي د روټئ نوړئ د خپلو بی بیانو په خوله کښې ورکولې .
په ظاهره کښې دا معمولي کار ښکاري لیکن په حقیقت کښې دا د محبت د سیوا کولو ناشنا طریقه ده .
لږ د خپل مهربان او قدرمن نبي علیه السلام سیرت اوګوره نبي علیه السلام یو ځل کور ته داخل شو نو اوئې کتل چې عائشه رضي

الله عنها جام په لاس کې راخستے دے اوبه څکي نو نبي عليه السلام ورته اواز اوکړو چې اے ! حميرې .
نبي عليه السلام ورته د مينې نه حميره اوويله .
حالانکې د عائشه رضي الله عنها نوم حميره نه وو ليکن د مينې نه ئې ورته دا لفظ ويلو د هغې د زړه خوشحالولو دپاره ،
د دې نه دا معلوميږي چې ښځې ته داسې نوم اخستل دا نبوي سنت دے چې په کوم باندې ښځه خوشحاليږي .
بعض خاوندان خپلې ښځې ته سپک نومونه اخلي چې زنانه له په زوره غصه ورولي او بعض خو د خلقو په مخکې ورته غلط غلط نومونه اخلي (د هغې نومونو ذکرکولو ته دلته ضرورت نشته) او بيا يو بل ته ژاړي چې زما ښځه زما عزت نه کوي نو خاورې ستا عزت کوي ؟
ته د هغې بې عزتي کوې او د هغې نه د عزت طمع لرې ؟
دا خو داسې مثال لري لکه چې ته چاله لاسونه او ښپې اوتړې او سيند (سمندر) ته ئې ګزار کړې او بيا ورته و ائې چې خيال کوه چې په سمندر کې دې لاسونه او کپړې لمدې نه شي .
ته چې ښځې ته غلط نومونه اخلې ګويا کې په اور باندې پټرول اچوې.
پکار ده چې ښځه او خاوند يو بل ته داسې نومونه اخلي چې د

دواړو یو بل سره مینه سیوا شي نبي علیه السلام اووئیل : اے ! حمیره ما له هم ګلاس کې اوبه پریږده .

لږ سوچ اوکړئ اوبه خو څه کمې نه ې نورې هم میلاویږي مګر د محبت اندازه اولګوئ نبي علیه السلام خپل امت ته دا ښائي چې د کوروداني سره داسې د محبت معامله کوئ .

نبي علیه السلام خپلې بي بي ته وائي چې ما له لږې اوبه پریږده ګنې پکار خو دا وه چې نبي علیه السلام مشر دے برکتي هم دے د هغې په جوټه کې شفاء هم ده او د هغې نه پاتې شوې اوبه چې چاته میلاؤ شي نو دا د هغه کس سعادت دے لیکن داسې د خیر او برکت والا شخص د بل نه مطالبه کوي چې لږ شان اوبه ماله پریږده او عائشه رضي الله عنها نه ئې اوبه راواخستلې نو فوراً ئې اونه څکلې بلکې تپوس ئې تر ینه اوکړو چې اے ! عائشة تا د جام په کوم ځائې باندې خوله کیښودې ده ما ته هغه ځائې اوښایه نو هغې ورته اوویل یارسول الله ولې ؟

نو نبي علیه السلام ورته اووئیل : چې زه هم په هغه ځائې باندې خوله کیښودل غواړم په کوم ځائي ې تا خوله ایښودې وه نو نبي علیه السلام هم په هغه ځائي باندې خوله کیښوده .

دیته وائي محبت ...

دا څومره د افسوس خبره ده چې بعض خلق د کور نه بهر ډیر

بااخلاقه وي او ظاهري شکل د شريعت مطابق جوړ کړے وي لیکن کور کې هغوي ډيره سختي کوي په معمولي معمولي خبرو باندې ئي بلډپريشر هائي کيږي .

هغه به لا څنګه خاوند وي چې هغه کله کور ته ننوځي نو ښځه غريبه د يرې نه کله په يو ګوټ کې پټيږي او کله په بلکې .

د کور نه بهر مونږه واعظين هم يو ، خطيبان هم يو ، عالمان هم يو ، خوش مزاج هم يو ،

خوش اخلاق هم يو ، صبرناک هم يو ، ډير ښکلي عادات وي په مونږ کې مګر کور کې ښځه زمونږ نه تنګه وي زمونږ د لاس نه په اور کې ولاړه وي .

نو د دې دين څه فائده چې ته په دې باندې عمل نه کوې صرف په قيل او قال باندې کار نه کيږي تاسو اوګورئ اکثر د عالمانو بچي بداخلاقه بد تميزه او بې ادبه وي د هغې وجه دا ده چې بعض عالمان نورو ته وعظ او نصيحت کوي ليکن خپله پرې عمل نه کوي .

او زنانه د داسې سړي نه نفرت کوي کوم چې صرف د ويلو والا وي او د عمل والا نه وي .

په معمولي خبره ښځې ته غصه شي او بيا د بچو په مخکې ورته ردې بدې وائي دا خو ښکاره د زنانه بې عزتي ده نو دې سره به په کور

کې څه دين راشي او چې ټوله دنيا کې ته دين خور کړې ليکن چې کور کې نه وي نو ستا دعوت به دومره برکتي او مؤثر نه وي.
نبي عليه السلام به کور کې د محبت او مينې فضاء قائموله نو د هغې نتيجه دا راووتله چې کور کې دننه دومره دين وو چې نبي عليه السلام به فرمائيل: چې زما عائشه خو نيم دين دے کوم چې د بهر زندګئ سره تعلق ساتي نو هغه به صحابو زده کولو او نيم دين کوم چې د کورنئ زندګئ سره تعلق ساتي نو هغه بي بيانو امت ته اورسولو.
نبي عليه السلام فرمائي: چې کله تاسو روټئ خورئ نو ګوتې هغه وخته پورې مه پاکوئ ترڅو پورې چې هغه ئې په خپله نه وي څټلي يا ئې بل چا نه وي څټلي.[1]
شايد ددې مفهوم دا وي چې سړے دې تر هغه وخته پورې ګوتې نه پاکوي تر څو پورې چې خپله نه وي څټلي يائې په کورودانې نوي څټلې او په دې خبره کې شک نشته چې يو بل له ګوتې څټل دا يو اهمه ذريعه د محبت د سيوا کولو ده.
د يو عقلمند نه چا تپوس اوکړو چې هغه کوم کار دے چې هر څوک ئې کولے شي؟

---

[1] سنن ابن ماجه 3269

نو هغه ورته اوويل چې محبت دے ځکه محبت هر څوک کولے شي.

د کور نه بهر د خلقو سره د ګوړې يا متهائي پشان خوږيدل يا د بازارئ ښځې سره نرمي کول دهغې سره محبت کول او د خپلې ښځې سره محبت نه کول دا د انسان کمزوري ده کله چې انسان د با زارئ ښځې سره ميلاؤ شي يا د سکول ، کالج ، يورنيوستۍ زنانه يا استاذې سره خبرې کوي نو دومره په خوږه لهجه کې او دومره مهذب انداز کې خبرې کوي چې ته به حيران شې چې دا سړے خو ډير زيات اخلاقي دے او ډير عظيم انسان دے ليکن همدغه سړے چې کله کور ته داخل شي نو ته به حيران شې چې ده خو د کور نه بهر ډيره نرمي کوله او کور ته چې داخل شې نو داسې معلوميږي چې ګنې ده خپل اخلاق او نرمي هر څه په بازار کې پريښودي دي .
او د حيرانتيا خبره دا ده چې کله هلک واده نه وي کړے نو هغه د خپلې مستقبل کې جوړيدونکې کوروداني سره لوي لوي وعدې کوي چې زه به ستا سره داسې مزيداره زندګي تيرووم او تا سره به مينه کوم او تا به ډيره ښه ساتم بلکې د واده په شپه بعض خلق وعده کوي د ښځې سره چې ستانه زما سرومال قربان دے ليکن چې کله بيا يو کال نيم تير شي نو نه ترينه سر قربانوي او نه مال بيا د لسو روپو په سر ورله سر ماتوي او د سر قربانولو په ځائي بيا د هغې

غریبې سر ته بوټان او چپړې نیولې وي او په وهلو وهلو ئې شنه کړي .
د خپلې ښځې سره مینه کوه ځکه هغه هم زړه لري محبت ته هم هغه محتاجه وي هغه ستا نه مینه غواړي ستا د محبت حاصلولو دپاه هغې خپل مور، پلار، رونړه، خوئیندې خپل خپلوان پریښوې دي .
که صرف د روټۍ خبره وے نو روټۍ خو هغې ته د پلار په کور کې هم میلاویده او کیدے شي ستا د کور نه به ورته ښه روټۍ میلاویده .
نو هغې له مینه ورکړه نو ستا سره به په وچه روټۍ او په ساګ او دالو هم خوشحاله وي.
د محبت په ژبه باندې ته هغه ویلي کولے شې او د هغې نه هر قسم کار اخستلے شې که ته هغې له د محبت لا س ورکړې نو هغه به ستا سره په غرونو هم خیژي په سختو لارو هم درسره مزل کوي په ازغو هم درسره سفر کوي په شرط د دې چې ته هغې له د محبوبې درجه ورکړې او د شریعت په حدودو کې د هغې سره محبت کول نبوي سنت دي او دې باره کې بعض واقعات مخکې تیر شو .
د شریعت په حدودو کې قید مې ځکه اولګولو چې ډیر خلق د ښځې سره په محبت کې غلو کوي .
**مثلاً** : بعض خلق د ښځو سره دومره محبت کوي چې د ښځې د

وجې نه مور او پلار خفه کوې هغوي په ځان بوج ګڼړي او د هغوي سره سختي کوي بلکې د ښځې په وجه د خپل مور او پلار سره يو ځائې اوسيدو ته تيار نه وي ښځه خوشحاله ساتي او مور او پلار خفه کوي مور او پلار ورته د پيزار په شان ښکاري او ښځه ورته سم غر ښکاري داسې کسان مونږ ډير ليدلي دي او ډير وينو نو دا هسې د ښځې غلامي کول دي ديته مينه نه وائي بلکې ديته بې غيرتي وائي : او ديته هم غلو وائي چې د ښځې دپاره او د هغې محبت حاصلولو دپاره د ګناه کار کوې **مثلاً** : ټي وي کيبل ، او نور د ګناه او بې حيائي څيزونه ورله راوړې .

يا هغه ګناه کوي **مثلاً** : مونځ نه کوي ، ګانې اوري ، فلمونه او ډرامې ګوري او ته ورته هيڅ نه وائي يريږې چې چرته ښځه مې خفه نه شي چرته د هغې راسره مينه کمه نشي .

نو داسې به نه کوې بلکې جائز محبت ورسره کوه او هميشه دپاره به ورسره کوې په دې سره به ستا زندګي هم ښه تيريږي او د هغې زندګي به هم په سکون سره تيريږي .

# مثبت سوچ کوه منفی سوچ مکوه

دا خبره په ذهن کې کیده چي منفي سوچ به نه کوې مثبت سوچ به کوې که ستا په کوروداني کې کمزور یاني وي نو هغې کې خوبیانې هم شته او کیدیشی چه هغې کې دومره خامیانې نه وي څومره چه تا کې دې او دا ډیر خراب عادت دي چي ته خپلو غلطیانو ته سوچ نه کوې او بل غلطي نشي برداشت کولے ګورئ د شهد مچئ ته سوچ اوکړئ د هغې سوچ صفا وي د هغې په سوچ کې دننه خوشبوئي وي لهذا دا د باغ په تالاش او لټون کې وي په ګلونو باندې کیني ، په میوو باندې کیني د ګلونو رس څکې او بیا چې کله کیني نو شهد جوړوي او شهد څومره خواګه وي تاسو د هغې نه خبر ئي؟

د دې بر عکس یو ګنده مچئ وي چې هغه خپله هم ګنده وي او د هغې سوچ هم ګنده وي هغه په ګنده ځایونو باندې کیني پوره کور به صفا وي خو چې کله په کور کې ګنده ځائي پاتې شوے وي نو دا به راځي او په هغه ګنده ځائي باندې کیني .

د انسان ښکلے او صفا جسم وي لیکن که چرته په کوم ځائي باندې دانه او خیږي او وینه ترینه روانه شي نو دا هغه ګنده ځائي ته ځان رسوي نو انسانان هم داسې وي بعض صفا او مثبت سوچ والا وي او بعض ګنده او منفي سوچ والا وي د مثبت او منفي سوچ والا **مثال** : یو سړي اوویل : چې خلق خفه کیږي چې د ګلونو سره ازغي وي او

زه خوشحاليږم چې د ازغو سره هميشه ګلونه وي ګورئ چې کوم خلق مثبت سوچ لري نو هغوي په وړو وړو خوشحاليانو هم ډير خوشحاليږي او چې کوم خلق منفي سوچ لري نو د غټو غټو خوشحاليانو باوجود هغوي نه مطمئن کيږي .

مثبت سوچ والا ته د معاشرې خلق په دوروند او عزت نظر با ندې ګوري او خلق ورته هرکلے وائي ځکه داسې خلق خپل خوا او شاه نور خلق د غمونو نه اوباسي او هغوي له د خوشحالئ ورکولو کوشش کوي د مثبت مطلب دے کمول ، ښه ګمان کول ، د خلقو سره همدردي او محبت ، په مشکلاتو کې صبر کول ، خلق معاف کول ، ريشتيا ويل ، سخاوت کول ، وفاداري وغيره دا د مثبت سوچ مثالونه دي د دې بر عکس بدګماني ، نفرت ، بلاجواز تنقيد ، غيبت ، بغض او حسد کم همتي او مايوسي بې صبري ، بخل ، رياکاري ، خود غرضي ، وغيره دا د منفي رويي مثالونه دي او بعض کارونه داسې دي چې وقتي طور باندې هغه انسان ته مثبت معلوميږي ليکن د هغې انجام منفي وي **مثلاً** : يو سړے سيرګټ څکي نو وقتي طور باندې هغې ته لذت او خوند محسوسيږي ليکن د انجام په لحاظ سره هغه منفي وي ځکه د دې نتيجه د صحت تباهي او قسماقسم بيمارياني وي .

يا بالفرض يو طالب العلم دے هغه د ا متحان تيارے کوي نو د

شپې خوب ډېر نه کوي نو په ظاهر کې دا منفي عمل دے لیکن په حقیقت کې دا مثبت عمل دے ځکه چې مستقبل کې د دې انجام ښه وي د کامیابۍ په شکل کې د کامیابۍ انحصار په مثبت سوچ باندې وي ځکه په سوچ سوچ کې بعض وخت ریشتې خرابیږي خپلوان پردي کیږي نفرتونه پیدا کیږي بلکې بعض وخت د سوچ په وجه باندې دشمنیانې پیدا کیږي چې کله سوچ کې خرابوالے راشي نو د دې برعکس چې کله سوچ صحیح وي نو سړے په خیمه او جونګړه کې هم د خووشحالۍ زندګي تیروي د زرګونو پیغورونو باوجود هغه د اطمینان ژوند تیروي .

د مثبت او ښه سوچ په وجه باندې پردي خلق خپلیږي .

ما د ډېر وخت نه دا سوچ کولو چې ډیرې خبرې داسې دي چې د منفي سوچ په وجه باندې هغه دومره ورانې شي چې د هغې بیا صحیح کولو کې ګینټې نه بلکې هفتې او میاشتې لګیږي .

بعض وخت د منفي سوچ په وجه انسان لیونے شي او د وهم بیماري ورته اولګي **مثلاً** : تاسو به لیدلي وي بعض خلق سوچ کوي چې که زما دا لور دغه شان پاتې شي او دې پسې رشته رانه شي نو څه به کیږی؟

که نوکري میلاؤ نه شي نو څه به کیږي ؟

د رزق بندوبست به څنګه کیږي ؟

نو دا سوچ بعض وخت انسان ليونے کړي .
د مثبت سوچ نه ښه ښه خيالات پيدا کيږي چې ته چرته هم ئې **مثلاً**: بازار کې ئې ، دکان کې ئې ، دفتر کې ئې ، کور کې ئې ، نو په مثبت څيزونو نظر ساته .
او د منفي سوچ والاؤ خلقو مثال داسې دے لکه په ګندګئ کې ګلونه تالاش کول .
د مثبت سوچ والا خلق د مضبوط اعصابو مالک وي د هغوي يقين پوخ وي او د هغوي سوچ اوچت وي او د هغوی کردار مستحکم وي داسې خلق په مشکلاتو کې خپله لاره کولے شي .
نو ته هم د کورودانې متعلق مثبت سوچ لره **مثلاً** : ستا کورودانې نه سالن کې مالګه سيوا شي نو منفي سوچ مه کوه چې دا کار دې قصداً کړے دے او دا خو ما ميلمنو ته شرمول غواړي وغيره وغيره .
بلکې دا سوچ اوکه چې کيدے شي هغه پوهه شوي نه وي کيدے شي د هغې به خيال نه وو داسې په زرګاؤ مثالونه دي نور ته په خپله سوچ کوه هره خبره په کاغذ واضحه کول ضروري نه وي .

# د خبرو کولو طریقه یاده کړه

په خپل چم ګاونډ کې اوګورئ او سوچ اوکړئ نو تاسو ته به اندازه اوشي چې ډیرې دشمنیانې ، خفګا نونه ، تعلقات ، خرابیدل ردې بدې کنځلې ، او د پیغورونو سبب هغه د ژبې غلط استعمال دے .

ډیر انسانان داسې دي چې هغوي د خبرو کولو په طریقه نه پوهیږي په خنداخندا او ګپ شپ کې د هغوي د خولې نه داسې الفاظ اوځي چې بیا ټول عمر خفه او پریشانه وي او ځان ته کنځلې کوي چې کاش فلانکي وخت کې فلانکۍ خبرې ما نه وے کړې نو ښه به وے .

نو اے زلمیه ! ته هم کوشش کوه چې خبله ژبه په احتیاط سره استعمال کړې .

خبرې کول هم مهارت غواړي او د هغې مهارت ځان کې پیدا کړه **مثلاً** : کورودانه ستا په مخ کې خبره شروع کړي او ته د هغې خبره په نیمه کې کټ کړې یا ته هغې ته اووائې چې چپ شه خبرې مه کوه زما خبرې ته غوږ شه نو دې سره به د هغې د زړه نه ستا احترام اوځي هغې چې کومه خبره شروع کړي وي نو هغه په نیمه کې پاتې شي نو دا ښه کار نه دے .

بلکې د کور ودانې ښه پوره خبره واوره که د هغې خبرې فائده مندې وي نو اوئې منه او که خبره ئې غلطه وي نو د هغې اصلاح

اوکړه نو د دې فائده به دا وي چې د هغې د احساساتو پته  به هم تا ته اولګي او ستا مقام به د هغې په زړه کې نور هم سیوا شي .
دارنګې که ته خبره کوې نو په سوچ سمجهـ سره ئې کوه د دې مثال به زه داسې درکړم چې یو بادشاه یو خوب اولیدلو او په خوب کې ویني چې د دې ټول غاښونه راپریوتي دي په نمبر نمبر باندې نو سحر ئې د خوب ویستونکي خلق راوغوښتل او هغوي ته ئې خپل خوب بیان کړو او د تعبیر ویستونکو نه مطالبه اوکړه نو هر کس به ورته ویل چې ستا د خوب تعبیر دا دے چې ستا ټول اولاد به مري ستا په ژوند کې نو بادشاه په دې تعبیر باندې ډیر خفه شو او حکم ئې اوکړو چې دا ټول خلق دې جیل ته واچولے شي نو یو تعبیر ویستونکے په کې ډیر عقلمند او هوښیار وو چې کله د هغې نمبر راغے نو هغه ورته اوویل : چې بادشاه سلامت تا خو ډیر ښکلے خوب لیدلے دے د دې خو ډیر ښکلے تعبیر دے هغه تعبیر دا دے چې الله تعالی به تاله ډیر زیات عمر درکوي او ډیرې زمانې پورې به ستا بادشاهي وي نو بادشاه خوشحاله شو او حکم ئې اوکړو چې د دې دپاره دې قیمتي قیمتي انعامات راوړلے شي چې کله هغه سړے کور ته روان شو نو ملګري ورسره میلاؤ شو او ورته ئې اوویل : چې تا خو تعبیر  بدل اوویستو نو هغه ورته اوویل : چې زمونږ د ټولو تعبیر یو شان وو لیکن زما د نورو ملګرو سره د خبرو مهارت نه

وو ما بادشاه ته اوویل : چې ستا عمر ډیر دے .
نو مقصد دا دے چې ستا ټول اولاد به ستا په مخکې مري لیکن هغه خبرې ته سوچ او نه کړو ظاهره خبره ده چې ستا عمر ډیر شي نو ستا بچي به ستا په مخکې مري نو دیته وائي په خبرو کې مهارت .
بله خبره دا چې که چرته ته خپلې کورودانې ته نصیحت کول غواړې نو مخامخ د خلقو په مخکې هغې ته خبرې مه کوه بلکې د عقلمندئ مظاهره اوکړه او په تنهائي کې هغه پوهه کړه نو ستا خبرې به په هغې باندې اثر اوکړي .
څکه یو شاعر وائي :
وَكَائِنْ تَرَى مِنْ صَامِتٍ لَكَ مُعْجِبٍ ... زِيَادَتُهُ أَوْ نَقْصُهُ فِي التَّكَلُّمِ
ډیر داسې خلق شته چې د هغې خاموشي به تا په تعجب کې واچوي.
لیکن کله چې هغوي خبرې شروع کړي نو د هغوي په بې عقلئ باندې به اوخاندې او حیران به شې .
یو بل شاعر وائي :
د انسان ژبه د هغې نیمه حصه ده او نیمه حصه د هغې زړه دے د دې نه ماسیوا نور جسم خو صرف د غوښې او د وینې مجموعه ده .
ابو حاتم وائي : هغه انسان څومره بهترین دے چې هغه ستا خبرې په توجه سره اوري حالانکې هغې به دا خبرې ستا نه مخکې لس کرته

اوريدلي وي او چې کله خبره کوي نو په داسې ښکلي انداز کې ئې کوي چې ته به وائې چې کاش چې دې هر وخت خبرې کولے.

چې ته د کور ودانې سره يا د بل دوست وغيره سره خبرې کوې نو په داسې موضوع باندې خبرې کوه چې کوم کې هغه دلچسپي اخلي او هغه ئې په اوريدو کې شوق ساتي.

بله خبره دا چې خبرې کوې نو په ترتيب سره ئې کوه او چې کومه خبره کوې نو سر ته ئې رسوه **مثلاً** : تا خبره شروع کړه چې زه بازار ته تلے ووم هلته د فلانکي سره ميلاؤ شوم نو قصه پوره کړه داسې نه چې ته وائې زه بازار ته لاړم بيا چپ شې او بله قصه شروع شي بيا بله قصه نيمګړې پريږدې .

يوه بله واقعه درته بيانوم چې خبرې کولو طريقه څنګه ده .

يو سړے مونځ کولو دپاره مسجد ته روان وو په لاره کې ئې اوليدل چې يو بل سړے کجورې ته ختلے وو او کجورې شوکوي نو ده ورته اووئيل چې اے ! خره دا د کجورو وخت دے بے نمازه کوزه شه الله تعالى دې تباه کړه بې وقوفه تا ته د مونځ وخت ندے معلوم ؟

بيا هغه سړے روان شو د کجورې والاو هم ورته ردې بدې اوويل : هغه بل سړے مسجد ته لاړو مونځ ئې اوکړو واپس خپل کور ته لاړو چې مازيګر په هغه لاره تيريدلو نو بيا ئې هغه کس اوليدلو چې کجورې کې ناست دے او کجورې راکوزوي نو دې سړي

ورته اوويل: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته څنګه ئې روره ؟ صحت دې څنګ دے ؟ الله تعالی دې په کجورو کې برکت واچوه الله تعالی دې تاله رزق حلال درکړي ، الله تعالی دې ستا نه راضي شي او الله تعالی دې تاله جنتونه درکړي د مونځ ټیم پوره دے راځه مسجد ته به لاړ شو مونځ به وکړو او د الله تعالی نه به د خیر او برکت سوال اوکړو او بیا راځه خپل کار کسب کوه نو هغه کهجورې والا سړے راکوز شو او دې بل سړي سره ئې سلام اوکړو غاړه ئې ورله ورکړه او ډیر خوشحاله شو او په لاره لاره ئې ورته خبره اوکړه چې ماسپخین یو بے وقوف راغلے وو او ماته ئې داسې داسې خبرې اوکړې نو ما ورته اوویل : لږ صبر اوکړه زه کوزیږم او تا ته کنځلې دربنایم خو هغه اوتختیدلو او ته خو ډیر زبر دست سړے ئې .

ګوره ځوانه سوچ اوکړه همدغه یو کس وو لیکن ماسپخین ئې انداز بدل وو نو سړے ورسره مونځ ته لانه ړو او مازدیګر همدغه سړے وو لیکن په اخلاقو باندې ئې خبره اوکړه نو هغه سړے هم مطمئن شو او مونځ له ورسره هم روان شو .

نو د خبرو کولو طریقه یاده کړه او د خلقو زړونه اوګټه داسې انداز او لهجه مه استعمالوه چې خلق پرې خفه کیږي **مثلاً** : ستا ښځه د بدن او وجود نه غټه ده نو که ته ورته داسې اووائې : چې ته خو د دمیښې (بهینس) پشان ئې نو ظاهره خبره ده چې په دې باندې به

ستا ښځه خفه شي او که ته ورته داسې اووئې چې ته خو داسې دنګه ئې لکه د چینار پشان او ستا سره دا غټ بدن دا ډیره مزه کوي نو ستا کور ودانه به په دې سره خوشحالیږي بله دا چې کوشش کوه ډیرې خبرې مه کوه بلکې ډیر اوره او لږ وایه .

او دا هم یاد ساته چې ډیر خلق د خپلو ژبو د لاسه غرق شوي دي او په قبرونو کې پراته دي او د دې ژبې د لاسه ډیر خلق معذوران شوي دي په هسپتالونو کې پراته دي په جیلونو کې بند دي .

نو احتیاط کوه د خبرو کولو نه مخکې لږ سوچ کوه لکه اوردو کې یوه محاوره ده ،،،پہلے تولو پھر بولو ،،، یعنی اول خبره تله او بیا ئې کوه .

خلقو له د ښو خبرو تحفه ورکوه داسې خبرې ورته کوه چې هغې سره ئې زړونه ژوندي شي او په هغوي کې تبدیلي راشي کوشش کوه چې خبرې دې مختصر وي او فائده منې وي د مال نه زیات خلقو ته د ښو خبرو ضرورت دے ډیر داسې خاندان مونږ لیدلي دي چې هغوي ښه خوراکونه هم راوړي کور ته ښه کپړې هم راوړي او هر قسم سهولیات ئې کور کې موجود وي لیکن بیا هم د هغې کورودانه خفه وي د هغې وجه دا ده چې خوشحالي په سهولیاتو کې نه وی خوشحالي په ښو اخلاقو استعمالولو کې ده په ښو خبرو کولو کې ده ډیرې زنانه داسې شته چې د هغوې کپړې زړې وي معمولي پیزار ئې وي او په کچه کور کې ژوند تیروي هر قسم سهولیات

ورته ميسر نه وي ليکن بيا هم هغوي د آرام ، خوشحالۍ ، راحت او د سکون زندګي تيروي د هغې وجه دا ده چې ښځې خاوند ښکلي اخلاقو والا وي ښکلي انداز او ښکلې لهجه کې ورسره خبرې کوي .

د نبي عليه السلام زندګي زمونږ دپاره نمونه ده هغې به د خپلو بي بيانو او ملګرو او خادمانو سره په انتهائي ښکلي انداز کې خبرې کولې د هغې بې شماره واقعات او مثالونه دي لکه انس رضي الله عنه فرمائي :

ما د رسول الله عليه السلام سره لس کاله په حيثيت د خادم باندې تير کړل ليکن نبي عليه السلام په دې لسو کالو کې چرته هم ماته داسې نه دي ويلي چې داکار دې ولې اوکړو او يا دا کار دې ولې اونه کړو .

ديته وائي اخلاق د ثمامه رضي الله عنه واقعې ته ګورئ او سوچ اوکړئ اوګده واقعه ده ليکن مختصر دا چې هغه به نبي عليه السلام سره د دهمکۍ په لهجه کې خبرې کولې ليکن نبي عليه السلام به ورسره په انتهائي شفقت نرمۍ او ښه انداز کې خبرې کولې نتيجه دا را اوته چې هغې اسلام قبول کړو . يوازې د ابو بکر او عمر رضي الله عنهما سره نه بلکې د يو معمولي غلام سره به ئې هم په ښکلي انداز کې خبرې کولې .

او تاسو به دا اوريدلي وي چې د الفاظو مثال د غشي وي غشے چې

يو ځل د تير نه اوځي نو بيا واپس نه راځي نو داسې مثال الفاظ هم لري .

بعض وخت به ته يو خبره اوکړې او بيا به پرې روستو خفه ئې ليکن هغه وخت به تلے وي د سوچ سمجهـ نه بغير خبرې کول داسې دي لکه ماشوم له چې تمانچه (پستول) په لاس کې ورکړې هغه لوډ شوے وي او ته ورته اووائې چې دې سره لوبې کوه نو هغه ماشوم به د تمانچې سره ولبې کوي نو که چرته ډز اوشي نو هغه وتلې ګولۍ بيا واپس نه راځي .

ځکه خو رسول الله عليه السلام فرمائي : چې انسان يوه خبره د خولې نه اوباسي او د هغې په وجه به دا جهنم ته ګوزار کړے شي .

د فائدې خبره کوه د فائدمندو خبرو مثال د سپينو زرو دے او د خاموشي مثال د سرو زرو دے نا قابل يقين خبرونه ځان اوساته **مثلاً**: يو ناممکنه خبره ستا په مخکې ثوک اوکړي نو هغه مخکې مه بيانوه کيدے شي چې خلق پرې يقين اونه کړي او تاته نسبت د دروغو اوکړي .

مختصر دا چې که ته خوشحالي غواړې او د خلقو زړونه ګټل غواړې او د خلقو محبت حاصلول غواړې او خصوصاً د خپلې کورودانې په زړه کې مقام او مرتبه حاصلول غواړې نو هغې سره په مزيداره لهجه کې خبرې کوه .په ښه انداز کې د خبرو کولو فائدې او په بد

انداز کې د خبرو کولو نقصانات او واقعات دومره ډير دي چې د هغې دپاره پوره کتاب ليکل ضروري دي ما خو صرف اشاره اوکړه .

## خير دې که ښځه دې ښائسته نوي

په دې خبره خفه کيدل او غمژن کيدل چې ښځه مې ښائسته نه ده نو دا هم ښه کار نه دے ځکه په دنيا کې په کروړونو او لکهونو زنانه اوسيږي بعض د رنګ نه تورې او بعض د قد نه لنډې دي بعض د ښپو نه معذوره دي او بعض د سترګو نه محرومه دي بعض لاسونه نه لري او بعضو کې يوه کمزوري ده او په بعضو کې بله .

داسې ډيره مشکله ده چې تا ته دې داسې زنانه ميلاؤ شي چې هغه د هر قسم خوبيانو مالکه وي خامخا يو نه يو کمے به په کې وي دا هيڅ کله نه شي کيدے چې ستا کورودانه دې د مدرسې نه هم فارغه وي او په سکول کې ئې هم شپاړلسم کړے وي رنګ نه هم لکه د سپوږمۍ پشان وي قد نه لوړه وي ، شونډې ، پوزه ، سترګې ، مخ ، لا سونه او باقي جسم هم بې مثاله وي خاندان دې هم اوچت وي او اخلاق دې هم ښه وي ، صبر او قناعت په کې وي ، تابعداري او وفاء هم په کې وي ، نو داسې اوصافو والا زنانه په جنت کې ميلاويږي .

البته په دنيا کې دا ممکن نه دي او که ميلاؤ شي نو هغه به شاذ او نادر وي خامخا يو عيب او يو کمے به په کې وي او دا د انسان

کمزوري ده چې هغه د واده نه مخکې غټې غټې دعوی کوي چې زه به ښځه داسې ساتم ، زه به ورسره ښائسته اخلاق چلوم ، د هغې هر قسم ضروريات به پوره کوم ، هغه به نه خفه کوم ، د هغې دپاره به خپل تن من قربانوم د هغې د خوشحالولو دپاره به هر حده پورې ځم ، هغه به داسې ساتم چې خلق به ماته حیرانیږي خلق به زما او د هغې مثال ورکوي او زمونږ زندګئ ته به پسښیږي ، خلق به زمونږ د محبت نه تعجب کوي ، داسې مینه به ورله ورکوم چې هغې به تصور هم نه وي کړے داسې زندګي به ورسره تیروم چې چې هغه به زما سره په واده کولو فخر محسوسوي ، زما پشان مثالي خاوند به د هغې په سوچ کې هم نه وي .

لیکن د حیرانتیا او تعجب خبره دا ده چې کله دغه نوجوان واده اوکړي او ښځه ئې معمولي شان د رنګ نه توره وي بائې قد لنډ وي یا ئې په پوزه او شونډو کې څه عیب وي نو بیا همدغه خاوند چا چې به لوي لو ي دعوی کولې هغه دې زنانه له پیغور ورکوي او هغه ورته ردې بدې وائي : هغې ته کنځل کوي او هغې په ژبه او لاس سره ضرر ورکوي هغه وهې او د هغې غریبې سره دومره ظلمونه اوکړي چې هغه په ژو ند ستومانه شي د رندګئ نه تنګه شي او د ځان او د خاوند دپاره د مرګ سوالونه کوي او کله کله خبره طلاقو ته اورسیږي .

او دا په اصل کې د شيطان کوشش دے هغه کورونه ورانول غواړي او هغه دشمنيانې پيدا کول غواړي .

او که بالفرض ته وائې چې فلانکۍ جينۍ سره زه واده کوم ځکه هغه زما د معيار مطابق ده او زما خوښه ده .

ليکن دا يقيني خبره ده که تا د هغې سره واده اوکړو نو په هغې کې به هم ته سل خرابيانې راوباسې او د هغې به هم نقصانونه بيانوې .

نو د هغې علاج دا دے چې په تقدير باندې راضي شه .

په دې باره کې يوه واقعه ذکر کوم .

د بنو عبس قبيلې يو سړے د خپلو ورک شوو اوښانو په لټون پسې اووتلو درې ورځې ورپسې ګرځيد و او دا سړے مالداره وو .

د هغې سره مال ، اوښان ، غواګانې ، ګډې ، بيزې ، ځامن لوريانې وغيره هر څه وو الله تعالى ورله ورکړي وو غټ او پراخه کور ئې وو او د هغې کور د خوړ په غاړه وو نو د شپې سيلاب راغے او د کور خلق په آرام او سکون سره اوده وو د هغې په ذهن کې دا خبره نوه چې ګنې په مونږ باندې به امتحان او زوال راځي او تيز سيلاب د وجې نه د هغوي کور د خاورو سره خاورې شول ګډې بيزې اوښان او غواګانې ښځه او بچي هر څه په يو شپه کې په سيند لاهو شول ګويه کې دلته څوک چرته نه دي اوسيدلي دې درې ورځې بعد چې سړے کورته راغے نو هيڅ نه وو نه ئې څوک دوست پاتې شوے وو

او نه کوم بچے بلکې اوښه ترینه اوتختیدله ده ورپسې منډې وهلې او هغې ترینه مخکې وه نو اوښ ورله هلته ورکړه او سترګې ئې ضائع شو غریب په دشته کې حیران او پریشانه پاتې شو نو یو کس هغه د لاس نه اونیولو او دمشق خلیفه ولید بن عبد الملک خواله ئې بوتلو او هغه ته ئې ټوله قصه اوکړه نو خلیفه ترینه تپوس اوکړو چې ځنګه ئې ؟

نو هغه ورته اوویل : الله تعالی چې څه را کړي دي نو په هغې باندې راضي یم .

ځومره غټه خبره ئې اوکړه داسې خبره صرف موحد انسان کولے په تقدیر باندې راضي کیدل پکاردي که بالفرض ته د تقدیر په فیصلو نه راضي کیږې نو څه به اوکړې ؟

د هرقسمه تکلیفونو او مصیبتونو او پریشانیانو نه تا ته خلاصون میلاودے شي په دې شرط چې ته د تقدیر په فیصلو باندې راضي شې او په تقدیر باندې نه راضي کیدل دا په اصل کې په الله تعالی باندې بدګماني ده دا د هغه په فیصلو باندې اعتراض کول دي .

ابن الراوندي په نوم باندې یو فلسفي وو انتهائي غریب وو په لاره روان وو په یو باغ کې ئې یو جاهل سړے اولیدلو چې هغه ډیر لوي مالدار وو محلات او کورونه ، زمکې وغیره مالک وو نو ابن الراوندي آسمان طرف ته اوکتل او د الله تعالی نه ئې ګیلې او

شکايتونه شروع کړه چې زه دومره لوي عالم او فلسفي يم زه دې غريب پيدا کړے يم او دې جاهل ان پړه له دې دومره ډير مال ورکړے نو دا خو ظلم دے نو الله تعالی هغه گمراه کړو.

د تقدير په فيصلو چې کله انسان راضي شي نو د هغې زړه ته راحت، سکون، ېخوالے، او خوشحالي ميلاويږي.

دا يقين ساته چې زه د څه نه محروم يم نو په دې کې به زما خير وي دا هسې هم ما ته نه ميلاويدل او چې کوم مصيبت ما ته رسيدلے دے نو هغه به خامخا رسيدو.

د ايما ن په خوند باندې هغه سړے ښه پوهيږي څوک چې په تقدير باندې راضي وي.

قلم ايښودے شوے دے صحيفې اوچتې کړے شوي دي تقدير ليکل شوے دے او س به انسان ته هغه څه رسيږي کوم چې د ده دپاره مخکې نه ليکل شوي وي څه بيماري اورسي، يا پريشاني راشي، ريشتدار مړ

شي، يا کور اور واخلي په هر حال راضي اوسه.

## د واده د شپې آداب

د يو نوجوان په زړه کې د واده شپه يو خاص اهميت لري او دې شپې ته د زندگۍ اهمه او يادگاره شپه هم ويلے شي دا شپه هم بعض آداب لري د شريعت مطهره په رڼا کې که د هغه آدابو خيال اوساتلے شي

نو ان شاء الله په راتلونکي ژوند کې به د دې ډیر ښه اثرات مرتب کیږي .
چې کله ته کمرې ته داخل شې نو څلور کارونه به کوې
١ ـ په کورودانه باندې به شرعي سلام واچوې چې هغه دا دے
**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته .**
٢ ـ زنانه له څه ګفټ او تحفه ورکړې .
مثلاً : داسې یو څیز چې ستا کورودانه هغه خوښوي ځکه دې سره محبت سیوا کیږي لکه نبي علیه السلام فرمائي :
تحادوا تحابوا
یو بل ته هدیه ورکوئ نو دې سره ستاسو په مینځ کې مینه سیوا شي.
٣ ـ خپلې کورودانې له به د خوراک څه ورکړې **مثلاً** : پئ (دودھ، شوده) یا متهائي یا بل د خوراک څه شے هغې ته ورکړه ځکه حدیث کې دي .
اسماء بنت یزید فرمائي : چې رسول الله علیه السلام د پاره د هغې د نکاح په موقع باندې ما عائشه رضي الله عنها تیاره کړه او د نبي علیه السلام خواله مې راوسته د دې دپاره چې رسول الله علیه وسلم ئې اوویني نو نبي علیه السلام راغے او د عائشه رضي الله عنها په خوا کې کیناستلو په دغه وخت کې چا په لوخي کې پئ راوړل نبي علیه السلام د هغې نه پئ اوڅکل او بیا هغه پیاله ئې عائشه رضي الله عنها

ته وروړاندې کړه نو هغې د شرم او حياء د وجې نه سر ښکته کړو او هغه پېژ ئې نه څکل اسماء رضي الله عنها وائي : زه هغې ته غصه شوم چې نبي عليه السلام تاته پېژ نيولې دي او ته ئې نه څکې او انکار کوې نو بيا هغې د نبي عليه السلام د لاس نه هغه پيا له اونيوله او هغه پېژ ئې اوڅکل .

٤ ـ د کوروداني په سر يا تندي باندې به لاس کيږدې او دعاء به ورته اوکړې .

عمرو بن شعيب والا حديث دے چې نبي عليه السلام فرمائي : چې کله چې تاسو د يوې زنانه سره واده اوکړي نو د هغې په تندې به لاس کيږدي او دا دعاء به اووائي :

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا وَخَيْرَ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ[1]

د دې ويلو سره به الله تعالى د دې په تندي کې برکت واچوي .

٥ ـ دوه رکعته مونځ کول .

دا به ښځه او خاوند دواړه کوي .

د ابوحريز په نوم يو سړے ابن مسعود رضي الله عنه ته راغے او ورته ئې اوويل : چې ما د يوې جينئ سره واده کړے دے ليکن زه يريږم

---

[1] سنن ابي داود ٢١٦٠

چې هغه به مې پرې نه ږدي ؟
نو ابن مسعود رضي الله عنه ورته اوويل چې محبت د الله تعالى د طرف نه دے او نفرت او جدائي د شيطان د طرف نه ده نو ته چې كله د هغې خوا له ورځې نو دوه ركعته مونځ اوكړه .
بعض كسان چې كله كمرې ته داخل شي نو سلام كول ، تحفه وركول ، مټائي وركول ، د بركت دعاء كول ، دا هر څه ترينه په ځائي پاتې وي بس چې كمرې ته داخل شي نو په ذهن كې ئې همدغه يوه خبره وي چې كوروالے به څنګه كوم او څه ټايم به ئې كوم؟
نو دا د قليل الهمت انسان سوچ وي چې كمرې ته داخل شي او فوراً كوروالے كوي .
نه ! اول د كوروداني سره كينه او د هغې سره د مينې خبرې اوكړه او د حال احوال تپوس ترينه اوكړه ته يو قسم ناشنا ئې د هغې دپاره نن نه مخكې هغې تا سره خبرې نه دي كړي مخامخ هغه شرميږي او يا هغه خفه وي او ظاهره خبره ده چې خفګان پكار دے هغې له ځكه چې هغې ټوله زندګي د مور ، پلار ، رونړه ، خوئيندو سره تيره كړې ده نن اول ځل دے چې هغه د كور نه بهر ته وتلې ده .
مينه كونكے پلار ، تسلي وركونكې مور ، شفقت كونكي رونړه ، خبره منونكي خوئيندې هغه هرڅه ترينه پاتي شوي دي او ستا باره كې به ئې ښه ګمان ساتلے وو ليكن تا د ځان نه مخې جوړه كړې ده

د هغې د درد احساس درته نشته بس خپل مقصد راخستے ئې که ستا داسې حال وي نو هغه به مستقبل کې ستا سره څه مینه اوکړي ګوره که الله تعالی ته منظور وي نو ته به د هغې سره باقي ټول ژوند تیروې .

نو دا کوروالے بیا هم کولے شې نن ورځ څه فرض او ضروري نه دے د عقل او انسانیت نه کار واخله هغې له تسلي ورکړه ډاډ ورکړه هغې ته دا ورمحسوسه کړه چې مه خفه کیږه ان شاء الله زه به ستا داسې خیال ساتم چې څنګه خیال به ستا مور او پلار ساتلو او ورته وایه دا د دنیا نظام دے که چرته چا واده نه کولے یا خپله خور لور چا بل ته نه واده کولے نو نن به زه هم په دنیا کې نه وے او ته به هم نوے دا د انساني نسل د بقاء دپاره یو واحد ذریعه ده او دا د واده کول د ټولو انبیاؤ سنت دے خصوصاً د محمد عربي علیه السلام عظیم سنت دے بلکې زمونږ د ګران او محترم نبي علیه السلام ۱۱ بي بیانې وې د دې ډ یرې فائدې دي یو فائده دا ده چې د دې په وجه الله تعالی د سړي او زنانه حفاظت کوي د دډیرو ګناهونو نه او خصوصاً د زنا نه پرې انسان بچ کیږي کله چې د انسان درې یا څلور ښځې وي .

۲ ـ فائده دا ده چې د دې په وجه د دوه خاندانونو په خپل مینځ کې محبت سیوا کیږي د یوبل سره تعلق او مینه زیاتیږي د ریشتې په

وجه يو بل ته نزدې شي.
٣ ـ فائده : به د واده دا وي چې د واده په وجه به الله تعالى ما اوتا له بچي راکړي نو که بيا مونږ بوډا ګان او کمزوري شو نو هغوي به زمونږ خدمت کوي او که مونږ مړه شو نو هغوي به راته دعاګانې کوي .
٤ ـ فائده :
دې سره په ژوند کې سکون او آرام راځې او هر کار په ترتيب سره وي او نظام برابر وي .
٥ ـ فائده :
په دې سره جنسي شهوت په حلاله طريقه پو ره کيږي او په معاشره کې بګړاؤ نه پيدا کيږي او نورې هم بې شماره فائدې په کې دي دا خبرې ټولې به کوروداني ته اوکړې بيا د هغې سره عامې خبرې کول **مثلاً** : داسې ورته اووايه چې دا خو زما خوش قسمتي ده چې تا سره واده اوکړو او زه ستا سره ډيره مينه لرم او که زما ستا سره مينه نه وے نو ما به ستا سره واده نه کولے او ستا په واده زمونږ ټول خاندان خوشحالي کوي دينه روسته بيا د هغې د جسم تعريف اوکړه **مثلاً** : داسې ورته اوويه ته خو ډيره ښکلې ئې ستا مخ ، ستا پوزه ، ستا شونډې ، ستا بدن دا ټول بې مثاله ښکلي دي .
بيا د هغې د کپړو صفت اوکړه نو ته چې ورسره دا خبرې اوکړې نو

ډيره حده پورې به د هغې خفګان کم شي نور چې تا ته څه مناسب ښکاري د تسلئ دپاره نو هغه ورته اووايه ډيرې خبرې دي خو زه هغه نه شم بيانولے عقلمند له اشاره کافي وي .

د عا مو خبرو نه پس بيا د هغې سره ګپ شپ لوبې او ټوقې او کړه د خندا څه لطيفه درته ياده وي نو هغه ورته اووايه چې سوچ ئې بدل شي بيا که فروټ وغيره وي يا چائ وي يا پئ وي نو هغه په شريکه اوخرئ اوڅکئ او که ته ورله په خپل لاس ورکړې يا د هغې نه مطالبه اوکړې چې ماله ئې په خپل لاس راکړه نو دا هم سنت طريق ده د عائشه رضي الله عنها حديث مخکې تير شو چې نبي عليه السلام ورله په خپل لاس د پيو لوخے او پياله ورکړه .

او که فروټ وي **مثلاً** : امرود ، سيب ، وغيره نو پره کټ که نيم ته اوخره او نيم هغې له ورکړه يا کپ کې چائ واچوه نيم ته اوڅکه او نيم هغې له ورکړه ځان نه به وګے او نهر نه جوړوې چې ټول هر څه يوازې اوخرې او هغې ته ست او نه کړې .

او دا هم د محمد رسول الله عليه السلام سنت دي عائشه رضي الله عنها فرمائي : چې کله به ما جام يا پياله کې اوبه اوڅکلې نو نبي عليه السلام به جام ته کتل او هغه ځائ ته ئې کتل چې په کوم باندې به ما شونډې ايښودې وې نو هغه به هم په هغه ځائ باندې شونډې ايښودلې .

دیته وائي محبت .

د هغې نه پس د هغې په جسم باندې لاس اووهه تردې چې هغه کوروالي ته مائله شي او ذهني طور باندې دیته تیاره شي د هغې نه روسته بیا د هغې سره جماع او کوروالے اوکړه .

دلته یوه خبره ذهن کې کیږده که بالفرض یوه زنانه د شرم او حیاء د وجې نه په دغه شپه کوروالي ته نه تیاریږي نو زبردستي ورسره مه کوه بس قلار شه ترینه .

بعض قمقلان ملګري د واده هلک ته وائي چې د ځان نه به بې غیرته نه جوړوې د ښځې د خبرو پرواه به نه کوې او خپل حاجت پوره کړه نو دا هم هسې فضول مشوره ده دی له هیڅ ترجیح مه ورکوه.

دلته یوه بله خبره رایاده شوه هغه دا چې بعض کسان د واده هلک ته وائي چې ښځې سره به د واده په شپه بالکل نرمي نه کوې بلکې هغې ته به سرې سترګې ښائي هغه به یروې دباؤ کې به ئي راولې رعب به پرې اچوې ځان به ورته غصه غصه کوې بلکې که اخوا دیخوا کوي نو غرب او سپیره ترې اوباسه داسې پریشر پرې واچوه چې بیا ټول عمر درنه یریږي .

نو داسې مشوره ورکول نه ئي پکار ځکه دا ظلم دے او مونږ اسلام د ظلم نه منع کړي یو بغیر د شرعي عذر نه بل مسلمان تنګول

حرام دي اول ورځ نه هغه غريبه وهي ټکوي نو الله تعالى ته پته ده چې روسته به د هغې مظلومې سره څومره ظلمونه کوي .

بعض هوښياران خلق وائي چې د واده په شپه باندې صرف رعب اچول پکار دي نو کيدے شي د هغې خلقو خبره هم صحيح وي وجه دا ده چې مونږه وينو او اورو چې د فلانکي سړي ښځه ډيره بداخلاقه ده ډيره نافرمانه ده کله د خاوند سره جګړې کوي کله د خواخې سخر سره جنګ کوي او د خاوند خبرې هم نه مني خاوند ته په سپک نظر ګورې يواځې خاوند نه بلکې د کور ټول خلق ترينه تنګ وي او په اور کې ولاړ وي او ټوله ورځ په بازارونو کې تيروي خاوند مجبوره کوي په قيمتي قيمتي کپړو اخستلو باندې د مشر او کشر هيڅ تميز په کې نه وي نو که داسې بد اخلاقه زنانه د واده په شپه ئې سړے اويروي او يا ورسره په سخته لهجه کې خبرې او کړي نو خير دے د هغې وجه دا ده چې په اوله شپه زنانه ستا په خبرو لږه خفه شي ليکن مستقبل کې به هغه ستا نه يريږي ستا خبره به منې ستا عزت به کوي او ستا په مخکې به بداخلاقي نه کوي.

زه يو ملګري سره په بازار کې روان ووم نو يوې زنانه پوډرميک اپ کړے وو لنډې کپړې او سينډل ئې اچولي وو او روانه وه په بازار کې او خندل ئې نو بلې زنانه ترينه تپوس اوکړو چې خورې هغه

خاوند دې ښکلې ده ځه کار روزګار کوي که نه ؟
نو هغې زنانه ورته اوويل : چې آؤ : هغه هسې بيكاره شے دے يو ورځ كار اوكړې او بيا پنځه ورځې د پاڅيدو نه وي .
نو هغه ملګرې راته اوويل : چې دا اوګوره سرعام په بازار كې دا په ښكلې انداز كې خبرې كوي ؟
د دې خاوند به واقعي هسې يو بوتل وي په كور به ناست وي او ښځې ترينه په بازار د حياء كپړې اوويستلې .
نو مقصد مې دا دے چې داسې بداخلاقه زنانه به وهې سزاء به وركوې خپل اختيار ته به ئې نه پريږدې او د اول د ورځې نه به ئې يروې ځكه د اول وخت يره ډيره فائده كوي .
نو هغه ملګري راته اوويل : كه د دې ښځې خاوند دا د اول د ورځې نه يرولې وے او د دې ئې صحيح تربيت كړے وے نو نن به په بازار كې د هغې دومره بې عزتي نه كولے .
په بازار كې مونږه دا خبره واوريدله نو الله تعالى ته پته ده چې نور به څومره ډيرو خلقو اوريدلي وي او بازار نه علاوه به دې په نورو ځايونو كې د دې څومره بدې بيان كړي وي .
يا داسې زنانه چې د هغې خاندان د مخكې نه په فضولياتو او رواجونو مشهور وي او د قيمتي قيمتي كپړو شوقين وي د ازاد ماحول عادت وي نو هغې زنانه سره معمولي شان سختي كولے شې .

# د واده دويمه شپه

اوله شپه عام طور باندې لنډه وي هلک په اوله شپه باندې کمرې ته ناوخته داخليږي تقريباً د شپې ۱۱ بجې يا ۱۲ بجې کمرې ته ننوځي او چې کله کمرې ته داخل شي او د خبرو اترو نه فارغيږي نو سحر شوےوي البته په دويمه شپه باندې هلک وختي کمرې ته داخليږي ځکه ميلمانه ډير حده پورې کم شوي وي نو په دويمه شپه کمرې ته داخل شي نو بعض کارونه به کوي .

اول خو به دا خبره ذهن کې کيږدې چې د نا تجربکارو ملګرو د مشورو نه به ځان سا تې بعض ملګري به دې داسې وي چې هغوي به لا واده هم نه وي کړے ليکن تا له به د حکيم سليمان پشان فري مشورې درکوي چې داسې اوکړه او داسې اوکړه نو داسې ملګري مشورې له څه خاص اهميت مه ورکوه .

دويم : هغه ملګري چې هغوي نوے نوے واده کړے وي او څه خاص تجربه کار نه وي نو هغه به هم کيدے څه خاص مشوره درنه کړي .

دلته يو خبره ذهن کې راغله چې د واده نه مخکې د اذکارو خصوصي خيال ساته که نور اذکار درته نه وي ياد نو سورت فاتحه او آيَةُ

الْكُرْسِي . اللّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ﴾[1] خاملخا لوله .

﴿فائده﴾ : چا چې دا آيت كريمه سحر او مابښام لوستلو نو د پيريانو او شيطانانو د ضررونو نه به په امن وي .

او بِسمِ اللّٰهِ الّذِيْ لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيءٌ، فِيْ الْأَرْضِ وَلَا فِيْ السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ .[2]

﴿ترجمه﴾: په نوم د الله تعالى هغه ذات چې ضرر نه وركوي د هغه د نوم سره هيڅ شے نه په زمكه كې او نه په آسمان كې او هغه هر څه اورى او په هر څه پوهيږي.

دا د عاء اوه ۷ كرته اووايه

﴿فائده﴾ : رسُولُ اللّٰهِ ﷺ فرمائي : چا چې دا دعاء سحر او مابښام لوستله نو ده ته به هيڅ شے ضرر نشي وركولے او نه به ور ته ناڅاپي مصيبت او مرض ورسيږي ليكن كه الله تعالى ورته په تقدير كې ليكلے وي دارنګه

أَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ .[3]

﴿ترجمه﴾ : پناه نيسم په كلمو د الله تعالى پورې چې مكمل او پوره

---

[1] صحيح الترغيب ٦٥٨

[2] صحيح الترمذي ٣٣٨٨ صحيح أبي داود ٥٠٨٨

[3] مختصر مسلم ١٤٥٣ صحيح الترمذي٣٦٠٤

دي د شر د هغه څه نه چې پيدا کړي ئې دي .
﴿فائده﴾ : نبي ﷺ فرمائی : چا چې دا کلمات ماښام کې درې ځله اولوستل
نو ده ته به هیڅ شے ضرر ور نه کړی .
دا درې ۳ کرته اووايه او آخرني درې سورتونه اووايه
﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴾ ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ﴾ ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ﴾[1]
﴿فائده﴾ : نبي ﷺ فرمائي : چا چې دا درې سورتونه سحر ۳ درې ځله او ماښام ۳ درې ځله لوستل نو د هر شی نه به ورله کافي کيږي. او ځان پرې د موه ځکه کله نا کله حسدګر خلق او دشمنان خلق او بد خواه خلق په تا باندې سحر او جادو تعويذ هم کولے شي او د هغې په وجه تا ذليله کول غواړي ، شرمول غواړي ، د ښځې نه بندول غواړي ، د ښځې نه متنفره کول غواړي نو که د دې اذکارو پابندي اوکړے نو ان شاء الله چې الله تعالی به دې د دې شرونو او تکليفونو ، دشمنئ نه او د هغوي د حسد نه ، اوساتي .
چې کله کمرې ته داخل شې نو په زړه کې د الله تعالی نه دعاء د خير او برکت اوغواړه د هغې خواله لاړ شه د هغې سره کينه او

[1] سنن ترمذي رقم ۳۵۷۵ حسن .

خبرې اترې وسره اوکړه که په اوله شپه کوروالے اونه شي خیر دے .
بعض خلق وائي چې که زه په اوله شپه ښځې ته نزدې نه شم نو سحر به ملګري ماله پیغور راکړي چې ته د ښځې نه یریږې ، یا ته نامرد ئې ، په تا رعب راغلے وو ، نو هغه د ملګرو د خبرو دوجې نه خامخا کوروالے فرض ګنړي .
بعض وخت د واده هلک ته ملګري مشورې ورکوي چې په اوله شپه کوروالے ضروري دے ګڼي بیا دې ښځه ډیر وخت ځان ته نزدې نه پریږدي نو دا هم فضول خبره ده .
بعض خلق وائي که په اوله شپه نزیکت اونه شي نو ښځه به رابانډې د کمزورې او نامرد ګمان اوکړي .بلکې دا هسې د خلقو مختلف خبرې دي شریعت دې باره کې سړي له مکمل اختیار ورکړے دے که هغه نزدی کیدل غواړي نو هم صحیح ده او که نه نزدې کیدل غواړې نو هم صحیح ده که ته کمرې ته داخل شې نو د کورودانې سره خبرې اترې اوکړه (چې کومې خبرې په دې شپه مناسب وي) داسې نه چې ته فضول خبرې او بې مقصده خبرې شروع کړې **مثلاً** : ته ورته د فصل او زمیدارئ خبرې شروع کړې چې پروس کال بارانونه نه وو نو غنم لږ شوي وو او سخ کال به غنم ډیر وي ځکه چې بارانونه ډیر دي .
یا ورته نورې فضول خبرې شروع کړي لکه داسې قصه شروع

کړې چې مونږه يوه غوا اخستې وه هغې پئ نه کول نو بيا مو بله واخسته هغه لنګه شوه او سخے ئې راوړو او بيا داسې اوشو اوداسې اوشو.
نو که د واده په شپه دې داسې بې مقصده خبرې شروع کړې نو ښځه به ستا په بې وقوفتوب خاندې او په خپل قسمت به ژاړي چې دامې مور او پلار کوم ليونې له ورکړم بيا خبرو اترو او ګپ شپ نه روستو هغې سره کوروالے اوکړه.

## د کوروالي دعاء

د کوروالي نه مخکې به دا دعاء اووائې
«اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا»[1]
**﴿ترجمه﴾** : د الله تعالى په نوم اے الله ! مونږ د شيطان نه محفوظ اوساته او هغه اولاد هم محفوظ او ساته کوم چې ته مونږ له د دې جماع نه راکوې.
ځکه ابن عباس رضي الله عنه فرمائي چې رسول الله عليه السلام

[1] عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، يَبْلُغُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا أَتَى أَهْلَهُ قَالَ بِاسْمِ اللَّهِ، اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا، فَقُضِيَ بَيْنَهُمَا وَلَدٌ لَمْ يَضُرُّهُ» رواه البخاري 6 / 240 في بدء الخلق، باب صفة إبليس وجنوده، ومسلم رقم (1434) في النكاح، باب ما يستحب أن يقوله عند المنام، وأبو داود رقم (2161) في النكاح، باب جامع النكاح، والترمذي رقم (1092) في النكاح، باب ما يقول إذا دخل على أهله.

فرمائيلي دي : كله چې تاسو كې څوک د خپلې كورودانې سره كوروالے كول غواړي نو هغه دې دا دعاء اووائي نو كه د دې جماع او كوروالي نه د هغې څه بچے پيدا شو نو شيطان به هغې ته ضرر نشي وركولے .

## د كوروالي اجر

دا زمونږ د دين خوبي ده چې هغې په كوروالي باندې د اجر وعده كړې ده .

ابو ذر رضي الله تعالى عنه فرمائي : چې نبي عليه السلام اووئيل : په هر سبحان الله كې او الحمد لله او استغفرالله او الله اكبر ويلو باندې تاسو ته اجر ميلاويږي د نيكۍ حكم كول هم صدقه ده او د بدۍ نه منعه كول هم صدقه ده ... د ښځې سره كوروالے كولو باندې هم اجر دے كله چې نبي عليه السلام دا خبره اوكړه نو صحابو عرض اوكړو چې اى د الله رسوله مونږ خو د جماع او هم بسترۍ په وجه خپل شهوت پوره كوو نو دې كې به هم اجر وي دا څنګه خبره ده ؟

نو نبي عليه السلام اووئيل : چې ستا سو څه خيال دے كله يو سړے په حرامه طريقه خپل شهوت پوره كوي نو هغه به ګناهنګار وي او كه نه؟

نو صحابو عرض اوكړو آؤ ! نو نبي عليه السلام اووئيل : چې دارنګې كه هغه په جائز طريقې سره خپل شهوت پوره كړي نو ثواب

خو به خامخا ميلاويږي .[1]

## د کوروالي وخت

د کوروالي دپاره شريعت څه خاص وخت نه دے مقرر کړے د ورځې او د شپې ، ماسپخين ، مازديګر ، سحر او ماښام هر وخت کوروالے کولے شې.

البته په روژه کې د ورځې کوروالے نه شې کولے او د حيض او نفاس په

وخت کې هم نشې کولے ليکن بهترين وخت هغه دے چې کله ښځه او

خاوند ذهني طور سره ديته تيار وي او د دواړو دلچسپي په کې وي .

د ورځې هم کوروالے کولے شې لکه نبي عليه السلام فرمائي :

«لاَ يَحِلُّ لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَصُومَ وَزَوْجُهَا شَاهِدٌ إِلَّا بِإِذْنِهِ»[1]

---

[1] عَنْ أَبِي ذَرٍّ، عن النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ بِكُلِّ تَسْبِيحَةٍ صَدَقَةً، وَكُلِّ تَكْبِيرَةٍ صَدَقَةً، وَكُلِّ تَحْمِيدَةٍ صَدَقَةً، وَكُلِّ تَهْلِيلَةٍ صَدَقَةً، وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ صَدَقَةٌ، وَنَهْيٌ عَنْ مُنْكَرٍ صَدَقَةٌ، وَفِي بُضْعِ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، أَيَأْتِي أَحَدُنَا شَهْوَتَهُ وَيَكُونُ لَهُ فِيهَا أَجْرٌ؟ قَالَ: «أَرَأَيْتُمْ لَوْ وَضَعَهَا فِي حَرَامٍ أَكَانَ عَلَيْهِ فِيهَا وِزْرٌ؟ فَكَذَلِكَ إِذَا وَضَعَهَا فِي الْحَلَالِ كَانَ لَهُ أَجْرٌ»

صحيح مسلم رقم (1006) في الزكاة، باب بيان أن اسم الصدقة يقع على كل نوع من المعروف. أحمد (167/5)

**﴿ترجمه﴾** : زنانه دې د خپل خاوند په موجودګئ کې روژه نه نيسي کيدے شي د خاوند زړه کوروالي ته اوشي .

## د جمعې په شپه کوروالے

د جمعې په شپه کوروالے کول سنت او مستحب عمل دے .

اوس رضي الله عنه فرمائي : چې نبي عليه السلام فرمائيلي دي :کوم سړے چې د جمعې په ورځ يا په شپه کوروالے اوکړي او هغه بيا پخپله هم غسل اوکړي او کور والا ته هم د غسلو اووائي او بيا مسجد ته لاړ شي او بيان کونکي ته نزدې کيني په غور سره خطبه واوري خاموشي اختيار کړي او بيا مونځ اوکړي نو دې انسان له په هر قدم باندې د يو کال د روژې او د يو کال د قيام اجر ميلاويږي [2]

---

[1] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لاَ يَحِلُّ لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَصُومَ وَزَوْجُهَا شَاهِدٌ إِلَّا بِإِذْنِهِ، وَلاَ تَأْذَنَ فِي بَيْتِهِ إِلَّا بِإِذْنِهِ، وَمَا أَنْفَقَتْ مِنْ نَفَقَةٍ عَنْ غَيْرِ أَمْرِهِ فَإِنَّهُ يُؤَدَّى إِلَيْهِ شَطْرُهُ»

صحيح البخاري ٥١٩٥

[2] أَوْسُ بْنُ أَوْسٍ الثَّقَفِيُّ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ غَسَّلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاغْتَسَلَ، ثُمَّ بَكَّرَ وَابْتَكَرَ، وَمَشَى وَلَمْ يَرْكَبْ، وَدَنَا مِنَ الْإِمَامِ فَاسْتَمَعَ وَلَمْ يَلْغُ كَانَ لَهُ بِكُلِّ خُطْوَةٍ عَمَلُ سَنَةٍ أَجْرُ صِيَامِهَا وَقِيَامِهَا»

رواه أبو داود رقم (345) و (346) و (349) و (350) في الطهارة، باب في الغسل يوم الجمعة، والترمذي رقم (496) في الصلاة، باب ما جاء في فضل الغسل يوم الجمعة، والنسائي 3 / 95 و 96 في الجمعة، باب فضل غسل يوم الجمعة، وهو حديث صحيح،

دارنګه ابوهريره رضي الله عنه فرمائي : چې نبي کريم عليه السلام فرمائيلي دي :کوم کس چې د جمعې په ورځ د جنابت نه غسل اوکړي او مسجد ته لاړ شي د مونځ دپاره نو د بلې جمعې پورې د هغې ګناه معاف کيږي .[1]

## دوباره کوروالي نه مخکې غسل کول

چې کوم انسان په يو شپه کې دوباره کوروالے کول غواړي نو هغې له پکار دي چې د اول کوروالي نه روستو دې غسل يا اودس اوکړي.

ابو سعيد الخدري رضي الله عنه فرمائي چې رسول الله عليه السلام فرمائي:

«إِذَا أَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يَعُودَ تَوَضَّأَ» [2]

---

وقال الترمذي: هذا حديث حسن، وقال المنذري في " الترغيب والترهيب ": ورواه أحمد، وأبو داود والترمذي والنسائي، وابن ماجة، وابن خزيمة، وابن حبان في " صحيحهما "، والحاكم وصححه، ورواه الطبراني في " الأوسط ": من حديث ابن عباس.

[1] صحيح البخاري ٨٨١ مسلم في الجمعة باب وجوب غسل الجمعة على كل بالغ من الرجال وباب الطيب والسواك يوم الجمعة رقم 850

[2] رواه مسلم رقم (308) في الحيض، باب جواز نوم الجنب واستحباب الوضوء له، وأبو داود رقم (220) في الطهارة، باب الوضوء لمن أراد أن يعود، والترمذي رقم (141) في الطهارة، باب ما جاء في الجنب إذا أراد أن يعود توضأ، والنسائي 1 / 142 في الطهارة، باب في الجنب إذا أراد أن يعود.

﴿ترجمه﴾ : تاسو کې که يو کس د يو کرت صحبت نه پس دوباره د صحبت اراده لري نو هغه دې اودس اوکړي .

ابو رافع رضي الله عنه فرمائي چې يو ورځ نبي عليه السلام د خپلو ټولو بي بيانو سره نزديکت او کوروالے اوکړو او د هر کوروالي نه پس به ئې غسل کولو نو ما ورته اوويل چې اے ! د الله رسوله تا به يو ځل آخر کې غسل کړي وے کنه ؟

نو هغه اوويل : چې هر ځل غسل کولو سره زيات طهارت او پاکي حاصليږي .[1]

## د غسل جنابت مسنون طريقه

کله چې ښځه او خاوند يو بل ته نزدې شي او کوروالے اوکړي نو په هغوي باندې غسل واجب شو .

د غسل مسنون طريقه داسې ده د ټولو نه اول به خپله شرمګاه وينځې چې هغې باندې د نجاست او مني څه اثرات پاتې نه شي .

بيا به مسنون اودس اوکړې او ښپې به د غسل په آخر کې اووينځې

---

[1] عَنْ أَبِي رَافِعٍ، «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَافَ ذَاتَ يَوْمٍ عَلَى نِسَائِهِ، يَغْتَسِلُ عِنْدَ هَذِهِ وَعِنْدَ هَذِهِ»، قَالَ: قُلْتُ لَهُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَلَا تَجْعَلُهُ غُسْلًا وَاحِدًا، قَالَ: «هَذَا أَزْكَى وَأَطْيَبُ وَأَطْهَرُ»

أخرجه أبو داود رقم (219) في الطهارة، باب الوضوء لمن أراد أن يعود، وإسناده حسن.

وأخرجه أحمد (8/6) وابن ماجة (590

بيا به درې كرته په سر باندې اوبه واچوې او ويښته به ټول لامده كړې چې يو ويښته هم وچ پاتې نه شي .
بيا به په ټول جسم باندې اوبه واچوې .
البته د زنانه دپاره د سر ويښته كولاوول ضروري نه دي كه د هغې د سر بعض ويښته وچ پاتې شي نو خير دے .
يو خبره ياد لره چې اودس به د اصول د شريت مطابق كوې **مثلاً** :
اول به دواړه لاسونه اووينځې درې كرته .
بيا به خولې ته اوبه واچوې .
بيا به درې ځل پوزې ته اوبه واچوې هسې صرف لمدے به ئې نه بلكې اوبه به پوزه كې راښكاږې چې د پوزې هډوكے تريخ شي مګر كه روژه وې نو بيا به اوبه نه راښكاږې .
بيا به مخ اووينځې درې كرته .
بيا به لاسونه تر څنګلو پورې اووينځې درې ځل .
بيا به د سر مسح اوكړې .[1]

---

[1] نبي عليه السلام د سر مسح په غيلو كې نده كړې لكه د نسائي حديث پرې دليل دے
عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ عُمَرَ سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الْغُسْلِ مِنَ الْجَنَابَةِ - وَاتَّسَقَتِ الْأَحَادِيثُ عَلَى هَذَا - «يَبْدَأُ فَيُفْرِغُ عَلَى يَدِهِ الْيُمْنَى مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا، ثُمَّ يُدْخِلُ يَدَهُ الْيُمْنَى فِي الْإِنَاءِ فَيَصُبُّ بِهَا عَلَى فَرْجِهِ وَيَدُهُ الْيُسْرَى عَلَى فَرْجِهِ فَيَغْسِلُ مَا هُنَالِكَ

بیا به ښېې اووینځي .
بیا به د ابو چړکاؤ پرتوګ ته اوکړي بیا آخر کي دا دعاء اووائي .:
«أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ» [1]

د جنابت د غسلو مکمل او تفصيلي طريقې معلومولو دپاره د ابو ادريس امين الله کتاب چې مسمی دے په (المسائل الثلاثة في ضوء الكتاب والسنة) سره.

---

حَتَّى يُنْقِيَهُ، ثُمَّ يَضَعُ يَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى التُّرَابِ إِنْ شَاءَ، ثُمَّ يَصُبُّ عَلَى يَدِهِ الْيُسْرَى حَتَّى يُنْقِيَهَا، ثُمَّ يَغْسِلُ يَدَيْهِ ثَلَاثًا وَيَسْتَنْشِقُ وَيُمَضْمِضُ وَيَغْسِلُ وَجْهَهُ وَذِرَاعَيْهِ ثَلَاثًا ثَلَاثًا حَتَّى إِذَا بَلَغَ رَأْسَهُ لَمْ يَمْسَحْ وَأَفْرَغَ عَلَيْهِ الْمَاءَ» فَهَكَذَا كَانَ غُسْلُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا ذُكِرَ

المجتبى من السنن = السنن الصغرى للنسائي بَابُ تَرْكِ مَسْحِ الرَّأْسِ فِي الْوُضُوءِ مِنَ الْجَنَابَةِ [حكم الألباني] صحيح الإسناد ٤٢٢

[1] عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: كَانَتْ عَلَيْنَا رِعَايَةُ الْإِبِلِ فَجَاءَتْ نَوْبَتِي فَرَوَّحْتُهَا بِعَشِيٍّ فَأَدْرَكْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَائِمًا يُحَدِّثُ النَّاسَ فَأَدْرَكْتُ مِنْ قَوْلِهِ: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ وُضُوءَهُ، ثُمَّ يَقُومُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ، مُقْبِلٌ عَلَيْهِمَا بِقَلْبِهِ وَوَجْهِهِ، إِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ» قَالَ فَقُلْتُ: مَا أَجْوَدَ هَذِهِ فَإِذَا قَائِلٌ بَيْنَ يَدَيَّ يَقُولُ: الَّتِي قَبْلَهَا أَجْوَدُ فَنَظَرْتُ فَإِذَا عُمَرُ قَالَ: إِنِّي قَدْ رَأَيْتُكَ جِئْتَ آنِفًا، قَالَ: " مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُبْلِغُ - أَوْ فَيُسْبِغُ - الْوَضُوءَ ثُمَّ يَقُولُ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةُ يَدْخُلُ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ ".صحيح مسلم بَابُ الذِّكْرِ الْمُسْتَحَبِّ عَقِبَ الْوُضُوءِ ٢٣٤

او یو د جیب کارډ چې مسمی دے په (د جنابت شرعي طریقه د احادیثو په رڼا کې) سره اوګورئ.

## د کوروالي او د شپې خبرې خلقو ته کول

دا حرا م او ناجائز دي د دې تفصیل به روستو راشي.

چې کله د کوروالي او د غسلو نه فارغ شې نو بیا به د کورودانې سره د فائدې او د نصیحت خبرې اوکړې چې زما د مور پلار به حتی الوسع خدمت کوې هغوي ته په نرمه لهجه کې خبرې کوې.

بعض وخت به زما مور او پلار تا ته په سختئ خبرې کوي لیکن ته ورسره ګذاره کوه ځکه چې هغه بوډاګان دې د هغوي ذهن کمزورے شوے دے هغوي له په معمولي معمولي خبرو غصه ورځي زه د هغوي ځوي یم بعض وخت ماته هم سختې خبرې اوکړي لیکن زه صبر کوم ځکه چې هغوي څه وائي یا څه کوي نو زمونږ د فائدې دپاره ئې کوي نو ته هم د هغوي سره ګذاره کوه چې کله ته د هغوي خدمت کوې نو هغه به خوشحاله وي او تاته به دعاګانې کوي ستا صفت به کوي او په تا باندې به فخر کوي نو چې کله هغوي ماته یا بل چاته ستا تعریف اوکړي یا ستا دپاره دعاګانې اوغواړي نو په دې باندې زه خوشحالیږم او د هغوي په غصه مه خفه کیږه ځکه د هغوي غصه وقتي طور باندې وي په زړه کې څه خبره نه ساتي او په زړه کې دا مه راوله چې ګنې دا زما سخر او خواخې دي

بلکه همیشه دپاره دا راوله چې دا زما مور او پلار دي څنګه چې به تا د خپل مور او پلار خدمت کولو نو هم هغه رنګه زما د مور او پلار خدمت هم کوه په دې باندې به الله تعالی هم ستا نه راضي کیږي او زما مور او پلار هم به خوشحالیږي او زه به هم خوشحاله یم .

زما ورندارياني ، زما خوئیندې ، زما چاچي ګانې ، زما مامي ګانې ، او زما خاندان ټول خلق به ستا نه خوشحاله وي .

ګوره زما مور او پلار ما له بل ځائي کې هم واده کولے شو زمونږ په خاندان کې او زمونږ په کورنۍ کې نورې هم ډيرې جينکۍ وې خو بيا هم زما مور او پلار زما دپاره ته خوښه کړې ځکه چې تا کې به هغوي ته خامخا څه خير ښکاره شوے وو .

نو لهذا زما د مور او پلار انتخاب ريشتيا ثابت کړه چې هغوي په دې خپل انتخاب پښيمانه نه کړې اوسه پورې چې ته نه وې راغلې نو الحمد لله زمونږ ښکلے مزيدار وخت تيريدلو نو داسې نه چې ستا د راتلو سره په کور کې جنګونه ، خفګانونه او بحثونه شروع شي ،

بلکې داسې اخلاق ورسره استعمال کړه چې د هغوي نه دا مخکې خوشحالیانې هیرې شي داسې اخلاق چې هغوي په زړه کې اووائي چې کاش کې زما دا انګور چې ۵ کاله مخکې دې کور ته راغلې وے نو ښه به وه .

انتهائي په احتیاط سره به زندګي تیروئ چرته ځُکلې خولې نه دې ګنده او بې هوده الفاظ اونه اوځي چرته زما مور او پلار ته دا موقع میلاؤ نه شي چې هغوي اووائي : چې ستا ښځه بداخلاقه ده ، بد زبانه ده ، تیزه ده ، د مشر کشر تمیز په کې نشته ، چا ورله تربیت ندے کړے په غوجل کې لوي شوې ده ، د انسانیت نه خبره نده ، کاش چې دا بالکل پیدا نوے کاش که مونږ ته مخکې پته وے نو مونږ به دا خپل ځوي له نه اخسته ، مونږ څه خبر وو چې ګنې دا به داسې وي .

بعض وخت به هغوي ستانه امتحان اخلي قصداً به دې غصه کړي لیکن ته مه غصه کیږه .

**مختصر** : دا چې ځان سره عهد او پوخ لوظ اوکړه چې زه به نه غصه کیږم شیطان به غواړي چې تا غصه کړي لیکن ته د شیطان خبره مه منه او یاد ستا که بالفرض تا زما د مور او پلار سره بد اخلاقي اوکړه او هغوي سره دې په سخته لهجه خبرې اوکړې او یا د هغوي سره دې بحث مباحثه اوکړه نو خبردار ، خبردار ، خبردار ، چې بیا به زما نه د ښه سړي طمع نه ساتې ، بیا به زړه کې دا خبره نه راولې چې زه به ستا سره نرمي اوکړم او تا به معافه کړم بیا چې ما تا ته هر قسم سزا درکوله نو زه به ملامته نه یم ځکه ما تا ته خبره صفا کړې ده .

## بله دا اووايه

چې په زندګۍ کې په انسان باندې قسما قسم حالات راځې کله ورسره هر څه ډير وي کله پرې غربت او تنګسيا راځې نو زه به حتی الوسع کوشش کوم چې ستا شرعي حاجات پوره کړم ليکن که د غربت په وجه زه ستا حاجت پوره نه کړم نو خپل مور، پلار ، رونو ، خوئيندو ته به د هغې تذکره نه کوې ځکه د هغوي زړه ته به په دې باندې درد اورسي .

بلکې هيڅ چا ته دا ګِلې شکايتونه مه کوه چې ما خپل خاوند ته د فلانکي څيز ويلي وو ليکن دومره زمانه تيره شوه او هغې ما له رانه وړو.

که ما چرګان او کباب خوړل نو ته به ئې هم خورې او که ما دال او ساګ خوړل نو ته به ئې هم خورې تردې چې که زه خيمه کې اوسيږم نو ته به هم زما سره ګذاره کوې .

٣ ـ هر هغه ريشته دار که زما د خاندان نه وي او که ستا د خاندان وي خو چې ستا ترينه پرده کيږي نو هغې نه به پرده کوې داسې به نه وائي چې دا خو زما د کاکا ځوي دے او دا مې د ماما ځوي دے او دا مې د ترور ځوي دے اودا فلانکے خو زمونږ سره وړوکے لوي شوے دے او فلانکے خو ما ته د وروړ پشان ښکاري نو دا قصې به نه کوې بس نن نه پس به ترينه پرده کوې ځکه دا د قرآن حکم

دے او ستا د پردې په باره کې به الله تعالی ستا سره سره به زما نه هم تپوس کوي .
٤ ـ هر وخت او د هر چا باره کې به ما ته شکایتونه نه کوې چې فلانکي داسې خبره اوکړه او فلانکي داسې کار اوکړو ځکه کیدے شي چې زه په خپله یو پریشانۍ کې یم او ته راته د چا ګِلې شروع کړې نو زه به غصه په تا اوباسم .
٥ ـ چې کله زه غصه یم نو د غصې په وخت کې به ماله جواب نه راکوې ځکه دې سره
به زما غصه نوره هم سیوا شي او کیدے شي چې په خله مې بیا داسې خبرې راشي چې کار د اور په ځائ ورکوي اګر که زه په غلطه یم خو فوراً جواب مه راکوه البته چې کله زما غصه کمه شي نو بیا راته اووایه چې خبره اصل کې داسې وه لیکن تاسو ته غلط فهمي شوې وه .
٦ ـ کله چې زه خفه یم نوته د خوشحالۍ اظهار مه کوه .
مقصد دا چې زه په ټینشن کې یم او پریشانه یم نو داسې نه چې خوشحالي ستا په خفګان بدل نه شي .
زه به په یو مصیبت کې ګیر یم او ته به خاندې نو دا هم مناسب نه ده دې سره به زما په زړه کې ستا قدر ، احترام ختم شي .

بلکې کوشش کوه چې ته زما پرېیشاني ختمه کړې او چې کله ته خفه ئې نو زه به دا کوشش کوم چې تا راضي کړم .
۷ ـ هغه زنانه چې هغه دنیا پرستې وي ، فیشن پرستې وي ، بې پردې او بې پردګي کونکې وي د هغو زنانو سره دوستي او ډېر تعلق به نه ساتې البته رسمي سلام کلام ورسره کولے شې د هغو په خبرو به نه دوکه کیږې .
۸ ـ د چا غیبت کول ، چغلي کول ، چاته کنځل کول ، چا پسې به بغیر د تحقیق نه خبرې نه کوې ، د هرچا په ملکې فضول خندا کول دې نه ځان ساته ځکه که دا بیکاره عادات تا کې موجود وي نو هر څوک به درته په سپک نظر ګوري هر څوک به درنه نفرت کوي ، خلق به در باندې اعتماد نه کوي او خلق به درنه ځان ساتي بیا به خلق د هغه ځائ نه ځان ساتي په کوم ځاي کې چې ته موجوده ئې .
۹ ـ زما د رونړو خوئیندو سره ښه اخلاق چلوه چې زما خویندې په تا فخر محسوس کړي او تا خپله خور ګڼړي ته د هغوي سره داسې رویه استعمالوه چې هغوي تا اووینې نو د هغوي زړونه باغ باغ شي چې هغوي تا د خپلو خوئیندو نه کمه اونه ګڼړي .
۱۰ ـ په مونځونو ، تلاوت ، صدقه ، ذکر اذکار کې سستي مه کوه .
د الله تعالی سره تعلق او ریشته داسې مضبوط کړه لکه د زنځیر کړئ چې بو بل پورې مضبوط او پیوسته وي .

د نیکۍ په هر کار کې جلتي کوه ، د مشرانو عزت کوه په کشرانو شفقت کوه هرچا سره په روڼ تندي میلاویږه د هرې زنانه سره په داسې انداز میلاویږه چې هغوي ستا سره د بار بار میلاویدو ارمان کوي .

په دې باره هم نورې ډیرې خبرې دي خو زه اوس هغه نه ذکر کوم باقي چې ستا ذهن کې کومې مفیدې او دوخت سره مناسب او ضروري خبرې وې نو هغه هم اووایه ورته او آخره کې ورته دا هم اووایه چې ته به زما په خبرو پوره عمل کوې نو که ته په دې خبرو عمل اوکړې نو زه به درنه خوشحاله یم او چې کله زه درنه خوشحاله شم نو دومره ډیره مینه به درکړم چې دنیا به حیرانه شي او د مرګه پورې به ته داسې ژوند تیروې چې خلق به درته پسخیږي او د مرګه پورې به زه په تاباندې د ګل ګذار اونه کړم او زما د خولې نه به چرته هم بیکاره خبره وانه ورې ته به زما د ښو اخلاقو حال اووینې او فخر به پرې کوې، او که بالفرض زما په دې خبرو دې عمل اونه کړو نو بیا به هره ورځ وهل ټکول ، جنګ جګړې وي او زه به درسره په نرمې خبرې او نکړم او ته به په ژوند ستومانه شې نو ستا څنګه خوښه ده په دې خبرو به عمل کوې او که نه؟ د هغې نه مطالبه د جواب به اوکړې چې څه مثبت جواب ئې درکړو نو الحمد لله او وایه بیا موبایل یا الارم ګهړۍ په ټایم کړه چې سحر

وختي د ټولو خلقو نه مخکې پاڅې داسې نه چې ته اوده ئې او سحر نمر راوخيژي او خلق درته آوازونه کوي چې لالا پاڅه چائ اوڅکه.

## يوه مشوره

د سرو زرو يا د سپينو زرو ګوتمه جوړه کړه او د واده په اوله يا دويمه شپه ئې د کوروداني په ګوته کې واچوه او ورته اووايه چې دا زما د طرف نه تاته ګفټ او تحفه شوه يا ورله ښائسته شان سوټ او کپړې واخله نو دې سره به د هغې په زړه کې ستا سره مينه سيوا شي.

## بعض ضروري نصيحتونه

۱ ـ د خواخې ، سخر عزت کوه او وخت په وخت د هغوي تپوس کوه د هغوي سره نرمه لهجه کې خبرې کوه د خپل وس او طاقت مناسب د هغوي خدمت کوه او د هغوي سره تعاون کوه که الله تعالی درله مال درکړے وي نو هغوي له ترې لږ ډير ورکوه او د هغوي په مخکې د خپلې ښځې بد مه وايه ځکه دا د هغوي لور ده د هغوي زړه ته پرې درد رسيږي .

۲ ـ بعض هلکان د واده نه ډير يريږي چې څنګه چل به وي او څه به کيږي؟

او په ذهن کې ئې ناشنا ناشنا وسوسې راځي يو ملګرے ورته يو شان خبره کوي او بل ورته بل شان خبره کوي نو هغه غريب مينتل کيدو ته قابو شوے وي او د واده د نوم نه ئې الرجي شي .

نو پريشانه او غمژن کيږه مه او خفه کيږه مه همت مه بيله حوصله ښکته پورته نه کړې هيڅ به هم نه کيږي ښځه يو کمزورے مخلوق دے هغه بلا او زمرے نه دے چې کمرې ته ننوتو سره به هغه تا روغ تير کړي د هغې نه ولې يريږې هغه خو څه پيرے (جن) نه دے .

هان : (بې ادبي معاف) هغه کس چې هغه خپله ځواني په زناګانو کې او مشت زنئ کې او په نورو بې هوده طريقو باندې تيره کړي وي هغه خو به خامخا يريږي ځکه چې هغو له خو به کورودانه پيغور ورکوي د دې خبرې نور تفصيل زه نه کوم مخکې مې کړے په باب د جنسي تعلقاتو کې هلته اوګوره .

۳ ـ بعض زنانه د واده په شپه پوډرميک اپ اوکړي نو بيا مونځ اودس ته ئې خاص زړه نه کيږي وائي چې زما مخ خرابيږي نو په دې معامله کې ورسره نرمي مه کوه چې خير که نن مونځ اونه کړې نو څه مسئله نده بلکې ورته اووايه دا پوډرميک اپ بيا هم کيږي ليکن د جهنم نه بچاؤ ممکن نه دے.

# د الله تعالى په وعدو باندې يقين ساته

د ابو عثمان النسابوري نه چا تپوس اوکړو چې ته د الله تعالى نه په کوم عمل باندې د ثواب او اجر زيات اوميد ساتې ؟

نو هغه ورته اوويل : چې زما ځواني وه او کوروالاؤ مې په واده باندې جلتي کوله او ما ترينه ا نکار کولو ليکن هغوي ويل چې زمونږ خواهش دے چې تاله واده اوکړو يو ځل يو زنانه زما خواله راغله ماته ئې اوويل : چې ابو عثمانه زما ستا سره ډيره مينه ده زه د الله تعالى نه سوال کوم چې زه ستا سره واده اوکړم، نو ما خپل پلار ته دا خبره اوکړه او هغه بې غرض انسان وو نو راضي شو او ما له ئې هغه جينئ واخستله او واده ئې راله اوکړو نو زه په زړه کې ډير خوشحاله وم چې ما داسې جينئ سره واده اوکړو چې هغې زما سره د واده نه مخکې مينه لرله نو کله چې زه په خوشحالئ خوشحالئ کمرې ته داخل شوم او په هغې مې نظر اولګيدو نو د رنګ نه تکه توره وه او کنړه هم وه خبرې ئې نه اوريدې نو زه ډير خفه شوم او په خپل قسمت باندې حيران وم ليکن هغې واقعي زما سره محبت کولو او د محبت اندازه د دې نه لګيدے شي چې هغې به ما ته ويل بهر ته ډير مه ځه زما سره کينه زما سره خبرې کوه زه غواړم چې هر وخت دې زما په تا باندې سترګې لګي تا ته په کتو باندې زما سترګې يخيږي زه به هم اکثر د هغې دلجوئي دپاره کيناستم ما چرته هم د

هغې نه نفرت نه دے کړے او نه مې ورسره په زړه کې بغض ساتلے دے او ما هغې ته دا خبره نه ده محسوس کړې چې ګنې زه ورسره محبت نه کوم بلکې په خپل زړه کې مې د صبر يو لوي کانړے ایښودے وو او هغه مې نه پوهه کوله صرف د دې دپاره چې د هغې زړه ته درد ونه رسیږي تردې چې ما د هغې سره ۱۵ کاله داسې تیر کړل بیا هغه وفات شوه نو زه د الله تعالی نه امید ساتم چې هغه به رانه په دې عمل خوشحاله شوے وي .

دیته کمال وائي او هوښیاران خلق داسې زندګي تیروي .

## اے ځوانه !

دا سوچ مه کوه او دا خبره ذهن ته مه راوله چې تا ته به داسې ښځه ودیږي چې هغه به د باز پشان غټې غټې سترګې لري نرۍ او وړه پوزه به لري ، نرۍ نرۍ سرې شونډې به لرې غټ ویښته د سر به لري ، دنګه ځواني به لري او د رنګه نه به د شودو پشان سپینه وي داسې به عادات لري ، او داسې به قابلیت لري ، دا سوچونه مه کوه او مه دا طمع کوه مونږ ډیر داسې نوجوانان لیدلي دي چې هغوي د الله تعالی نه دا غوارې چې الله تعالی ماله تعلیم یافته او مزیداره او سپینه ښځه راکړي او دا سوال نه کوي چې الله تعالی ماله دین داره ښځه راکړه نو چې کله ورله الله تعالی سپینه او بد اخلاق ښځه ورکړي نو هغه ورته په شین آسمان کې سپین ستورې اوښائي نو چې

بیا ترې ملګري تپوس او کړي چې زندګي دي څنګه تیریږي نو بیا هغوي له مشوره و رکوي چې ګورئ هر څه کوئ خو چې سپینه ښځه ونه کړئ بیا هغه هوښیار شي او نورو ته نصیحت کوي بیا نورو له مشوره ورکوي چې تاسو خو ئې خورئ نه چې سپینه کوئ توره واخلئ خو دینداره واخلئ بعضی خلقو بچي نه وي نو هغوي هر وخت دعاګانې غواړي چې اے الله ! ماله بچي راکړه او داسې نه وائي چې نیک بچي را کړه دینداره بچي راکړه نو الله تعالی ورله ښه ډیر بچي ورکړي تقریباً در جن ته اورسیږي نو بیا هره ورځ کور ته یوه جګړه راوړي چې ګوري نو د ورځې به خامخا یو سړے دروازه ټکوي چې که دا ځوي ستاسو وي نو برابر ئې کړئ ګنې مونږ به ئې درله برابر کړو.

نو مقصد مې دا دے چې همیشه دپاره د خیر سوال کوه **مثلاً** : داسې وایه چې اے ! الله داسې ښځه راکړه چې زما په کې خیر وي اګر که د رنګ نه هر څنګه وي خو چې دینداره وي دینداره ښځه اخله نو هغه به صبر هم کوي اخلاق به ئې هم ښه وي ستا عزت به هم کوي ستا خیال به هم ساتي مختصر به دا اووایم چې دینداره ښځې سره واده اوکړه نو د ژوند په خوګوالي به نه مړیږې ډیر خلق په دنیا کې شته چې د هغوي ښځې د رنګ نه تورې وي لیکن هغوي دومره د خوشحالئ زندګي تیروي چې خلق ورته حیرانیږي او ډیر خلق

داسې شته چې د هغوي ښځې د رنګ نه سپینې وي لیکن د ښځې د لاس نه په اور کې وي او دومره ترینه تنګ وي چې زړه کې وائي اے الله ! یاما مړ کړي او یا دا ښځه چې زه ترینه اوزګار شم.

نو چې ستا واده د یو داسې زنا نه سره اوشي چې د هغې اخلاق او کردار ښه وي نو د الله تعالی شکر اوباسه .

## د بچو تربیت به څنګه وې

که ته پلار ئې او الله تعالی د اولاد نعمت ورکړے وي تاله نو ستا په ذمه باندې د هغوي هم حقوق دي .

د هغې د حقوقو خیال به سا تې یواځې بچي راوړل څه کمال نه دے بلکې د بچې صحیح تربیت کول دا اصل کې لوي کمال دے ډیر داسې خلق وي چې هغوي د بچو تربیت له څه خاص اهمیت نه ورکوي بچي خپلې مرضۍ ته پریږدي چې هغوي هر څومره بداخلاقیانې کوي نو مور او پلار ورته څه نه وائي : صرف دې وجې نه هغه نیازبین وي او مور او پلار وائي چې دا لا ماشومان دي په خپله به پوهه شي او بعض وائي چې زمونږ لاس نه ورځې د دې د وهلو دپاره نو چې کله ماشوما ن خپلې مرضۍ ته پریښودے شي نو هغوي دومره وران شي چې خلق او ګاونډیان ترینه تنګ شي .

زه یو ځل د یو ملګري په حجره کې ناست ووم نو یو سړے راغے او هغه ملګري ته ئې شکایت اوکړو چې ستا سو ماشومان دا ورانے

کوي لږ وخت پس بل سړے راغے هغه هم شکايت اوکړو لږ وخت پس بل کس ورته فون اوکړو چې ستاسو ماشوم زما ځوي وهلے دے.

نو زه هم حيران شوم روستو مې د خپل ملګري نه تپوس اوکړو چې دا څه مسئله ده نو هغه راته بهانه اوکړه چې زمونږ د ګاونډيانو ماشومان ډير زيات وران دي خلق ټول د هغوي نه تنګ دي نو زه خو پوهه شوم چې ماشومان خو د دې دي خو دا هسې ګاونډيان غريبانان بدناموي نو ما ورته اوويل دا ستاسو د ګاونډيانو بچي دي او که ستاسو د ګاونډيانو د ګاونډيانو بچي دي يعنی ستاسو بچي دي؟ نو هغه پوهه شو او راته ئي اوخندل نو بيا ئي راته اوويل چې مولانا زه هم دوي د لاسه ډير تنګ يم په خبره دا ماشومان نه پوهيږي او وهلو له زما لاس نه ورځي نو ما ورته اوويل : د الله بنده که زه حيقيقت خبره او کړم نو د دې ماشومانو نه لوي مجرم ته ئي دا ورانے ماشومان کوي خو ليکن ته هم د دې سره شريک ئي د هغې وجه داده چې ته دوي ته غصه کيږي نه نو دا نه يريږي او چې کله د دوي په زړه کې يره نه وي نو ظاهره خبره ده چې هغه خو ماشومان دي او ماشومان خو د عقل په لحاظ سره کمزوري وي نو هغوي خو به غلطيانې کوي نو چې ته ورته نه غصه کيږي او دا طمع ترينه ساتې چې دا به شيطاني نه کوي بلکې دا به نيک عمله وي نو د دې خو داسې مثال

دے چې ته یو ماشوم له لاسونه او ښپې اوتړې او د اوبو ډنډ یا ډرم ته ئې ګذار کړې بیا ورته وائې خیال کوه کېړې دې لمدې نه شي.
ماشومان هم مختلف قسم مزاج او طبیعتونه لري بعض ماشومان په وهلو باندې یریږي بعض ماشومان په غصه باندې یریږي بعض ماشومان صرف په نصیحت باندې پوهه شي نو ته د ماشوم طبیعت ته ګوره چې د هغه دپاره په دې درې واړو کې کوم کار مناسب دے نو هغه شان معامله ورسره کوه کله کله سختي کوه او کله ورته غصه کیږه او ډیر ورته نصیحت کوه .

## خو یاد ساته

هر وخت وهل کول او هر وخت غصه کولو سره هم ماشوم بګړاو کیږي ورانیږي او هغه د وهلو سره عادت شي اوس نیمه ګینته مخکې زه سکول کې کلاس ته داخل شوم د ماشومانو (هوم ورک) یعنی د کور کار مې چیک کولو نو یو ماشوم کاپي راوړه د چیک کولو دپاره ما چې کله هغه کافي اوکتله نو زه پوهه شوم چې داخط د دې ماشوم نه دے ځکه هغه ماشوم په دویم کلاس وو او د خط نه داسې معلومیدل چې دا داسې چا لیکلے چې هغه کم از کم ۱۰ پورې سکول ویلے دے نو ما هغه ماشوم ته اوویل چې بچیه دا خط د چا دے ؟
نو هغه اویل چې سر ! دا زما خط دے نو ماله خندا راغله د هغه په

بې عقلۍ باندې چې دا غريب اوس ماله دوکه راکول غواړي نو دا دې ته سوچ نه کوي چې څومره زما عمر وي نو دومره به زما د استاذ صرف تجربه وي بهر حال زه هغې ته سخت غصه شوم او ورته مې اووئيل : چې زه به نن تاله سخته سزا درکوم ځکه چې ته دروغ وائې د دهمکۍ او غصې هره طريقه مې ازماؤ کړه ليکن ماشوم هم قسم کړے وو چې مړ به شم ليکن داسې به اونه وايم چې دا خط بل چا ليکلے دے پيريډ ختم شو او زه بل کلاس ته لاړم په څلورم پيريډ کې بيا هم هغه کلاس ته لاړم نورو ماشومانو ته مې اوويل چې تاسو ځان سره سبق واړوئ او هغه هلک مې راوغښتلو او په غوږ کې مې ورته اوويل : چې بچيه ريشتيا ريشتيا اووايه ستا کاپي چا ليکلے ده زه تاته هيڅ نه وايم او بل چا ته هم نه وايم نو هغې راته اوويل : چې ما له د ماما ځوې ليکلې ده .

نو مقصد مې دا دے چې بعض وخت به ماشوم غلطي اوکړي نو ته به د حکمت نه کار اخلې هغه ځان ته رانژدې کړه او په ښکلي انداز ورته اووايه چې بچيه دا کار دې ولې اوکړو ؟

دا کار نه وو پکار يا داکار دې ولې اونه کړو ؟ د دې کار کول ضروري وو يا هغه نه کومه غلطي اوشي نو ورته اوويه بچيه داسې کول نه وو پکار دا ښه عادت نه دے ستاسره دا کار ښه نه ښکاري بالفرض ستا ځوي راپاڅې او د ګاونډي ځوي اووهي نو هغه ته

نصيحت اوکړه چې بچيه ته ماته ډير ګران ئې زه ستا سره ډيره مينه کوم خو ستا دا عادت زما نه دے خوښ چې کله ستا باره کې ما ته څوک ګيله اوکړي نو زه ډير زيات خفه کيږم چې زما د ځوي په شان ماشوم به نه وي ليکن چې کله ستا دا شکا يتونه واورم نو زړه مې ډير خفه شي نو ګوره دې سره زما هم بې عزتي ده او ستا خاندان هم په بدو الفاظو ياديږي د ګاونډيانو ماشومان خو ستا وروڼه دي او ورور سره څوک جګړه نه کوي دا ښه کار نه دے ګوره الله تعالی دې نه کړي که صبا مونږ ته څه تکليف راورسيږي نو د ټولو نه اول به همدغه ګاونډيان زمونږ په کار راځي يا الله تعالی دې نه کړي ستا ځوي چا ته د مور او خور کنځل اوکړي نو ورته اووايه چې بچيه کنځل کول خو د فاسقانو او سپکو خلقو کار دے زمونږ نبي عليه السلام مونږ د دې نه منع کړي يو اوګوره بچيه ته غواړې چې خلق ستا مور په بدو الفاظو سره ياده کړي ؟

نو هغه به وائي چې نه ! زه نه غواړم نو ورته اووايه چې خلق هم داسې نه غواړي ې دهغې مور دې څوک په غلطو الفاظو او کنځلو ياده کړي او که تاته څوک د مور او پلار کنځل کوي نو دا په حقيقت کې خپل مور او پلار ته کنځل کول دي او دا کنځل تا پورې نه انخلي .

نو داسې ښکلي انداز کې د بچي تربيت کوه نو چې کله ته د هغې ذهن

سازي اوکړې په داسې انداز کې نو هغه به چرته هم غلط کار اونکړي او دا هم يا ساته چې ستا بچي ستا د پاره د الله د طرف نه لوي نعمت وي خو دا هغه وخت کې چې کله ته د هغوي تربيت اوکړې او چې تربيت ورله نه وي کړے نو دا اولاد ستاسو دپاره فتنه ده ، هلاکت دے او تباهي ده لکه الله تعالى فرمائي :

إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلادُكُمْ فِتْنَةٌ وَاللَّهُ عِنْدَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ [1]

**﴿ترجمه﴾** : ستاسو مال او ستاسو بچي ستا دپاره امتحان دے .

او د بچو تربيت ستاسو په ذمه قرض او فرض دي لکه رسول الله عليه السلام فرمائي :

«كُلُّكُمْ رَاعٍ، وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ» [2]

**﴿ترجمه﴾** : په تاسو کې هر کس د شپونکي مثال لري څنګه چې د شپونکي نه د ګډو بيزو باره کې تپوس کيږي نو داسې به ستاسو نه هم د کشرانو او رعييت باره کې تپوس کيږي .

داسې مه وايه چې يره ما خو خپله غاړه ازاده کړې ده اوس د بچو خپله مرضي ده چې هر څه کوي د دوي خپل کار دے .

چې ځوي ئې فلمونه ګوري ، مونځ نه کوي ، لوپرانو سره ګرځي ، په

---

[1] [التغابن:15] ؛

[2] البخاري 2/ 901، ومسلم 3/ 1459.

بازارونو کې عبث ګرځې ګانې بجانې اورې زیره خروې یانورې غلطیانې کمزوریانې په کې وي .

نو اول هغه ته نصیحت اوکړه او که نصیحت پرې اثر نه کوي نو بیا ورته غصه کیږه او غصه پرې هم اثر نه کوي نو بیا ورله سزا ورکوه او که په وهلو هم نه سمیږي نو بیا ئې د کورنه اوباسه ، خبرې ورسره مه کوه ، تعلقات ورسره ختم کړه ، او هغه کس چې د دې ماشوم ورسره ګپ شپ وي **مثلاً** : کاکا ، ماما ، د ترور ځوي ، د تره ځوي ، د ماما ځوي ، یا دهغې څه خاص ملګري هغه پوهه کړه او ورته اووایه چې زما فلانکے ځوي فلانکے کار کوي نو ته ورته نصیحت اوکړه کیدے شي ستا خبره اومني .

نو هغه ملګرے دې ورته نصیحت اوکړي کیدے شي چې د هغه خبره پرې اثر اوکړي.

دارنګه په خپله لور هم نظر ساته وخت په وخت ورته نصیحت کوه هغه د بې پرده ګئ نه منع کوه او د هغه کسانو نه ترې د پردې حکم کوه چې د هغې دپاره نا محرمه وي **مثلاً** : د کاکا ځوي ، د ماما ځوي ، د ترور ځوي ، او نور خپلوان وغیره .

د اولاد تربیت ، حقوق ، د تربیت فائدې او د نه کولو نقصانات .

تربیت ولې ضروري دے ؟

او د دې نه علاوه د اولاد د تربیت متعلق بې شماره واقعات او خبرې

زما په ذهن کې دي دلته مې صرف اشاره اوکړه ان شاء الله د هغې متعلق به زه مستقل کتاب ليکم د هغې کتاب انتظار کوئ د هغه کتاب مطالعه ستاسو دپاره ضروري ده .

## بعض مهم سوالات او د هغې جوابات

**سوال** :

خانداني منصوبه بندي څه حکم لري ؟

**جواب** :

داسې دوائي او ګولئ او ستنې چې د هغې په استعمال سره د زنانو حمل بنديږي نو دا ناجائز او حرام دي د دې وجې نه بچي بندول يا بچي نه راوړل چې د دې رزق به نه ميلاويږي او دا به کوم ځائ نه خوراک کوي ؟

زما سره دومره روپئ نشته ، زما کاروبار نشته ، زه په جاب نه يم لګيدلے او که بچي ډير شي نو بيا راته مسائل پيدا کيږي نو داسې سوچ کول په الله تعالى باندې بدګماني ده رزق ورکول د الله تعالى په ذمه دي ، په هغې توکل کوه ته دا فکر مه کوه الله تعالى فرمائي :

وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ مِنْ إِمْلَاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ [1]

**﴿ترجمه﴾** : تاسو خپل اولاد د لوږې د يرې نه مه وژنئ مونږ تاسو له

[1] سورة الأنعام ١٥١

هم رزق درکوو او ستاسو بچوله هم رزق درکوو.
بل ځائ کې الله تعالی فرمائي:
وَكَأَيِّنْ مِنْ دَابَّةٍ لَا تَحْمِلُ رِزْقَهَا اللَّهُ يَرْزُقُهَا وَإِيَّاكُمْ [1]
﴿ترجمه﴾: څومره زنده سرى او حيوانات چې دي دوي په ځان پسې خوراک نه ګرځوي بلکې الله تعالی دوي له خوراک ورکوي او تاسو له هم.
او نبي عليه السلام فرمائي:
«تَزَوَّجُوا الْوَدُودَ الْوَلُودَ فَإِنِّي مُكَاثِرٌ بِكُمُ الْأُمَمَ» [2]
﴿ترجمه﴾: تاسو د داسې زنانو سره واده کوئ چې هغه محبت کونکي وي او ډير بچي راوړونکي وي ځکه د قيامت په ورځ به زه د خپل امت په اکثريت باندې فخر کوم.
شيخ ابن باز او ابن جبرين رحمهما الله نه چا تپوس اوکړو چې يوه زنانه خپل ماشوم له پئ ورکوي او په دې دوران کې هغه داسې ګولئ استعمالوي چې حيض ئې نه بنديږي او حمل نه اخلي نو ايا دا جائز دي؟ هغې جواب ورکړو چې آؤ! هغه که دا کار په دې نيت

---

[1] سورة العنكبوت ٦٠

[2] رواه أبو داود رقم (2050) في النكاح، باب النهي عن تزويج من لم يلد من النساء، والنسائي 6 / 65 و 66 في النكاح، باب كراهية تزويج العقيم، وإسناده حسن، وله شاهد عند أحمد من حديث أنس، وصححه ابن حبان رقم 228 "

اوکړي چې زما ماشوم ته پئ مکمل میلاؤ شي او د هغې په صحت باندې اثر پرى نه وځي او د دې ماشوم حق ضائع نه شي نو بیا دا کار جائز دے یا د زنانه صحت خراب وي او بچے ئي بغیر د آپریشن نه نه کیږي او کوالیفائیډ ډاکټر یا ډاکټره ورله مشوره ورکړي چې ستا د مرګ خطره ده ته فى الحال مانع حمل ګولۍ استعمال کړه نو ان شاء الله دا به جائز وي.

**سوال** :

د واده نه مخکې شرط لګول څنګه دي ؟ **مثلاً** : یوه زنانه دا اووائي چې زه ستا سره په دې شرط واده کوم چې ته به ما د واده نه پس د دیني تعلیم کولو نه نه منع کوې نو داسې شرط لګول څه حیثیت لري ؟

**جواب** :

که د نکاح نه مخکې یوه زنانه دا شرط اولګوي او خاوند ورسه اومني نو بیا د هغې پوره کول ضروري دي ځکه قرآن کریم کې الله تعالى فرمائي :

وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ [1]

دارنګه نبي علیه السلام فرمائي :

---

[1] سورة المؤمنون ٨

چې په کومو شرطونو باندې تاسو شرمګاه حلالوئ نو د هغې پوره کول زیات مناسب او ضروري دي .[1]

**سوال** :

د کویژدن نه پس هلک او جینئ د یو بل سره لاس میلاوولے شي او که نه یا په ټلیفون خبرې کولے شي او که نه ؟

**جواب** :

د کویژدن نه پس هلک د جینئ سره لاس نه شي میلاؤ ولے ځکه هلک په دغه وخت کې نا محرم وي ځکه عائشه رضي الله عنها فرمائي :

نبي علیه السلام چرته هم د نامحرمه زنانو سره لاس نه دے میلاؤ کړے مَا مَسَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ امْرَأَةً قَطُّ [2]

د اهل حدیث ، احناف ، او شوافعو علماؤ دا مسلک دے چې د کویژدن نه مخکې هلک د جینئ سره لاس نه شي میلاؤ ولے او په

[1] عَنْ عُقْبَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَحَقُّ مَا أَوْفَيْتُمْ مِنَ الشُّرُوطِ أَنْ تُوفُوا بِهِ مَا اسْتَحْلَلْتُمْ بِهِ الفُرُوجَ»

رواه البخاري 9 / 188 رقم ٥١٥١ في النكاح، باب الشروط في النكاح، وفي الشروط، باب الشروط في المهر عند عقدة النكاح، ومسلم رقم (1418) في النكاح، باب الوفاء بالشرط في النكاح،

[2] صحيح مسلم 1866

ټليفون باندې هم خبرې کول بلاضرورته د فتنې نه خالي نه دي البته په وخت د ضرورت کې سوال جواب کولے شي.

بعض خلق وائي چې دا خو زما خپله ښځه ده خير دے که زه ورسره خبرې کوم نو دا غلطه خبره ده کيدے شي چې ستاسو په مينځ کې د واده نه مخکې خفګان راشي او رشته مو ختمه شي .

نو بيا هلک يو بل ته قيصې کوي چې دې جينۍ سره واده مه کوئ ځکه چې دې سره ما داسې داسې خبرې کړي دي نو د هغې جينۍ زندګي تباه کړي او داسې ډير شوي دي .

**سوال** :

د بې نمازه سړي سره واده کول څه حکم لري ؟

**جواب** : چې څوک قصداً او عمداً مونځ نه کوي نو داسې کس سره د جينۍ واده کول يا داسې کس له لور، خور ورکول په نکاح سره حرام دي ځکه د ډيرو احاديثو نه دا خبره معلوميږي چې مونځ نه کونکے کافر دے لکه نبي عليه السلام فرمائي :

«إِنَّ بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّرْكِ وَالْكُفْرِ تَرْكَ الصَّلَاةِ» [1]

**﴿ترجمه﴾** : د بنده او د کفر او ايمان په مينځ کې فرق کونکے شے هغه مونځ دے .

---

[1] صحيح مسلم 82

يعنی څوک چې مونځ کوي هغه به مسلمان وي او څوک چې مونځ نه کوي نو هغه مسلمان نه شمارل کيږي .
عمر رضي الله عنه به فرمائيل :
وَلاَ حَظَّ فِي الإِسْلاَمِ لِمَنْ تَرَكَ الصَّلاَةَ،[1]
امام نووي ، ابن تيميه ، ابن قيم شيخ عثيمن ، عبد الرحمن المباركفوي وغيره رحمهم الله ټولو دا خبره کړيده چې څوک مونځ نه کوي هغه کافردے او د اسلام نه خارج دے د تفصيل دپاره شرح مسلم للنووي اوګورئ [2]
لهذا دا خبره ثابت شوه چې مونځ نه کونکے کافر دے او نکاح ورسره جائز نه ده ليکن د افسوس خبره دا ده چې ډير خلق لورياني او خويندې بې نمازو له صرف د دې دپاره ورکوي چې هغوي مالداره وي د ګاړو او بنګلو مالکان وي ښه نوکري لري ښه تنخوا لري مقصد دا چې دخپلې لور خور دنيا ښه کولو دپاره د هغې آخرت تباه کوي نو دا د نقصان خبره ده او دا کم عقل توب دے او د تعجب خبره خو دا ده چې بعض جينکۍ او زنانه وائي چې زه د فلانکي سړي سره واده کوم اګر که هغه مونځ نه کوي اګر که هغه فلمونه

---

[1] موطأ الإمام مالك باب العمل فيمن عليه الدم من جرح , أو رعاف101 –
[2] ١٨٧\٤ اضواء البيان ٣١١\٤ تحفة الاحوذي ٤٠٧\٧ مجموع الفتاوى ٧\ ٩٧ كتاب الصلاة ص ٦٢ الصارم المسلول ٥٥٤ وغيره

ګوري اګر که شراب او چرس څکي نو دا ځومره د افسوس خبره ده دا د هلاکت او تباهۍ خبره ده بيا چې واده اوکړي نو ژاړي چې خاوند زما خيال نه ساتي زما حقوق نه پوره کوي زما سره ظلم کوي ماله وخت نه راکوي نو دې ته سوچ اوکړه چې کوم کس د الله تعالی حقوق نه اداء کوي د الله تعالی د احکامو خيال نه ساتي د اله تعالی عبادت له وخت نه ورکوي د خپل ځان سره ظلم کوي نو هغه به تا څه خوشحاله اوساتي او ستا به څه حقوق اداء کړي .

**سوال** :

آيا د يوې ښځې ګواهي په رضاعت کې قبليږي ؟

**جواب** :

په باب د رضاعت کې د يوې ښځې ګواهي هم قبليږي خو دا هغه وخت چې زنانه ريشتوني او ثقه وي داسې نه چې زنانه په کور کې د چا سره جګړه اوکړي او د هغې د کور ورانولو دپاره ورته اووائي چې دې فلانکې او فلانکۍ له ما شوده (سينه) ورکړې ده يا يوه ليو نۍ راپاځي او اووائي چې فلانکي له مې سينه ورکړې ده .

نو دوي به بيا ګواهان راولي .

اوس که يو زنانه ښه عقلمنده وي او دا اوائي چې دې فلانکي او فلانکۍ له مې سينه ورکړې ده نو د هغې يوې زنانه ګواهې به هم قبلولے شي .

په دې خبره دليل حديث د عقبه ابن الحارث رضي الله عنه دے چې يوه ښځه راغله او دې ښځې او خاوند ته ئې اوويل چې ما تاسوله سينه درکړې ده نو نبي عليه السلام دواړو ته اوويل چې د يو بل نه جدا شئ ځکه تاسو د يو بل خور او ورور ئې .

**سوال** :

د نکاح تړلو څه طريقه د شريعت په رڼا کې وضاحت اوکړئ .

**جواب** :

د نکاح تړلو طريقه انتهائي اسانه او مختصره ده چې کوم کس نکاح تړي نو هغه دې مسنون خطبه اووائي کومه چې مونږ د کتاب په شروع کې ليکلې ده .

بيا هلک ته به د دوه ګواهانو په موجود ګئ کې اووائي چې ما ستا نکاح د فلانکئ جينئ سره ( د جينئ نوم او د پلار نوم به ئې واخلې ) د هغې د ولي په رضامندئ سره د دومره حق مهر په عوض اوتړه له (حق مهر به واضحه کړې ) تا ته قبوله ده که هلک اووائي چې ما قبوله کړې ده نو د هغه نکاح اوشوه په دې الفاظو کې د زنانه نه تپوس کول ضروري نه وي ځکه د هغې ولي د هغې د رضامندئ ضمانت ورکوي .

**سوال** : چې يوې زنانه پسې بل چا د نکاح پيغام ليږلے وي نو ايا زه دغه زنانه پسې د نکاح پيغام ليږلے شم په دغه وخت کې ؟

**جواب** :

چې كله ستا ورور مسلمان د يوې زنانه غوښتلو دپاره جرګه ورليګلې وي نو ستا دپاره جائز نه دي چې ته هم هغه زنانه پسې په هغه وخت كې جرګه اوليږې لكه رسول الله عليه السلام فرمائي :

ولا يَخْطُبِ الرجل على خِطْبة أخيه، حتى ينكِحَ أو يتركَ» [1]

**﴿ترجمه﴾** : هيڅ څوک دې د خپل ورور مسلمان په جرګې پسې جرګه اونه ليږي تردې پورې چې هغه ورسره نكاح اوكړي او يا ئې پريږدي .

او په بل حديث د ابن عمر رضي الله عنه كې دي نبي عليه السلام فرمائي :

«وَلاَ يَخْطُبَ الرَّجُلُ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ، حَتَّى يَتْرُكَ الخَاطِبُ قَبْلَهُ أَوْ يَأْذَنَ لَهُ الخَاطِبُ» [2]

**﴿ترجمه﴾** : تاسو كې دې څوک د خپل مسلمان ورور په جرګه

---

[1] رواه البخاري 9 / 171 في النكاح، باب لا يخطب على خطبة أخيه حتى ينكح أو يدع، وفي الأدب، باب ما ينهى عن التحاسد والتدابر، وباب: {يا أيها الذين آمنوا اجتنبوا كثيراً من الظن} ، وفي الفرائض، باب تعليم الفرائض، ومسلم رقم (2563) في البر والصلة، باب تحريم الظن والتجسس والتنافس،

[2] رواه البخاري 9 / 138 و 139 في النكاح، باب لا تنكح المرأة على عمتها، ومسلم رقم (1408) في النكاح، باب تحريم الجمع بين المرأة وعمتها أو خالتها في النكاح

باندې جرګه نه لیږي.

هان : که هغه ئې په خپله پریږدي او تاته اجازه اوکړي امام نووي ابن قدامه ، سید سابق ، عبد الله بسام ، صالح بن فوزان ، ابن تیمیه ، سلیم الهلالي او د جمهور علماؤ دا قول دے چې داسې کول حرام ناجائز دي.[1]

یو سړي خپل ملګري ته اوویل : چې فلانکي کور کې رشته ده او زه غواړم چې هغې کور کې واده اوکړم خو چونکې زه خپله نشم تلے ته زما دپاره په جرګه لاړ شه.

نو هغه اوویل : صحیح ده نو هغه کورته لاړو نو د کور ولاؤ ترینه تپوس اوکړو چې تاسو ولې راغلې ئې ؟

نو هغه ورته اوویل : چې زه خو دې دپاره راغلے یم چې تاسو خپله لور ماله په نکاح راکړئ ؟

نو هغوي اوویل : چې مونږ به پرې سوچ اوکړو صبا راشه .

صبا چې کله ورغے نو کوروالاؤ ورته اوویل : چې صحیح ده مونږ تا سره رشته کوو .

واپس چې راغے نو ملګري ورته اوویل : چې څنګه چل دے هغه زما کار به اوشي او که نه ؟

[1] تفصیل دپاره اوګوره نیل الاوطار ۱٤\۸۰ شرح مسلم ۵\۲۱٤ فقه السنه ۲\۱۱۳ المغني ۹\۵۷۰ توضیح الاحکام ۵\۲۵۲ الملخص الفقهي ۲\۲٦۲ فتح الباري ۱۰\۲۵۰

نو هغه ورته اوويل : آؤ ! کار خو ما شاء الله اوشو هغه جينئ خو ئې ماله په نکاح راکړه .
نو هغه ملګري ورته اوويل : چې ته خو ما دځان دپاره په جرګه ليګلے وې جينئ تا ولې واخسته ؟
نو هغه ورته په جواب کې اوويل : چې هغه خو ئې ماله ډيره په خوارو زارو راکړه نو تاله به ئې څه درکوله .
نو داسې کار به نه کوې دا ناجائز دے .
زما د مدرسې ملګرے وو په ګوجرانواله کې نو هغه راته قصه کوله چې ما يو معزز او ديندارہ سړي ته اوويل : چې فلانکي کور کې يوه ديندارہ او حياناکه جينئ ده زه غواړم چې د هغې سره واده اوکړم تاسو زما دپاره لاړ شئ او جرګه پرې اوکړئ .
نو هغه حاجي صاحب هغه کور ته لاړو هغوې ته ئې اوويل : چې يو کس ستاسو د جينئ رشته غواړي خو مرضي ستاسو ده که هغې له ئې ورکوئ او که زما ځوي له ئې ورکوئ هغه په ځلورمه درجه کې سبق وائې او زما ځوي عالم هم دے او حافظ هم دے او اوس b--.a تيارے کوي او ما شاء الله اخلاقي هم دے نو هغه خلقو اوويل : چې مونږ به ستا د ځوي په باره کې سوچ اوکړو او هغه بل طالب العلم له ئې نه شو ورکولے.
بيا ئې هغه جينئ د حاجي صاحب ځوي له ورکړه او زه حيران پاتې

شوم.

نو داسې حاجې سره سړے څه اوکړي ؟

**سوال** :

په حالت د نشې کې طلاق واقع کيږي او که نه ؟

**جواب** :

د قرآن او سنت نه معلوميږي چې د نشې په حالت کې ورکړے شوي طلاقو باندې شرعي حکم نه لګي لکه الله تعالى تعالى فرمائي: يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَقْرَبُوا الصَّلاةَ وَأَنْتُمْ سُكارى حَتَّى تَعْلَمُوا مَا تَقُولُونَ [1]

**﴿ترجمه﴾** : اے ! د ايمان والاؤ د نشې په حالت کې مونځ ته مه نزدې کيږئ تردې پورې چې تاسو پوهه شئ چې څه وائي په خولو باندې .

د الله تعالى په نيزد د نشې قول له اعتبار نشته ځکه چې هغه ته پته نه وي چې د هغه د خولې نه څه وځي .

د علي رضي الله عنه نه نقل دي چې حمزه رضي الله عنه د نشې په حالت کې د علي رضي الله عنه اوښان مړه کړل نو نبي عليه السلام راغے او هغه ئې ملامته کولو چې اوئې کتل نو پته ورته اولګيدله

[1] [سورة النساء: 43]

چې حمزه رضي الله عنه د نشې په حالت کې دے نو حمزه رضي الله عنه نبي علیه السلام ته اوویل : چې ته خو زما د پلار غلام وې نو نبي علیه السلام چې د هغه دا حالت اوکتلو نو واپس شو بهر کیف حمزه رضي الله عنه چې د نشې په حالت کې کومه خبره اوکړه نو هغې له هیڅ قسم اعتبار نشته او که دا خبره ئې د نشې نه بغیر کړې وے نو د اسلام نه به خارج شوے وے .

امام طاوس ، عطاء ، قاسم ، عمر بن عبد العزیز ، او عثمان رضي الله عنه د ټولو نه هم دا نقل دي چې د نشې په حالت کې طلاق نه واقع کیږي د تفصیل دپاره د امام ابن قیم رحمه الله کتاب ،،،زاد المعاد،،[1] اوګوره .

## بعض هغه کارونه چې اسلام مونږه د هغې نه منع کړي یود بدل نکاح

نکاح شغار (ادل بدل) شغار اصطلاحي مفهوم دا دے چې یو کس داسې اووائي : چې ستا ځوئي ، رور ، خور ئې وغیره له به مونږ خپله جینئ درکړو خو په دې شرط چې تاسو به هم د دې په بدل کې مونږ له جینئ راکوئ دیته مونږ ادل بدل وایو او د شریعت په رنړا کې دیته نکاح شغار وائي .

---

[1] ٥\٢١٠تا ٢١٤

نو دا حرام کار دے په صحیح حدیث کې راغلي دي نبي علیه السلام فرمائي :

«لَا شِغَارَ فِي الْإِسْلَامِ»[1]

**«ترجمه»** : په اسلام کې شغار یعنی په بدل باندې رشته ورکول حرام دي د دې د حرمت وجه دا ده چې بالفرض که په یو کور کې نا چاقي ، اختلافات ، جنګ جګړې وغیره شروع شي نو په بل کور کې چې هلته به خه امن ، سکون ، خوشحالي ، راحت ، مینه ، محبت وغیره وي نو هغه کور هم انتقاماً تباه او برباد شي .

ځکه چې هغوي دا شکایت کوي چې دې زمونږ خور ، لور ، پریشانه کړې ده هغه ئې وهلي ده نو مونږ به ولې د دوي خور ، لور ، وغیره خوشحالئ ته پریدو ؟

د دې وجې نه په شریعت کې دا حرام کار دے ځکه چې یوه جینئ به ښه نیکه ، صالحه ، شریف النفس ، شریف الطبع، وفاداره ، مینه ناکه ، اطاعت ګذاره ، ولې نه وي خو د مد مقابل د وجې نه د هغې غریبې هم زندګي تباه او برباد شي .

مختصر دا چې هر هغه طریقه ، هر هغه صورت ، هر هغه شکل ، چې د هغې په وجه د بل چا کور تباه کیږي نو اسلام هغه حرامه کړیده .

---

[1] سنن ابن ماجه 1885

د دې متعلق ډیر حدیثونه دي زما مقصد د هغې ټولو بیانول نه دي . په دې موضوع علماء کرامو کتابونه لیکلي دي هغه اوګورئ . زما مقصد صرف اشاره کول وو .

# د حیض په حالت کې جماع کول

د حیض په حالت کې د ښځې سره کوروالے کول حرام دے
الله تعالی فرمائي :

وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُوا النِّسَاءَ فِي الْمَحِيضِ وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّى يَطْهُرْنَ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ [1]

**﴿ترجمه﴾** : اے نبي علیه السلام دا خلق ستاسو نه د حیض په باره کې تپوس کوئ نو دوي ته اووایه حیض ګندګي ده دحیض په ورځو کې د زنانو نه جدا شي (یعنی دهغوي سره کوروالے مه کوئ)

تر هغه پورې چې هغوي صفا شوي نه وي (یعنی غسل ئې نه وي کړي) او چې کله هغوي پاکې شي (غسل اوکړي) نو ورته راتګ کوئ د هغه ځائي نه د کوم اجازت چې تاسو ته الله تعالی کړے دے.

دلته د پوائنټ یوه خبره ده هغه دا ده چې یو کس که بالفرض خپلې ښځې ته حیض په ورځو کې راتګ کړے وي او هغه ته د دې ګناه او قباحت پته نه وي یعنی په غلطئ او لاعلمئ کې دا کار کړے وي نو هغه دې توبه اوباسي ځکه

إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ

---

[1] [البقرة: 222]

**﴿ترجمه﴾** : الله تعالی د توبه ويستونکو سره محبت کوي

وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ

**﴿ترجمه﴾** : محبت کوي د صفائي کونکو سره .

مقصدا دا چې حيض ګندګي ده نجاست دے نو هغه خلقو سره الله محبت نه کوي ځوک چې داسې ګندګۍ کې واقع کيږي بلکې د صفائي خوښونکو سره الله تعالی محبت کوي .

طب جديد او سائنس نه دا خبره ثابته شوې ده چې د حيض په حالت کې کوروالي کولو سره قسماقسم بيمارياني پيدا کيږي .

د هغې دپاره تفسيرمراغي وغيره کتابونه اوګورۍ ښه په تفصيل سره پدې موضوع ليکل کړي دي .

ابن عباس رضي الله عنه فرمائي :

چې چا په حالت د حيض کې کوروالے اوکړو نو هغه به يو دينار صدقه کوي د فديه په طور باندې .

ابن عباس رضي الله عنه وائي که د حيض په ابتداء ورځو کې جماع اوکړي نو ١ دينار دے او که آخره کې اوکړي نو نيم دينار دے .

حسن بصري ، سعيد بن جبير ، قتاده ، اوزاعي ، اسحاق ، شعبي ، نخعي و مکحول ، ابوالزناد ، ربيعه ، حماد بن ابي سليمان ، ابن مبارک ، ايوب سختياني ، سفيان ثوری، شافعي ، ليث ، احمد ، وغيره

رحمهم الله نه هم داسې نقل دي چې يا به نيم دينار ورکوي يا به يو دينار.

امام مالک، ابو حنيفه رحمهم الله په نيزد په داسې کس کفاره نشته البته صرف توبه ويستل دي او استغفار کول دي [1]

راجح دا ده چې صدقه به ورکوي خامخا البته ګنهګار هم دے نو په اخلاص به توبه هم اوباسي.

## حق مهر نه ورکول

بعض ظالمان زنانه له حق مهر نه ورکوي حالانکې دا ډير لوي جرم دے لکه الله تعالى فرمائي:

وَآتُوا النِّساءَ صَدُقاتِهِنَّ نِحْلَةً فَإِنْ طِبْنَ لَكُمْ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ نَفْساً فَكُلُوهُ هَنِيئاً مَرِيئاً [2]

**﴿ترجمه﴾**: او زنانو له د هغوي حق مهر پوره ورکوئ په خوشحالئ سره.

هان: که زنانه تاسو ته په خپله خوښه حق مهر درکړي يا کم کړي تاسو ته او يا معاف کړي تاسو ته نو بيا خه په خوشحالئ او شوق سره ئې خورئ.

[1] نيل الاطار ١\ ٤٠٨

[2] [سورة النساء (4)]

بل ځائي کې فرمائي :

وَإِنْ أَرَدْتُمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَكَانَ زَوْجٍ وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنْطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا أَتَأْخُذُونَهُ بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُبِينًا [1]

**﴿ترجمه﴾** : کله چې تاسو يوه ښځه پريښودل غواړئ او بله کول غواړئ نو اګر که مخکنئ ښځې له مو لويه خزانه ورکړي وي نو د هغې نه هيڅ هم واپس مه اخلئ ايا اخلئ تاسو هغې لره په داسې حال کې چې بهتان تړونکې ئي او په ګناه ښکاره سره .

مقصد دا ے چې کوم مال تاسو ورله په خوښه ورکړے وي حق مهر کې نو هغه ترينه واپس مه اخلئ .

باقي پاتې شوه دا خبره چې حق مهر څومره مقررول پکار دي نو شريعت مطهره پدې باب کې تخصيص نه دے کړے بس د خپل وس مطابق مهر ورکول ضروري دي که وس کې دې يو توله کالے وي او که ۱۰تولې .

خو البته فضول خرچئ او اسراف نه به ځان ساتې دارنګه حديث کې دي نبي عليه

السلام فرمائي :

چې کوم کس د لږ يا زيات مهر په عوض کې يوې ښځې سره واده

1 [سورة النساء (۲۰)]

اوکړي او په زړه کې دا اراده اوکړي چې زه به ښځې له حق مهر نه ورکوم نو دا په اصل کې هغې ښځې له دوکه ورکول دي نو که هغې حق مهر ورنه کړو او په داسې حال کې مړ شو نو د قيامت په ورځ به د الله تعالی مخې ته د زناکار سړي په حيثيت اودريږي.[1]

[1] طبراني

# د ښځې په دبر کې جماع کول

ابو هريره رضي الله عنه فرمائي : چې رسول الله عليه السلام فرمائيلي دي

«مَلْعُونٌ مَنْ أَتَى امْرَأَتَهُ فِي دُبُرِهَا» [1]

**﴿ترجمه﴾** : کوم کس چې ښځې ته د شا طرف نه راتګ اوکړي (د ډکو متيازو په ځائي کې) نو دا انسان لعنتي دے .

بل حديث کې راځي

«مَنْ أَتَى امْرَأَتَهُ فِي دُبُرِهَا فَقَدْ بَرِئَ مِمَّا أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ» [2]

**﴿ترجمه﴾** : کوم کس چې ښځې ته د شا طرف نه راتګ اوکړو نو هغه بيزاره شو د هغه څه نه چې نبي عليه السلام پرې راتګ کړے وي يعنې د قرآن سراسر خلاف کار ئې اوکړو .

دارنګه خزيمه ابن ثابت رضي الله عنه نه روايت دے چې نبي عليه السلام فرمائيلي دي :

«لَا تَأْتُوا النِّسَاءَ فِي أَدْبَارِهِنَّ» [3]

**﴿ترجمه﴾** : د شا طرف نه جماع مه کوئ .

---

[1] أخرجه أبو داود رقم (2162) في النكاح، باب جامع النكاح، وابن ماجة (1923)

[2] أخرجه أبو داود 3904

[3] سنن ابن ماجه 1924

جمهور محدثين وائي د زنانه شا طرف كې جماع كول حرام دي .[1]
هان : د شا طرف نه كه فرج كې (يعنى د تشو ميتيازو په ځائ كې جماع كول غواړي نو كولے شې دې باره كې نور هم ډير احاديث دي ما صرف اشاره اوكړه .[2]

[1] نيل الاوطار ٢٩٠\٤

[2] تفسير قرطبي فتح الرباني ابوداود ابن ماجه وغيره كتابونه شته هلته تفصيل اوګوره .

# خلقو ته د کوروالي (جماع) خبرې کول

ابو سعید الخدري رضي الله تعالی عنه نه روایت دے چې رسول الله علیه السلام فرمائي : د قیامت په ورځ به د الله تعالی په نیزد بدترین انسان هغه وي چې هغه د خپلې ښځې سره هم بستري (جماع) اوکړي او بیا سحر خلقو ته قیصې کوي چې بیګا مې داسې داسې کار اوکړو.

حدیث کې راځي اسماء بنت یزید رضي الله عنها فرمائي چې زه د نبي علیه السلام خواله ورغلمه هلته نور سړي او زنانه هم ناست وو نو نبي علیه السلام اووئیل : چې بعض سړي او زنانه چې کله د شپې یو بل ته نزدې شي نو سحر هغه ټوله قصه خلقو ته کوي نو داسې مه کوئ ځکه ثوک چې داسې کوي نو د هغې مثال د زناکار شیطان دے چې د خلقو په مخکې زنا کوي.[1]

دارنګه نور هم ډیر احادیث شته [2] اوس زه هغه ټول نه شم بیانولے.

[1] مستدرک حاکم

[2] صحیح مسلم ۱۴۳۷ ابو داود ۴۸۷۰ احمد ۱۶۹۳.

# په دوو ۲ ښځو کې عدل نه کول

په دوو ښځو کې عدل کول لازم دي لکه الله تعالى فرمائي :

وَلَنْ تَسْتَطِيعُوا أَنْ تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ فَلَا تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا كَالْمُعَلَّقَةِ وَإِنْ تُصْلِحُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَحِيمًا [1]

﴿ترجمه﴾ : هيچرې تاسو نه شي کولے چې انصاف اوکړئ په مينځ د زنانو کې اګر که حرص کوئ تاسو نو مه کږيږئ په پوره کږيدلو سره چې پرېږدئ هغه بله ښځه په شان د زوړندې .

حديث کې دي ابو هريره رضي الله عنه فرمائي : چې رسول الله عليه السلام فرمائيلي دي :

«مَنْ كَانَتْ لَهُ امْرَأَتَانِ فَمَالَ إِلَى إِحْدَاهُمَا، جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَشِقُّهُ مَائِلٌ» [2]

﴿ترجمه﴾ : د کوم کس چې دوه ښځې وي او په دې کې يوې ته ډير مائله وي يا په يوې باندې خرچه ډيره کوي نو د قيامت په ورځ به

---

[1] سورة النساء ١٢٩

[2] رواه أبو داود رقم (2133) في النكاح، باب القسمة بين النساء، والترمذي رقم (1141) في النكاح، باب ما جاء في التسوية بين الضرائر، والنسائي 7 / 63 في عشرة النساء، باب ميل الرجل إلى بعض نسائه دون بعض، وهو حديث صحيح.

په داسې حال کې راشي چې يو طرف به ئې کوږ وي لکه فالج چې وهلے وي .

نبي عليه السلام هم په خپله ۹ بي بيانې وې او هغه ورله نمبر مقرر کړے وو کله به ئې د يوې کره شپه تيره وله کله بلې کره .

د دې حديث نه دا خبره معلومه شو چې د چا دوه ښځې وي يا زياتې وي نو هرې يوې له به مناسب وخت ، جامې ، خوراک ، رهائش ، وغيره ورکول پکار وي او حتى الوسع د هغوي په مينځ کې عدل او انصاف پکار وي .

هاں : البته که د سړي د زړه مينه د يوې سره زياته وي د ښائست په وجه ، د اخلاقو په وجه ، د وفا په وجه ، د تابعدارئ په وجه ، د علم تعليم په وجه ، نو بيا خير دے په دې باندې الله تعالى انسان نه ګنهګاروي لکه نبي عليه السلام به د ټولو بي بيانو سره عدل او انصاف کولو ليکن د عائشه رضي الله عنها سره ئې د زړه مينه ډيره وه او دا دعاء به ئې کوله .

«اللَّهُمَّ هَذَا قَسْمِي، فِيمَا أَمْلِكُ فَلَا تَلُمْنِي، فِيمَا تَمْلِكُ، وَلَا أَمْلِكُ»[1]

---

[1] رواه أبو داود رقم (2134) في النكاح، باب في القسم بين النساء، والترمذي رقم (1140) في النكاح، باب ما جاء في التسوية بين الضرائر، والنسائي 7 / 64 في عشرة النساء، باب ميل الرجل إلى بعض نسائه دون بعض، وهو حديث صحيح.

# ميرج كول

ميرج دې ته وائي چې يو هلک د يوې جينۍ سره ناجائزه مينه كوي يا يوه جينۍ د يو هلک سره نا جائزه مينه كوي اوهلک دا جينۍ اوتختوي يا دا جينۍ د مور او پلار رضا نه بغير د كور نه اوتختي او په عدالت كې واده اوكړي نو ديته ميرج وائي (پسند كى شادى) وائي : نو دا كار سراسر حرام دے او نن صبا دا بيماري د موبايل ، انټرنيټ ، فيس بک وغيره په وجه ډيره عامه شوې ده او دا د يهودو نصاراؤ سازش دے چې هغوي د مسلمانانو د بې لارې كولو دپاره د فحاشۍ ، عريانۍ ، بې حيائي ، بې غيرتۍ ، زنا ، بې شرمۍ عام كولو دپاره برائې نام مفكرين ، دانشور ، او وكيلان، پيدا كړي دي چې هغوي باقاعده د دې دپاره سرټيفيكټ وركوي چې دا كار جائز او صحيح دے د دې وجې نه ډير معزز او شريف خاندانونه بدنام شوي دې نو داسې په خپله مرضۍ واده كول جائز نه دي ځكه ابو موسى الاشعري رضي الله عنه فرمائي : چې رسول الله عليه السلام فرمائيلي دي :

«لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ» [1]

---

[1] رواه الترمذي رقم (1101) في النكاح، باب ما جاء لا نكاح إلى بولي، وأبو داود رقم (2085) في النكاح، باب في الولي، وهو حديث صحيح، وقال الترمذي: وفي الباب عن عائشة وأبي هريرة، وعمران بن حصين، وأنس.

**﴿ترجمه﴾** : د ولي نه بغیر نکاح نه کیږي .

دارنګه عائشه رضي الله عنها فرمائي : چې رسول الله علیه السلام فرمائيلي دي : کومه زنانه چې په خپله مرضئ د ولي د اجازت نه بغیر نکاح اوکړي نو هغه نکاح باطله ده باطله ده .

ولي نه مراد پلار ، ورور ، تره ، ماما ، دي او چې کومې زنانه د ولي د اجازت نه بغیر نکاح اوکړه نو دا به زناکاره شمارل کیږي او دا یقیني خبره ده چې داسې واده اکثر ناکام وي .

په دې مسئلې باندې ځان ښه پوهه کولو دپاره د ابو ادریس امین الله کتاب چې مسمی دے په ارشاد النبوي بعدم صحة النکاح الابولي یعنی بغیر د ولي د اجازت نه نکاح نه کیږي) کتل پکار دي .

## مشهوره خبره

دا تقریبا مشهوره او معروفه خبره ده چې کومه جینئ تا ته د .... میرج دعوت درکوي او یا ستا سره د مینې اظهار کوي تو پوهه شه چې دې کې به ډیرې خامیانې وي اصل کې تا ته د زنا دعوت درکوي ته د هغوي په خبرو مه دوکه کیږه .

د تجربې نه دا خبره ثابت ده چې داسې واده اکثر ناکام وي او دې باره کې زما مخې بې شماره واقعات دي لیکن هغه نه بیانوم البته د دفائدې دپاره او د عبرت دپاره یوه واقعه نقل کوم .

زما يو دوست دے په ګوجرانواله کې د هغه مور او پلار غوښتل چې هغه له په خپل خاندان کې واده اوکړي ليکن چونکې د هغه ملګري په ذهن کې دا خبره ځکې نه پرته وه چې زه لوميرج کوم بهر حال هغه د مور او پلار په خوښه واده او نه کړو او د يوې تعليم يافته زنانه سره ئې د خوښې واده اوکړو په عدالت کې هغه زنانه د چا دپاره چې هغه مور اوپلار او رشتداران خفه کړل د هغې دلاسه اوس دومره تنګ دے چې په ژوند باندې ستومانه دے او دا سوال کوي چې الله تعالی دې زر تر زره دا دنيا نه ورکه کړي ځکه د دې په وجه زه د مور او پلار نه جدا شوم او خپلوان راله پيغورونه راکوي د مور او پلار خدمت رانه پاتې دے ځکه چې هغه زانانه ورته هره ورځ نوي نوي فرمائشونه کوي ، فضول خرچيانې کوي د خاوند اطاعت نه کوي د خپلې مرضۍ مطابق ژوند تيرول غواړي .

# نكاح شغار

د شغار لغوي معنى ده د سپي يوه خپه اوچتول او متيازې كول .

او اصطلاح كې ديته وائي چې يو سړے د خپل لور ، خور نكاح په دې شرط كوي چې ته به خپله لور يا خور زما د ورور دپاره راكوې او يا به زما د ځوي دپاره راكوې او زه به خپل لور يا خور تا له په بدل كې دركړم .

نو داسې نكاح حرامه ده عمر رضي الله عنه فرمائي چې رسول الله عليه السلام فرمائيلي دي :

«لَا شِغَارَ فِي الْإِسْلَامِ» [1]

د بدل نكاح په اسلام كې نشته .

بل حديث كې دي نبي عليه السلام فرمائي :

«نهى عن الشِّغَار، وهو أن يزوجَ الرجلُ ابنتَه أو أُخته الرجلَ على

[1] رواه البخاري 9 / 139 في النكاح، باب الشغار، وفي الحيل، باب في الزكاة، ومسلم رقم (1415) في النكاح، باب تحريم نكاح الشغار وبطلانه، والموطأ 2 / 535 في النكاح، باب جامع لا يجوز من النكاح، وأبو داود رقم (2074) في النكاح، باب في الشغار، والترمذي رقم (1124) في النكاح، باب ما جاء في النهي عن نكاح الشغار، والنسائي 6 / 111 و 112 في النكاح، باب الشغار، وباب تفسير الشغار.

أن يزوِّجه ابنتَه أو أخته وليس بينهما صَداق» .[1]

نبي علیه السلام د نکاح شغار نه منع کړې ده او دا دیته وائي : چې سړے خپله لور بل چا له په دې شرط ورکړي چې هغه به ماله خپله لور لو په بدل کې راکویاو دواړه حق مهر مقرر نه کړي .

جمهور علماء مالک ، شافعي ، احمد ، ابن تیمیه ، شوکاني وغیره رحمهم الله ټولو ورته

حرام اناجائز ویلي دي .[2]

## بعض هغه کارونه چې هغه جائز دي

### عزل کول :

لفظ عزل د باب عزل یعزل (ضرب) نه دے مصدر دے د دې معنی ده جدا کول [3]

په اصطلاح کې دیته وائي چې سړے د خپلې ښځې سره کوروالے شروع کړي او چې کله د انزال وخت شي یعنی د مني د وتلو ټایم شي نو هغه خپل ذکر یعنی اله تناسل د ښځې د شرمګاه نه اوباسي او مني

---

[1] رواه البخاري 9 / 139 في النكاح، باب الشغار، وفي الحيل، باب في الزكاة، ومسلم رقم (1415) في النكاح، باب تحريم نكاح الشغار وبطلانه،

[2] بدائع الصائع ١٤٣\٣ كتاب الام نيل الاوطار كې نور هم ډير احاديث دي ليكن د مؤمن دپاره يو حديث هم كافي دے

[3] المنجد ص ٥٥٤

بهر توے کړي د دې په جواز باندې حديث د جابر رضي الله عنه دلالت کوي جابر رضي الله عنه فرمائي :

«كُنَّا نَعْزِلُ على عهد النبي - صلى الله عليه وسلم- والقرآن ينزل»[1]

مونږ به د نبي عليه السلام په زمانه کې عزل کولو حالانکې قرآن به نازليدلو.

ليکن مونږ ئې د دې نه نه يو منع کړي .

بل حديث کې دي ابو سعيد الخدري رضي الله عنه فرمائي : چې د نبي عليه السلام نه د عزل باره کې تپوس اوشو نو نبي عليه السلام اووئيل : په دې کې څه قباحت نشته چې کوم ماشوم الله تعالی پيدا کوي نو هغه د عزل باوجود هم پيدا کيږي .

په دې باره کې نور هم ډير احاديث دي تفصيل دپاره نور کتابونه اوګوره .

[1] رواه البخاري 9 / 266 في النكاح، باب العزل، ومسلم رقم (1439) و (1440) في النكاح، باب حكم العزل، وأبو داود رقم (2173) في النكاح، باب ما جاء في العزل، والترمذي رقم (1136) و (1137) في النكاح، باب ما جاء في العزل.

# حامله زنانه او پېۍ ورکونکې سره کوروالی کول

هغه زنانه چې هغه حامله وې که د حمل وخت ئې هر څومره شوے وي یا هغه زنانه چې هغه بچي له پېۍ ورکوي نو په دواړو حالتونو کې د هغوي سره کوروالے کولے شي.

جذامه بنت وهب رضي الله عنها فرمائي: چې رسول الله علیه السلام اووئیل:

«لقد هممتُ أن أنْهَى عن الغِيْلَةِ، حتى ذكَرتُ أن الرُّومِ وفارسَ يصنعون ذلك فلا يضرُّ أولادَهم»[1]

ما دا قصد اوکړو چې زه منع اوکړم د کوروالي نه د هغه زنانه سره چې بچي له پېۍ ورکوي تردې چې ما دروم او فارس والا اولیدل چې هغوي به دا کار کولو او بچو ته به ئې ورله هیڅ قسم ضرر نه رسولو.

دارنګه هغه زنانه چې هغه حامله وي نو د هغې سره هم کوروالے کول جائزدے البته که هغې ته تکلیف وي یا ډاکټر ورته دا مشوره ور کړي وي چې خاوند ته مه نزدې کیږه نو خاوند له

[1] رواه مسلم رقم (1442) في النكاح، باب جواز الغيلة، والموطأ 8 / 607 و 608 في الرضاع، باب جامع ما جاء في الرضاعة، وأبو داود رقم (3882) في الطب، باب في الغيل، والترمذي رقم (2078) في الطب، باب ما جاء الغيلة، والنسائي 6 / 106 و 107 في النكاح، باب الغيلة.

مناسب  دي چې هغه بيا صبر اوکړي ځکه هر هغه کار چې په هغې کې زنانه ته تکليف وي نو هغې نه ځان ساتل پکار وي .

## درمضان په شپو کې کوروالی کول

د روژې په مياشت کې د خپلې کوروداني سره کوروالے کول د شپې جائز عمل دے په ابتداء د اسلام کې نبي عليه السلام په دې باندې پابندي لګولې وه ليکن بيا هغه پابندې ئې روسته ختمه کړه لکه الله تعالی فرمائي:

أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيامِ الرَّفَثُ إِلى نِسَائِكُمْ [1]

د روژې په شپه کې د خپلې کوروداني سره کوروالے کول جائز دے.

البته د ورځې کوروالے کول حرام عمل دے

## د ښځې اوخاوند د صلح دپاره دروغ ويل

ام کلثوم بنت عقبه رضي الله عنها فرمائي: چې رسول الله عليه السلام فرمائيلي دي : هغه کس دروغژن نه دے چې هغه د خلقو په مينځ کې د صلح دپاره دروغ وائي :

او نبي عليه السلام په درې ځايونو کې د دروغو ويلو اجازت ورکړے دے

۱ ـ په جنګ کې .

۲ ـ دوه کسانو په مينځ کې د صلح راوستلو په وخت کې .

---

[1] [البقرة: 187].

۳ ـ د خاوند ښځې ته دروغ ویل .[1]

## طلاق ورکول

چې کله د ښځې او خاوند په خپل مینځ کې اختلافات شروع شي او یو ځائ ژوند تیرول ګران وي نو بیا خاوند کولے شي چې ښځې له طلاق ورکړې لکه الله تعالی فرمائي :

يا أيها النبيُّ إِذا طَلَّقْتُمُ النِّساءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لعِدَّتِهِنَّ [2]

اے نبي ! علیه السلام کله چې ته خپلو ښځو ته طلاق ورکول غواړې نو د عدت په ورځو کې طلاق ورکوه .

د طلاقو اختیار الله تعالی صرف خاوند ته ورکړے دے ښځه خاوند ته طلاق نه شي ورکولے او هسې په معمولي خبرو به ښځو له طلاق نه ورکوې بلکې چې کله سخت مجبوره شې **مثلاً** : ستا د ښځې د بل سړي سره ناجائز پټ تعلقات وي یا زنانه زنا اوکړي او یا مونځونه نه کوي یا هغه همیشه ستا نافرمائي کوي او تاته اولټه جوابونه ورکوي یا ستا په غیر موجودګئ کې هغه په کلي کې یو ځائ او بل ځائ ګرځي په بازارونو کې ټوله ورځ تیروي او نصیحت نه قبلوي نو بیا ورته طلاق ورکولے شې خو اول به ورته ډیر نصیحت

[1] مسلم ١٦٠٥

[2] [الطلاق: 1] »

کوې روسته به مجبوراً طلاق ورکوې داسې نه چې ته ورته اووائي ماله روټۍ راوړه او هغه اووائي صبر اوکړه او ته ورته غصه شې او ورته اووائي چې زه ته په ما طلاقه ئي .

يا هغه غصه وي او تا له په غصه کې جواب درکړي او ته ورته غصه شې چې تا کې دومره جرأت څنګه پيدا شو ته په ما طلاقه ئي ما ته خو پلار جواب نه دے راکړے نو ته څوک ئي ؟

زه د پلار خبره په غصه باندې نشم برداشت کولے نو ته د کوم باغ مولئ ئي:

نو په انګا بنګا خبرو به طلاق نه ورکوې .

# دسپينو زرو ګوتمه اچول

د سرې دپاره سره زر استعمالول حرام دي البته سپين زر استعمالولے شي لکه عمر رضي الله عنه فرمائي : چې رسول الله عليه السلام د سرو زرو ګوتمه جوړه کړه نو صحابو هم جوړې کړې کله چې نبي عليه السلام ته پته اولګيده چې صحابو هم ګوتمې جوړې کړې نو نبي عليه السلام هغه ګوتمه ګذار کړه نو صحابو هم ګذار کړې بيا نبي عليه السلام د سپينو زرو ګوتمه جوړه کړه نو صحابو هم د سپينو زرو ګوتمې جوړې کړې د نبي عليه السلام د وفات نه پس هغه ګوتمه بيا ابو بکر رضي الله عنه استعمال کړه بيا د هغې نه پس عمر رضي الله عنه استعمال کړه بيا د هغه نه پس عثمان رضي الله عنه استعمالوه بيا عثمان رضي الله عنه نه د اريس کوهي ته پريوتله .[1]

[1] رواه البخاري ٥٨٦٦ في اللباس، باب خواتيم الذهب، وباب خاتم الفضة، وباب نقش الخاتم، وباب من جعل فص الخاتم في بطن كفه، وفي الأيمان والنذور، باب من حلف على الشيء وإن لم يحلف، وفي الاعتصام، باب الاقتداء بأفعال النبي صلى الله عليه وسلم، ومسلم رقم (2091) في اللباس، باب تحريم خاتم الذهب على الرجال، وباب لبس النبي صلى الله عليه وسلم خاتماً من ورق نقشه: محمد رسول الله،

# د ښځې حق مهر اخستل

که يوه زنانه بغير د زبردستۍ نه خپل حق مهر خاوند له ورکول غواړي نو ورکولے شي البته په زور او زبردستۍ باندې د هغې نه مهر اخستل حرام دي لکه الله تعالى فرمائي:

**وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً فَإِنْ طِبْنَ لَكُمْ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ نَفْسًا فَكُلُوهُ هَنِيئًا مَرِيئًا** [1]

زنانو له د هغوي حق مهر په خوشحالۍ سره ورکړۍ هاں : که چرته هغه په خپله خوښه تاله څه درکول غواړي نو بيا هغه په ښه شوق او خوشحالۍ سره خوره .

بعض خاوندان وائي چې مونږه د ښځې حق مهر ځکه خورو چې مونږ ته پته ده چې ښځه راته څه نه وائي او ښځه په مهر څه کوي او دا مونږ چا له ګټو ؟ مونږه چې ښځو له دومره دومره روپۍ ورکړي دي مونږه خو ترينه تپوس نه دے کړے چې دا روپۍ دې ولې لګولي دي او هغوي به زمونږ نه تپوس د خپل مهر کوي ؟

نو چې کله زنانه راضي نه وي نو د هغې نه حق مهر اخستل حرام دي او چې کله راضي وي نو بيا جائز دي .

---

[1] سورة النساء ٤

## يو ځائ غسل كول

كه ښځه او خاوند يو ځائ غسل كول غواړي په يو وخت كې نو دا جائز دي .

عائشه رضي الله عنها فرمائي :

«كنتُ أغتسلُ أنا ورسول الله - صلى الله عليه وسلم- من إِناء واحد، تَخْتَلِفُ أيدينا فيه من الجنابة»[1]

ما او نبي عليه السلام به د جنابت غسل يو ځائ كول د يو لوښي نه به مو اوبه راخستلې .

بل روايت كې راځي چې ما به نبي عليه السلام ته ويل : چې ماله اوبه پريږده او هغه به ماته ويل : چې ماله اوبه پريږده مونږ كې به هر يو دا كوشش كولو چې د غسلو نه زه مخكې فارغ شم .

## دوه يا درې ښځې كول

سړي له الله تعالى دا اختيار وركړے دے چې هغه دوه يا درې يا څلو ښځې كول غواړي نو كولے شي الله تعالى فرمائي :

[1] رواه البخاري ٢٦٣في الغسل، باب غسل الرجل مع امرأته، وباب هل يدخل الجنب يده في الإناء قبل أن يغسلها إذا لم يكن على يده قذر غير الجنابة، ومسلم رقم (319) و (321) في الحيض، باب القدر المستحب من الماء في غسل الجنابة، وأبو داود رقم (77) في الطهارة، باب الوضوء بفضل وضوء المرأة، ورقم (238) و (257) في الطهارة، باب في مقدار الماء الذي يجزئ في الغسل، وباب فيما يفيض بين الرجل والمرأة من الماء،

فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً[1]

چې کومې زنانه تاسو ته ښې ښکاري نو د هغوي سره واده اوکړئ دوو سره کوئ که دريو سره او که څلورو سره .

خو په دې شرط که عدل په کې کولے شئ که مالي لحاظ سره کمزورے ئې يا جسماني لحاظ سره يا عدل او انصاف نه شي کولے نو بيا دې دويم واده نه کوي .

ځکه چې که ته غريب ئې او په قرضونو کې ډوب ئې د يوې خرچه نه شې برداشت کولے نو د دوو به څه برداشت کړې .

دارنګه که ته يوه ښځه په جسماني قوت نه شې مطمئن کولے کمزورے ئې نو بله زنانه به څه مطمئنه کړې ؟

دارنګه چې ته انصاف نه شې کولے او هره ورځ په کور کې لانجې ، جګړې ، وهل ټکول ، کيږي نو بيا د دويم واده څه فائده ؟

## د مرګ نه پس يو بل له غسل ورکول

چې کله ښځه مړه شي نو خاوند ورله غسل ورکولے شي او چې خاوند مړ شي نو ښځه ورله غسل ورکولے شي .

بعض خلقو کې دا خبره مشهوره ده چې کله ښځه مړه شي نو په

[1] سورة النساء٣

خاوند باندې حرامه شي خاوند ورته کتلے هم نه شي غسل ورله هم نشي ورکولے او قبر ته ئې هم نه شي کوزولے نو دا خبره غلطه ده ځکه چې د شرعي دلائلو نه معلوميږي چې ښځه او خاوند يو بل ته غسل ورکولے شي.

اسماء بنت عميس رضي الله عنها خپل خاوند ابو بكر رضي الله عنه ته غسل ورکړي وو.

همدارنګه فاطمه رضي الله عنها هم وصيت کړے وو چې ماله غسل زما خاوند علي رضي الله عنه راکوي.

د مزيد وضاحت دپاره المسائل الثلاثة لابي ادريس اوګوره.

## د روژې په حالت کې يو بل ښکلول

سرې له الله تعالى دا اجازت ورکړے دے که هغه په روژه کې خپله ښځه ښکلول غواړي نو ښکلولے شي په دې شرط چې جماع به نه کوي عا ئشه رضى الله عنها فرمائي:

كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «يُقَبِّلُ وَيُبَاشِرُ وَهُوَ صَائِمٌ، وَكَانَ أَمْلَكَكُمْ لِإِرْبِهِ» [1]

---

[1] رواه البخاري 4 / 131 في الصوم، باب القبلة للصائم، وباب المباشرة للصائم، ومسلم رقم (1106) في الصيام، باب بيان أن القبلة في الصوم ليست محرمة، والموطأ 1 / 292 في الصيام، باب ما جاء في الرخصة في القبلة للصائم، وأبو داود رقم (2382) و (2383) و (2384) و (2386) في الصوم، باب القبلة للصائم، وباب الصائم يبلع

نبي علیه السلام به په روژه کې خپلې بیبیانې ښکلولې او د هغوي سره به ئې خپل جسم ملاوولو او نبي علیه السلام په تاسو ټولو کې د خپل ځان زیات کنټرول کونکے وو.

## بعض هغه کارونه چې هغه ناجائز او حرام دي

ښځه د ګناه کار ته مجبورول.

بعض کسان خپلې ښځې د ګناه کار ته مجبوره وي **مثلاً** : هغې ته وائي چې رمضان کې ما سره کوروالي ته تیاره شه.

یا د مونځ په وخت کې ورته اووائي چې مونځ مه کوه، یا ورته اووائي چې د فلانکي ملګري او دوست سره لاس میلاؤ کړه نو داسې وخت کې په زنانه باندې ستا خبره منل لازم نه دي په دې کارونو به هغه نه مجبوره وې ځکه حدیث کې دي

«لاَ طَاعَةَ فِي مَعْصِيَةٍ، إِنَّمَا الطَّاعَةُ فِي المَعْرُوفِ» [1]

د مخلوق تابعداري په هغه وخت کې نه شي کیدے چې د خالق

---

ريقه، والترمذي رقم (727) و (728) و (729) في الصوم، باب ما جاء في القبلة للصائم، وباب ما جاء في مباشرة الصائم.

[1] رواه البخاري 8 / 47 و 48 في المغازي، باب سرية عبد الله بن حذافة السهمي وعلقمة بن محرز المدلجي، وفي الأحكام، باب السمع والطاعة للإمام ما لم تكن معصية، وفي خبر الواحد، باب ما جاء في إجازة خبر الواحد الصدوق في فاتحته، ومسلم رقم (1840) في الإمارة، باب وجوب طاعة الأمراء في غير معصية وتحريمها في المعصية،

نافرماني کيږي .

## جهيز غوښتل

جهيز د عربئ ژبې لغت دے چې د ج، ه،ز، نه مشتق دے د دې معنى ده تيارول ، انتظام کول ، يعنى د سفر سامان تيارول لکه قرآن کې دي

وَلَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ [1]

کله چې هغوې د دهغې دپاره د سفر سامان تيار کړو .

حديث کې راځي

«من جهَّز غازياً في سبيل الله فقد غزَا» [2]

چا چې د مجاهد دپاره سامان تيار کړو نو ګويا کې هغه خپله جهاد اوکړو .

عرف عام کې د جهيز نه مراد هغه سامان دے کوم چې جينئ له د هغه د واده په موقعه باندې د پلار د کور د طرف نه ميلاويږي .

---

[1] سورة يوسف٥٩

[2] رواه البخاري 6 / 37 في الجهاد، باب فضل من جهز غازياً، ومسلم رقم (1895) في الإمارة، باب فضل إعانة الغازي في سبيل الله، وأبو داود رقم (2509) في الجهاد، باب ما يجزئ من الغزو، والترمذي رقم (1627) و (1629) و (1630) و (1631) في فضائل الجهاد، باب ما جاء في فضل من جهز غازياً، والنسائي 6 / 46 في الجهاد، فضل من جهز غازياً.

نو دا د هندوانو رسم دے چې زمونږ مسلمانانو ته منتقل شوے دے.
جهيز مقصد دا چې هلک يا د هلک پلار د جينۍ د پلار نه مطالبه اوکړي چې که خپله لور راله راکوې نو د هغې سره به د کور ټول سامان **مثلا** : فرنيچر ، فريج ، اے سي ، واشنګ مشين ، لوخي ، پلاټ ، کور ، دکان ، يا ګاړے وغيره به راکوې او د جينۍ پلار غريب وي د دې طاقت نه لري نو کله کله داسې اوشي چې جينکۍ غريبانان په کورونو کې بوډۍ ګانې شي کله کله داسې اوشي چې جينکۍ بې حيايانې او زناګانې شروع کړي د خپل شهوت پوره کولو دپاره .
ما په خپله پنجاب کې سبقونه ويلي دي ماته پته ده چې هلته بعض زنانه د جهيز نه پيدا کيدو په وجه خودکشيانې کوي په کارخانو او فکټرېانو کې مزدوريانې کوي د نورو خلقو نوکريانې او غلاميانې کوي .
د نبي عليه السلام د لوريانو نه به لا هم زيات عزتمندې او قدرمندې او اوچتې زنانه د مرتبو په لحاظ سره وي ؟
هغوي له نبي عليه السلام جهيز نه دے ورکړے نو زما او ستا لور ، خور د هغوي په مقابله ې څه حيثيت لري (جهيز نه مراد داسې جهيز لکه نن صبا خلق ورکوي)
علي رضي الله عنه فرمائي : چې نبي عليه السلام خپلې لور فاطمه

رضي الله عنها له په جهیز کې سپین د وړئ څادر، یوه مشکیزه ، او د وخو نه ډک د څمړې یو بالخت ورکړے وو.[1]

د جهیز دومره نقصانات دي زه بغیر د مبالغې نه دا خبره کوم چې په دې باندې ښه ضخیم کتاب لیکلے کیږي یو عالم په دې مسئله رساله هم لیکلې ده د هغې نوم دے ،،، جهیز کی تباه کاریاں،،، هغه اوګورئ ډیره مفیده رساله ده ما سره دلته ځائ نشته چې هر څه دلته بیان کړم .

البته یوه خبره به اوکړم چې کله تاسو د چا په لور ،خور پسې جرګه اولیګئ او ستاسو رشته اوشي نو د خپل سخر نه د جهیز مطالبه مه کوه بس چې هغه په خپله مرضئ خپلې لور له څه واخلي نو هغه کافي دي د داسې څیزونو مطالبه ترینه مه کوه چې د هغې په وس او طاقت کې نه وي او خپلې کوروداني له په دې پیغور مه ورکوه چې ستا پلار خو تا له هیڅ سامان نه دے کړے او ته خو ئې د لاس نه نیولې ئې او خالي لاس ئې رالیږلې ئې .

[1] المجتبى من السنن = السنن الصغرى للنسائي 3384

# زنا کارې ښځې سره واده کول

داسې زنانه چې د هغې ورځې او شپې په بازارنو کې په بې حيائي او زناګانو کې تيروي نو د هغې سره نکاح کول حرام دي الله تعالى فرمائي :

الزَّانِي لَا يَنْكِحُ إِلَّا زَانِيَةً أَوْ مُشْرِكَةً وَالزَّانِيَةُ لَا يَنْكِحُهَا إِلَّا زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ وَحُرِّمَ ذَلِكَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ [1]

زنا کونکے سړے د زناکونکي ښځې سره واده کوي او زناکونکې ښځه د زناکونکي سړي سره واده کوي او دا نکاح په مؤمنانو باندې حرام کړے شوي ده .

اسلام دا نه غواړي چې يو مسلمان سړے دے د يوې زنا کارې ښځې سره واده اوکړي او يا دې يو پاکه ښځه د زنا کار سړي سره واده اوکړي .

زمونږ ډير مسلمانان د کافرو او زنا کارو ښځو سره واده کولو ته خوشحاليږي .

بلکې ما د يو کس نه واوريدل چې هغه فاسق شانتې وو چې هغې د يوې ډمي اداکارې نوم واخستلو چې زما په زړه کې دا يو لوي ارمان دے چې زه د هغې سره واده اوکړم نو ما ورته اوويل : چې د الله بنده

---

[1] سورة النور ٣

داسې زنانه خو مشهورې وي په زنا او بې حيائي باندې او ته خواهش لرې چې دې سره واده اوکړې ؟

نو هغه اوويل : چې ما ته پته ده چې په ۱۰۰ کې ۹۰ فيصده زناکارې وي ليکن زما دا خوا هش دے چې د هغې سره واده اوکړم بلکې که يو کروړ روپۍ هغه غواړي او زما سره وي نو هم زه به ترينه منع نه کړم نو ما ورته اوويل : چې استغفرالله اووايه او ستا ذهن ، زړه او سوچ ګنده دي يو مؤمن له چې يو کس يو کروړ روپۍ ورکوي نو هم هغه دې ته نه تياريږي چې د هغې سره واده اوکړي .

هاں : الته که يو زنانه مخکې زنا کړي وي اوس ترينه توبه اوباسي نو بيا هغې سره واده کول جائز دی .

بعض خلق وائي چې فلانکۍ جينۍ ګلوکاره فلانکۍ جينۍ فلانکۍ اداکاره ډيره ښکلې ده او په هر قيمت دې سره واده کول پکار دے بلکې تاسو به د بعض فاسقانو نه داسې هم اوريدلي وي چې هغه سړے ډير بختور او خوش نصيب دے چې د فلانکۍ ډمې ، وزيرې سره ، کهلاړۍ سره ، واده اوکړي .

نو دا د بې وقوف انسان سوچ وي د زناکارې ښځې سره واده کول نا جائز دي دې باره کې نور هم ډيره آيتونه او احاديث شته دے ما صرف اشاره اوکړه .

# تصويران ويستل او فلم جوړول

بعض خلق په واده کې تصويران اوباسي او د واده ويډيوګانې جوړه وي حالانکې دا کار حرام دے .

ابو طلحه رضي الله عنه فرمائي : چې نبي عليه السلام فرمائيلي دي :

«لاَ تَدْخُلُ الْمَلاَئِكَةُ بَيْتًا فِيهِ صُورَةٌ» [1]

ملائک هغه کور ته نه داخليږي په کوم کور کې چې تصويران وي.

بل حديث کې دي ابن مسعود رضي الله عنه فرمائي : چې نبي عليه السلام فرمائيلي دي :

«إِن أشدَّ الناسِ عذاباً يومَ القيامة عند الله المُصَوِّرون»[2]

د قيامت په ورځ به د ټولونه سخت عذاب د هغه کس وي څوک چې تصويران جوړوي .

---

[1] رواه البخاري 10 / 325 و 326 في اللباس، باب ما وطئ من التصاوير، وفي المظالم، باب هل تكسر الدنان التي فيها الخمر، وفي الأدب، باب ما يجوز من الغضب والشدة لأمر الله، ومسلم رقم (2107) في اللباس، باب تحريم تصوير صورة الحيوان، والترمذي رقم (2470) في صفة يوم القيامة، باب رقم (33) ، وأبو داود رقم (4153) في اللباس، باب في الصور، والنسائي 8 / 213 في الزينة، باب التصاوير.

[2] رواه البخاري 10 / 321 و 322 في اللباس، باب عذاب المصورين يوم القيامة، ومسلم رقم (2109) في اللباس، باب تحريم تصوير صورة الحيوان، والنسائي 8 / 216 في الزينة، باب أشد الناس عذاباً.

د دې تصويرانو او ويډيوګانو ډير نقصانات دي د دې وجې نه ډيركورونه وران شوي دي ډيرې دشمنيانې جوړې شوي دي ، ډير مرګونه شوي دي ، ډير عزتونه نيلام شوي دي ، ډيرې زنانه بې پردې شوي دي دا سخته ګناه ده .

ا بن عباس رضي الله عنه فرمائي چې نبي عليه السلام فرمائيلي دي «كُلُّ مُصَوِّرٍ فِي النار، يَجعل له بكل صورة صَوَّرها نفساً، فَيعذِّبه في جهنم»[1]

هر تصوير جوړونكے به په اور كې وي د هغې جوړ كړے شوے هر تصوير نه به نفس جوړ كړے شي او هغه به ورته سزا وكوي .

نو په هيڅ صورت كې به تصويران نه اوباسي او نه به وډيوګانې كوې .

# زنانو له ميراث نه وركول

كه سړے هر څومره ديندراه ، عالم ، او خوش اخلاقه وي او د الله تعالى بندګي كوي ليكن خور،لور له ميراث نه وركوي نو دا د الله تعالى په نيزد مجرم دے .

الله تعالى معافي اوكړي دا ګناه نن صبا عامه ده قرآن كې الله تعالى

[1] مسلم رقم (2110) في اللباس، باب تحريم تصوير صورة الحيوان، والنسائي 8 / 215 في الزينة، باب ذكر ما يكلف أصحاب الصور يوم القيامة.

بار بار دي طرف ته ترغيب ورکوي دې باره کې علماؤ مستقل کتابونه ليکلي دي هغې ته رجوع کول پکار دي ما صرف اشاره اوکړه دې دپاره چې ذهن کې مو خبره پرته وي بعض جاهلان وائي چې د ښځې حق لا په کې چا راوستے دے ؟

نو مونږ وايو چې الله تعالی راوستے دے کنه نور چا راوستے ؟

# تعويذونه کول

بعض کسان يو ځائې کې رشته کول غواړي ليکن د جينۍ پلار انکار اوکړي نو دا هلک راپاځي او تعويذ ګر له ورشي هغې ته اووائي ماله تعويذ جوړ کړه چې دا فلانکے سړے ماله خپله لور يا خور راکړي .

نو دا هم ظلم دے بلکې شرک دے او هغه تعويذګر ظالم هم په زړه کې د الله تعالی نه يره نه لري او د خپلو روپو دپاره هغې ته تعويذ جوړ کړي د دې نه هم نااشنا نا اشنا کارونه او ظلمونه شوي وو او شودي دي او کيږي به .

د ې باره کې خو مستقل کتابونه او رسالې ليکلے شوي دي .

شيخ الاسلام ابن تيميه ، سعيد بن وهب القحطاني ، رحمهم الله او نورو علماؤ ډير مفيد کتابونه ليکلي دي او خاصکر د کارډ په شکل کې د ابوادريس په نوم د ،،،تعويذات په دين اسلام کې حرام دي،،، مطالعه کول ضروري دي خو زه به دلته يوڅو احاديث اوليکم .

نبي عليه السلام فرمائي :

"من تعلق تميمة فقد أشرك"[1]

چا چې تعويذ ، تار كړئ ، وغيره په لاس ، غاړه ، کې واچولې په دې نيت چې دا به زما نه نقصان لرې کوي يا به ماته څه فائده اورسوي نو دې انسان شرک اوکړو .

سورت فاتحه ، اية الكرسي ، آمن الرسول ، او آخري درې سورتونه سحر ماښام په ځان وايه ان شاء الله د هر قسم مشکلاتو نه به دې الله تعالى محفوظ کړي .

رسول الله عليه السلام او صحابو چرته هم تعويذونه ،نه دي ليکلي او نه ئې د دې حکم کړے دے البته منع ترينه پرې ډيرو احاديثو کې کړې ده .

د تعويذونو زوړندول په الله تعالى باندې د يقين كموالے دے بې اعتمادي ده په تقدير باندې اعتراض کول دي ، د الله تعالى په فيصلو باندې د خفګان اظهار کول دي

---

[1] أحمد (156/4) .

## ساتلی شوي ماشوم شرعي څه حيثيت دی ؟

بعض خلق داسې هم وي چې هغوي يو ماشوم اوومومي او يا ئې ورله څوک ورکړي اکثر نن صبا چې د چا بچې نه کيږي نو خپل خپلوان ئي ورله ماشوم ورکړي نو هغه ماشوم اوساتي چې کله هغه لوي شي نو د چا نه چې پيدا وي هغوي کره ډير نه ورځي او نه هغې ماشوم ته دا پته وي چې ګڼي زما حقيقي مور او پلار دا دي د چا په کور کې چې لوي شوے وي نو هغوي ورله شناختي کارډ په خپل نوم جوړ کړي او چا چې ساتلے وي نو خلق ئې هغې ته منسوبه وي او د هغه کس وريرې ، خورزې ، لورياني او ښځه ، ورندارياني ، او د خاندان نورې زنانه ترينه ستر او پرده نه کوي نو دا حرام کار دے دا د جاهليت والاؤ رواج وو او د اسلام په شروع کې هم دا سلسله جاري وه.

زيد بن حارثه رضي الله عنه ته به خلقو زيد بن محمد ويلو نو د سورت احزاب ايت بيا نازل شو الله تعالی اووئيل :

ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ فَإِنْ لَمْ تَعْلَمُوا آبَاءَهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ [1]

د دې ساتلے شوو بچو نسبت د دې حقيقي پلارانو ته کوئ د الله

[1] سورة الأحزاب ٥

تعالی په نيزد هم دا انصاف دے .

زيد بن حارثه رضي الله عنه چې کله خپلې ښځې ته طلاق  ورکړو نو د الله تعالى په حکم سره نبي عليه السلام ورسره نکاح اوکړه .

مقصد ئې دا وو چې د ساتلے شوو ځامونو حقوق او احکام د حقيقي بچو بشان نه دي ځکه چې د حقيقي ځوي ښځې سره پلار واده نه شي کولے نبي عليه السلام به زيد رضي الله عنه ته فرمائيل :

أنت أخونا ومولانا.[1]

ته زمونږ رور او دوست ئې .

نو لهذا د ساتلے شوي ماشوم نه پرده شته .

وبالله تعالى التوفيق

اللَّهُمَّ صل وسلم على نبينا محمد .

[1] رواه البخاري 7 / 385 - 391 في المغازي، باب عمرة القضاء، وفي الحج، باب كم اعتمر النبي صلى الله عليه وسلم، وباب لبس السلاح للمحرم، وفي الصلح، باب كيف يكتب هذا ما صالح فلان ابن فلان وفلان ابن فلان، وفي الجهاد، باب المصالحة على ثلاثة أيام، أو وقت معلوم، ومسلم رقم (1783) في الجهاد، باب صلح الحديبية في الحديبية.

## د نن دور نوجوان او د هغه ذمه دارياني

اوس زه د نوجوان هغه ذمه دارياني کوم چې شريعت مطهره ورته په ګوته کړي هغه ذکر کوم .

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لانبي بعده اما بعد :

فأعوذ بالله من الشيطان الرجيم * بسم الله الرحمن الرحيم ط

قال الله تعالى في القرآن المجيد

{إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدى} [1]

وقال النبي صلى الله عليه السلام

اغْتَنَمَ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ: شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ [2]

**﴿ترجمه﴾** : د الله نبي عليه السلام فرمائي : پنځه څيزونه غنيمت اوګڼرئ مخکي د پنځو نه .

١ ـ خپله ځواني غنيمت اوګڼره مخکې د بوډاوالي او ضعف نه .

زما عزتمندو ځواني د الله تعالى يو لوي نعمت دے په دې دور کې انسان هر کار کولے شي ،

غرونه ذري کولے شي ،

د سمندرونو لارې بندولے شي ،

---

[1] الكهف آية (13)

[2] «شرح السنة» 3916

د طوفانونو او مشکلاتو مقابله کولے شي ، په یو لمحه کې ناممکن ممکن کولے شي .
د خپل مټ په قوت باندې غټ غټ کا نړي دړې دړې کولے شي .
او بیا خصوصًا مسلمان نوجوان د خپل بې پناه صلاحیتونو په برکت باندې د شرق او غرب د شمال او جنوب کفارو غرور په خاورو کې میلاوولے شي .
د یهودو او نصاراؤ کبر او بد معاشیانې په سیند لاهو کولے شي .
او د تاریخ پا ڼې او کتابونه په دې ګواه دي چې مسلمانانو نوجوانانو داسې عظیمې کار نامې سر ته رسولي دي چې دنیا کې د هغې مثال په مشکله میلاویږي .
د محمد بن قاسم رحمه الله صوبه سندهته راتلل د یو مسلمانې ښځې د عزت د تحفظ دپاره او د هندوانو سرونه پریکول .
او د طارق بن زیاد خپلې کیشتیانې سوزول او خپل نوجوانانو ملګرو ته دا خبره کول چې اوس د واپسۍ هیڅ لاره نشته دے یا به دا علاقه فتح کوو او یا به د شهادت جام څکو .
د عقبه بن نافع د افریقې سمندر پورې د اسلام د غلبې دپاره تلل او هلته دا خبره کول چې اے الله ! دې ځائ پورې مي اسلام راورسولو او که دا سمندر نه وے نو ما به مخکې هم د اسلام دا پیغام رسولے وے اے ! الله ته ګواه شه زما په دې قربانۍ او ارادې باندې .

د ربعي بن عامر رضي الله عنه د وخت ظالم او کافر بادشاه رستم په سترګو کې سترګې ورکول او د هغه په مخکې د اسلام حقانيت واضح کول او د محمد رسول الله عليه السلام په باره کې په زړه پورې وينا کول چې مونږ د يو داسې نبي تابعداري شروع کړې ده الذي اخراج العباد من عبادة العباد إلى عبادة رب العباد .

هغه نبي چې بندګان د بندګانو د بندګۍ نه د بندګانو د رب بندګۍ طرف ته رابلي . بر ملا اظهار کول .

د اسامه بن زيد رضي الله عنه پشان د ۱۷ کالو نوجوان د کبارو صحابو په موجودګۍ کې د مجاهدينو قيادت کول .

د صلاح الدين ايوبي رحمه الله پشان بيت المقدس فتح کونکے .

يا د حنظله رضي الله عنه پشان نوجوان چې د واده په شپه د محمد رسول الله عليه السلام په اواز لبيک کونکے .

د سومنات بتان او مندرونه ټوټې ټوټې کونکے سلطان محمود غزنوي رحمه الله او د امام بخاري رحمه الله پشان د ۱۷ کالو په عمر کې صحيح البخاري ليکونکے .

د ابن تيميه رحمه الله پشان د تصنيف او تاليف او مناظرې په ميدان کې خپل مد مقابل ته شکست ورکونکے .

يا د ابن حجر ، امام نووي ، ملاعلي قاري ، ابن حزم ، وغيره رحمهم الله پشان د احاديثو خدمت کونکي .

د عبد الله بن المبارک او نور الدين زنګي رحمهماالله پشان توره چلونکي .

يا د امام ابو حنيفه ، شافعي ، مالک ، احمد رحمهم الله پشان د زهد او تقوی او استقامت غرونه او په دې فاني دنيا کې زليدونکي دا ستوري د دې أمت قيمتي سرمايا دي ليکن افسوس نن د مسلمانانو مئيندو غيرې د داسې قيمتي نوجوانانو نه خالي په نظر راځي د يو ارب نه زيات مسلمانان نوجوانانو په موجودګئ کې بيت المقدس ، فلسطين ، برما مسلمانان او ډاکټر عافيه صديقي د بے بسئ دا اوازونه کوي چې

وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ وَلِيًّا وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ نَصِيرًا [1]

افسوس نن مسلمان نوجوان کم همته او بزدله شوے دے ځکه علامه اقبال ويلي وو

ارادے جن کے پختہ ھو نظر جن کی اللہ پر ھو

تلاطم خیز موجوں سے وہ گھبرایا نہیں کرتے

د امت مسلمه تقدير هم دا نوجوانان بدلولے شي .

د ا مت مړ ضمير دا نوجوانان راويښولے شي .

ځکه اقبال وائي :

---

[1] سورة النساء ٧٥

افراد کے ہاتوں میں ہے اقوام کی تقدیر
ھر فرد ھے ملت کی مقدر کا ستارا

مونږه نه غواړو چې زمونږ نوجوانان دې بې پرواه ، لاابالي ، ګمراه ، کم همته او د یهودو نصاراؤ ړوند تقلید کونکي ، د هغوي په اشارو باندې چلیدنکي ، د هغوي پشان ناسته پاسته ، خوراک څکاک ، خبرې اترې ، اخلاق عادات ، خپلونکي او د هغوي په رنګ کې رنکړے شوي وي بلکې مونږه غواړو چې زمونږ نوجوان دې د معاشرې یو ذمه دار فرد وي د دین اسلام د غلبې دپاره او د آخرت دائمي کور دپاره جد وجهد کونکے وي .

مونږه غواړو چې زمونږ نوجوان دې په معاشره کې داسې بې داغه او مثالي زندګي تیره کړي چې د هغې نه بغیر معاشره نیمګړې او ناقصه ښکاري .

او د معاشرې دپاره د یو نمونې او آئډیل کردار اداء کړي .

د معاشرې بګاړ ، فساد ، خرابیانې ، او نقصانات په خپل ښه کردار باندې ختمې کړي او د خلقو دپاره مشعل راه ثابت شي .

همیشه دپاره د انبیاؤ مقصد هم داسې صالح او پرهیزګاره نوجوانان تیارول وو .

او چې کله نوجوان یوه خبره د زړه په غوږ واوري او مطمئن شي نو هغه بیا هر قسم قرباني ورکولو ته تن ګدي .

ځکه خو فرعون د موسي علیه السلام په باره کې ویلي وو
سَنُقَتِّلُ أَبْنَاءَهُمْ وَنَسْتَحْيِي نِساءَهُمْ وَإِنَّا فَوْقَهُمْ قاهِرُونَ [1]

**﴿ترجمه﴾** : چې زه به د بني اسرائلو نوجوانان قتل کړم او د دوي ښځې به بې حیا کړم او مونږ په دې باندې قادر او زورور یو.

او د ښه نوجوانانو تیارولو دپاره نبي علیه السلام ډیرې قربانیانې ورکړي دي او تکالیف ئې تیر کړي.

د خلقو سپکې سپورې خبرې او کنځل ئې برداشت کړي او الحمد لله په دې مقصد او مشن کې نبي علیه السلام د الله تعالی په فضل سره کامیاب شوے وو.

او د صحابو په شکل کې ئې داسې نوجوانان شاګردان تیار کړل چې زمانه نن هم لاس په خوله ورته حیران دي چې آخر دا د کومې قیمتي خاورې نه جوړې ملغلرې وې چې د خپل نبي علیه السلام په یو اشاره باندې خپل تن من دهن قرابانولو ته لاس په نامه د یوې اشارې منتظر دي.

او د خپل نبي علیه السلام په اواز باندې لبیک ویلو دپاره د وداه د شپې پشان قیمتي شپه هم د هغې د اطاعت په لاره کې رکاوټ نه جوړیږي او به اسلامي تاریخ کې د ځلاندې ستوري پشان به تل

---

[1] [الأعراف: 127]

دپاره ځلیږي .
بلکې زه به داسې اووایم چې اسلامي تاریخ دصحابو نه بغیر چرته هم نه شي مکمل کیدے .
لیکن افسوس صد افسوس ! د نن دور مسلمان سره هر څه شته مګر صحیح اسلام ، صحیح ایمان ، صحیح عقیده ورسره نشته د نن دور نوجوان شکل وصورت ، چال چلن ، ناسته پاسته وینبنته ، ګیره ، جامې ، غم ښادي ، معاملات او اخلاق د شریعت مطابق نه دي ډیر نوجوانان به ته و یني چې د هغوي په لاس کې موبایل وي او په غوږونو کې هیندۍ پري ، مونځ کول خو لري خبره ده هغې ته دومره وخت او فرصت نه میلاویږي چې هغوي آذان واوري او د هغې جواب ورکړي د نن دور نوجوان دا خیال کوي ګویا کې دا ځواني زما ده او دابه زه د خپل مرضۍ مطابق تیروم او د دې باره کې مانه څوک د تپوس کولو حق نه لري ،، لیکن دا نادان په دې نه پوهیږي چې دا خو د الله تعالی امانت دے او دې امانت باره کې به هغه زما نه تپوس کوي .
د نن دور نوجوان د خپلې جسماني ضروریاتو خیال ساتي ، ښه خوراک ، ښه لباس ، ښه ګاړے ښه رهائش دپاره کوشش کوي .
د جسماني بیماریانو نه د بچ کیدو دپاره ډاکټرانو ته ځي هر قسم پرهیز کوي لیکن د جهنم نه بچ کیدلو دپاره د ګناهونو نه پرهیز

کولو ته تيار نه وي د هغې زړه او روح بيمار وي ګانې ، بجانې اوري،
مونځ نه کوي ، خيانت کوي ، فلمونه ګوري ، سګريټ څکي دروغ
وائي ، د اسلام احکام ماتوي ، د مور اوپلار نافرماني کوي بغض حسد
په زړه کې ساتي ، روح ئې ورځ په ورځ مړکيږي .
ليکن هيڅ احساس ورسره نه وي او د تعجب خبره دا ده چې د نن
دور نوجوان سره چې ته ماښام ميلاؤ شي نو هغه به په فرياد شي چې
يره نن خو ټوله ورځ زه مصروف ووم .
نو د آرام دپاره هغه بيا د نشې ګولۍ خوري او سکون لټولو دپاره
هغه ټي وي ، وي سي آر، او موبايل ته کيني او که ته ترې تپوس
اوکړي چې ستا نن څه مصرفيات وو ؟
مونځونه به ئې ټوله ورځ کې نه وي کړي ، تلاوت ، اشراق ، اذکار ، د
مريض عيادت ، د جنازې اتباع او نوافل وغيره هيڅ به ئې نه وي
کړي .
ليکن د دې هر څه نه علاوه هغې ټوله ورځ مصروفه تيره کړي وي.
افسوس د نن دور نوجوان ، ناسته پاسته ، مينه محبت تلل راتلل ،
تعلق او دوستۍ د بد کرداره ، فحاش او بې نمازه خلقو سره وي
نوجوان نسل د مغرب ثقافت او تهذيب ، طور طريقې ، فيشن او
عادات پيدا کولو دپاره هر ممکن کوشش کوي ، او يهود او نصارى
هم د مسلمانانو نوجوانانو ګمراه کولو دپاره قسما قسم پلانونه او

طريقې جوړه وي ، پرون چې به د کومو نوجوانانو په لاسونو کې تورې ، غشي ، او نيزې په نظر راتلې نن د هغه نوجوانانو په لاسونو کې توري په ځائ بال او بيټ په نظر راځي ، پرون چې به کومو نوجوانانو خپل خالي اوقات په تيراندازئ ايزده کولو کې ،په ذکر کولو کې تيرول نن هغه نوجوانان خپل خالي اوقات په فلمونو کتلو کې ، ډرامو ، ګنده او بې هوده ډائجسټو ، په فيسبوک ، انټرنيټ ، او ټيلي ويژن په کتلو خپل وخت بربادوي او ډکوي .

پرون چې به د کومو نوجوانانو په خوله باندې د حي على الصلاة ، حي على الجهاد او د تکبير نعرې جاري وي .

نن د څوارلسمې صدئ د نوجوان په خوله د انډيا او د نورو ملکونو ګانې جاري دي .

پرون چې به کوم نوجوان د خويندو د عزتونو محافظ وو د خپل وخت غټو غټو متکبرينو او ظالمانو بادشاهانو ته د جنګ دعوت ورکولو او د يوې مسلمانو ښځې د عزت د تحفظ دپاره به د مشرق نه مغربه پورې او شمال نه جنوب پورې تتل ، ليکن د نن دور نوجوان د خپلو مسلمانانو خويندو د عزت لوټ کونکے دے د **ilove you**, ، او زما زړګے او زما د سترګو تورې پشان ګنده او فحاش القاب ورکوي ، ټوله ورځ او ټوله شپه ئې په دې سوچونو کې تيريږي چې څنګه به زه دا خپله مسلمانه خور په خپل محبت مجبوره کړم ،

یا الله هغه د محمد بن قاسم او د معتصم بالله حقیقي وارثان چرته لاړل؟ ښخوا به د مسلمان نوجوان په لاس کې د احادیثو یا د سیرت کتاب په نظر راتلو نن د هغه برائ نام مسلمان نوجوان په لاس کې ، ریموټ ، د شرابو بوتل ، رباب ستار او مبایل په نظر راځي ، پخوا چې به کله مسلمان نوجوان ته ټایم میلاؤ شو نو هغه د خپل مور او پلار سره کیناستو د هغوي نه به دعاګانې اخستلې .

نن هغه نوجوان خپل فارغ وخت په بازارونو کې ، په کلبونو کې ، او بې حیائي په اډو او مراکزو کې تیره وي ، مسلمان نوجوانه لږ خپل ځان ته سوچ اوکړه چې ته د کومو بهترینو خلقو اولاد او وارث ئې ؟ ځکه خو علامه اقبال رحمه الله وائي :

کبھی اے نوجوان مسلم تدبر بھی کیا تو نے
وہ کیا گردوں تھا تو جس کا ایک ٹوٹا ھوا تارا
تجھے اس قوم نے پالا تھا آغوش محبت میں
کچل ڈالا تھا جس نے پاؤں میں تاج سر دارا

لیکن افسوس د نن دور نوجوان خپلې ذمه داریانې هیرې کړي دې او د زمانے بزدل ترینه جوړ شوي ، پکار خو داوه چې ته د دې شعر مصداق جوړ وي

تیغوں کے سائے میں ھم پل کر جوان ھوئے ھیں
خنجر ھلال کا ھے قومی نشان ھمارا

په دې پرفتن دور کې د اميدونو واحد ډيوي هغه ديني مدارس دي ، که دا مدارس زمونږ د معاشرې نه لرې کړے شي زمونږ معاشره به بد ترينه ، بد تهذيبه ، او بد کرداره معاشره پاتې شي او د نن دور معاشره خو ماډرن ، فيش پرسته ، او د يهودو نصارى په غلامۍ باندې فخر کونکي معاشره ده.

د دې معاشرې او ښائست او ښکلا همدغه مدارس دي ته يو کالج او يونيورسټي ته د يوې ورځې دپاره لاړ شه او بيا يو ديني مدرسې ته لاړ شه.

والله تا ته به د دواړو په مينځ کې بعدالمشرقين په نظر راشي .

ته د زړه په سترګو على وجه البصيرت د يو کالج او د مدرسې جائزه واخله نو تا ته به د دواړو په مينځ کې د زمکې او آسمان فرق معلوم شي.

زه به د کالجونو د خرابيانو او ماحول خبره نه کوم هغه هر سړے په خپله کتلے شي .

ليکن الحمد لله ته يو مدرسې ته داخل شه هلته به داسې نوجوانان تاته په نظر راشي چې کله د شپې ټول خلق اوده شي نو دا د مدرسې نوجوان به شپې په خاموشۍ کې د تهجدو دپاره د الله تعالى مخې ته ولاړ ئي .

سحر مونځ به تكبير اولی سره په مسجد كې اداء كړي د هغې نه روسته به اذكار كوي تلاوت كوي تر نمر ختو پورې چې كله نمر راوخيژي نو بيا دا نوجوان د اشراق مونځ كوي .
بيا معمولي شان ناشته كوي او د هغې نه روسته بيا د قال الله او قال الرسول ورد په خوله باندې جاري وي تر ماسپخين پورې .
د ماسپخين نه روسته بيا د هغه احاديثو تكرار ،، مازديګر ، ماښام ، او ماسخوتن مونځ په جماعت سره اداء كړي بيا د اوده كيدو نه مخكې اودس ، اذكار او تلاوت اوكړي او اوده شي .
ټوله ورځ د الله تعالی په بندګۍ كې تيريږي د الله تعالی په فضل سره د مدرسې نوجوان به سود خور ، رشوت خور ، حرام حور ، شرابي ، ډاكو ، ظالم ، حسد كونكے ، بې حياء ، فيشن پرست ، د عزتونو پامال كونكے ، د كفارو همدرد ، بد تميزه او بد كرداره نه وي ، بلكې د مدرسې نوجوان به خوش اخلاقه وي ، صبر كونكے ، حياء دار ، د مشكلاتو مقابله كونكے په تقدير ايمان لرونكے په معمولي خوراك او څكاك او جامو باندې ګذاره كونكے وي د الله او رسول سره محبت كونكے ، د خلقو خيرخواه ، د عباداتو پابند ، ريشتياويونكے ، د الله په بندګانو شفقت كونكے ، والله دومره ډيرې خوبيانې د مدارسو په نوجوانانو كې موجود وي ګويا كې دا د نورو غافلو مسلمانانو نوجوانانو كفاره اداء كوي تجربه شوي خبره ده

تاسو یو جیل ته لاړ شي او د قیدیانو سره میلاؤ شئ نو هغې کې چې ځومره ډاکوان ، زناکار ، حرام خور ، ظالمان ، قاتلان ، ، شرابیان ، پوډریان او په مختلفو کیسونو کې بندیان او قیدیان نو هغې کې ۹۸ فیصد د سکول ، کالج ، سټوډنټان او فارغ التحصل نوجوانان وي د مدرسې نوجوانان به بالکل نوي او که بالفرض موجود هم وي نو په سل ۱۰۰ کې به یو کس نیم وي د الله په فضل سره چې د کوم نوجوان صحیح دیني تربیت اوشي نو هغه نوجوان بیا د مرګ نه پس خپل مور او پلار په قبر اودریږي د هغوي دپاره د بخښې دعاګانې غواړي ، مور ، پلار سره نیکي او خیګړه کوي .

د هغوي په محکې اوچتې خبرې نه کوي ، د خپلوانو سره ښه سلوک کوي .

بلکې زه به مختصر دا اووایم چې تربیت یافته نوجوانان د معاشرې سخت ضرورت وي.

د داسې نوجوانانو باره کې علامه اقبال فرمائي :

اس قوم کو شمشیر کی حاجت نهیں رهتی

هو جس کے جوانوں کی خودی صورت فولاد

اوس د مدرسې د نوجوانانو دا ذمه داري جوړیږي چې هغه د ګناهونو په سمندر کې ډوب د انور مسلمانان نوجوانان نجات ورکونکي کشتئ ته اوخیژوي او دساحل غاړې ته په سکون سره

كوز كړې ، د فسق او فجور كارورنو نه ئې منع كړې ، د هغوي مينه او تعلق د الله تعالى سره پيدا كړي هغوي ته د هغوي د زندګۍ اصل مقصد او هدف وراوښائي اوس زه د يو مسلمان نوجوان ذمه دارياني ذكر كوم .

په دې عالم انسانيت كې د ټولو نه اهم نوجوانان دي ځكه ماشومان د شريعت د احكاماتو مكلف ندي ، او د بوډاګانو په وينو كې هغه جوش او ولوله نه وي ، كوم جوش چې د نوجوان په وينه كې وي .

نبي عليه السلام به هم دا خبره كوله چې نوجوانانو سره ښه سلوك كوئ ځكه چې نوجونانو زما سره مرسته كړي ده او بوډاګانو زما مخالفت كړے دے .

مقدمه د ابن خلدون كې ليكلي دي چې د امت د مصلحينو په نيزد باندې د يو قوم د كاميابۍ انحصار د هغې د نوجوانانو پورې خاص دے .

په ترمذي كې حديث دے نبي عليه السلام خپله ځواني په يو داسې معاشره كې تيره كړه د كومې معاشرې خلقو به چې بربنډ او لغړ د بيت الله طوافونه كول ليكن په داسې ما حول كې هم نبي عليه السلام بې داغ او مثالي ځواني تيره كړه د دار ارقم سابقون الاولون كې اكثريت د نوجوانانو وو .

د نوجوانانو د ذمه دارۍ متعلق د نبي عليه السلام درې اهداف وو.

۱ ـ تعليم وتربيت .

۲ ـ دعوت او تبليغ .

۳ ـ جهاد .

تعليم او تربيت متعلق ، د دين اغاز د اقراء نه شوے دے نبي عليه السلام به دا دعاء کوله

رَبِّ زِدْنِي عِلْمًا [1]

او د نبي عليه السلام فريضه هم دا وه

وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ [2]

د علم طلب نبي عليه السلام د هر مسلمان دپاره ضروري ګرځولے دے د نبي عليه السلام د تربيت طريقه ډيره ساده وه نبي عليه السلام د هر نوجوان نه د هغې د صلاحيت مطابق کار اخستلو خصوصًا د اهل صفه والاؤ تربيت نبي عليه السلام په داسې انداز کې اوکړو چې هغوي بيا مستقبل کې د قومونو امامان او رهبران جوړ

شول .

طبقات د ابن سعد کې دي چې د نبي عليه السلام نه به د عربو يوې يوې قبيلې تعليم زده کولو .

---

[1] [طه، الآية: 114]

[2] سورة البقرة ۱۲۹

زيد بن حارث رضي الله عنه ته نبي عليه السلام حکم کړے وو چې د يهودو ژبه زده کړه .

د ځوان تربيت متعلق د نبي عليه السلام دا حديث دے

سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ فِي ظِلِّهِ، يَوْمَ لاَ ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ... وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ رَبِّهِ[1]

﴿ترجمه﴾ : هغه نوجوان چې هغه خپله ځواني د الله تعالى په عبادت کې زړه کړي دا به د قيامت په ورځ د الله د عرش د سوري دلاندې وي .

۲ ـ هغه ځوان چې هغه ته يوه ښکلې حسن داره او اوچت نسب والا زنانه د ګناه دعوت ورکړي او هغه ورته اووائي چې

إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ،

﴿ترجمه﴾ : زه د الله تعالى نه يريږم .

د نوجوانانو اصلاح نبي عليه السلام په داسې طريقې سره کړې وه چې ورته اوئيل : د قيامت په ورځ به تاسو کې يو کس د خپل ځائي نه قدم کې نه ږدي تر څو چې هغه د پنځه خبرو حواب ورنه کړي .

[1] صحيح البخاري، كتاب الأذان، باب من جلس في المسجد، فتح الباري: (143/2) .
ورواه مسلم: (715/2) ، ورقمه: (1031) والسياق للبخاري.

وَعَنْ شَبَابِكَ فِيمَا أَبْلَيْتَ [1]

**﴿ترجمه﴾** : اول دا چې ځواني دې په څه کې تيره کړې وه ؟

او شعور ئي ورله داسې ورکړو چې ځواني غنيمت اوګڼړه مخکې د بوډاوالي نه .

او د ځوانانو په ذهن کې ئي دا خبره واچوله چې همت اوچت اوساتئ ځکه

اوچت همت ساتل د ايمان حصه ده (بيهقي)

او له ذمه داري د نوجوان دا ده چې نوجوان به د الله تعالى عبادت کوي او د الله تعالى سره به شريک نه جوړوي لکه الله تعالى فرمائي:

وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئاً [2]

بل ځائ کې وائي : چې د ټولو انبياؤ د راتلو مقصد هم دا دے

أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ [3]

بل ځائي فرمائي :

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ [4]

دارنګه بل ځاى کې الله تعالى فرمائي :

---

[1] ترمذي 5271

[2] [النساء: 36]

[3] سورة النحل ٣٦

[4] سورة الذاريات ٥٦

يا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ واحِدَةٍ [1]

يو بل ځائي کې وائي :

وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّى يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ [2]

دويمه ذمه داري د مور او پلار خدمت کول بلکې قرآن کريم کې چې الله تعالى چرته د خپل عبادت حکم کړے دے نو ورسره ئې متصل دا خبره هم کړې ده چې مور او پلار سره احسان کوئ.

د هغوي دپاره دعاګاني غواړئ : لکه الله تعالى فرمائي :

رَبِّ ارْحَمْهُما كَما رَبَّيانِي صَغِيراً [3]

يو بل ځائي کې وائي :

وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا [4]

يو بل ځائي کې وائي :

وَاخْفِضْ لَهُما جَناحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ [5]

د هغوي په مخکې د اوچتو خبرو نه الله تعالى منع کړې ده لکه الله تعالى فرمائي :

---

[1] [سورة النساء 1]

[2] [الحجر: 99]

[3] سورة الإسراء (24)

[4] سورة الإسراء

[5] سورة الإسراء٢٤

**فَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا**[1]

او رسول الله عليه السلام هم ډير تاكيدات كړي دي نبي عليه السلام فرمائي :

**وَثَلَاثَةٌ لَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ: الْعَاقُّ لِوَالِدَيْهِ**[2]

**﴿ترجمه﴾** : درې قسم كسان به جنت ته نه ځي يو هغه كس چې د مور او پلار نافرمانه وي .

بل حديث كې دي ابو امامه رضي الله عنه فرمائي : چې نبي عليه السلام فرمائيلي دي : چې درې قسمه انسانانو مونځ الله تعالى نه قبلوي

١ ـ د مور او پلار نافرماني كونكے .

٢ ـ احسان زباتونكے .

٣ ـ د تقدير انكاركونكے .

يو بل حديث كې دي نبي عليه السلام فرمائي :

**لَعَنَ اللهُ مَنْ لَعَنَ وَالِدَيْهِ**[3]

**﴿ترجمه﴾** : مور او پلار ته كنځل كونكي باندې د الله تعالى لعنت دے .

---

[1] سورة الإسراء 23

[2] سنن نسائي 2562

[3] صحيح وضعيف الجامع الصغير وزيادته 9243

دا د مسلمان نوجوان ذمه داري ده چې هغه به د خپل مور او پلار سره احسان کوي د هغوي خبره به مني د هغوي عزت به کوي هغوي سره به نرمي کوي ، هغوي دپاره به د الله تعالی نه دعاګانې غواړي او د خپل وس مناسب د هغوي خدمت به کوي .

دريمه ذمه داري :

عدل او انصاف به کوې لکه الله تعالی فرمائي :

اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى [1]

د بنو مخزوم يوې زنانه فاطمه بنت قيس غلا اوکړه نو د قبيلې خلق راپاځيدل او اسامه بن زيد رضي الله عنه ته ئي اوويل : ته سفارش اوکړه نبي عليه السلام ته نو نبي عليه لسلام پرې سخت غصه شو او اوئي فرمائيل :

لَوْ أَنَّ فاطمةَ بنْتَ محمدٍ سَرَقَت لقطعتُ يَدَهَا» .[2]

قسم په الله تعالی که زما لور فاطمه چرته غلا اوکړي نو زه به د هغې هم لاس کټ کوم .

مقصد دا که چرته د قضاوت عهده درته ميلاؤ شي نو د طمع ، لالچ ، دباؤ ، يرې ښکار کيږې به نه .

---

[1] سورة المائدة٨

[2] أخرجه البخاري 12 / 76 في الحدود، باب إقامة الحدود على الشريف والوضيع، ومسلم رقم (1688) في الحدود، باب قطع السارق الشريف وغيره،

دې باره کې بې شماره واقعات آياتونه ، احاديث دي زه صرف اشاره کوم ځکه چې بيا رانه مقصد پاتې کيږي .

ځلورمه : ذمه داري :

عفت او عصمت :

لکه الله تعالى فرمائي :

وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ [1]

مؤمن نوجوان به د خپل عورتونو شرمګاه حفاظت کوي .

نبي عليه السلام به د زنانو نه دا عهد اخستلو چې زنا به نه کوئ په حديث کې دي نبي عليه السلام فرمائي :

څوک چې ماله د عورت او ژبې ضمانت راکړي نو زه به ورله د جنت ضمانت ورکړم .

په بل حديث کې راځي نبي عليه السلام فرمائي :

«مَنْ يَضْمَنْ لِي ما بين رجليه، وما بين لحْيَيه أَضْمَنْ له الجنة» [2]

کوم نوجوان باندې چې جنسي شهوت غالب شي نو هغه دې واده اوکړي او که د واده طاقت نه لري نو بيا دې نفلي روژې نيسي .

په يو بل حديث کې دي نبي عليه السلام نوجوانانو ته حکم کړے

---

[1] سورة المؤمنون ٥

[2] رواه البخاري 11 / 264 في الرقاق، باب حفظ اللسان، وفي المحاربين، باب فضل من ترك الفواحش، والترمذي رقم (2410) في الزهد، باب ما جاء في حفظ اللسان.

دے په واده کولو باندې .

ځکه د دې په وجه به نوجوانان د زنا او بې حيائي نه بچ شي .

د نکاح په شکل کې نوجوان خپل خواهش او ځواني صحيح طريقې سره استعمالولے شي .

پنځم : ذمه داري :

غض البصر دے لکه الله تعالى فرمائي :

قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ [1]

مؤمنانو ته اووايه چې خپل نظرونه دې ښکته کړي .

د شرم او حياء ستر‌ګې د يو نوجوان قيمتي سرمايه ده او د نظر صحيح نه استعمالولو په وجه نوجوانان د هر قسم ګناهونو ښکار شي او د بد او غلط نظر په استعمال باندې نوجوانان زنا طرف ته مائله کيږي .

شپږمه : ذمه داري :

د مشرانو عزت او اکرام کول .

په حديث د ترمذي کې دي نبي عليه السلام فرمائي :

کوم نوجوان چې د مشرانو عزت کوي نو کله چې دا نوجوان بوډا شي نو الله تعالى به په خلقو باندې د ده عزت کوي .

[1] سورة النور٣٠

بلکې په ځوانۍ کې خدمت په بوډاوالي کې سهولت دے او د نبي عليه السلام دا عادت وو چې هغه به د مشرانو ډير عزت کولو بلکې يو حديث کې فرمائي : چې سپين ږيرونه الله تعالی حياء کوي نو زه به ولې نه کوم ؟

دارنګه په ماشومانو شفقت کول دا زمونږ د نبي عليه السلام طريقه ده نبي عليه السلام فرمائي :

لَيْسَ مِنا مَن لم يَرحَمْ صغيرَنا، ويُوَّقِرْ کَبيرنا» [1]

څوک چې د مشرا نو قدر نه کوي او په ماشومانو شفقت نه کوي نو دا زمونږ نه نه دے .

نبي عليه السلام به د ماشومانو سره ډيره مينه کوله او هغه به ئې د ځان سره په سورلۍ باندې کينول ماشومان به ئې په غيږه کې اخستل او هغوي سره به ئې ټوقې کولې .

اوومه : ذمه داري :

تبليغ :

لکه الله تعالی فرمائي :

---

[1] أخرجه الترمذي رقم (1920) في البر، باب رقم (15) ، وقال الترمذي: هذا حديث غريب، وفي إسناده، زربي وهو ضعيف يروي مناكير، أقول: ولكن للحديث شواهد بمعناه يقوى بها، منها الذي بعده.

يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ [1]

اے نبي ! هغه څه چې تا ته نازل کړے شوي دي نو هغه اورسوه .

په سورت ال عمران کې الله تعالی فرمائي :

وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ [2]

تاسو کې دې يو جماعت داسې وي چې هغه دې خلقو ته دعوت ورکوي.

په حديث د مشکوة کې راځي

بلِّغُوا عني ولو آية [3]

ارسوئ زما د طرف نه اګر که يو ايت وي .

په حديث د ابو داود کې راځي نبي عليه السلام فرمائي : الله تعالی دې سرسبزه او شآداب ساتي هغه کس چې هغه زما حديث اوري او بيا هغه مخکې اورسوي .

نو دا د يو نوجوان ذمه داری ده چې علم به يادوي او بيا به ئې مخکې خلقو ته رسوي .

---

[1] سورة المائدة ٦٧

[2] سورة آل عمران ١٠٤

[3] رواه البخاري 6 / 361 في الأنبياء، باب ما ذكر عن بني إسرائيل، والترمذي رقم (2671) في العلم، باب ما جاء في الحديث عن بني إسرائيل، وانظر شرح الحديث في " الفتح " 1 / 180 - 181.

بیا د دعوت څه اصول او طریقې دي لکه الله تعالی فرمائي :

ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ [1]

د نوجوان مبلغ درې اوصاف دي .

۱ ـ موقع شناسي .

۲ ـ مزاج شناسي .

۳ ـ وقت شناسي .

د دې وجې نه په حدیث د ابن ماجه کې راځي نبي علیه السلام فرمائي:

د وخت او حالاتو او د خلقو د فهم مطابق هغوي سره معامله کوه .

د تبلیغ یو څو اصول دي.

۱ ـ تدریج .

لکه د شرابو حرمت په درې مرحلو کې اوشو سټېپ بائې سټېپ به کار کوې په یو ورځ به خلق نه مسلمانوي یو سړي له بالفرض د اودس طریقه نه ورځې او ته ورته وائې : چې د شپې تهجد کوه ، صلاة التسبیح کوه وغیره .نه اول ورته د اودس طریقه اوښایه بیا د مونځ شرائط بیا د مونږ طریقه او د مونځ اهمیت او فضیلت به ورته بیان کړې .

۲ ـ موعظة الحسنة :

---

[1] سورة النحل ۱۲۵

د سامع د جذباتو خيال به ساتې د ښه نتائجو ترغيب او خوشخبري به وله ورکوې او متنفره کوې به ئې نه .[1]

داسې انداز کې خبره کول چې د اوريدونکو زړه پرې مطمئن شي او هغه ذهني طور سره منلو ته تيار شي .

٣ ـ مجادله احسن انداز کې وي مخاطب له شکست ورکول مقصود نه وي بلکې غم خواري او دل سوزئ سره دعوت وکول پکار ئې .

ذهن کې دې دا وائې چې دې سړي ته څه خير او فائده اوسي.

٤ ـ عدم اکراه .

لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ [2]

سختي به نوجوان زلمے د دعوت په ميدان کې نه کوي بلکې انتهائي نرمي او شفقت سره به خبره کوي او په چا باندې به زور هم نه کوي چې يو سړے دې دعوت نه قبلوي او ته ورپسې ډانګے راواخلې او سر پرې مات کړې يا ورله دهمکيانې ورکړې باقي هدايت د الله تعالى په لاس کې دے

إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ [3]

دا د الله تعالى خوښه ده چې څوک په سمه لاره روانوي او که نه

[1] صحيح البخاري

[2] سورة البقرة ٢٥٦

[3] سورة القصص٥٦

روانوي.

پنځم : عقلي استدلال :

مبلغ له پکار دي چې مخاطب په عقلي دلائلو مطمئن کړي لکه الله تعالى فرمائي :

إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ [1]

ځکه عقلي دلائلو سره زر پوهه کيږي .

## لوازم التبليغ

١ ـ اعلان حق

فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ [2]

په حديث د دارمي کې نبي عليه السلام حق وينا کولو ته غټ جهاد ويلے دے او په حديث د مسلم کې نبي عليه السلام فرمائي :

«من رأى منكم منكرًا فلْيُغَيِّره بيده، فإن لم يستطع فبلسانه، فإن لم

يستطع فبقلبه، وذلك أضعف الإيمان» [3]

---

[1] سورة آل عمران١٩١

[2] سورة الحجر٩٤

[3] مسلم رقم (49) في الإيمان، باب بيان كون النهي عن المنكر من الإيمان، والترمذي رقم

چې تاسو څوک په غلط کار اووينئ نو هغه په لاس سره منع کړئ که په لاس سره طاقت نه لرئ نو په ژبه او که په ژبې طاقت هم نه لري نو په زړه کې ورسره بغض ساته .

٢ ـ په قول او فعل کې مطابقت .

لکه الله تعالى فرمائي :

يا أيُّها الذين آمنوا لِمَ تَقُولُونَ مالا تَفْعَلونَ[1]

اے د ايمان والاؤ تاسو ولې هغه خبرې کوئ چې هغه مو په خپله عملي کړې نه وي .

يوې زنانه خپل ماشوم نبي عليه السلام ته راوستلو او نبي عليه السلام ته ئي اوويل : چې دې ماشوم ته نصيحت اوکړه ځکه دا ګوړه خوري نو نبي عليه السلام ورته اوويل : چې صبا ئي راوله ځکه چې نبي عليه السلام په هغه ورځ باندې خپله ګوړه خوړلې وه .

د نبي عليه السلام دا خوبي وه چې هغه به څه ويل : نو اول به هغه پخپله عملي کول

هسې فلسفه به ئي نه پيش کوله .

---

(2173) في الفتن، باب ما جاء في تغيير المنكر باليد، وأبو داود رقم (1140) في صلاة العيدين: باب الخطبة يوم العيد ورقم (4340) في الملاحم: باب الأمر والنهي

[1] [الصف: -3]

لهذا په اسلام کې هغه علم معتبر دے چې د هغې سره عمل هم وي ځکه شاعر فرمائي :

واعظ کا ارشاد بجا تقریر بڑی دلچسپ مگر
آنکھوں میں سرور عشق نہیں چہرے پر یقین کا نور نہیں

3۔ دفع ایذاء .

په مسند احمد کې راځي نبي عليه السلام فرمائي : په اسلام کې ضرر ورکول نشته .

د لارې نه تکليف ورکونکے څيز لرې کولو ته هم نبي عليه السلام نيکي او صدقه ويلې ده د نوجوان مبلغ دا ذمه داري ده چې هغه به د مضر څيزونو نه ځان ساتي او په حديث د مسلم کې راځي د الله نبي عليه السلام فرمائي :

«المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده» [1]

مسلمان هغه دے چې د هغه د ژبې او د لاس د ضرر نور مسلمانان محفوظ وي .

---

[1] البخاري 50/1، 51 في الإيمان: باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده. ومسلم رقم (40) في الإيمان: باب بيان تفاضل الإسلام، وأبو داود رقم 2481 في الجهاد: باب في الهجرة، والنسائي 105/8 في الإيمان: باب صفة المسلم.

٦ ـ خدمت خلق .

دا د عصر حاضر ده نوجوانانو اهمه ذمه داري ده او د تبليغ بهترين اصول دي په حديث د ترمذي کې راځي نبي عليه السلام فرمائي :

وَاللّٰهُ فِي عَونِ العبدِ ما كانَ العبدُ في عَونِ أَخيهِ [1]

الله تعالى د خپل بنده هغه وخته پورې مدد کوي د کوم وخته پورې چې بنده د بنده مدد کوي .

او په حديث د نسائي کې راځي چې چا د خپل مسلمان رور حاجت پوره کړو نو الله تعالى به د هغې حاجت پوره کړي .

نبي عليه السلام به د غلام ، کمزوري ، بې کس ، مسافر ، او غريب د خپل وس مطابق خدمت کولو (زاد المعاد)

دارنګې په حديث د خديجة رضي الله عنها کې راځي چې هغې نبي عليه لسلام ته په وخت د اول وحي کې ويلې وو چې اے د الله رسوله تا به الله نه ضائع کوي ځکه چې ته خو صله رحمي

[1] رواه مسلم رقم (2699) في الذكر والدعاء، باب فضل الاجتماع على تلاوة القرآن وعلى الذكر، وأبو داود رقم (4946) في الأدب، باب في المعونة للمسلم، والترمذي رقم (1425) في الحدود، باب ما جاء في الستر على المسلم، ورقم (1931) في البر والصلة، باب ما جاء في الستر على المسلم، ورقم (2946) في القراءات، باب رقم (3) .

قائمونکے ئي د غريبانانو مدد کوي خلقو له روزګار ګوري .

د ابو بکر رضي الله عنه په باره کي راځي چې هغې به خفيه او پټې طريقې سره د غريبانانو او مسلمانانو او د کونډو زنانو خدمت کولو.

۷ ـ بل د مسلمان نوجوان ذمه داري دا ده چې هغه به حيادار وي او دا د محمد رسول الله عليه السلام صفت وو لکه الله تعالى فرمائي :

إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيِيْ مِنْكُمْ [1]

يعنى د نبي عليه السلام په کور کي ستاسو کيناستلو سره نبي عليه السلام په تکليف کي کيږي ليکن هغه تاسو ته د حياء د وجې نه څه نه وائي .

نبي عليه السلام د ما شوموالي نه د شرم او حياء نمونه وه او په حديث د مشکوة کي راځي نبي عليه السلام فرمائي : حياء نيم ايمان دے .

په يو بل حديث کي دي نبي عليه السلام فرمائي : هغه کس کا مل مؤمن نه دے چا کي چې حياء نه وي .

[1] سورة الأحزاب ٥٣

او د نبي عليه السلام باره کې راځي چې هغه به د پيغلې جينۍ نه زيات حياناک وو.

که نن هم د نوجوانانو په سترګو کې شرم او حياء پيدا شوه نو د معاشرې ډيرې خرابيانې به ختمې شي.

٨ ـ جهاد في سبيل الله:

د نوجوانانو دا ذ مه داري ده چې هغوي به د اسلام د غلبې دپاره جهادونه کوي لکه الله تعالى فرمائي:

كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَكُمْ [1]

په تاسو قتال فرض دے حالانکې دا تاسو بد ګڼړئ.

بل ځائي فرمائي:

وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ [2]

تاسو ولې د الله تعالى په لاره کې قتال نه کوئ.

بل ځائي کې الله تعالى فرمائي:

فَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقَاعِدِينَ دَرَجَةً [3]

[1] سورة البقرة ٢١٦

[2] [النساء: 75]

[3] سورة النساء٩٥

الله تعالی مجاهدينو له په عا مو خلقو غوروالے ورکړے دے .

بلکې سورت انفال او توبه او احزاب او سورت محمد دا ټول د جهاد سورتونه دي .

حديث کې راځي نبي عليه السلام فرمائي : څوک چې په داسې حالت کې مړ شو چې نه ئې جهاد کړے وي او نه ئې د جهاد اراده کړې وي نو

مات على شُعْبَة من النفاق [1]

دا د منافقت په مرګ باندې مړ شو .

نبي عليه السلام به فرمائيل :

لودِدْتُ أن أغزوَ في سبيل الله، فأُقْتَل، ثم أغزو فأقتل، ثم أغْزُو فأقتل .

زه دا خواهش لرم چې د الله تعالی په لاره کې شهيد شم بيا ژوندے شم بيا شهيد شم بيا ژوندے شم بيا شهيد شم .

خالد بن وليد رضي الله عنه ته سيف الله لقب د جهاد په وجه

[1] مسلم رقم (1910) في الإمارة، باب ذم من مات ولم يغز ولم يحدث نفسه بالغزو، وأبو داود [ص:567] رقم (2502) في الجهاد، باب كراهية ترك الغزو، والنسائي 6 / 8 في الجهاد، باب التشديد في ترك الجهاد، وأخرجه أحمد في مسنده 3 / 374.

ورکړے شوے وو.

د نبي عليه السلام د زندګئ آخرنے عمل لشکر اسامه روانول وو.

نبي عليه لسلام په خپله ۲۸ غزاګانو کې شريک شوے وو.

بشر بن خصاصه رضي الله عنه ته نبي عليه السلام ويلې وو

«لَا صَدَقَةَ وَلَا جِهَادَ، فَبِمَ تَدْخُلُ الْجَنَّةَ؟»[1]

چې زکات نه ورکوې او جهاد نه کوې نو جنت ته به څنګه داخلیږې ؟

د نبي عليه السلام نه د غوره عمل په باره کې تپوس اوشو نو هغه ورته اوويل : چې جهاد في سبيل الله غوره عمل دے .دې باره کې هم بې شماره احاديث او ايتونه دي ليکن وخت کم دے.

نو مسلمانانو نوجوانانو له پکار دي چې د دنيا د يهوديانو او عيسايانو، هندوانو، او انګريزانو خلاف جهاد اوکړي او د دوي نه د وران شوي جماعتونو ، مدارسو، او د خويندو، ميندو د عزت تپوس اوکړئ او هغه مسلمانان رونړه او خوئيدې چې د کفارو په جيلونو کې پراته دي او قيديان دي د هغوي راخلاصول په مونږ او تاسو

[1] المعجم الأوسط١١٢٦

باندې قرض هم دے او فرض هم دے .

،،،،والسلام ،،،،

# مصادر ومراجع

١ ـ القرآن الكريم .

٢ ـ صحيح البخاري . محمد بن إسماعيل أبو عبد الله البخاري الجعفي

٣ ـ صحيح مسلم . مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري (المتوفى: 261هـ)

٤ ـ سنن الترمذي . محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، الترمذي، أبو عيسى (المتوفى: 279هـ)

٥ ـ سنن ابن ماجه . أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني (المتوفى: 273هـ)

٦ ـ سنن ابي داود . أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني (المتوفى: 275هـ)

٧ ـ سنن النسائي . أبو عبد الرحمن أحمد بن شعيب بن علي الخراساني، النسائي (المتوفى: 303هـ)

٨ ـ مسند احمد . أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني (المتوفى: 241هـ)

٩ ـ بيهقي . أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي (المتوفى: 458هـ)

١٠ ـ مصنف ابن ابي شيبه . أبو بكر بن أبي شيبة، عبد الله بن محمد بن إبراهيم بن عثمان بن خواستي العبسي (المتوفى: 235هـ)

١١ ـ مصنف عبد لرزاق . أبو بكر عبد الرزاق بن همام بن نافع الحميري اليماني الصنعاني (المتوفى: 211هـ)

١٢ ـ مستدرک للحاكم . أبو عبد الله الحاكم محمد بن عبد الله بن محمد بن حمدويه بن نُعيم بن الحكم الضبي الطهماني النيسابوري المعروف بابن البيع (المتوفى: 405هـ)

١٣ ـ صحيح ابن حبان . محمد بن حبان بن أحمد بن حبان بن معاذ بن مَعْبدَ، التميمي، أبو حاتم، الدارمي، البُستي (المتوفى: 354هـ)

١٤ ـ مسند ابي يعلى . أبو يعلى أحمد بن علي بن المثُنى بن يحيى بن عيسى بن هلال التميمي، الموصلي (المتوفى: 307هـ)

١٥ ـ سنن الدارمي . أبو محمد عبد الله بن عبد الرحمن بن الفضل بن بَهرام بن عبد الصمد الدارمي، التميمي السمرقندي (المتوفى: 255هـ)

١٦ ـ مسند حميدي . أبو بكر عبد الله بن الزبير بن عيسى بن عبيد الله القرشي الأسدي الحميدي المكي (المتوفى: 219هـ)

١٧ ـ مشكوة . محمد بن عبد الله الخطيب العمري، أبو عبد الله، ولي الدين، التبريزي (المتوفى: 741هـ)

١٨ ـ تفسير ابن كثير . أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي البصري ثم الدمشقي (المتوفى: 774هـ)

١٩ ـ تفسير قرطبي . أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي (المتوفى: 671هـ)

٢٠ ـ فتح الباري . حافظ ابن حجر .

٢١ ـ نيل الاوطار . امام شوكاني .

٢٢ ـ تحفة الاحوذي . مباركفوري .

٢٣ ـ المغني . لابن قدامه .

٢٤ ـ فقه السنه . سيد سابق .

٢٥ ـ زاد المعاد . امام ابن قيم .

٢٦ ـ مجموع الفتاوى . شيخ الاسلام ابن تيمية .

٢٧ ـ لاتغضب . دكتور عائض القرني .

٢٨ ـ آداب الزفاف . امام الالباني .

٢٩ ـ لاتحزن . دكتور عائض القرني .

٣٠ ـ استمع بحياتك . عبد الرحمن العريفي .

٣١ ـ شوهر اپنی بیوی کا دل کیسے جیتے . تفضيل احمد ضيغم .

٣٢ ـ نکاح کی کتاب عمران ايوب لاهوري

٣٣ ـ احكام ومسائل . مبشر احمد رباني .

٣٤ ـ دولها کیلیے نصائح مولانا روح الله نقشبندي .

٣٥ ـ ٣٠ - تذاكر لتدخل قلوب الناس . شيخ محمود خليفه .

٣٦ ـ مثالي ازدواجی زندگی پیر ذوالفقار نقشبندي

{وَمَا تُنفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ}

تاسو چې کوم مال خرچ کوئ نو الله تعالی په هغې پوهه دے .

محترمو رونو او خویندو !

دا خبره ستاسو په علم کې ده چې نن د فتنو دور دے هر طرفته فحاشي او بې حیائي په عروج ده په قرآن او سنت باندې د عمل نه کولو په وجه مسلمانان د ذلت او زوال سره مخامخ دي د قرآن او حدیث د تعلیم نه کیدو په وجه د معاشرې حالت قابل رحم دے په دې سلسله کې مونږ د شرک او بدعت د تیارو ختمولو دپاره او د توحید او سنت رڼړا عام کولو دپاره او د طالب علمانو او طالباتو دیني تربیت دپاره په ضلع نوشهره رسالپور کې د یوې مدرسې جوړولو عزم کړے دے او دا هغه وخته پورې ممکن نه دے تر څو پورې چې د الله تعالی فضل او بیا ستاسو بهرپور تعاون او دعاګانې شامل نه وي .

نو د مټیریل یا د نقدو په شکل کې د مدرسې سره تعاون اوکړئ نو ستاسو مال به ستاسو دپاره او ستاسو د بچو دپاره صدقه جاریه وي او دا تعاون په هغه ورځ پکار راځي چې ،

{يَوْمَ لا يَنْفَعُ مَالٌ وَلا بَنُونَ إِلا مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ}

الله تعالی دې ستاسو په عمر او مال او اولاد کې برکت واچوي .

د رابطې نمبر : **03471000881**